قدوری

پښتو

جلد ۲ حصہ ۲

مصنف

مولانا محمد عبید اللہ الایوبی

القندھاری السلیمانخیلی الحنفی

نظر ثانی

مولانا نثار احمد عریف

ترتیب وسرورق

فضل الحق حقانی

فاضل وفاق المدارس ملتان

مکتبۃ القراءۃ والتجوید

کانسی روڈ، شالدرہ، کوئٹہ

فانكحوا ماطاب لكم من النساء مثنى وثلث وربع (القرآن)

نکاح قدوری

حصہ ۲

تصنیف

مولانا الحاج علامه

محمد عبید اللہ

الایوبی القندھاری السلیمانخیلی الحنفی

الناشر

مکتبۃ القراءۃ والتجوید

مکتبۃ القراءۃ والتجوید

کاسی روڈ کوئٹہ

مکتبۃ القراءۃ والتجوید کوئٹہ

د کتاب پيژندنه

د کتاب نوم ..... نکاح قدوري پښتو جلد ۳ حصه ۲

د مصنف نوم ..... الحاج علامة الزمان محمد عبيد الله الايوبي القندهاري مدظله العالي

کمپوزر ..... حبيب الحق حقاني

خپرونکي اداره ..... مکتبة القراءت والتجويد کاسي روډ شالدره کوټه

کچه ۸۱۳۰۱۲۰

د سرورق ليکونکی ..... محمد فضل الحق حقاني

شپږنيا

د نکاح قدوري د دوهم جلد دريمه حصه به هم د همدې مکتبې له خوا څخه په ښه خط، ښه کاغز، او ښه چاپ سره ومينه والو ته ډېر ژر وړاندي سي.

د هم دې مکتبې له خوا تعليم الاسلام په خوږه کندهاري پښتو چاپ ته وسپارل سو، مينه وال دې له نژې کتاب پلورنځی څخه ژر تر لاسه کړي

﴿کتاب الجنايات﴾

دا کتاب دي په بيان کي د احکامو د جناياتو .

پيژوه لمړه:- چي اګرچه کتاب الاعتاق او د عتق احکام ته په او سني زمانه کي چندان ضرورت نسته لعدم العبيد والاما فی عموم الدول الاسلاميه، نوځکه دروښ په قدر د مايحتاج اليه حل لعبارت اکتفاء وکړه او د ډېر تفصيل څخه يې ډډه وکړه، بخلاف الجنايات ولي جنايتونه لکه قتل، د چا پر اندامو تبری، غلا وغيره په ننني زمانه کي خصوصا ډېر رواج دي، نو د احکامو پيژندل يې ډېر ضروري دي لهذا دروښ به په تفصيل کي د احکامو د جناياتو حسب المقدور بقدر کفايت د مفتدي تفصيل وکړي انشاء الله تعالی ﷻ

پيژوه لمړه:- چي جنايات په حقيقت کي ضد د اعتاق دي ولي په جنايت کي اهلاك د نفس او يا د مال او يا د اطرافو دي، او اعتاق احياء معنوي د مريي ده نو په سبب د تقابل مصنف رح دا دوه بابه سره متصل کړه او په سبب د شرف د احياء يې کتاب العتاق د مخه کي، لان التقابل عد فی علم البيان من وجوه المناسبة کما لا يخفی علی من نظر فيه" او بل مناسبت ددې دوو کتابو دادي چي اغلظ د جناياتو قتل النفس بغير حقه چي حکم يې قصاص دي او قصاص که څه هم ظاهرا موت د مقتول قصاصا دي لکن په دې قصاص کي حيات عظمی سته کما فصله المفسرون" قال الله عزوجل ولکم فی القصاص حيوة يا اولی الالباب" او

په اعتاق کي هم احياء وه کما عرفت فبينهما تناسب معنوی ايضا فلهذا اتصل المصنف بينهما.

فائده:- جنايت په لغت کي مصدر دي او په لغت بيرته نقل سو وه هغه کار ته چي سړی يې وکړي د فعل څخه د شر فسمی ذالک الفعل باسم المصدر وهو شائع فی اللغة العربية، او په شرعه شريفه کي هغه فعل ته وای چي شرعا حرام وي (بحر الرائق، مجمع الانهر، دروېش)

فائده:- جمع د لفظ د جناياتو په اعتبار د تعدد د انواعو د جنايت ده لکه قتل النفس، او قطع الاطراف وسرقة المال وغيره وهذا علی محاذات ما قال المصنف کتاب الطهارات.

قال القدوری رحمه الله ﴿القتل علی خمسة اوجه، عمد، وشبه عمد، وخطاء، وما اجری مجری الخطاء والقتل بسببه﴾

او قتل پر پنځه قسمه دي (۱) يو عمد (۲) بل مشابه د عمد (۳) بل خطاء (۴) بل جاری پرځای د خطاء (۵) او بل قتل په سبب دي،

پوه سه:- چي امام محمد رح په مبسوط کي قتل درې قسمه بللي دي (۱) عمد (۲) شبه عمد (۳) او قتل خطاء لکن صاحب د جوهره وايي چي قدوري چي پنځه قسمه کړه د پاره د تفصيل د قسمينو اخرينو او د ښه بيان ددې دوو قسمو کي که څه هم دا دوه قسمه داخل دي په قتل خطاء کي فی الحقيقت

قال ﴿فالعمد ما تعمد ضربه بسلاح﴾ نو عمد هغه قتل دي چي په قصد سره وکړه وهل د مقتول په صلاح سره.

پوه سه:- چي قصد خوفعل د قلب دي او هغه پټ دي نو اعتبار آله لره د قتل ده، يعني که آله وژونکي آله وه نو هغه قتل عمد دي.

فائده:- سلاح هغه آله د قتل بولي چي د اوسپني څخه جوړه وي لکه توره، چاړه، خنجر، نېزه، توپک، توپنچه، کلاشنکوف وغيره من الآلة الجديدة المتخذة من الحديد.

قال ﴿او ما اجری مجری السلاح فی تفريق الاجزاء کالمحدد من الخشب والحجر والنار﴾ او يا هغه شی چي په څای کي د سلاح وي يعني مشابه د سلاح سره وي په جلا کولو کي د اعضاؤ لکه تېره لرګي او يا تېره ډبره او يا اور.

پوه سه:- که يو سړي بل سړی و رود يا ولې ته ور واچاوه او هغه غرق سو او مړ سو په نېز د امام اعظم هغه قتل عمد نه دي نو قصاص نسته پکښې، بلکه ديت د مړي واجب دي پر عاقله د قاتل، او ياران وای که اوبه دومره اوبه وې چي خلاصېده د هغو څخه نه سوه کېدای غالبا لکه د هلمند رود مثلا هغه هم قتل عمد دي او حکم يې قصاص دي.

مسئله:- په قتل عمد کي دا شرط دي چي سبب د ضمان به وي، نو قتل د قطاع الطريق عمد نه دي او نه قتل د مرتد عمد دي او نه قتل د حربي عمد دي ولي دا قتلونه ضمان نه لري.

قال ﴿وموجب ذالك الماثم والقود الاان يعفو الاولياء﴾ او حکم د قتل عمد ګناه ده چي تو به غواړي، او بل قصاص دي د قاتل مګر هغه وخت که اولياؤ اواقرباؤ د مقتول عفو د قصاص وکړه که يې

مفته عفوه وکړه او يا يې ديت واخستي نو بيا قصاص نسته، د ګناه دليل يې هغه آيت دي" ومن قتل مؤمنا متعمدا فجزائه جهنم الآيه" او د قصاص دليل هغه آيت دي" كتب عليكم القصاص فى القتلى الآيه"

پوښتنه:- چې حکم د قتل عمد زمور احنافو په نېز قصاص دي متعين البته که اولياء د مقتول او قاتل پر ديت سره راضي سوه بيا قصاص ساقط دي، او امام شافعي رحمه الله وايي چې قريبان د مقتول اختيار لري که قصاص غواړي او که ديت يعني که څه هم قاتل وقصاص ته اماده وي خو بياهم که اولياء د مقتول ديت غوښتي او لياء د قاتل به يې ورکوي، او زمور په نېز داسي نه ده بلکه قصاص حق متعين دي بېله رضاء د جانبينو ديت نسي غوښتای.

قال ﴿ولا كفارة فيه﴾ او کفاره لکه بيان چې به يې راسي انشاء الله نسته په قتل عمد کي، او امام شافعي رحمه الله کفاره هم پر قاتل لازمه بولي، والدلائل للفريقين فى الكتب المطولة.

قال ﴿وشبه العمد عند ابى حنيفة رحمه الله ان يتعمد الضرب بما ليس بسلاح ولا ما اجرى مجراه﴾ او شبه عمد په نېز د امام اعظم رحمه الله دادي چې په قصد يې ووهي مقتول په داسي شي چې نه سلاح وي او نه مايجرى مجرى السلاح وي، وقد مر ذكرهما.

دويش وايي:- چې ودې قتل ته شبه عمد وايي ددې سببه چې دا قتل دوې شبهې لري يوه شبه يې د عمد ددې وجهې چې قاتل قصد وکړی وهغه فعل ته چې ده ته حرام وو يعني وهل دمسلمان بلا موجب او بل مشابهت د خطاء سره يې په اعتبار ددې چې آله يې د قتل نه ده

استعمال کړې، فكان ذالک الفعل خطاء باعتبار لآلة، او مشابه د عمد دي په اعتبار د قصد ګوا دده غرض ضرب وو تاديبا هغه اتفاقا قتل ځندي پيداسو، ودليل قول ابى حنيفة رحمه الله قوله عليه السلام الا ان قتيل خطاء العمد قتيل السوط والعصاء وفيه مائة من الابل الحديث" او عليه السلام د يوې لکړې او بلي لکړې فرق نه دي کړې.

پوښتنه:- ولي دا قتل خطاء شبه العمد بولي او عمد شبه الخطاء يې نه بولي؟

ځواب:- معنا د عمد په دې قتل کي ضعيفه ده ولي چې آله يې د قتل عمد د پاره نه ده وضع او نه د قتل د پاره خلګ دغه آله مستعملوي بلکه غالبه استعمال ددې آلې د پاره د تاديب دي.

قال ﴿وقالا رحمهما الله اذا ضربه بحجر عظيم او بخشبة عظيمة فهو عمد وشبه العمد ضربه بهما لا يقتل غالبا﴾ او يارانو وايي که يو سړي مقتول وواهه په لوي ډبره او يا په لوي لرګي هغه هم عمد دي، اوشبه عمد يعني په نېز د يارانو وهل دي د مقتول په داسي شي چې په هغه سره غالبا قتل نه واقع کېږي.

پوه سه:- چې مذهب ته د يارانو ائمه ثلاثه هم تللي دي، دوي وايي چې د لوي ډبري او يا ډانګ لوي لرګي فعل تر سيف تر عمل کم نه دي، فصار عمدا فيجب القصاص.

قال القدورى ﴿وموجب ذالک على القولين الماثم والكفارة ولا قود فيه﴾ او حکم د شبه العمد پر اختلاف د دوو قولو د امام اعظم رحمه الله او د يارانو، اول خو ګناه ده يعني په اخرت به جزاء مومي ولي ده

داسي کار وکړي چي وده ته شرعا حرام وو، او دوهم حکم يې کفاره ده ولي دا فعل دده خطاء دي ولي ګورو وآلې ته چي د قتل نه ده او قصاص نسته پکښې لعدم کونه عمدا حرفا.

قال ﴿وفيه دية مغلظة على العاقلة﴾ او په دې قتل کي ديت سته لما مر من الحديث، او ديت يې هم سخت او هم پر عاقله دي يعني دده پر قريبانو.

فائده:- بيان د عاقلې به راسي انشاء الله او دا ديت به په درې کاله کي اداکېږي ولي چي حضرت عمر ﷺ داغسي حکم کړي دي، او په غير عقلي شيانو حکم د صحابي محمول پر سماع د آنحضرت ﷺ کما تقرر في کتب اصول الفقه، هذا حاصل ما في مجمع الانهر مع زياده.

قال القدوري ﴿والخطاء على وجهين خطاء في القصد﴾ يعني د فاعل په قصد کي ﴿وهو ان يرمي شخصا يظنه صيدا فاذا هو ادمي و خطاء في الفعل وهو ان يرمي غرضا فيصيب آدميا﴾ او خطا دوه قسمه ده يوه خطا ده په قصد کي د رامي، خطا په قصد کي د رامي داده چي ده يو سړی په قصده مړ کي دده ګمان دا وو چي دا ښکار دي او په واقع کي هغه سړی وي، نو دی په قصد کي خطاوتي چي ده خو د ښکار قصد کړی وو هغه سړی وو او دده په رمي مړسو او بله خطاء ده په فعل کي هغه داده چي رامي خو نوښان وشتي پر سړي ومښتي او هغه مړ سو نو دا فعل چي وشتل د نوښان وه خطاء سوه.

قال ﴿وموجب ذالک الكفارة والديته على العاقلة ولا مائثم فيه﴾ او حکم د خطايي قتل يعني په دواړو قسمو کي کفاره ده پر قاتل

باندي او ديت دي پر عاقله دده او ګناه نسته پکښې قال الله تبارك وتعالى في حكم قتل الخطاء" (فتحرير رقبة ودية مسلمة الى اهله، الى اخير لآية)

پوه سه:- چي مراد د عدم اثم څخه ګنا د قتل ده يعني د قتل ګناه نسته باندي لکن نفس ګناه سته چي ولي ده په وخت کي د ويشتلو نبه غور نه کاوه.

مسئله:- که سړي خپل قريب په قتل خطا سره مړ کي، د ميراث څخه د مقتول محرومه دي، ولي چي احتمال ددې سته چي ده دي په قصد سره ويشتلی وي او خطا يې محض بهانه وکړه.

کليه:- هرهغه قتل چي موجب يې قصاص وي او يا کفاره وي قاتل د مېراث څخه د مقتول محرومه کېږي کذا في السراجي والجوهره.

قال ﴿وما يجرى مجرى الخطاء مثل النائم ينقلب على رجل فيقتله﴾ او هغه قتل چي جاري په ځای کي د خطاء وي لکه يو بده سړی چي پر سړي وړواوړي يعني تر ځان يې لاندي کړي او مړ يې کړي.

پوه سه:- چي اکثر دغه قتل په ښځو کي پېښېږي چي کوچنی د شپې وژاړي دا يې راواخلي او په ځای کي يې د ځان سره پرېباسي او تی په خوله کي ورکړي يو ګړی وروسته دا ببده سي او پر کوچني راواوړي او کوچني مړسي، نو مصنف چي على رجل ويلي دی هغه يو شاز او نادر مثال دي.

قال القدوری ﴿فحکمه حکم الخطاء﴾ نو حکم ددغه حکم هم د خطاء دي يعني قصاص نسته او ديت لازم دي او قاتل د ميراثه څخه د مقتول محروم دي.

قال ﴿واما القتل بسبب کحافر البير وواضع الحجر فی غير ملکه﴾ او هر چي قتل دي په سبب د يو کار چي د سړي څخه صادر سوی وي لکه کينل د څا او يا ايښول د ډبري دواړه په غير کي د خپل ملك وي.

قال ﴿وموجبه اذا تلف به ادی الدية علی العاقلة ولاکفارة عليه﴾ او حکم د قتل په سبب سره چي مړ سي په هغه سره انسان، ديت دي پر عاقله او کفاره سته پر ده، ديت پر عاقله خو په دې لازم دي چي دا قتل په حکم د خطاء دي، او کفاره چي پرده نسته ددې سببه چي لوېدل وڅاته او يا پر ډبره غوځاېدل خو د حافر يا د واضع الحجر فعل نه دي بلکه فعل د مقتول دي.

مسئله:- که يو سړي څا په خپل ملك کي کښلي وو او يا يې ډبره په خپل ملك کي ايښېوه بيا ديت پر عاقله هم نسته، لان لکل واحد التصرف فی ملکه بماشاء فالتلف منسوب الی المقتول من کل وجه.

قال المولی القدوری ﴿والقصاص واجب بقتل کل محصون الدم علی التابيد اذا قتل عمدا﴾ او قصاص واجب دي په وژلو سره د هر انسان چي وينه يې محفوظه وي په دې سره مرتد او حربي خارج سوه ولي چي د هغو وينه حفاظت شرعي نه لري، او حفاظت د

وينې به يې هم د همېشه لپاره وي په دې قيد سره يې هغه کافر وه يستی چي اسلامي مملکت ته په امان يعني پارسپوټ راغلي وي او يو مسلمان هغه مړ کي نو قصاص پر مسلمان نسته ولي چي د مستامن وينه محفوظه ابدا نه ده بلکه په قدر د وېزې د پار سپوټ، ولي دی خو اصلاً حربي دي.

درويش وايي:- چي دا مسئله که څه هم مصنف کليه راوړې ده مګر صبي او مجنون ځندي مستثنی دي ولي چي په کتابو کي د فقهاؤ داخبره بالاتفاق موجوده ده چي غير مکلف اهل د عقوباتو نه دي، او کوچني او لېونې لره عمد نسته او مصنف وويل، اذا قتل عمدا ولي که قتل خطاوي د هغه حکم قصاص نه دي کما مر.

قال ﴿ويقتل الحر بالحر والحر بالعبد والمسلم بالذمی ولايقتل المسلم بالمستامن﴾ او وژل کېږي يعني قصاصېږي حر سړی په قتل سره د حر، او دا غه رنګه قصاصېږي حر سړی په وژلو سره د مريي او داغه رنګه قصاصېږي مسلمان په وژلو سره د اهل زمه يعني چي په اسلامي ملك کي يو کافر د همېشه لپاره اوسېږي، لقوله عليه السلام دمائهم کدمائنا واموالهم کاموالنا" او نه وژل کېږي مسلمان په قتل د مستامن يعني چي په پاسپورټ و اسلامي مملکت ته راغلي وي، او امام شافعي رحمة الله عليه وايي چي حر په مريي سره نه وژل کېږي لقوله تعالی" الحر بالحر العبد بالعبد" ولنا قوله تعالی ان النفس بالنفس" او دا آيت مطلق دي او دا قانون اصولي دي چي تخصيص په ذکر سره نفي د ماسوا نه کوي، او دا غه رنګه قصاص د احکامو څخه د انسانيت او د

حق الدم الابدی دي په دې کي د حر او د مريي فرق نسته بخلاف الحربی والمرتد والمستامن.

قال ﴿ويقتل الرجل بالمرئة والكبير بالصغير والصحيح بالاعمى والزمن﴾ او وژل کېږي يعني قصاصېږي نر پر ښځه چي عمدا يې قتل کړي، که يې خپل او که پردی وي او مشر سړی پر کشر او کوچني، او جوړ سړی پر ړانده او شل سړي.

پوهه سه:- چي ددې مسئلو دليل دادي چي په باره د قصاص کوم آيتونه او حديثونه راغلي دي ټوله عام دي، او بل دا چي که چېرې په قصاص کي مساوات من کل الوجوه معتبر سي نو دروازه د قصاص به بنده سي او قتل وقتال به تر انذازه ډېر سي.

قال ﴿ولا يقتل الرجل بابنه﴾ او نه وژل کېږي پلار پر زوي باندي يعني په وژلو کي د زوي عمدا پلار نه قصاصېږي" لقوله عليه السلام لا يقاد والد بولده.

فائده:- زوي که پلار عمدا مړ کړي پر قصاصېږي فهو کالاجنبی.

﴿ولا بعبده ولا بمدبره ولا بمكاتبه ولا بعبد ولده﴾ او نه وژل کېږي سړی په وژلو سره د مريي خپل، او نه هم په مدبر خپل، او نه هم وژل کېږي په وژلو سره د مکاتب خپل، او نه هم په مريي د زوي خپل، ددی ټولو مسئلو دليل دا دي چي مريي او مکاتب او مدبر خو مال د مولی دي، او څوک چي خپل مال تلف کي نو څه زمان پر سته؟ او بله خبره داده چي ټوله حقوق د مريي او معاملاتي د هغه راجع ومولی ته دي نو قصاص د مريي هم حق د مولی دي نو آيا دا معقوله خبره ده چي سړی

پر خپل ځان حکم د قصاص جاري کوي، او هر چي مريي د زوي دي چي پلار يې مړ کړي قصاص باندي نسته د هغه حديث په اثر چي" انت ومالك لابيك" نو دغه عبد الابن ګويا مريي د پلار دي نو په قصاص کي شبهه پيدا سوه.

﴿ومن ورث قصاصا على ابيه سقط﴾ که چا ته په ميراث ورسېدی قصاص پر خپل پلار نو قصاص ساقط دي سورت د مسئلې دادي که يو سړي مور د خپل زوي مړه کړه نو خو ميراث د قصاص يې زوي ته رسېږي، نو په عزت د پلار ګلوي هغه قصاص د پلار څخه ساقط دي كذا فی الكفايه.

﴿ولا يستو فی القصاص الا بالسيف﴾ او نه دي اخسته کېږي قصاص مګر په توره سره يعني هغه مقتول که په توره وژلی وي، او که يې په کلاشنکوف وژلی وي، او که يې په اور کي اچولی وي وغير ذالك كمامر، خو د قاتل سر يې په توره جلاکېږي، او امام شافعي رحمه الله وايي چي په هر شي چي يې مقتول وژلی وو په هغه شي به قاتل وژل کېږي، او موږ وايو چي په حديث شريف کي دا سي ارشاد دي" لا قود الا بالسيف، جوهره.

قال ﴿واذا قتل المكاتب عمدا وليس له الوارث الا المولى فله القصاص ان لم يترک وفاء وان ترک وفاء ووارثه غير المولى فلا قصاص لهم وان اجتمعوا مع المولى﴾ او که چېرې ووژل سو مکاتب مريي د يو چا په قصد سره او نه وو مکاتب وارث بېله باداره، نوقصاص اخيستل حق د بادار دي که نه وه پرې اېښي مکاتب

وفا يعني مال چي بدل الكتابت دي او كه يې وفا پرې ايښې وه او وارث د مكاتب غير د مولى هم وو نو حق د ميراث ورثه وو لره نسته كه څه هم دوي اتفاق وكي سره د مولى.

ژوبلې وايي:- چي عبارت د مصنف مجمل دي صاحب د جوهره يې داسي تفصيل كړي دي چي وژل د مكاتب عمدا درې قسمه دي (۱) اول چي وفا د كتابت يې نه وي پرې ايښې نو حق د قصاص مولى لره دي كه څه هم نور ورثه لري په اتفاق سره د امامانو رحمهم الله ولي مكاتب چي مړ سو ملك د مولى وو نو حق د استيفاء د قصاص هم ده لره دي، او د مخه تېره سوه چي حر پر عبد وژل كېږي، او (۲) دوهم صورت دادي چي وفا خو يې پرې ايښې وي او په عين حال كي ورثه غير د مولى څخه هم درلوده نو په دې صورت قصاص اجماعا نسته ولي چي تېپي كول د مكاتب په داسي حال كي وسوه چي مستحق د قصاص يې مولى وو لبقاء الرق، او موت دده په داسي وخت كي ميانځ ته راغلي چي مستحق د قصاص يې ورثه وو، لزوال الرق عنه بسبب الوفاء" نو اختلاف د مستحق د قصاص شبه ده په سقوط كي د قصاص وهذا ماقاله المصنف وان ترك وفاه الخ.

او (۳) دريم صورت يې دا دي چي وفا خو يې پري ايښې وي مګر بل وارث بېله مولى نه لري نو په نېز د امام اعظم رحمه الله او په نېز د امام ابو يوسف رحمه الله حق د قصاص مولى لره دي، وهذا معنى قول المصنف وليس له الوارث آه، امام محمد رحمه الله وايي چي مولى يې نه سي قصاص ولاى، چي مولى چي مستحق د قصاص وو په وخت كي د تېپي كېدو د مريي په سبب د ملك وو، او په وخت كى د مرګ په سبب د ولاء العتاقه

دي مستحق د قصاص دي، نو جهتونه د استحقاق چي مختلف سوله نو ګويا مستحق مختلف سو لكه په دوهم صورت كي، او شيخان رحمهم الله چي مستحق د قصاص خو په هر صورت كي مولى دي، فوجب له القصاص، انتها مع زيادة كثيرة من العبد العاصى.

قال ﴿واذا قتل عبد الرهن لا يجب القصاص حتى يجمع الراهن والمرتهن﴾ او كه ووژل سو هغه مريي چي يو سړي په پور كي بل سړي ته په ګرو وركړي وو نو قصاص د مريي نسته تر هغو چي راهن يعني مالك د مريي او مرتهن چي پور والادي سره جمع نسي او اتفاق سره ونه كي پر قصاص، ددې مسئلې دليل دادي كه راهن يعني مالك د مريي پر خپل سر قصاص واخلي نو حق د مرتهن په پور كي باطلېږي او مرتهن په دې سبب قصاص يوازي نه سي اخستلاى چي مريي خو دده ملك نه دي او چي دواړه جمع سي نو د مرتهن حق به په رضا دده باطل سي.

قال ﴿ومن جرح رجل عمدا فلم يزل صاحب فراش حى مات فعليه القصاص﴾ او كه چا تېپي كي يو سړى يعني په توره وغيره يې وواهه په قصد سره نو هغه مجروح د هغه تېپ د سببه پر ځاى پروت وو يعني تېپ يې نه سو جوړ حتى چي مړ سو، نو پر جارح باندي قصاص سته، لان الموت وقع بسبب جرحه.

قال ﴿ومن قطع يد رجل عمدا من المفصل قطعت يده، وكذالك الرجل ومارن الانف والاذن﴾ او كه چا پرې كي لاس د يو چا

پر بند باندي هر بند چي وي، نو د هغه سړي لاس دي هم پر هغه بند ورپرې کړه سي،

قاعده:- هر قطع د عضو چي مماثلت پکښې ممکن وي په هغه قصاص سته قال الله تبارك وتعالى" والجروح قصاص" يعني مماثلت، نو په قطع د مفصل خو مماثلت ممکن دي نو قصاص لازم دي، او چي مماثلت نه وي ممکن بيا قصاص نسته، او داغه رنګه قصاص سته چي پښه يې پر بند ورپرې کړي، او داغه رنګه قصاص واجب دي چي د پزي نرمك ورپرې کړي او يا د غوږ نرمك ورپرې کړي، مامر من امكان المماثلة فى هذا كله.

فائده:- دې ته اعتبار نسته چي د چا لاس يا پښه يا پزه وغيره لوي وي او د بل دا کوچني وي، ولي چي منافع د اعضاؤ د خلګو سره يو دي كذا فى الهدايه.

قال ﴿ومن ضرب عين رجل فقلعها فلاقصاص عليه﴾ او که چا يو سړی پر سترګه وواهه او سترګه يې د ببخه ځندي وکښه نو پر ده قصاص نسته ولي چي داسي ضرب پر سترګه د چا چي سترګه دې د ببخه وخېژي ممکن نه دي او کم ترهغه خو قصاص نه دي.

قال ﴿فان كانت قائمة وذهب ضوئها فعليه القصاص﴾ او که يې پسله وهلو سترګه پر ځای ولاړه وه لکن نور يې ولاړی يعني سترګه يې د وهلو په سبب ړنده سوه نو پر هغه قصاص واجب دي او صورت د قصاص يې دادي.

﴿تحمى له المرئة ويجعل على وجهه قطن رطب وتقابل عليه بالمرئة حتى يذهب ضوئها﴾ چي توده دي کړه سي انداره په اور وغيره او د سړي پر مخ دي پښه چي لاټده وي ورکښيږدي او انداره دې پر سترګه وربرابره کړي تر هغو پوري چي نور د ستر ګي د مابينه ځي، قال الهداية وهذا ماثور عن جماعة من الصحابة ﷺ، او په رد المحتار کي دي چي د بعض علماؤ په خط کي ماليدلي دي چي مراد د مرئه څخه په دې ځای کي هغه مشهوره معنا نه ده چي خلګ مخ پکښې ګوري او اانداره يې بولي، ولي چي د هغې په تودولو او د ستر ګي سره په مقابله کولو سره د سترګو نور نه باطليږي بلکه مراد داسي فولاد دي چي ډېر پالش سوي وي حتى چي مخ پکښې معلوميږي،

درويش وايي:- چي د وخت څخه د صحابه کرامو ﷺ تر دې زمانې پورې خو د مرئت ترجمه په معروفه اندازه سره کوي، والتجربة شيئ علحدة فلو صحت التجربة فالمراد فى كلام الصحابة ﷺ ايضا المرئة الفولادية والله اعلم.

قال ﴿وفى السن القصاص﴾ او په غاښ کي قصاص سته لقوله تعالى" السن بالسن.

پوه سه:- چي په غاښ کي هغه وخت قصاص سته چي د ببخه يې وروکاږي، لامكان المماثلة" او که يې يوه حصه د غاښ ورماته کړه بيا قصاص نسته، لعدم امكان المماثلة، درويش.

قال ﴿وفى كل شجة يمكن فيها المماثلة القصاص﴾ او په هر ټپ کي چي مماصلت ممکن وي قصاص سته،

پوهه شه:- چي اګر چه په لغت کي شجه د مخ او سر ټپ ته وايي، او چي ټپ په بل ځای کي وي هغه ته جراحت وايي لکن مراد دلته معنا عامه ده ولي چي په ټولو کتابو کي د فقه شريفي ددې مسئلې دليل دا قول د خدای پاك ﷻ راوړه سوی دي" والجروح قصاص" نو که مراد معنا لغوي وايي نو دا آيت خو د مخ او سر ټپ ته شاملېدي کما لا يخفى، دروېش.

قال ﴿ولا قصاص فى العظم الا فى السن﴾ او قصاص نسته په اډوکو کي مګر په غابنۍ کي، دليل يې دا دي چي امکان د مماثلت نه دي ممکن مګر نه په غابنۍ کي، يعني که څوك د چا لاس ورمات کي او يا پښه وغيره ورمات کړي نو قصاص نسته ولي احتمال د زيادت او نقصان سته، وورد فى الحديث النبوى ﷺ لا قصاص فى العظم" وايضا قال عمرو ابن مسعود ﷺ لا قصاص فى العظم الا فى السن وقد بينا ﷺ مراد الحديث المطلق، وانما استثنى السن لانه قال الله تعالى" السن بالسن الآيه.

قال ﴿وليس فى مادون النفس شبه عمدا وانما هو عمد او خطاء﴾ او نسته په کم کي د نفس شبه عمد بلکه په مادون النفس کي عمد دي يا خطا، په هدايه کي وايي چي شبه عمد راجع و آله ته دي، او قتل هغه شی دي چي په اختلاف د آله مختلف کېږي او مادون النفس په اختلاف د آلې نه مختلف کېږي، فلم يبق الا العمد او الخطاء. النتهى.

قال ﴿ولا قصاص بين الرجل والمرئة فى مادون النفس ولا بين الحر والعبد ولا بين العبدين﴾ او نسته قصاص په منځ کي د

نر او ښځي تر نفس په کم کي او نه قصاص سته په مابين کي د حر او د مريي، او نه قصاص سته په مابين کي د دوو مريانو، او امام شافعی رحمة الله عليه او امام مالك رحمة الله عليه وايي چي په هر ځای کي چي قصاص په نفس کي جاري کېږي هلته قصاص په اطرافو کي هم جاري کېږي، ولي چي اطراف تابع د نفس دي نو په مذکوره صورتوکي قصاص سته، او موږ وايو چي اطراف حکم د اموال لري نو مماثلت پکښې شرط دي او اطرافد نر او د ښځي، او اطراف د حر او د مريي يا د دوو مريانو خو فرق سره لري، ولي چي په ديت او په قيمت کي يې فرق سته، رمز الحقائق.

قال ﴿ويجب القصاص فى الاطراف بين المسلم والكافر﴾ ولي اختلاف نه سره لري نو مماثلت سره لري.

﴿ومن قطع يد رجل من نصف الساعد او جرحه جائفة فبرء منها فلا قصاص عليه﴾ او که چا پرې کړی لاس د بل چا د نيمايي څخه د بازواو يا يي ټپي کړي او يا يې ټپي کړي په جائفه ټپ او د هغه ټپ جوړ سو فلا قصاص عليه ولي چي ساعد خو هډوکي دي ولا قصاص فى العظم كما مر بل يجب الارش.

فائده:- د نصف ساق هم داغه حکم دي د جائفې ټپ بعض فقها وايي هغه ټپ چي د ننه حصې ته د سر ورسېږي، او بعض وايي چي د ننه حصې ته د نس ورسېږي.

پوهه شه:- چي په جائفه ټپ او د هغه ټپ جوړ سو، فلا قصاص عليه، ولي خو اډوکي دي ولا قصاص فى العظم كما مر، بل يجب الارش.

فائده:- د نصف ساق هم دغه حکم دي او جائفه ټپ بعض فقهاء رحمه الله وايي هغه ټپ دي چي د ننه حصې ته د سر ورسېږي، او بعض وايي چي د ننه حصې ته د نص ورسېږي.

پوښتنه:- چي په جائفه ټپ کي چي قصاص نسته تر جوړېدو د مخه ولي چي مماثلت يې ممکن نه دي، بل يحتمل الزيادة والنقصان نو لازم ثلث الدية دي چي د جائفه ارش يې بلي.

مسئله:- د لوړي حصې د ځګر چي د ننه ټپ سوري سي، او يا د يوه بغل ټپ او د بل بغل ټپ چي د ننه ته ورسېږي ودغه د شا ټپ چي د ننه برخي ټه ورسېږي هم حکم د جائفه لري، او بعض فقهاء رحمه الله وايي چي جائفه په سر او نس پوري اړه نه لري بل مذکوره ټپونه ټوله جائفه بولي، البته د غاړي ټپ او د ورانه ټپ او د پندې ټپ جائفه نه بولي.

مسئله:- که چاړه د يوې خوا څخه د مذکوره ځايو وابلي خوا ته ووته دوې جائفې دي او دوه ثلثه د ديت پکښې لازم دي، حاصل ما فی الزخيره وجامع الزمر.

مسئله:- که جائفه ټپ مفضي و مرګ ته سو نو بيا قصاص النفس لازم دي او که جوړ سوي نه وو نو انتظار دي ورته وکړي که مرګ ته مفضي سو خو قصاص لازم دي او که جوړ سو ارش لازم دي.

قال ﴿واذا كان يد المقطوع صحيحة ويد القاطع شلاء او ناقصة الاصابع فالمقطوع بالخيار ان شاء قطع اليد المعيبة ولاشيئ له غيرها وان شاء اخذ الارش كاملا﴾ او که وو لاس د مقطوع اليد جوړ او بې عيبه، او لاس د قاطع شل وو او يا يې ګوتي

کمي وې نو مقطوع اليد لره اختيار دي که يې خوښه وي دغه لاس عيبجن د قاطع دي پرې کړي او نور شی ده لره نسته يعني تاوان، ولي چي قصاص او ارش نه سره جمعه کېږي. کما تقرر فی کتب الفقه.

قال ﴿ومن شج رجلا فاستوعبت الشجة مابين قرنيه وهی لا تستوعب مابين قرنی الشاج﴾ او که چا ټپي کي سر د يوه سړي يعني پر سر يې عمدا په چاړه وغيره وواهه او دا ټپ د يوه قرنه څخه تر بل قرنه پوري ورسېدي، او دغه مقدار ټپ د شاج يعني د ټپي کونکي د يوه قرنه تر بل قرنه نه رسېدي ولي د شاج سره غټ وو نو که ټپي سوي سړی هم د شاج سر د يوه قرنه څخه تر بل قرنه پوري ورټپي کوي. خو د شاج ټپ لوي راځي نو مساوات چي معنا د قصاص ده موجود نه سو، نو به څرنګه وي؟ ددې په باره کي قدوري رحمه الله وايي چي ټپي لره اختيار دي که د شاج سر په اندازه د خپل سر ورټپي کوي که څه هم د شاج پر سر قرنين د هغه نه رسېږي، او دده خوښه ده هر طرف د شاج د سر چي ټپ دده د سره شروع کوي، اذ لافرق بين طرفی راسه" او که يې خوښه وي تاوان د ټپ دي واخلي کاملا.

پوښتنه:- چي مذکوره فی المتن خو ټپ په عرض کي د سر وي، او که ټپ په طول کي د سر وو يعني د تندي څخه تر څټه پوري د هغه حکم د شجه فی العرض دي سواء سواء، يعني د خپل ټپ په اندازه دي سر د شاج ورټپي کي قصاصا، او که تاوان اخلي.

پوښتنه:- که د شاج سر کوچنی او د مشجوع سر غټ وو، نو که د مشجوع سر چي غټ دي ټپ يې د يوه ټېکه تر بل ټېکه رسېدلي وو نو

حکم يې څه دي، نو که مشجوع په اندازه د خپل تپ د شاج سر ورتپي کړي، خو د شاج د سر تپ تر مابين القرنين تېرېږي، لصغر راسه؟

ځواب:- په دې صورت کي هم مشجوع لره اختيار دي که د شاج سر تر مابين پوري ورتپي کوي وبس، يعني نه په اندازې د خپل سر د تپ ولي په هغه اندازه تپي کول خو تر محل د تپ د مشجوع چي بين القرنين دي په سر کي د شاج تر مابين القرنين تېرېږي لصغر راسه، او دا تجاوز د قصاص سره منافی دي او که يې خوښه وي تاوان د خپل سر د تپ دي د شاج څخه واخلي، كذا فی الهدايه مع الزياده.

قال ﴿ولا قصاص فی اللسان ولا فی الذكر الا ان يقطع الحشفة﴾ او قصاص نسته په پرې کولو کي د ژبې د يو چا او نه قصاص سته د ذکر په پرې کولو کي د يو چا، مګر د هغه ذکر په پرې کولو کي قصاص سته که يې د ذکر سر يعني د سنتي ځای ځندي پرې کړی وو، ولي چي ژبه او غټ خو سره تولېږي يعني کوچني کېږي او لويېږي يعني سره کشېږي نو اندازه د برابرۍ نه معلومېږي، او د فقهاؤ رحمهم الله په کتابو کي وايي چي د امام اعظم رحمه الله په مذهب کي په ژبه کي قصاص نسته که بعض ژبه پرې کړي، وهذا بالاتفاق" او که توله د بېخه ځندي پرې کړي او په دې صورت کي امام ابو يوسف رحمه الله وايي چي قصاص سته، والفتوى على قول ابی حنيفة رحمه الله كذا فی قاضيخان" او که يې حشفه ځندي پرې کړه په هغه کي قصاص سته ولي د حشفې مقدار خو معلوم دي، او غټه حشفه او کوچنۍ حشفه فرق نه سره لري لاتحاد مقصودها.

اوس مسئله:- که يې يوه حصه د حشفې ځندي پرې کړه په هغه کي هم قصاص نسته ولي چي د بعض مقدار نه معلومېږي.

قال المصنف رحمه الله ﴿لاختلافه بصغر الحشفة وكبرها واذا اصطلح القاتل اولياء المقتول على مال سقط القصاص ووجب المال قليلا كان او كثيرا﴾ او که صلح وکړه قاتل د قريبانو سره د مقتول پر مال باندې يعني هر مال چي وي که روپۍ وي او که بل مال، نو قصاص ساقط سو يعني په مجرد صلح سره او مال واجب سو که لږ وي هغه مال او که ډېر وي، قال الله تبارك وتعالى فمن عفی له من اخيه شيئ فاتباع بالمعروف واداء اليه باحسن.

ژباړه:- چي دا آيت په اتفاق د مفسرينو رحمهم الله په باره کي د ترك د قصاص دي، او د قبول د مال د طرفه څخه د اولياء د مقتول نازل سوي دي، او ترجمه يې دا ده که چا ته عفو وکړه سوه يعني وقاتل ته د طرفه څخه د اولياؤ د مقتول د هغه شي چي پر قاتل لازم وو يعني قصاص په قتل عمد کي او راضي سوه اولياء په قبول د ديت او مال من اخيه يعني من دم اخيه، چي مقتول دي او ددوي قريب دي يو شی د عفو څخه نو دي اولياء د مقتول دغه مال د قاتل څخه په معروف او احسان سره اخلي يعني ډېر دې نه تنګوي او قاتل دي هم آداء د هغه مالي وکړي چي ده پر ځان لازم کړي دي و اولياء ته د مقتول د احسان پر طريقه يعني هغه مال دي نه ځنډوي، كذا فی تفسير المدارك وغيره، وقال رئيس المفسرين عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نزلت هذه الآية فی الصلح وورد فی الحديث

الصحيح من قتل له قتيل فاهله بين خيرتين بين ان ياء خذوا المال وبين ان يقتلوا.

قال ﴿فان عفى احد الشركاء من الدم او صالح من نصيبه على عوض سقط حق الباقين من القصاص وكان لهم نصيبهم من الدية﴾ او كه عفو وكړه يوه د شريكانو يعني چي قريبان د مقتول دي د وينو څخه د قاتل يعني قصاص معنا دا چي كه يو قريب د مقتول قاتل ته د خپل حق څخه د قصاص مفته بخښه وكړه، او يا يې صلح وكړه يوه د شريكانو څخه د خپلي برخې څخه د قصاص پر عوض مالي، نو ساقط سو حق د نورو شريكانو د قصاص په باره كي او باقى شريكانو لره خپله برخه ده په ديت كي د مقتول، يعني باقي شريكانو لره حق د قصاص پر قاتل نسته بلكه مجبورا به ديت د خپلو برخو اخلي.

ژوبڅنې وايي:- چي مبني ددې قاعدې پر هغه قاعدې دي چي قصاص تقسيم نه قبلوي، وهذا باجماع الفقهاء رحمة الله عليه، نو چي بعض د قصاص ساقط سو په عفو مجاني او يا عفو عوضي، د بعض شريكانو تولە قصاص ساقط سو، البته چونكه نور شريكان په عفو مجاني راضي نه دي نو دوي به خپل حق مال اخلي چي ديت دي، يعني د عفو كونكي او مالي عوض اخستونكي حصه دي څندي وباسي او نور ديت دي دوي واخلي بالغا ما بلغ.

پرتله ښه:- چي حق اصلي په قتل عمد كي قصاص دي او اولياء د مقتول په مابين كي د قصاص او ديت اختيار نه لري زمونږ په نېز، او

امام شافعي رحمة الله عليه وايي چي اولياء د مقتول اختيار لري نو قاتل دده پر مذهب مجبور دي هرڅه فيصله چي اولياؤ د مقتول وكړه هغه به قبلوي.

قال القدوري ﴿واذا قتل جماعة واحدا عمدا اقتص من جمعيهم﴾ او كه مړ كي يوه جماعت يو نفر په قصد سره يعني په آله جارحه سره كما مر من قبل، نو قصاص دي واخستل سي د تولو څخه يعني تولە دي پر قصاص سي، په كفايه كي وايي چي دا حكم د قصاص د تولو هلته دي چي هر يوه د جماعت داسي مقتول تپي كړي وي، چي د هر يوه تپ سبب د قتل د مقتول ګرځيدای سي.

ژوبڅنې وايي:- چي كه پر مقتول په عدد د قاتلانو وژونكي تپو نه وه او په عين حال كي يو كوچنى تپ هم موجود وو چي سبب د قتل نه وو بيا دي هم تولە قصاص سي، ولي دا كوچنى تپ هم د يوه څخه د دوي دي، او كه د كوجني تپ كونكي معلوم وو هغه دي نه قصاصېږي، كما لا يخفى.

پرتله ښه:- چي په هدايه كي وايي چي قصاصول د تولو مخالف د حكم څخه د قياس دي ولي مساوات په قصاص كي شرط دي او هغه دلته نسته، لكن دا قياس مونږ په هغه اثر د عمر رضي الله عنه پرېښو چي دده د خلافت په وخت كي اوه (۷) كسانو يو سړى وژلى وو، نو حضرت عمر رضي الله عنه حكم د قصاص پر تولو وكي، ولي چي قتل په اجتماع عادت د سفهاؤ د زماني دي نو تولە پر قصاصېږ ولي نور سفها به عبرت واخلي او داسي كار به بيا نه كوي، قال الله تعالى ولكم فى القصاص حيوة يا اولى الا لباب"

قال ﴿واذا قتل واحد جماعة فحضر اولياء المقتولين قتل لجماعتهم ولا شيئ لهم غير ذالک﴾ او که ووژل يوه سړي ډېر کسان او قربان د مقتولينو تولـه حاضر سوه نو هغه قاتل دي وژل سي د تولو د پاره او هيڅ شی نور يعني مال وغيره نسته ددوي ذ پاره غير د هغه قصاصه د يوه نفر.

قال ﴿فان حضر واحد منهم قتل له وسقط حق الباقين﴾ او که حاضر سو يو نفر د اولياء څخه د مقتولينو يعني طلب د قصاص د قاتل يې وکړی، د هغه يوه د پاره دي قاتل قصاص سي او د نورو اولياؤ د مقتولينو حق ساقط سو ولي چي محل د بل قصاص نه دي پاته.

قال ﴿ومن وجب عليه القصاص فمات سقط عنه القصاص﴾ او که پر چا واجب وو قصاص، او هغه سړی په خدايي مرګ مړ سو نو ساقط سو دده څخه قصاص، لفوات محل القصاص.

قال ﴿واذا قطع رجلان يد رجل واحد فلا قصاص على كل واحد منهما وعليهما نصف الدية﴾ او که پرې کي دوو کسانو لاس د يوه سړي نو قصاص نسته پر هر يوه، او پر دواړو نيم ديت لازم دي ولي چي قطع اليد خو ددواړو په فعل سره راغلی، او د يوه لاس خو نيم ديت دي نو پر هر يوه ربع ديت واجب دي.

ټوله مسئله:- چي ددې مسئلې صورت دادي چي دوه کسان يوه چاړه راواخلي او دواړو ټينګه نيولې وي او د بل سړي د لاس پر يوه بند يې کشوي او لاس يې پرې کړي، وجه د عدم قصاص پر هر يوه داده چي هر يوه د هغه سړي بعض او يوه حصه د لاس ورپرې کړې ده، ټوله لاس خو

يې نه دي ورپرې کړې، نو که ددواړو لاس ورپرې کړه سي خو ددوي پوره لاس د هغه سړي د يوې حصې په عوض کي پرې کړه سوه، وهذا ينا فی القصاص لان مبناه على المساوات كما مر من قبل مرارا.

فائده:- دا ربعه د ديت چي پر هر يوه لازمه ده د خپل شخصي مال څخه به يې ورکوي، يعني عاقله نسته ولي چي په عمدا قتل يا قطع کي پر عاقلې شی نسته.

فائده:- امام شافعي رحمه الله وايي چي د دواړو لاسونه دي پرې کړه سي، دی قطع پر قتل قياسوي ولي چي اطراف تابع د نفس دي، يعني دوه کسه چي يو سړی عمدا مړ کړي دواړه پر قصاصېړي، مونږ وايو چی دا قياس مع الفارق دي ولي د روح ختل خو تجزيه او تقسيم نه قبلوي، نو ځکه دواړه قاتلان مستقل دي په قتل کي، نو پر هر يوه کامل قصاص لازم دي بخلاف القطع فانه يقبل التجزية والتقسيم" او زمونږ د مذهب دليل د مخه عنقريب تېر سو.

قال القدوری ﴿وان قطع واحد يمينی رجلين مخضرا فلهما ان يقطعهما يده وياخذا منه نصف الدية ويقسمانه نصفين﴾ او که پرې کړه يوه سړي يعني عمدا د دوو کسانو راسته لاسونه.

فائده:- د يمينی د لفظ فائده داده که دغه سړي د يوه سړي راسته لاس ورپرې کړي او د بل سړي يې چپه لاس، نو ددغه سړي دي دواړه لاسونه ورپرې کړه سي، لتعدد محل القصاص قاله صاحب العنايه، نو دغه دواړه کسان حاضر سوه يعني د قصاص د پاره نو دوي ته دا جواز دي چي د قاطع هم راسته لاس ورپرې کړي، او دوي دوه واخلي د قاطع

څخه نيم ديت او بيا يې په خپل مابين کي سره ووېشي يعني چي ربع ديت وهر يوه ته ورسېږي.

قال ﴿فلو حضر واحد منهما وقطع يده فللآخر عليه نصف الدية﴾ او که حاضر سو يو د هغه دوو کسانو څخه، او د قاطع لاس يې ورېږي کړي، نو هغه بل سړی به د قاطع څخه نيم ديت اخلي او پر قاطع لازم هم دي.

پوهاوی:- چي ددې عبارت فائده دا ده چي په صورت مذکوره کي اجتماع ددواړو کسانو ضروري نه ده ولي چي هر يو حق مستقل د قطع اليد لري، او چي يو يې لاس ورېږي کړي نو د هغه بل د پاره محل د قصاص نه سو پاته نو مجبورا د هغه حق نصف ديت دي.

قال ﴿ولو اقر العبد بقتل العمد لزمه القود﴾ او که اقرار وکړی مريي د يو چا په قتل عمد سره نو پر هغه قصاص لازم دي.

پوهاوی:- چي مريي په حق کي د وينو باقي پر خپل اصلي حريت دي او دا اقرار دده صحيح هم دي ولي چي په دې کي دی متهم بالکذب هم نه دي لاته ضرر له وبطلان حق المولی ضمنا لاباس به.

فائده:- اقرار د قتل عمد د مريي صحيح دي که مريي ماذون فی التجارت وي او که محجور وي لما مر انه باق علی اصل الحريۃ فی حق الدم.

فائده:- که مريي په قتل خطاء اقرار وکړي هغه اقرار يې نه دي صحيح ولي د قتل خطاء عوض خو مال دي ده لره خو مال نسته، او رقبه خو يې ملك ده مولی ده.

پوښتنه:- که دغه مريي چي اقرار يې وکړی په قتل خطاء سره او دی ماذون وو بايد اقرار يې صحيح سي" کاقرار بدين غيره عليه؟

ځواب:- دی خو ماذون بالتجارت وو قتل خطاء خو د قسمه څخه د تجارت نه ده.

قال المصنف ﴿ومن رمى رجلا عمدا فنفذ السهم منه الى آخر فماتا فعليه القصاص للاول والدية للثانى على العاقلة﴾ او که چا وويشتی يو سړی قصدا نو تر هغه غشی ووتي او په بل سړي کي ومښتي او دواړه مړه سوه، نو پر دغه رامي قصاص دي د اول د پاره ولي چي د قتل عمد جزاء قصاص دي، او ديت دي د دوهم د پاره او ديت هم پر عاقله د قاتل ده ولي چي دوهم سړی قتل خطاء دي او موجب د قتل خطاء ديت دي پر عاقله کما مر.

﴿كتاب الديات﴾

پوه نمه:- چي ديات جمع د ديت ده، والديت بالفارسية خون بهادن كما فی الصراح سمی المال بالدية، تسمية بالمصدر.

پوه نمه:- چي په قتل کي د خطاء، وما يجری مجراه، وفی شبه العمد، وفی القتل بسبب، وفی قتل الصبی والمجنون لان عمدهما خطاء" په دې تولو قتلو کي ديت دي او هغه پر عاقله د قاتل دي.

ترويښ وايي:- چي د دغو قتلو معناوي په كتاب الجنايات کي تېري سوي.

فائده:- پلار چي زوي مړ کړي په قصد سره چونکه پلار نه پر قصاصېږي لکن دیت به پر پلار واجب وي دده په مال کي په درې کاله کي، کذا فی الجوهره، والهدایه، وغیرهما من کتب الفقه.

قال المصنف ﴿اذا قتل رجل رجلا شبه عمد فعلی عاقلته دية مغلظة وعليه كفارة﴾ او که ووژی یو سړي بل سړی په شبه عمد سره نو پر عاقله د قاتل دیت سخت دي، او پر قاتل کفاره لازمه ده.

پوهه شه:- چي د شبه عمد ذکر د مخه تېر سو، او د عاقلې او دیت مغلظ او د کفاره قتل به وروسته راسي انشاء الله تعالی.

قال ﴿ودية شبه العمد عند ابی حنيفة وابی يوسف رحمهما الله تعالى مائة من الابل ارباعا خمسة وعشرون بنت مخاض وخمسة وعشرون بنت لبون وخمس وعشرون حقة وخمس وعشرون جذعة﴾ او دیت د شبه العمد د امام اعظم رحمه الله او ابو یوسف رحمه الله په نهز سل اوښه دي پر څلور ډوله، (۱) دا چي ۲۵ پنځه ویشت به یې بنت مخاض وي، (۲) دا چي ۲۵ پنځه ویشت به بنت لبون وي، (۳) دا چي پنځه ویشت به یې حقه وي او (۴) دا چي پنځه ویشت به یې جذعه وي.

پوهه شه:- چي بیان د بنت لبون، بنت مخاض، حقې، او جذعې په کتاب الزکوات کي تېر سوي دي.

فائده:- دا دیت مغلظ دي په نهز د شیخینو رحمهما الله او امام محمد او امام شافعي رحمه الله وای چي د شبه عمد دېرش جذعې دي، او دېرش حقې

دي او څلوېښت هغه اوښاني چي په شپږم کال کي داخلې وي، او حاملاني وي، والدلائل فی الشروح المبسوطة.

ډېر ښه وایي:- چي چونکه کتاب الزکوات د نکاح قدوري څخه ډېر لري وو، نو ځکه وایم چي بنت مخاض هغه جونګی ده چي په دوهم کال کي داخله وي، او بنت لبون هغه اوښه ده چي په دریم کال کي داخله سوې وي، او حقه هغه اوښه ده چي په څلورم کال کي داخله سوې وي، او جذعه هغه اوښه ده چي په پنځم کال کي وي.

قال ﴿ولا يثبت التغليظ الا فی الابل خاصة فان قضى بالدية فی غير الابل لم تتغلظ﴾ او نه ثابتېږي تغلیظ مګر په اوښانو کي خاص، ولي چي دا تغلیظ په اوښانو کي په صریح حدیث سره ثابت دي، نو بل دیت پر هغه نه قیاسېږي، قاله صاحب العنایه، نو که قضا وکړه سوه د دیت په غیر کي د اوښانو نو هغه دیت نه مغلظ کړه کېږي ولي چي د شارع د خوا اوربده سوی تغلیظ په اوښانو کي دي وبس.

قال ﴿وفی قتل الخطاء تجب به الدية على العاقلة والكبارة على القاتل﴾ او په قتل خطاء کي دیت په خطاء سره واجبېږي پر عاقله او قاتل باندي، قال الله جل سلطانه" ومن قتل مؤمنا خطاء فتحرير رقبة مؤمنة ودية مسلمة الى اهله.

قال ﴿والدية فی الخطاء مائة من الابل اخماسا﴾ یعني شل بنت مخاض دي، او شل ابن مخاض یعني نران، او شل بنت لبون دي، او شل حقې دي، او شل جزعې دي، په حدیث شریف کي چي روایت یې احمد

او ابو داؤد او ترمذي رحمه الله د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه هم داغه ترتيب راغلي دي.

پوښتنه:- چي تخفيف په ديت کي د خطاء تر ديت د شبه عمد په دوه ځای کي دي يو داچي ديت د شبه عمد ارباعا وو کما مر، او ديت د خطاء اخماسا دي، او بل دا چي په ديت شبه العمد کي نر او ښځه نه وه، او په ديت الخطاء کي ابن لبون نر اوښان هم داخل سوه.

پوښتنه:- د نر او ښځې څه فرق دي؟

ځواب:- د نر څخه خو بې کرايه کشي او سپرتيا بله فائده نه اخسته کېږي او د ښځې زائد تر سپرتيا او کرايه کشي د توالد او تناسل فائده هم اخسلت کېږي.

قال ﴿ومن العين الف دينار ومن الورق عشرة الاف درهم﴾

او ديت د سرو زرو څخه زر (۱۰۰۰) دينار دي، او د سپينو زرو څخه لس زره (۱۰۰۰۰) درهم دي.

پوښتنه:- چي قيمت د هر دينار لس درهم دي نو زر دينار لس زره درهمه کېږي، وبالعكس فلافرق فی المعنی، او امام شافعي او امام مالك رحمه الله وايي چي دوولس زره (۱۲۰۰۰) درهمه دي، والاختلاف بسبب الاختلاف فی الحديثين، ومع ذالك ترجيح زمونږ مذهب لره ده ولي چي زمونږ د مذهب ديت اقل دي او اقل متعين دي او يقيني دي كذا فی مجمع الانهر.

قال المصنف ﴿ولا يثبت الدية الا من هذه الانواع الثلثة عند ابی حنيفة رحمه الله﴾ او ديت نه ثابتېږي مګر ددغو درو نوعو څخه يعني ابل اوښ، سره زر، او سپين زر په نېز د امام اعظم رحمه الله.

﴿وقالا رحمهما الله تعالى منها ومن البقر مائتا بقرة ومن الغنم الفا شآة ومن الحلل مائتا حلة كل حلة ثوبان﴾

پوښتنه وايي:- چي ديت چي په مشهورو احاديثو مبارکه وو کي ثابت دي، هم د دغو درو نوعو څخه ثابت دي فلا يقاس عليه غيرها، نو ددې سببه امام اعظم رحمه الله پر دغو درو نوعو ديت منحصر کړی دي، او دليل د قول د يارانو دادي چي امير المؤمنين عمر رضي الله عنه په دوران کي د خپل خلافت ديت په مذکوره شپږو شيانو بيان کړي دي چي صحابه کرام رضي الله عنهم هم حاضر وه او چا انکار پر وه نکړی، فكان اجماعا.

پوښتنه:- په بقراتو (غويانو) کي خو ډېر فرق سته او داغه رنګه په پسو کي ډېر فرق سته، او داغه رنګه په حللو کي هم فرق غير متناهي موجود دي نو تعيين د ماهو الواجب من هذه الثلث فی الديت مونږ په څه شي سره کوو؟

ځواب:- فقهاء رحمهم الله تعيين په دغو درو نوعو کي داسي بيان کړي دي چي هره بقره به پنځوس درهمه قيمت لري، او هر پسه به پنځه درهم قيمت لري، او هره حله به پنځوس درهمه قيمت والا وي.

پوښتنه:- دغه هر نوعه په اعتبار د قيمت مذكوره خو لس زره (۱۰۰۰۰) درهمه كېږي نو فائده ددې اختلاف په مابين كي د امام اعظم رحمة الله عليه او صاحبينو رحمة الله عليه څه ده؟

ځواب:- فائده يې دا ده كه چېري ولي د مقتول او ولي د قاتل پر اكثر تر دوو سوو بقراتو او يا تر دوو زرو پسو او يا دوه سوه حلو بالا صلح سره وكړه د امام اعظم رحمة الله عليه په نېز روا دي ولي چي دا انواع ثلثه خو ديت نه دي چي زياده تر مقدار شرعي پكښې ناروادي، او د يارانو رحمة الله عليه په نېز دغه زيادت په صلح سره ناجائز دي ولي چي دا درې نوع خو هم ديت دي، او په ديت كي بالاتر ديت صلح ناروا ده لكه پر زائد تر سلو اونبانو مثلا چي ولي د قاتل او مقتول يې سره وكړي.

فائده:- مراد د حلتانو څخه قميص او پرتوګ دي.

قال ﴿ودية المسلم والذمي سواء﴾ او ديت د مسلمان او د اهل ذمه سره برابر دي، نو نر د اهل ذمه وو لكه زمونږ نر دي او ښځې ددوي لكه زمونږ ښځې دي په قتل نفس او مادونها كي، عنايه،

او امام شافعي رحمة الله عليه وايي چي ديت د نصراني او يهودي څلور زره درهمه دي، او ديت د آتش پرسته چي مجوسي يې بولي اته سوه روپۍ دي، زمونږ قول هغه قول د عليه السلام دي ديت كل ذى عهد فى عهده الف دينار، وكذالك قضى ابوبكر وعمر رضي الله عنهما كذا فى الهدايى.

قال ﴿وفى نفس الدية وفى المارن الدية وفى اللسان الدية وفى الذكر الدية وفى العقل اذا ضرب راسه فذهب عقله

الدية وفى اللحية اذا حلقت فلم تنبت الدية وفى شعر الراس الدية و فى الحاجبين الدية وفى العينين الدية وفى اليدين الدية وفى الرجلين الدية وفى الاذنين الدية وفى الشفتين الدية وفى الاثنين الدية وفى ثدي المرئة الدية﴾ او د نفس په وژلو كي ديت دى، او نرمك د پزي چي ځندي پرې يې كړي ديت دي، او په ژبه كي چي ځندي پرې يې كړي ديت دي، او چي ذكر د سړي ځندي پرې كړي ديت دي، او په عقل كي چي پر سر يې ووهي او عقل يې ختم سي ديت دي، او په ږره كي ديت دي چي داسي يې وروخره يي چي بيا وښتان نه راشنه كېږي، مثلا تېزاب يې پر وښتانو ورتوي كړي، او د سر په وښتانو كي چي بيا نه راشنه كېږي ديت دي، او د ورزو په خريلو سره چي بيا نه راشني كېږي ديت دي، او چي په دواړو سترګو يې ړوند كي ديت دي، او كه په يوه سترګه د مخه ړوند وو او هغه بله سترګه يې يو سړي ور ړنده كړه نيم ديت دي، او دواړه لاسونه چي يې ورپرې كړي پوره ديت دي، او دواړې پښې چي يې ورپرې كړي پوره ديت دي، او دواړه غوږونه چي يې ورپرې كړي ديت دي، او دواړه شونډان چي يې ورپرې كړي ديت دي، او دواړې خوټې ځندي پرې كړي ديت دي، او په دواړو تيو كي د ښځي چي ځندي پرې يې كړي ديت دي.

پوښتنه:- چي اصل او دليل د دغو مسئلو د عضو خو هغه حديث نبوي دي چي سعيد بن المسيب رضي الله عنه يې روايت كړى دي چي نبي عليه السلام وويله، فى النفس الدية وفى اللسان الديةوفى المارن الدية"

فائده:- قانون کلي په اطرافو کي د انسان دادي چي هري قطعي چي د انسان د عضو منفعت علی الکمال د مابين څخه وړي او يا جمال او بنايست مقصود په انسان کي هم علی الکمال فوت وه په هغه کي توله ديت لازميږي ولي چي په دې کي اتلاف د نفس دي من وجه، او په انسان کي اتلاف ملحق په اتلاف الکل سره دي تعظيما للآدمی، کما يدل عليه الحديث المذکور آنفا فی قطع بعض الاطراف حيث اوجب کل الدية فيه، هداية.

ژوبښې وايي:- چي پر اصل او قانون مذکوره ډېري تفريعاتي بناء کېږي کما فی الهدايه وغيره، هغه دادي چي د پزي په پرې کولو کي پوره ديت دي، ولي چي دا پرې کول جمال د انسان علی الکمال د مابين څخه وړي، او داغه رنګه که يې نرمك د پزي ورقطع کړي پوره ديت دي ولي چي د نرمك په پرې کولو کي جمال انساني باطلږي، او که نرمك او سرمې ورپرې کړې تر يوه ديت بالاشی نسته، لان انف عضو واحد" او ژبه چي يې ورپرې کړي منفعت او مقصود د خبرو يې ورضائع کړي نو پوره ديت لازم دي، او که يې بعض ژبه ورپرې کړه بعض باقي وه لکن خبرې يې نه سوای کولای هم پوره ديت لازم دي، لفوات المنفعة المقصودة وهو النطق" او که يې بعض حروف ويلای سوای او بعض حروف يې نه سوای ويلای د فقهاء د اختلاف سره سره صحيح مذهب دادي کې اکثر حروف ويالای سوه او بعض حروف يې د قطع اللسان په سبب نه سوای ويلای نو پوره ديت خو نسته لعدم فواة فائدة النطق وهی الافهام والتفهيم" لکن په سبب د خلل په نطق کي حکومت عدل لازم دي،

مکتبة القراءة والتجويد کوئټه

او که يې ډېر حروف نه سوای ويلای او بعض حروف يې ويلای سوای نو پوره ديت غواړي ولي چي افهام د بل چا چي فائده د نطق ده نسي کولای، او که يې ذکر ځندي پرې کړی وو هم پوره ديت لازم دي، ولي چي د ذکر فوائدي توله فوت سوې چي هغه وطي دي، د اولاد زېږول دي، بولې دي او مني لري غورځول دي، او تېنګول د بولو دي، او ادخال په فرج د ښځي دي، او که يې خوتې ځندي کښلې وې هم پوره ديت دي ولي چي فائده د خوتو چي پر وطي قدرت دي وغيره بالکليه فوت سوه، لکه د موټر ټائيرونه چي ځندي وکاږي او نور موټر روغ وي، او که يې د غنړ ککري ځندي پرې کړې وه چي حشفه يې بولو هم پوره ديت لازم دي ولي چي حشفه مدار د ادخال فی الفرج ده او دا نوره توله د غنړ تابع د حشفې ده، او د ږري خريل چي بيا نه راشنه کېږي او د سر وېښتيان يا د ورزو وېښتيان چي بيا نه راشنه کېږي هم پوره ديت دي، لفوات الجمال الانسانی بالمذکورات" او د سر په وېښتيانو کي د امام شافعي امام احمد او امام مالك رحمه الله عليه مذهب دادي چي پوره ديت نسته بلکه حکومت عدل غواړي، والدلائل فی المطولات.

فائده:- مصنف رحمه الله عليه پخپل عبارت کي ثدی المرئة ذکر کړی ولي چي په قطع د دواړو تيو د ښځي فائده مخصوصه د تيو چي ارضاع د ولد ده د مابين څخه ځي بالکمال نو ځکه پوره ديت واجب دي.

پوښتنه:- که يې سرونه د تيو ورپرې کړه هم پوره ديت واجب دي ولي چي سرونه د تيو نه وي هم ارضاع نسي کولای، او د نر تي که يې ورپرې کړه چونکه نه رفعه د فائدې مخصوصي پکښې سته او نه رفع د

مکتبة القراءة والتجويد کوئټه

جمال نو ددې سببه ديت نسته بلکه فيصله ته د عادل سړي دي رجوع وکړي.

فائده:- په قطع کي د ثديو د ښځي چي پوره ديت دي هغه د ښځي ديت مراد دي چي هغه نصف ديت د نر دي، او چي يو تی ځندي پرې کړي نيم د ديت د ښځي دي.

قال المصنف رحمه الله ﴿وفی کل واحد منها نصف الدية﴾

او په هريوه کي د دغو شيانو يعني يو لاس يا يوه پښه يا يوه سترګه وغيره کي نيم ديت دي، که د نر وه د نر نصف الديت دي، او که د ښځي وه د ښځي نصف الديت دي.

قال ﴿وفی اشفار العينين الدية وفی احدها ربع الدية﴾ او په قطع کي د بانو ګانو د دواړو سترګو پوره ديت دي، ولي چي ددې په قطع کي جمال د مخ بالکليه د مابين څخه ځي، او فائده د بانو ګانو چي دفع د خاشې وغيره ده هم د مابين څخه ځي، او که يې د يوې خوا بانوګان ورقطع کړه څلورمه د ديت ده ولي بانوګان خو کښته او لوړ څلور دي.

پوه شه:- چي بانوګان داسي ورقطع کړي چي بيا نه راشنه کيږي نو ديت يا ربع ديت لازم دي او که يې بانوګان ببرته راشنه سوه بيا هيڅ شی نسته، قاله فی الجوهره.

قال ﴿وفی اکل اصبع اليدين والرجلين عشر الدية والاصابع کلها سواء﴾ او په هره ګوته کي د ګوتو د لاسو او پښو لسمه د ديت

لقوله عليه الصلوة والسلام فی کل اصبعة عشرة من الابل" اولس اوښان د سلو اوښانو لسمه حصه ده، او ګوتې ټولې سره برابرې دي ولي حديث شريف او په اصل منفعت کي هم سره برابري دي نو زيادت د مقدار يې اعتبار نه لري.

قال ﴿وفی کل اصبع فيها ثلثة مفاصل ففی احدها ثلث دية الاصبع وما فيها مفصلان ففی احدها نصف دية الاصبع﴾ او په هره ګوته چي درې بنده وي نو په قطع کي د يوه بند دريمه حصه د ديت د ګوتي ده يعني دلسو اوښانو دريمه ده، او هره ګوته چي پکښې دوه بنده وي نو په قطع کي د يوه بند يې نيم ديت لازم دي.

قال ﴿وفی کل سن خمس من الابل والاسنان والاضراس کلها سواء﴾ او په هر غاښ کي چي وروه يې کاږي پنځه اوښان دي ولي چي په حديث مبارک کي راغلي دي چي حضرت ابو موسی الاشعری رضی الله عنه يې روايت کړی دي د يوه غاښ د پاره پنځه اوښان تاکل سوي دي، او اسنان او اضراس ټوله سره برابر دي ولي چي په اصل منفعت کي ټوله سره برابر دي په بعض کي نفع د قطعي موجوده ده او په بعض کي ښائست د خندا سته او په بعض کي ميده کول د طعام سته.

پوه شه:- چي ديت هلته لازم دي چي په خطاء کي يې غاښ ورايستلی وي، او که يې په قصد سره غاښ ورکښلی وو په هغه کي قصاص دي، جوهره.

فائده:- صاحب العنايه پر عبارت د مصنف رحمه الله يو معقول سوال کړي دي چي مصنف ولي اسنان او اضراس سره مقابل کړه، ولي سن خو اسم جنس دي ټولو غابنو ته شامل دي نو مصنف بايد داسي ويلي واى والاسنان كلها سواء.

فائده:- پوره غابنونه د اکثرو خلګو دو دېرش (۳۲) وي. څلور په دغو کي ثنايا بولي چي د مخ غابنونه دي دوه لوړ او دوه کښته، او څلور رباعيات بولي دوه لوړ او دوه کښته متصل په ثنايا سره، او څلور انياب بولي چي هغه متصل په رباعياتو پوري دي دوه لوړ دوه کښته، او څلور ضواحك بولي چي متصل په انيابو پوري دي دوه لوړ او دوه کښته او دولس غابنونه طواحين بولي شپږ کښته او شپږ لوړ، او څلور نواجذ بولي دوه لوړ او دوه کښته چي اضرس الحلم والعقل يې هم بولي ولي چي دا غابنونه وروسته تر بلوغ شنه کېږي وقت كمال العقل.

ژوبښ وايي:- چي ددې تفصيل څخه حقيت او صحت د سوال د عنايه پر قدوري باندي معلوم سو، والله اعلم بالصواب.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن ضرب عضوا فاذهب منفعته ففيه دية كاملة كما لو قطعه كاليد اذا شلت والعين اذا ذهب ضوءها﴾ او که چا وواهه يو اندام د يو چا نو هغه وهلو قطع کړي منفعت او فائده د هغه اندام نو په دې وهلو کي پوره ديت دي لکه چي ورېږي يې کړي، لکه چي پر لاس يې ووهي او هغه لاس شل سي او يا يې پر سترګه

ووهي د هغې نور ولاړ سي، په هدايه کي وايي چي په اندامو کي اعتبار منفعت لره دي نه صورت لره د اندام.

قال ﴿والشجاج عشرة الحارصة﴾ او ټپونه لس قسمه دي چي يو يې حارصه بولي دا هغه ټپ ته وايي چي صرف پوست وګرېږي او وينه نه راوباسي، او يا پوست وکوټي او وينه نه راوباسي ﴿والدامعة﴾ او بل دامعه ټپ بولي چي وينه خو راوباسي لکن ونه بهېږي لکه د سترګې ښکه چي راتوي نه سي ﴿والدامية﴾ او بل دامیه ټپ بولي چي وينه راوباسي او وبهېږي ﴿والباضعة﴾ او بل باضعه ټپ بولي چي پوست يې پرې کړي سره د وينو وتلو ﴿والمتلاحمة﴾ او بل متلاحمه ټپ بولي چي غوښه يې هم پرې کړي ﴿والسمحاق﴾ او بل سمحاق ټپ بولي، هدايه وايي چي سمحاق په سر پوري خاص دي، چي هغه ټپ ته وايي چي د غوښو او د هډوکي د سر تر مابين چي نري پرده د هغې ته ورسېږي.

﴿والموضيحة﴾ او بل موضيحه ټپ دي چي په ټپ سره هډوکي ښکاره سي ﴿والهاشمة﴾ او بل هاشمه ټپ دي چي هډوکي ورمات کړي ﴿والمنقلة﴾ او بل منقله ټپ دي دا هغه ټپ دي چي هډوکي خو ورمات کړي او هډوکي سره تېر او ببر سي ﴿والآمة﴾ او بل آمه ټپ بولي هدايه وايي چي دا هغه ټپ دي چي ام الدماغ ته ورسېږي يعني هغه پردې ته چي په هغې ماغزه محفوظ دي.

قال ﴿ففی الموضحة القصاص ان کان عمدا﴾ نو په موضحه ټپ کي قصاص سته که چېري په قصد سره وو، سبب دادي چي په دې ټپ کي مساوات ممکن دي، يعني د شاج په سر دي او يا په بله عضو دي چاړه ورچخ کړي او هډوکي ته دې ورورسوي.

قال ﴿ولاقصاص فی بقية الشجاج﴾ او قصاص نسته په باقي ټپو کي يعني ماسوا د موضحه څخه، ولي په هغو کي مساوات نه سي راتلای ولي چي تر موضحه چي کم وي داسي حد معين نسته چي چاړه دي ورته ورسېږي، او تر موضحه لوړ ټپونه په هغو کي ماتول د هډوکي دي، وقد قال عليه السلام لاقصاص فی العظم، مجمع.

قال ﴿وفی مادون الموضحة ففيه حكومة العدل﴾ او په کم کي تر موضحه حکومت د عدل دي، هغه داسي چي دا مجروح ته مريي فرض کړه نو يو وار يې قيمت کړه ببله دې ټپه مثلا قيمت يې زر روپۍ وو، او بيا يې د ټپ د اثر سره قيمت نهه سوه روپۍ کيدی، نو سل روپۍ خو لسمه د زرو روپو ده، نو دا تفاوت په ديت کي معتبر کړه نو ديت خو پوره لس زره روپۍ وو نو د هغو لسمه زر روپۍ د نو زر روپۍ ديت د دغه ټپ دي، وهذا معنا حكومة العدل، قال فی مجمع الانهر وبه يفتی.

قال المصنف رحمه الله ﴿وفی الموضحة ان كانت خطاء نصف عشر الدية﴾ نو په موضحه ټپ کي که په خطاء سره وو نيمی د لسمې د پوره ديت لازم دي، پوره ديت سل اوښان دي کمامر لسمه يې لس اوښان دي،

نيمی د لسو پنځه اوښان دي نو پنځه اوښان ديت د موضحه دي چي په خطاء سره وي.

﴿وفی الهاشمة عشر الدية﴾ او په هاشمه ټپ کي چي په خطاء سره وي لسمه ددیت ده يعني لس اوښان.

﴿وفی المنقلة عشر ونصف عشر الدية﴾ او په منقله ټپ کي يوه لسمه حصه او بله نيمی د لسمې ديت دي يعني پنځه اوښان.

﴿وفی الآمة ثلث الدية﴾ او په آمه ټپ کي چي په خطاء سره وي دريمه د ديت ده يعني ديارلس اوښان او د يوه اوښ د قيمت دريمه.

فقير وايي:- چي په کتاب کي د عمرو بن خرم راغلي دي چي نبي عليه السلام دا ذکر سوي مقدارونه په مذکروه ټپو کي چي په خطاء سره وي تاکلي دي.

قال ﴿وفی الجائفة ثلث الدية فان نفذت فهی جائفتان ففيهما ثلثا الدية﴾ او په جائفه ټپ کي يو ثلث د ديت دي، او دغه جائفه ټپ که هغه بلي خواته سوري سو يعني په نس کي يې وواهه مثلا چاړه د شا د خوا څخه ووته، نو دا دوې جائفې دي يوه د شا د خوا او يوه د مخ يعني د نس د خوا، نو په دې دوو جائفو کي دوه ثلثه د ديت دي، هكذا حكم ابو بكر الصديق رضی الله عنه فی الجائفة النافذة كما نقل فی الهداية.

قال ﴿وفی اصابع اليد نصف الدية﴾ او په ګتو کي د يوه لاس چي په خطاء يې ورپرې کړي نيم ديت دي، ولي د هري ګوتي لسمه د ديت ده

يعني لس اوښان، نو په پنځو ګوتو کي پنځوس اوښان دي چي نيمايي حصه د پوره ديت ده.

﴿فان قطعها مع الكف ففيها نصف الدية﴾ او که يې د ګتو سره ورغوی هم ورپرې کړي، نو په هغه کي هم نيم ديت دي، لقوله عليه السلام وفی اليدين الدية وفی احدهما نصف الدية" ولي چي ورغوی تابع د ګتو دي ولي چي تينګول د شي چي جنس منفعت د لاس دي په ګوتو سره کېږي، كذا فی الهدايه.

قال ﴿وان قطعها مع نصف الساعد ففی الكف نصف الدية وفی الزيادة حكومة العدل﴾ او که يې ورپرې کی نيمی د بازو د ګوتو سره نو په ورغوي کي يعني سره د ګوتو نيم ديت دي، او په بالا بود کي چي ساعد دي حکومت د عدل دي وقد مر معنا حكومت العدل او دا هم مذهب دي د طرفينو رحمه الله، او امام ابو يوسف رحمه الله وايي چي مافوق الكف والقدم تابع د ګوتو دي، والتفصيل فی الجوهره.

قال ﴿وفی الاصبع الزائدة حكومة العدل﴾ او په زائده ګوته کي لکه چي په بعضو کسانو کي دا ګوته پيدا کېږي. فيصله د عدل ده دا هم له جهته د شرافت د انسان ده چي دغه زائده ګوته خو جز دده ده.

پوهه ښه :- چي دغه زائده ګوته که عمداً ور پرې کړي او که يې خطاً ورپرې کړي حکم يې يو دي ولې دغه ګوته نه منفعت پکښې دی او نه زينت پکښې دی بلکې په شمس بازغه کې وايي چي دا ګوته په واقعه کې ضرر ده. ولې په منګي وغيره د لاس ګوتې ددې سره نه ننوځي او د

زائد غابنې هم داغه حکم دی او په هغه حديث مبارک کې چي و فی کل اصبع كذا كه څه د اصبع توری مطلق راغلی دی، خو هغه محمول پر متعارفه ګوته دی. وهذا حاصل ما فی الكفايه.

قال ﴿و فی عين الصبی و لسانه و ذكره اذا لم يعلم صحته حكومة عدل﴾ او په سترګه کې د بېخي کوچني او په ژبه کې دده او په ذکر کې دده يعني چي څوك دغه اعضاء دده ور پرې کړي او دا نه وي څرګنده چي په سترګه دا کوچنی کوم شی وينې او يا په ژبه خبرې کولای شي او يا يې ذکر پورته کېدی او که نه ؟ حکومت د عدل دی. ولې چي حکمت الهی په دغو اندامو کې منافع د دوی دی، نو چي منفعت يې په شك کې وي نو ديت هم نه سته. لانها لا يلزم باشك فتجب حكومة عدل تشريفا للآدمی او آئمه ثلاثه وايي چي په دغو ګردو صورتو کې کامل ديت لازم دی.

فائده :- او که دا څرګنده وه چي مذکوره اعضاء د کوچني صحيح وه يا په شاهدانو سره او يا په اقرار د خدمت کوونکي بيا يې حکم حکم د بالغ ددغو اعضاوو دی په عمد او په خطا کې بعنې په عمد کې قصاص دی او په خطا کې ديت کامله دی كما مر.

قال ﴿و من شج رجلا موضحة فذهب عقله او شعر راسه دخل ارش الموضحة فی الدية﴾ او که چا تپي کړی بل سړی په موضحه تپ سره نو په دغو وهلو د سړي عقل هم له منځه لاړی او يا د سر وېښتان يې له منځه ولاړل. نو داخل دی تاوان د موضحه تپ په ديت

کې يعنې پر شاج باندې ديت لازم دی او د موضحه ټپ ببل تاوان نه سته، ولې چې د عقل منفعت يې په ټوله بدن پورې تړلی دی چې عقل له منځه ولاړی داسې وګڼه چې ټول بدن له منځه ولاړی نو ددې داسې مثال دی لکه په موضحه ټپ چې سړی بل سړی ټپي کړي او په هغه ټپ سره هغه سړی مړ سي نو يو ديت پر لازم دي.

روښنۍ وايي :- چې دا مذهب زمونږ د درو امامانو دي، او حسن بن زياد رحمه الله وايي چې موضحه ټپ او ذهاب العقل دوه جنايته دي نو يو په بل کې نه داخلېږي لکه تاوان د دوو لاسو د قطعې چې يو په بل کې نه داخلېږي، او هر چې د وېښتانو د سر مسئله ده تفصيل يې دادي که د يوې برخې وېښتان له منځه ولاړه چې بيا نه را شنه کېده نو د موضحه ټپ ارش لازم دي، او که يې د ټوله سر وېښتان له منځه ولاړه نو چونکه ټوله زينت له منځه ولاړی نو پوره ديت لازم دي او د موضحه تاوان پکښې داخل دي.

قال المصنف رحمه الله ﴿وان ذهب سمعه او بصره او كلامه فعليه ارش الموضحة مع الدية﴾ او که چېرې ولاړه د موضحه ټپ په سبب اوربده د غوږو د مضروب، او يا يې ديد د سترګو ولاړې، او يا د خبرو کولو څخه ولوېدی، نو پر ضارب باندې تاوان د موضحه ټپ سره د ديت لازم دي، ولې اوربدل او ديد کول او خبرې کول هر يو جلا اصل دي چې په هر يوه کې کامل ديت لازمېږي نو موضحه ټپ ددوي په موجب کې چې ديت دي نه سي داخلېدلای، فيجب ارش الموضحة عليحدة.

پوه نسه:- چې دا مذهب د طرفينو دي، او امام ابو يوسف رحمه الله وايي چې موضحه ټپ په ديت کې د سمع او کلام داخلېږي او په ديت کې د بصر نه داخلېږي.

قال ﴿ومن قطع اصبع رجل فشلت اخرى الى جنبها ففيها الارش ولا قصاص فيهما عند ابى حنيفة رحمه الله ﴾ او که يو چا پرې کړه ګوته د يو چا نو د هغه د پرې کېدو په سبب بله ګوته د هغه ورسره شله سوه، نو د دواړو ګوتو تاوان لازم دي او قصاص پکښې نسته په نېز د امام اعظم رحمه الله او ياران وايي چې د اولې ګوتې قصاص لازم دي او د شلې ګوتې تاوان پر لازم دي، والدلائل للفريقين فى الشروح المطولة.

قال ﴿ومن قلع سن رجل فنبت مكانها اخرى سقط الارش﴾ او که چا وکښې غاښ د يو چا نو راشن سو په ځای کې د هغه غاښ بل غاښ، نو د ختل سوي غاښ ارش او تاوان ساقط سو.

پوه نسه:- چې دا مذهب دي د امام اعظم رحمه الله او ياران وايي چې پر جنايت کونکي باندې پوره تاوان سته ولې ده خو جنايت وکړي او دا نوی غاښ خو د خدای تعالی جل جلاله نعمت دي نو د خدای جل جلاله په نعمت سره دی د تاوان څخه د جنايت نه خلاصېږي، او امام اعظم رحمه الله وايي نوی غاښ چې شين سو د جانې جنايت نيست او نابود سو نو تاوان يې نسته، لکه سړی چې د کوچنې غاښ وروکاړي او د هغه پر ځای د کوچنې بل غاښ راسي چې په دې صورت کې تاوان د غاښ بالاجماع نسته، هكذا فى الجوهره وفيه تامل، فتامل.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن شج رجلا فالتجمت الجراحة ولم يبق لها اثر ونبت الشعر سقط الارش عند ابی حنيفة رحمه الله﴾ او که چا تپي کي يو سړی او هغه تپ جوړ سو او هيڅ اثر د تپ پاته نسو او هر هغه ويښتان هم راشنه سوه نو تاوان ساقط سو په نبز د امام اعظم رحمه الله ولي هغه اثر د تپ چي عيب د موضع الجرح وو چي هغه موجب د تاوان وو د مابين څخه ولاړي.

﴿وقال ابو يوسف رحمه الله عليه ارش الالم﴾ او امام ابو يوسف رحمه الله وايي چي پر جاني تاوان د خوږښدو د مجروح لازم دي، او هغه حکومت د عدل دي، کذا فی الهدايه.

﴿وقال محمد رحمه الله عليه اجرة الطبيب﴾ او امام محمد رحمه الله وايي چي پر جاني مزدوري د طبيب لازم ده يعني د ډاکټر، او داغه رنګه ثمن او بيعه د دوا ولي چي دا دوه تاوانه ومجروح ته په سبب د جارح ورورسېده نو تاوان به يې هم دی ورکوي، هدايه.

قال ﴿ومن جرح رجلا جراحة لم يقصص منه حتى يبرئ﴾ او که چا تپي کړی يو سړی په تپ سره يعني هر تپ چي وي نو قصاص دې نه اخسته کېږي د جارح څخه تر هغو پوري چي تپ جوړېږي، او امام شافعي رحمه الله وايي چي سمدستي دي قصاص څندي واخلي ولي چي سبب د قصاص چي تپ دي فی الحال موجود سو، نو وجه د څنډولو د قصاص هيڅ نسته، مونږ نقلا وايو چي عليه السلام د تپو په باره کي يو کال ورکاوه، او عقلا دا وايو چي د تپ درک فی الحال نه معلومېږي چي

جوړ به سي او که به ومرګ ته د مجروح مفضي سي چي قتل نفس به ځندي جوړ سي چي جارح به پر قصاص سي نو چي جوړ سي قصاص الجرح به فقط ځندي واخسته سي، هذا حاصل مافی الهدايه.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن قطع يد رجل خطاء ثم قتل خطاء قبل البرء فعليه الدية وسقط ارش اليد﴾ او که چا پرې کړی لاس د يو سړي په خطاء سره، او بيا يې مړ هم کړی په قتل خطاء سره د مخه تر جوړېدو د لاس نو پر قاطع قاتل باندي پوره ديت دي يعني ديت کامله لازم دي، او تاوان د پرې کولو د لاس ساقط دي، ولي چي قتل او قطع د يو جنس څخه دي يعني خطاءً دي، او ديت کامله خو عوض د بدن د ټولو اجزاؤ په ګډون دی نو ځکه ديت د جزء په ديت کي د کل داخل دي.

قال ﴿وكل عمد سقط فيه القصاص بشبهة فالدية فی مال القاتل﴾ او هر قتل وغيره چي قصاص پکښې ساقط سي په يوه شبه سره لکه پلار چي زوي مړ کړي په قصد سره، نو ديت د قتل يې په مال کي د قاتل دي يعني پر عاقله نه دي، ولي چي ابن عباس رضي الله عنه د نبي عليه السلام څخه روايت کړي دي چي وايي، لا يعقل العاقلة عمدا لاصلحا ولا اعترافا، كذا فی مجمع الانهر.

قال ﴿وكل ارش وجب بالصلح والاقرار فهو فی مال القاتل﴾ او هر تاوان چي لازم سي په صلح سره او يا په اقرار سره هغه تاوان په مال کي د قاتل دي يعني پر عاقله نه دي.

قال ﴿واذا قتل الاب ابنه عمداً فالدية فی ماله فی ثلث سنين﴾ او كه وواژه پلار زوي په قصد سره نو ديت د زوي د پلار په مال كي دي په دري كله كي.

پوښتنه:- ددې قتل حكم خو د هغه قانون كلي څخه يعنې، وكل عمد سقط آه" معلوم سو كما مر نو په بيرته راګرځېدو كي څه غرض دي؟

ځواب:- په راګرځېدو كي احتراز دي د مذهب څخه د امام شافعي رحمه الله چي دى وايي چي په مذكوره صورت كي پر پلار پوره ديت لازم دي، والدلائل المذهبين فی الشروح.

قال ﴿وكل جناية اعترف بها الجانی فهی فی ماله ولا يصدق علی عاقلته﴾ او هر جنايت چي په هغه سره اقرار وكړي جنايت كونكي يعنې شاهدان نه وي نو د هغه جنايت ارش يا ديت په مال كي د جاني دي، ولي د سړي اقرار پر خپل ځان باندي صحيح دي او تصديق دده نه كېږي پر عاقله يعني ديت وغيره پر عاقله نسته ولي دده اقرار پر هغو حجت نه دي، او د امير المؤمنين عمر رضي الله عنه څخه روايت داسي موجود دي، لا يعقل العاقلة صلحاً ولا اعترافاً.

قال ﴿وعمد الصبی والمجنون خطاء وفيه الدية علی العاقلة﴾ او قصد د كوچني او لېوني خطاء ده يعنې حكماً او په عمد كي ديت لازم دي پر عاقله ولي مدار د قصد پر علم دي او مدار د علم پر عقل دي، نو مجنون خو عديم العقل دي او كوچنی قاصر العقل دي، كما

يدل عليه عدم التكليف للصبی بالاحكام الشرعية" او داهم زمور مذهب دي، ولي دوي دوه قصد صحيح نه لري، اما المجنون فلانه روی چي يو لېوني توره په لاس پر يو سړي حمله وكړه او مړ يې كړي موضوع چي وحضور ته د امير المؤمنين علي رضي الله عنه مرافعه سوه هغه يې ديت پر عاقله وګرځاوه، او صحابه رضي الله عنهم موجود وه چا يې ترديد نه وكړى، وقال رضي الله عنه عمده وخطائه سواء" واما الصبی چونكه بالغ چي په خطاء قتل وكړي دى شريعت مطهره مستحق د تخفيف ګرځولى دي يعنې چي ديت يې پر عاقله مقرر كړي دي په سبب د عذر د خطاء، نو كوچنی چي محل د رحمت دي او عذر يې د قصور العقل يې تر بالغ خاطي بالا دي ولي د تخفيف وړ نه دي يعنې چي ديت دې پر عاقله وي، وهذا حاصل مافی مجمع الانهر مع الزياده.

وضاحت:- دغه لېوني يا كوچني كه خپل پلار مثلا مړ كي د ميراث څخه د پلار نه دي محرومه ولي چي حرمان الميراث خو عقوبت دي او دوي اهل د عقوبت نه دي، جوهره.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن حفر بيراً فی طريق المسلمين او وضع حجرا فتلف بذالک انسان فديته علی عاقلته وان تلف به بهيمة فضمانها فی ماله﴾ او كه چا وكيني څاه په لاره كي د مسلمانانو او يا يې يوه ډبره كښېښول په لاره كي، نو هلاك سو په دې څاه سره او ياپه دې ډبره سره يو سړى نو ديت د هغه پر عاقلهٔ د حافر يا واضع الحجر دي، ولي دا قتل شبه خطاء دي نو عاقله به يې تاوان

ورکوي، او که تلف سوه يعني هلاك سوه په دغه څاه کي او يا په دغه ډبره سره د يو چا حيوان نو تاوان د هغه بهيمې دده په مال کي دي، ولي چي شرعا پر عاقله باندي مالي تاوانونه نسته.

فائده:- پر قاتل مذکوره کفاره نسته ولي کفاره خو پر قاتل وي او حافر البير خو قاتل نه دي بلکه سبب محض دي دليل يې دادي چي ګاهي پس له مرګه د حافر البير او يا واضع الحجر يو څوك ودغه څاه ته ولوېږي او يا ددغه ډبري سره ټکر سي او مړ سي نو پس له مرګه يې څرنګه پر قاتل کفاره لازمه سي.

فائده:- دا قاتل مذکوره د ميراثه څخه د مقتول محروم کېږي هم نه ولي چي قاتل نه دي او حرمان الميراث خو په قتل پوري مربوط دي، کذا فی الجوهره.

قال ﴿ومن اشرع فی الطريق روشنا او ميزابا فسقط علی انسان فعطبه فالدية علی عاقلته﴾ او که چا راويستې روښنايانې او يايې ناوه لاري ته راويسته او هغه روشن او ميزاب پر يو چا راشوه سوه او هغه يې مړ کړي نو ديت پر عاقله د صاحب الدار دي، ولي چي ده هوا د لاري مشغوله کړه او هغه سبب د تلف وګرځېده نو دا سبب د ضمان دي، هدايه.

پوښتنه:- چي روشن هغه پيك بولي چي د بامه څخه يې راوباسي چي سړی پر تېرېږي، کذا فی المغرب" او بعض فقهاء او اهل لغت وايي

چي روشن هغه دوه لرګي دي چي د دوو بامو تر منځ چا ايښي وي چي د يوه بام څخه بل بام ته پر تېرېږي، کذا فی الکفايه.

قال المصنف رحمه الله ﴿ولا کفارة علی حافر البير وواضع الحجر﴾ او کفاره يعنې د قتل خطاء نسته پر حافر البير څاه کښونکې باندي، او ډبره ايښوونکي باندي، لما مر فی القاعدة المنقولة عن الجوهره.

﴿ومن حفر بيرا فی ملکه فعطب به انسان لم يضمن﴾ او که چا کينلی وو څاه په خپل ملك کي که سرای وي او که نوره مځکه دده وي، نو يو سړی ورولوېدی او پکښې مړ سو تاوان يې نسته، يعني نه پر ده او نه پر عاقله دده، ولي چي سړي لره حق ددې سته چي په خپل ملك کي تصرف وکړي، بمايشاء" او دی په دې تصرف کي متعدي علی الغير نه بلل کېږي، کذا فی الجوهره.

قال المصنف رحمه الله ﴿والراکب ضامن لما اوطئت الدابة وما اصابته بيدها او کدمته ولا يضمن ما نفحت برجلها او ذنبها﴾ او سپور پر يوه حيوان لکه خر، آس وغيره ضامن دي يعني تاوان به ورکوي د هغه شي چي پای ماله يې کړي دابه يعني تر پښو يې لاندي کړي، او يا په غاښو يو شی تلف کړي او يا د مخ په پښو يو شی تلف کړي، او نه دي ضامن راکب د هغه شي چي دابه يې د شا په پښو په لغت ووهي، او يا يې په لکۍ ووهي.

پوښتنه:- چي صاحب المجمع والهدايه ددې ځای تحقيق داسي کړي دي چي دا حکم د ضمان هلته پر راکب الدابه باندي جاري کېږي

چي دی دابه د عامه وو خلګو په لار کي تېروي او دی پر سپور وي، او که يې دابه په خپل ملك کي تېرول دی پر سپور وو او دچا شی يې ورتلف کړي بيا پر ده ضمان نسته ولي دی د خپل ملك په تصرف کي متعدي نه ګڼل کېږي کمامر، او که تېربدل په عامه لار کي وي بيا په تلف د دابې دی متعدی بوللل کېږي.

قاله صاحب الهداية والاصل فيه" يعنې قانون کلي د تېربدو په عام سړك يا په عامه لار کي دادي چي مرور يعنې تېربدل په لاره کي د مسلمانانو هر چا ته مباح دي مګر په شرط د سلامتي، ولي دا مرور د هر سړي په خپل حق دي د يوې وجهې چي دی هم شريك ددغي لاري دي، او دا مرور تصرف په حق کي د غير دي په بله وجه ولي چي په دې کوڅه کي خو دده سره نور مسلمانان شريك دي، نو فيصله داده چي دغه مرور و هر چا ته مباح دي په شرط د سلامت د نورو مسلمانانو د سرو او د مالو د آفت څخه د مرور، لکن هغه آفتونه چي راکب ځان ځندي ساتلای سي لکه تر پښو لاندي کول د دابې يو شی او د مخ په پښو ضرر رسول د چا وشي ته،او يه په غاښو ضرر رسول ولي چي د راکب په ټوسه پوره ده چي د دابې مخ واړه وي د هغه شي څخه چي په لاره کي وي، او هغه ضرر چي راکب ځان نه سي ځندي ساتلای مرور په هغه سره مقيد نه دي لکه د شا په لګته وهل او يا په لکۍ وهل چي راکب خو هغه نه وينې چي ځان د هغه څخه وساتي.

دروېش وايي:- چي په اوسنۍ زمانه کي موټران چي په طرق عامه وو کي يا سړکانو کي خلګ ځغلوي نو موټروان لکه راکب الدابه داسي

دي نو د موټر د مخ خوا لکه د دابې د مخ پښې په حکم کي د وجوب الضمان، او د شا خوا د موټر لکه د شا پښې د دابې داسي دي د عدم وجوب ضمان المتلفات، فتدبر فيه.

ډېره ښه مسئله:- دا مذکوره احکام په حال کي د مرور او تګ د دابې دي او که راکب په لويه لاره کي دابه درولې وه نو په هر حال کي دی ضامن دي يعنې که د مخ په پښو شی ووهي او که د شا په پښو شی تلف کړي، ولي راکب په دې درولو کي د دابې په لويه لاره کي متعدي دي چي د عامو خلګو لاره يې بنده کړي ده، جوهره.

قال المصنف رحمه الله ﴿فان راثت او بالت فی الطريق فعطب به انسان لم يضمن﴾ او که دابې په حالت کي د رفتار خوشايي وکړه او يايې بولي وکړي په لويه لاره کي، نو په هغه خوشايو يا بولو سره يو سړی هلاك سو مثلا پښې يې پر وښوبدې او غوځار سونو هلاك سو ضمان يې پر راکب الدابه نسته ولي چي بولي او خوشايي خو د ضروریاتو څخه د تګ د دابې دي نو راکب ددې څخه اعتراض نه سي کولای.

ډېره ښه مسئله:- که سړي يعنې راکب دابه د بولو يا خوشايو کولو د پاره درولې وي او د بل وشي ته ضرر ورسوي هم يې تاوان نسته، ولي دا درول د ضروریاتو څخه د سير د دابې دي ددې سببه چي بعض حيوانات چي وه يې نه دروې بولي نه کوي لکه خر، آس، غاتره وغيره.

قال ﴿والسائق ضامن لما اصابت بيدها او رجلها والقائد ضامن لما اصابت بيدها دون رجلها﴾ او شړونکي د دابې ضامن دي د هغه ضرر که يې د مخ په پښو دابه ورسوي، که يې د شا په پښو، او کشونکي د دابې ضامن دي د هغه ضرر چې د مخ په پښو يې دابه ورسوي نه د شا په پښو

پوهاوی:- چې ماذکره القدوري مذهب دي د بعضې مشائخو رحمه الله او وجه د توپير د شړونکي د دابې او سپور د دابې داده چې شړونکي خو د دابې د مخ پښې او د شا پښې دواړي وينې نو د ضرر څخه د دواړو خواو د دابې د ضرر څخه ځان ساتلای سي، او سپور پر دابه خو د مخ پښې د دابې وينې نو د مخ د پښو د ضرر تاوان پر لازم دي او چونکه قاعد د شا پښې نه وينې نو تاوان يې هم نسته.

قال صاحب الهدايه رحمه الله چې اکثر مشائخ پر دې مذهب دي چې که څه هم سائق د مخ پښې د دابې وينې لکن د ضرر څخه د مخ د پښو دی ځان نه سي ساتلای کما هو الظاهر، قال صاحب الجوهره وهو الاصح.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن قاد قطاراً فهو ضامن لما اوطاء فان كان معه سائق فالظمان عليهما﴾ او که چا کشاوه يو قطار مثلا د اوښانو نو دی ضامن دي د هغه شي چې اوښان يې تر پښو لاندې کړي، او که د قطار سره سائق هم وو يعنې د شا د خوا شړونکي نو ضمان د متلف شي پر دواړو دي يعنې په شراکت سره، ولې دوي دواړه په تلف کې د شي سره شريکان دي.

پوهاوی:- چې اول د قطار، منځ د قطار او آخر د قطار په مذکوره حکم کې سره برابر دي.

اضافه:- که دغه قطار د اوښانو يو سړی تر پښو لاندې کړي او مړ يې کړي ديت لازم دي مګر پر عاقله د قائد چې پر اوښ سپور وي يوازي که سائق نه وو ورسره، او که سائق ورسره وو پر عاقله د سائق او قائد دواړو په مشترکه ډول ديت لازم دي، كذا فى الفتح.

قال ﴿واذا جنى العبد جناية خطاء﴾ او که جنايت وکړی مريي د يو چا په خطاء سره.

پوهاوی:- چې قيد د خطاء صرف قتل النفس کې فائده لري ولې چې مريي که قتل عمد وکړي دی پر قصاصېږي که مقتول حر وي که غلام، او په مادون النفس کې مثلا مريي د بل حر يا دبل مريي لاس ورپرې کړي خطاءً او عمداً سره برابر دي، ولې قصاص په مادون النفس کې په منځ کې د حر او د عبد او په منځ کې د عبدينو شرعا نسته کما مر بلکه په مادون النفس کې مال لازم دي، او داهم که قاتل عاقل بالغ وو، او که کوچنی وو بيانو مطلقاً مال لازم دي، لما مر ان عمد الصبى وخطائه سواء.

قال ﴿قيل لمولاه اما ان تدفعه بها او تفديه فان دفعه ملكه ولى الجناية وان فداه فداه بارشها﴾ نو دي وويل سي وبادار ته د مريي چې يا به ته ورکوي خپل مريي د جنايت په تاوان کې يعنې وقريبانو ته د هغو او يا به فديه د جنايت د مريي ورکوي، نوکه مولى

مريي ورکړی نو ولي د جنايت د هغه مريي مالك وګرځېدی او که يې فديه ورکوله نو فديه دي ورکړي په قدر د جنايت د مريي د ليل يې دادي چي مريي خو مال نه لري او نه عاقله لري نو دده رقبه په ځای کي د تاوان د جنايت ولاړه ده، ولي چي وينه د مجنی عليه خو لغو نه سي کېدلای، نو اختيار د مولی دی يابه مريي ورکوي او که مريي ډېر پر ګران وو بيا دي تاوان د جنايت ورکړي، بالغة مابلغ.

ترجمه:- که يې مريي ورکاوه دستي به يې ورکوي ولي چي مده ايښوول خو په اديانو کي وي او اعيانو ذواتو کي مده ايښول شرعا باطله ده، او که يې فديه ورکول هم به يې فی الحال ورکوي ولي چي دا فديه بدل د مريي ده نو چي مريي ورکوي فی الحال لازم دي نو بدل ورکول يې هم فی الحال واجب دي، وهذا حاصل ما فی مجمع الانهر مع زيادة من العبد العاصی.

قال ﴿فان عاد فجنی كان حكم الجناية الثانية حكم الاولى﴾ او که مريي راګرځېدی يعنې مولی يې فديه ورکړه، نو هغه مريي بل جنايت وکړی نو حکم د دوهم جنايت حکم د اول جنايت دي، يعنې يا دفعه د مريي په جنايت ثاني کي او يا ارش د جنايت ثاني ورکول ولي بادار چي د اول جنايت بدل مال ورکړي نو مريي د جنايت څخه پاك سو نو ګويا ده جنايت نه دي کړي، نو دا دوهم جنايت ګويا دده اول جنايت دي، كذا فی الفتح والعنايه.

قال ﴿فان جنا جنايتين قيل لمولاه اما ان تدفعه الى ولى الجنايتين يقتسمانه على قدر حقوقهما واما ان تفديه بارش كل واحدى منهما﴾ او که دوه جنايته وکړه مريي نو بادار ته دي وويل سي چي يا به مريي ورکوي وولي ته د دواړو جناياتو او هغه به يې سره وښي پر اندازه د حقوق خپل يعنې په اندازه د جنايت د مريي د دوي پر قريب باندي، او يا به بادار فديه او تاوان د هر جنايت ورکوي، ولي چي دا دواړه جنايته په رقبه پوري د مريي مربوط دي، او دا دوه تعلق د دوو جناياتو په يوه رقبه پوري يو د بل ضد نه دي لکه پر عبد ماذون چي د يوه سړي زر روپی باندي وي او د بل سړي هم زر روپی پر باندي وي.

قال ﴿وان اعتقه المولى وهو لايعلم بالجناية ضمن المولى الاقل من قيمته ومن ارشها وان باعه او اعتقه بعد العلم بالجناية وجب عليه الارش﴾ او که مولی ازاد کی هغه جاني مريي او حال داوو چي دی په جنايت نه وو خبر، نو مولی ضامن دي د هغه کم شي چي يا قيمت د مريي دي او يا تاوان د جنايت دي ولي په دې عتق دی معذور دي لعدم العلم بالجنايی فلايكون مختارا للفداء، او که يې خرڅ کړي هغه جاني مريي او يا يې ازاد کړي پسله علمه څخه په جنايت د مريي نو پرده ارش د جنايت لازم دي، ولي مولی چي په جنايت خبر هم وو او تصرف لازم يې په مريي کي وکی چي بيعه او يا عتق دي نو دا يقين سو چي دده ارش خوښ دي بالاجماع.

قال المصنف رحمه الله ﴿واذا جنى المدبر او ام الولد جناية ضمن المولى الاقل من قيمته ومن ارشها﴾ او كه جنايت وكړي مدبر مريي د يو چا، يعني چې مولى ورته ويلي وي چې ته پسله مرګه زما آزاد يې، او يا ام الولد مينځې جنايت وکي، چې د مولى څخه لنګه وه، يعني چې ددې دوو نقل د ملك مولى وملك ته د بل چا شرعا ناجائز دې هبةً وبيعاً وغير ذالك، نو مولى ضامن دي کم شى د قيمت د مدبر او ام الولد او د تاوان د جنايت ولي چې ورکړه د مدبر او ام الولد خو وولي ته د جنايت ممكن نه ده لما مر لعدم صحة نقلهما من ملك الى ملك" نوځود مخير دي په کم قيمت ورکولو کي او يا په کم ارش ورکولو، يعني که ارش د جنايت ډېر وو تر قيمت ولي د جنايت بالابد حق نه لري.

پوښتنه:- په دې موضوع ولي مولى ته اختيار نه ورکوي چې که ته قيمت ورکوې او که د جنايت ارش ورکوې؟

ځواب:- دلته خو قيمت هم مال دي او ارش هم مال دي، ولا فائدة فى تخيير المولى بينهما لانه الخيار الاقل لامحالة فاوجبنا عليه الاقل منهما من اول الامر، بخلاف العبد الجانى فى المسئلة المقدمة لان العبد عين والارش مال وقد يكون المولى راغبا فى عين العبد وان كان قيمته اقل من الارش فيختار الارش وان كان اكثر من قيمته العبد رغبته فى العبد فيفيد التخير فى تلك المسئلة فافهم.

خوشخبري

تعليم الاسلام په ښه خوږه کندهاري پښتو و چهاپ ته وسپارل
سو ډېر ژر يې د خپلو نژدو کتاب پلورنځيو څخه تر لاسه کړی

قال المصنف رحمه الله ﴿فان جنى جناية اخرى وقد دفع المولى قيمته الى الولي الاول بقضاء فلا شئ عليه ويتبع ولى الجناية الثانية ولى الجناية الاولى فيشاركه فيما اخذ وان كان المولى دفع القيمة بغير قضاء فالولى بالخيار ان شاء اتبع المولى وان شاء اتبع ولى الجناية الاولى﴾ او که جنايت وکړی مدبر بل جنايت او حال داوو چې بادار دده قيمت ورکړی وو وولي اول ته په حکم د قاضي نو پر مولى د مدبر هيڅ شى نسته د ولي د جنايت ثاني، ولي چې مولى مجبور دي په دفعه کي د قيمت ولي چې حکم د قاضي نافذ دي، او ولي د جنايت دوهم په پسې کېږي په ولي پسي د جنايت اول چې قيمت د مدبر يې اخستى دي د مولى څخه نو ولي د جنايت ثاني شريك دي د ولي سره د جنايت اول په هغه مال کي چې ولي د جنايت اول د مولى څخه د مدبر اخستي دي، او که چيري مولى د مدبر قيمت د مريي ورکړی وو يعني ولي ته د جنايت اول ببله قضاء د قاضي نو ولي ددوهم جنايت اختيار لري که يې خوښه وي په بادار دي پسې سي چې زما د جنايت تاوان راکړه او که يې خوښه وي په ولي د جنايت اول دي پسې سي، فى ما اخذ او داهم مذهب دي د امام ابو حنيفه رحمه الله، او ياران وايي چې په ورکړه کي د مولى قيمت د مدبر وولي ته د جنايت اول د قضاء او نه قضاء فرق نسته يعني په دواړو صورتو کي مولى خلاص دي، او ولي د جنايت ثاني به حتماً ولي د جنايت اول تينګوي او د هغه شريك دي.

ترويښتې وايي:- چې دلائل د دواړو ډلو يو اندازه طول لري لکه په هدايه، جوهره وغيرهما کي چې مذکور دي نو ځکه دروښ د هغو دلائلو د راوړو څخه معذرت غواړي چې دا شرحه د ابتدائي زده کونکو د پاره ده، او هغه امامان چې په محرابو کي ولاړ وي که څه هم اکثره يې ددې شرحي څخه مستغني خونه دي لکن دوي تکبراً ځانونه مستغني بولي، والى الله المشتكى.

قال المصنف رحمه الله ﴿واذا مال الحائط الى طريق المسلمين فطولب صاحبه بنقضه واشهد عليه فلم ينقض فى مدة يقدر على نقضه حتى سقط ضمن ما تلف به من نفس او مال﴾ او که کوږ سو ديوال د يو چا ولاري ته د مسلمانانو. او طلب وکړه سو د صاحب جدار څخه د نړېدو د ديواله او شاهدان پردې مطالبه يې ودرول، نو هغه سړي ديوال ونه نړاوه په دونه وخت کي چې دی پر نړېدو هم قادر وو، حتى چې ديوال پخپله ونړېدي نو صاحب الجدار ضمامن دي د هغه شي چې د ديوال په نړېدو سره تلف سو که نفس وي او که مال وي.

فائده:- مطالبه د نړېدو د هغه چا شرط ده چې پر نړېدو د ديوال قادر وي، حتى که په دغه سراى کي چې ديوال يې مائل وو يو سړی په کرايه پکښې پروت وو او يا مفت پکښې اوسېدی او نورو خلګو ددې همسايه څخه مطالبه د نړېدو د ديوال وکړه، او ديوال خپله ونړېدي او نفس يا مال پکښې تلف سو، ضمان د هغه تلف نه پر مالك سته ولي د

هغه څخه خو چا مطالبه نه ده کړې، او نه پر هغه همسايه ولي چې هغه قدرت پر نړېدو نه درلودي چې ديوال خو دده نه وو.

فائده:- ديوال که عامه کوڅې ته کوږ وو نو هر څوك حق د مطالبې د نړېدو لري، لان لكل واحد حق المرور فيها" او که خاص کوڅې ته مائل وو نو د هغې کوڅې خلګ حق د مطالبې لري نه عمومي خلګ، حاصل ما فى الهدايه.

پوښتنه:- چې پسله طلبه خو شاهدان درول شرط د ضمان نه دي، بلکه اشتهاد صرف ددې د پاره دي چې صاحب الدار بيا منکر نه سي چې زما څخه چا طلب د نقض نه ده کړي، نو دا اشتهاد صرف احتياطي کار دي مجمع.

فائده:- امام شافعي رحمه الله ضمان پر صاحب الجدار نه وايي که څه هم طلب ځندي وسي، والدلائل فى الشروح من الطرفين.

قال ﴿ويستوى ان يطالبه بنقضه مسلم او ذمى﴾ او برابر دي په مطالبه کي د نړېدو د ديوال مسلمان او ذمي کافر، ولي حق د مرور خو ذمي لره هم سته نو حق د مطالبه د نقض الجدار هم لري حفظاً لنفسه وماله من خطر السقوط.

﴿ولو مال الى دار رجل فالمطالبته لمالك الدار خاصة﴾ او که ديوال کوږ سوي وو د يو چا سراى ته نو حق د مطالبې د نقض صاحب الدار لره دي خاص لان ضرر السقوط متوجه اليه خاصةً، په جوهره کي وايي که د سراى مالك په سراى کي اوسېږي او که څوك په کرايه يا په

عاريت په سراى كي اوسېږي يعني ټوله حق د مطالبې د نقض لري، لان دفع الضرر من كل هولاء واجب على صاحب الجدار المائل، مع زياده.

قال ﴿واذا اصطدم فارسان فماتا فعلى عاقلة كل واحد منهما دية الآخر﴾ او كه دوه د آسانو سپاره يو د بله سره ټكر سوه او دواړه مړه سوه نو پر عاقله د هر يوه ديت د هغه بل مړي لازم دي، دا هم زمونږ مذهب دي، او امام زفر او امام شافعي رحمه الله عليه وايي چې پر عاقله د هر يوه نيم ديت د هغه بل مړي دي، والدلائل للفريقن فى الشروح المطلوله.

قال المصنف رحمه الله عليه ﴿واذا قتل رجل عبداً خطاءً فعليه قيمته ولاتزاد على عشرة الاف درهم فان كان قيمته عشرة الاف درهم او اكثر قضى عليه بعشرة الاف الاعشرة﴾ او كه مړ كړي يو سړي مريي يعنې د بل چا په خطاء سره، ولي كه يې په قصد مړ كړي خو قاتل پر قصاصېږي نو پر خاطي قاتل باندي قيمت د مريي لازم دي او تر لس زره به يې نه زيات وي يعنې چې ديت د حر دي، فرقا بين الحر والعبد، او دا مذهب دي د امام اعظم رحمه الله عليه او امام محمد او امام ابو يوسف رحمه الله عليه وايي چې قيمت د مريي لازم دي تر هر ځايه چې رسېږي او په دې سره ائمه ثلاثه هم قائله دي، لما روى عن عمر وعلى و ابن عمر رضي الله عنهم چې دوي واجب بولي قيمت د مريي بالغةً مابلغ، او دليل د طرفينو رحمه الله عليه هغه اثر د ابن مسعود رضي الله عنه لكه په متن كي چې ذكر سو، او كه وو قيمت د

مريي مقتول لس زره روپۍ او يا تر لسو زرو بالانو پر قاتل باندي لس زره روپۍ او په لس درهمه كم حكم دي قاضي وكړي.

قال المصنف رحمه الله عليه ﴿وفى الامة اذا زادت قيمتها على الدية يجب خمسة الاف الاعشرة﴾ او په مينځه كي يعنې چې يو څوك د بل مينځه په خطاء سره مړه كړي او قيمت ددې پر ديت ددې يعنې چې نيمايي ديت د مريي دى، نو واجبه ده پر قاتل پنځه زره روپۍ په لس روپۍ كمي.

قال ﴿وفى يد العبد نصف قيمته ولا يزاد على خمسة الاف الاخمسة﴾ او په لاس كي د مريي چې څوك يې ورپرې كړي په خطاء سره نيمى قيمت د مريي دي او نه دي بالا كېږي تر پنځه زره په پنځه روپۍ كمي ولي چې په لاس كي د انسان نيمى ديت دي كه حر وي او كه عبد نو چې په كل ديت كي د مريي لس روپۍ كمي دي چې قيمت يې تر ديت ډېر وي يا مساوي نو په ديت كي د لاس د مريي چې نصف قيمت يې بالاترنصف ديت وي پنځه روپۍ به كمي وي قياساً للجزء على الكل.

قال المصنف رحمه الله عليه ﴿وكل ما يقدر من دية الحر فهو مقدر من قيمة العبد﴾ او هره اندازه مال چې ددېت څخه د حر اندازه كېږي نو هغه قدر اندازه كېږي د قيمت د مريي يعنې كه په حر كي پوره ديت وو په عبد كي هم پوره قيمت دي الااذا زاد كما مر او كه په حر كي نيم ديت

وو په مريي کي نيم قيمت دي، والتفصيل كما مر في صورتي المساوات والزيادة.

قال ﴿واذا ضرب رجل بطن امرئة فالقت جنينا ميتا فعليه غرة والغرة نصف عشر الدية﴾ او که ووهله يو سړي يوه ښځه يعني چي حامله وه پر نس باندي نو هغې ښځي وغورځاوه کوچنی يا نر او يا چي دي يعني قيمت د غره نيمی د لسمه حصې د ديت دي يعني پنځه سوه روپۍ او امام مالك رحمه الله او امام شافعي رحمه الله شپږ سوه روپۍ لازمي بولي، وقد جاء في الحديث الصحيح انه عليه السلام قال في الجنين غرة عبد او امة قيمته خمسمائة ويروى او خمس مئة وهذا الحديث حجة على مالك والشافعي رحمهما الله كذا في الهدايه.

پوښتنه:- چي غره اقل ته د شي وايي او اول ته د شي هم وايي نو ځکه اول ته د مياشتي غره وايي نو چونکه د جنين ديت اقل د دياتو دي نو ځکه يې غره بولي، مجمع الانهر.

قال ﴿فان القته حيا ثم مات ففيه دية كاملة﴾ او که هغې پر نس وهل سوي ښځي کوچنی ژوندی وزېږاوه او بيا مړ سو يعني ظاهراً سبب يې هغه ضرب د مور وو، نو په دې کوچني کي کامل ديت دي ولي چي ضارب ژوندی انسان تلف کي.

قال ﴿وان القته ميتا ثم ماتت الام فعليه دية وغيرة﴾ او که يې کوچنی مړ وزېږاوه او بيا يې مور هم پسي مړه سوه نو پر ضارب باندي

ديت کامله د مور دی، او يو مريي يامينځه پر لازمه ده او په صحيح حديث کي ثابته ده چي رسول کريم ﷺ په دغسي موضوع کي حکم د ديت او د غري وکړي.

قال ﴿وان ماتت ثم القته ميتا فلا شيئ في الجنين﴾ او که ښځه د مخه مړه سوه او بيا يې وروسته مړ کوچنی وزېږاوه، نو هيڅ شی نسته په جنين کي يعني صرف د مور ديت يې پر ضارب لازم دي، او امام شافعي رحمه الله غره هم پر لازمه بولي د جنين په باره کي دی وايي چي ضاهراً دادي چي کوچنی په اثر د ضرب مړ سوی دي، مور وايو نعم چي ممکنه ده چي کوچنی دي په وجه د اثر د ضرب مړ وي، او دا هم ممکنه ده مور د مرګ په سبب د ي کوچنی مړ سوي وي ولي چي کوچنی د مور د مرګ په سبب په رحم کي خفه کېږي ولي دده ساه کښل د مور د ساه په کښلو سره دي او ديت خو په شك نه لازمېږي، حاصل مافي الهدايه.

قال المصنف رحمه الله ﴿وما يجب في الجنين موروث عنه﴾ او هغه شی چي په جنين کي لازم دي يعني نصف عشر الدية هغه د جنين ميراث خو روته ميراث دي ولي هغه بدل دده د نفس دي نو حکم يې د نورو دياتو په مثل دي يعني چيپر ورثه وو تقسيم کېږي.

پوښتنه:- ضارب که د جنين قريب وارث هم وي لکن هغه په دغه ديت کي برخه نه لري ولي چي دی پخپل دغه فعل سره قاتل ظلماً د جنين دي ولا ميراث للقاتل، مجمع الانهر، سراجي.

قال ﴿وفی جنین الامة اذا کان ذکرا نصف عشر قیمته لو کان حیا وعشر قیمته ان کان انثی﴾ او په جنین کي د مینځي يعنې چې مړ پیدا سي نیمایي د لسمي حصې د قیمت دده دي يعنې مریي که چېرې ژوندی وي، او لسمه د قیمت د قیمت ده که چېرې ښځه وه.

﴿ولا کفارة فی الجنین﴾ او کفاره نسته په جنین کي، ولي کفاره چې تاکل سوې ده په نفوس کامله کي ده او جنین خو ناقص دي، ویدل علیه نقصان دیته" وایضاً کفاره خو په قتل کي لازمېږي او د جنین ژوند نه دي معلوم، او امام شافعي رحمه الله وایي کفاره پکښې ده لکن زمونږ په مذهب کي سره د عدم لزوم په کفاره کي احتیاطاً او تطوعاً کفاره ورکړه ښه کار دي، ح، ج.

قال ﴿والکفارة فی شبه العمد والخطاء عتق رقبة مؤمنة فان لم یجد فصیام شهرین متتابعین ولا یجزئی فیه الاطعام﴾

او کفاره په شبه العمد او په خطاء کي ازادول دي د مریي یامینځي چې مسلمان وي، او که یې رقبه نه درلوده بیا دوې میاشتي روژې پرله پسې یې کفاره دي، او په طعام ورکولو سره یې چاره نه کېږي، او امام شافعي رحمه الله وایي که یې پر روژو قدرت نه درلودي بیا به کفاره د طعام ورکوي قیاساً علی کفارة الصوم، مونږ وایو چې خدای جل جلاله کفاره په قرآن کریم کي کفاره د قتل ذکر کړې ده چې عتق او روژې دي او اطعام یې نه

دي ذکر کړي، او اثبات د کفاراتو په قیاس سره نه دي روا ولي چې زیادت پر نص قرآني لازمېږي.

تتمه غریبه:- دروېش وایي چې په بعض کتابو کي د تاریخ راغلي دي چې فقیه ابو جعفر الطحاوي رحمه الله چې اعلم د ناسو په مذهب د امام اعظم رحمه الله منل سوي شخصیت دي په احنافو کي او دده پلار او تېر ټوله شافعي المذهب وه، او دی هم په ابدائي حال کي د تعلیم شافعي المذهب وو، لکن په هغه مسئله کي چې ښځه په حمل کي مړه سي او حمل یې فعلاً ژوندی وي نو په داسي موضوع کي د امام اعظم رحمه الله مذهب دادي چې د مور نس دستي ور اپرېشن کي او کوچنی دي ځندي راوکاږي، عسی ان یبقیه الله حیا" او امام شافعي رحمه الله وایي چې اپرېشن دي نه ورکوي یو ګړی دې پرېږدي کوچنی خپله په اختناق مري، او د فقیه ابو جعفر پلار زوي نه درلودي ډېر ورته ترې وو، نو څه وخت چې فقیه ابو جعفر د مور په حمل کي وو مور یې د وضع الحمل په وخت کي مړه سوه پلار یې د ډېره حرصه خلاف د خپل مذهب د ښځي نس ورځیري کړي او فقیه ابو جعفر یې ژوندی ځندي راوه ایستی رفته رفته خدای جل جلاله ودې کوچني ته ورډ ژوند ورکي حتی چې په طلب د علم اخته سو او بناغلي عالم دین ځندي جوړ سو او مذهب یې هم د امام شافعي رحمه الله چلاوه، چونکه دی خپل پلار په ماجرې خبر کړی وو نو یو وخت فقیه ابو جعفر پر هغه مسئله اختلافیه پېښ سو یعنې د مور د نس ځیرل او نه ځیرل، نو د ځان سره یې فکر وواهه چې دغه زما حیات او ژوند او علم خو په سبب د اختیار زما د پلار مذهب لره د امام اعظم رحمه الله منځ ته

راغلي، نو يې مذهب د امام شافعي رحمه الله پربښوي او د امام اعظم رحمه الله مذهب يې اختيار کړي، والله اعلم بحقيقة الحال.

﴿باب القسامة﴾

دا باب په بيان کي د احکامو د قسامت دي

لغوي بحث:- چي قسامة اسم مصدر دي، يعني په ځای کي د مصدر مستعملېږي او اصل مصدر اقسام دي د افعال د بابه معنا يې قسم ورکول دي وچاته دا خو معنا لغوي وه، او په شرعه شريفه کي يې معنا هغه ده چي قدوري به يې ذکر کړي.

فائده:- دلائل د مشروعيت د قسامت هغه احاديث شريفه دي چي په صحاح سته وو کي ذکر سوي دي او په هدايه او په شرحو کي د هدايه هم بالتفصيل ذکر سوي دي.

فائده:- د قسامت حکمت او فلسفه داده چي هر محله والا به داسي سړی چي ورته کارکوي په محله او قريه کي به پرېږدي، او ويني د مسلمانانو به هدر او لغو نه ځي، اوشرط د قسامت دادي چي په مړي کي به اثر د قتل وي ولي که اثر د قتل نه وي نو امکان لري چي پر دغه مړي به د زړه دوره راغلې وي، اويا اپنديسي وو او پنډکس به يې چاودلي وي، او د انسداد الامعاء په سبب به مړوي، او په موجوده وخت کي امکان لري چي دا مړي دي يو ضعيف هيروييني وو چي هيروئن يې خلاص سوي وي او چپه سوي وي او آخر مړسي، او نور ورته اسباب د مرګ مفاجات هم سته کما لايخفى.

مسئله:- که ولي د مړي دعوه د قتل عمد کوله پر محلې والوو باندي نو حتماً به پنځوس قسمه محله والا ورپوره کوي، او که يې دعوه د قتل کوله نو په نه کول د بعض اهل محله يا تولو ديت پر اهل محله باندي لازم ګرځي او قسم ته دې نه مجبوره کوي، کذا فی کتب الفقه الحنفی.

قال المصنف رحمه الله ﴿واذا وجد القتيل﴾ يعني يو مړي چي په هغه کي اثر د قتل وو ﴿فی محلة لايعلم من قتله﴾ يعني که پيدا کړه سو يو مړی په يوه محله کي د ښار او يا په يوه قريه کي د خارج المصر او دا نه معلومېده چي چا به وژلی وي.

﴿يستحلف خمسون رجلا منهم﴾ نو قسم دي ورکړه سي و پنځوسو کسانو ته د محلې يعنې قاضي د اسلامي حکومت دي قسم ورکړي. ﴿يتخير هم الولی﴾ او دا پنځوس کسه به خوښه وي ولي د مړي، يعنې د ولي خوښه ده که فاسقان او ځوانان د محلې والا څخه د قسم اخيستو د پاره ټاکي که د ولي تهمت پر دغو کسانو وو، او که صالحان ديندار خلګ د محلې ټاکي ولي چي ديندار او صالح سړی د درواغو د قسم څخه ډډه کوي نو که قاتل ورمعلوم وي هغه رسوا کوي او ناحقه قسم نه اخلي، بخلاف الفساق، او که ولي يو ړوند د اهل محلې او يا محدود فی القذف مختاره کړی ورته روا ده ولي دا خو يمين دي شاهدي خو نه ده، او دا پنځوس کسه به داسي قسم اخلي،

﴿بالله ماقتلناه ولا علمناله قاتلا﴾ قسم په نامه دخدای عزوجل دي مور نه دي وژلی دغه مقتول، او نه مور خبر يو په قاتل دده.

پوهه شه:- چې مصنف رحمه الله د ټولو اهل محله قسم په صيغه د متكلم مع الغير راوړی لكن په وخت قسم د يوه يوه به داسي قسم وركوي، بالله ما قتلت ولا اعلم بقاتله"

او د انفرادي قسم په وخت كي به دانه ورته وايي بالله ماقتلناه، ولي ودي سي چې قاتل د مړي دي هم دا غسي قسم واخلي بالله ما قتلناه، يعني مور اهل محله په اتفاق نه دي وژلی يعني ما يوازي مړ كړی، جوهره

قال المصنف رحمه الله ﴿فاذا حلفوا قضى على اهل المحلة بالدية﴾ نو كه دا پنځوس كسانو قسم واخستی نو دي حكم وكړه سي يعني د حاكم الوقت د خوا پر اهل د هغې محلې په ديت سره، ای على عاقلة اهل المحلة، نهايه" او دا ديت به هم په داغه كال كي وركوي لكه د قتل خطاء ديت بل هذه اولى، لان عذر هولاء اعلى من مباشر القتل بالخطاء فلما كان هى فى ثلث سنين فهذا اولى، مبسوط.

حكى ابن عباس رضي الله عنه كتب النبى ﷺ واهل خيبر ته چې دا مسلمان مړی ستاسي په قريه كي پيدا سوي دي نو تاسي به څنګه ځانونه خلاصوي ددې مړي څخه؟ اهل خيبر ورته نوشته كړه چې دغسي واقعه په زمانه كي د موسى عليه السلام هم واقعه سوې وه نو خداى جل جلاله پر موسى عليه السلام امر نازل كي په باره كي د هغې واقعې، نو كه ته نبي يې نو ته هم د حل لاره د خداى جل جلاله څخه سوال كړه نو نبي عليه السلام ورته نويشته كړه چې پنځوس كسه به ستاسي څخه قسم اخلي كه مور وژلی دي او يا په قاتل خبر يو فشم يغرمون الدية، نو بني اسرائيل د خيبر ورته نويشته كړه لقد قضيت لنا بناموس ای بالوحى يعني د موسى عليه السلام د وحي معامله هم دغسي وه.

قال ﴿ولا يستحلف الولى ولا يقضى عليه بالجناية﴾ او قسم دي نه وركول كېږي ولي ته يعني پس له دي چې اهل محله پنځوس قسمه واخسته، او امام شافعي رحمه الله وايي چې وروسته تر قسمو د اهل محلې دي بيا ولي ته قسم وركړي نو كه هغه قسم واخستی بيا دي حكم په ديت وكړي پر محلې والاوو باندي، او نه دي كېږي حكم د جنايت پر ولي باندي كه څه هم قسم واخلي زمونږ قوله عليه السلام البينة على المدعى واليمين على المدعى عليه.

قال المصنف رحمه الله ﴿وان ابا واحد منهم حبس حتى يحلف وان لم يكمل اهل المحلة كررت الايمان عليهم حتى يتم خمسين يمينا﴾ او كه منعه او انكار يوه سړي د اهل محله څخه وكړی يعني د قسم څخه هغه دي بندي كړه سي، ولي دا قسم خو مستحق دي پر ده باندي په نص سره د پاره د تعظيم د وينو توبدلو او تر هغو دي بندي وي چې قسم اخلي، لكه په دين المستحق على شخص چې هغه د وركړي څخه انكار وكړي نو هغه مديون خو بندي كېږي تر څو چې پور وركوي، او كه پوره نه كړه اهل محله پنځوس قسمه يعني پنځوس كسه په محله كي نه وه نو دي قسم مكرر كي پر موجوده خلګو تر هغو چې پنځوس كسه پوره كېږي ولي پنځوس قسمه خو واجب بالسنت النبوي دي.

قال ﴿ولا يدخل فى القسامة صبى ولا مجنون﴾ ولي چې يمين خو د قول قسم دي او صبي او مجنون اهل د قول صحيح نه دي.

﴿ولا امرئة ولا عبد﴾ او نه دي بنځه او نه مري په قسمه كي داخلوي، ولي بنځه خو دونه دلاوري نه لري غالباً چې څوك دي مړ كړي

او يا د چا ووژلو ته دي حاضره سي، او مريي چونکه محکوم د مولی
دي او د هغه په خدمت کي شب وروز مصروف وي نو قتل او يا حضور
قتل ته دده هم نسي کيدلای.

قال ﴿وان وجد ميت لااثر به فلا قسامة ولا دية﴾ او که پيدا
سو مړی په يوه محله کي او په ده کي اثر د قتل نه وو، يعني يا ټپ يا
خفه کېدل او يا د لرګي د وهلو، نو نه قسامه سته او نه ديت ولي خو دی
قتيل نه دي.

﴿وكذالك ان كان يسيل من انفه او دبره او فمه﴾ او داغه رنګه
قسامه او ديت نسته که د مړي تر پزه ويني بهېدلې، ولي د پزي وينه چې
رعاف يې بولي ناحقه هم ګاهي بهېږي، او يا يې تر کونه وينې بهېدلې
ولي د کوني وينه خو په اثر د خوني بواسيرو هم بهېږي ګاهي، او يا تر
خوله وينې بهېدلې ولي چې کېدلای سي چې سوداء محترقه دې قی
کړې وي.

قال ﴿فان اخرج من عينيه او اذنيه فهو قتيل﴾ او که وينه وتله
د سترګو څخه د مړي او يا د غوږو څخه دده نو دی قتيل بلل کېږي،
ولي د سترګو څخه وينه بهېدل او يا د غوږ څخه وينه بهېدل معتاد شی
نه دي بلکه د ضرب شديد څخه بهېږي، كما يدل عليه تجربه.

﴿واذا وجد القتيل على دابة يسوقها رجل فالدية على
عاقلته دون اهل المحلة﴾ او که پيدا سو يو مقتول پر يوه بوده باندې
چې هغه دابه کشوله يوسړي نو ديت يې پر عاقله د هغه سړي دي چې

دابه يې کشوله او ديت يې نسته پر اهل محله باندي، ولي د سائق
علاقه د مړي سره زياته ده تر اهل محله والاوو.

قال ﴿وان وجد القتيل في دار انسان فالقسامة عليه
والديه على عاقلته﴾ او که پيدا سو مړي په سرای کي د يو چا نو
قسامه يې پر ده ده يعني پنځوس واره به ده ته قسم ورکوي او ديت يې
پر عاقله دده دي، يعني نه پر عاقله د نورو محله والاوو.

﴿ولا يدخل السكان في القسامة مع الملاك عند ابي
حنيفة رحمه الله﴾ او نه دا خلېږي اوسېدونکي د سرايو يعني يا په کرايه
او يا په عاريت د مالکانو سره د سرايو په قسامه کي په نېز د امام اعظم
رحمه الله حاصل د مسئلې دادي چې په يوه محله کي څو کوره مالکان د
سرايو اوسېدل او يو څو کوره په کرايه وغيره اوسېدل، نو قسامه يوازي
پر مالکانو ده نه پر سکانو يعني اوسېدونکو.

پوښتنه:- چې قول مذکوره په متن کي قول د امام محمد رحمه الله هم
دي، او امام ابو يوسف رحمه الله وايي چې قسامه پر مالکانو د سرايو او
اوسېدونکو ټولو ده، د ليل د قول د طرفينو دادي چې مالکان د سرايو
يو د بل سره ډېره مرسته او نصرت کوي، ولي کرايه داران وغيره خو
ګاهي په دې محله کي اوسېږي او ګاهي ددې ځای څخه بار سي بلي
محلې ته ولاړ سي.

قال ﴿وهي على اهلة الخطة دون المشتريين منهم ولو بقي
واحد منهم﴾ او قسامه پر اهل خط باندي ده نه پر هغه چا چې د اهل

خط څخه سرايونه د محلې رانيولي وي که څه هم يو د اهل خطې څخه پاته وي.

پوه شه:- چې د اهل خطه تفسير کفايه والا داسي کړي دي چې دوي هغه قديم مالکان دي چې څه وخت امام المؤمنين دغه محله يا مځکه د کفارو څخه نيولې وي او پر دغو مالکانو يې وېشلې وي او هر يوه ته يې خط د خپل حصې ورکړي وي.

دروېش وايي:- په دې تفسير کي اشکال دادي چې په مرور د سوو کلو څخه معلومېږي چې دا کسان د مخطط لهم زامن يا کروسيان وغيره دي يا رانيونکي د هغو څخه دي، او منتهى عرب وايي چې" اهل خطي کسانيکه در آن زمين فرود آمده باشند وپيش از آن کسي در آن فرود نيامده باشند. وعندى هذا التفسير قريب والله اعلم.

او داهم مذهب دي د امام اعظم او د امام محمد رحمه الله او امام ابو يوسف رحمه الله وايي چې اهل خطه او مشتريين منهم سره شريکان دي په قسامه کي ولي ضمان د قسامه او ديت خو مربوط په ترک د حفاظت د اهل محله پورې دي چې دوي د فساقو فجارو محافظت د خپلې محلې څخه نه دي کړي په موضوع د محافظه خو ټوله سره شريکان دي.

دروېش وايي:- چې که زه د اهل ترجيح څخه واى مابه ترجيح و مذهب ته د امام ابو يوسف رحمه الله ورکړې وايي، لظهور دليله.

مسئله:- که د خطي څخه هيڅوک نه وپاته بان باعوا فالقسامة على المشتريين منهم، هدايه.

قال المصنف رحمه الله ﴿ولو وجد القتيل فى سفينة فالقسامة على من فيها من الركاب والملاحين﴾ او که چېرې پيدا سو مقتول په يوه کښتۍ کي نو قسامه پر هغه کسانو ده چې په کښتۍ کي سپاره دي او پر اوبازانو باندي، ولي چې د کښتۍ محافظت او زمه واري پر دغو کسانو باندي لازمه ده، وهذا باتفاق ائمة المذهب.

قال المصنف رحمه الله ﴿وان وجد القتيل فى مسجد محلة فالقسامة على اهلها﴾ او که پيدا سو مړى په مسجد کي د يوې محلې نو قسامه پر اهل د هغې محلې ده ولي مامور په حفاظت سره د مسجد هم دغه محله والادي.

﴿وان وجد فى المسجد الجامع او الشارع الاعظم فلا قسامة فيه والدية على بيت المال﴾ او که پيدا سو مړى په جامع مسجد کي اويا په يو لوي لاره کي نو قسامه پر هغه نسته او ديت يې پر بيت المال دي، ولي مامور په حفاظت د جامع مسجدانو خوعمومي مسلمانان دي، ولاتعين فيهم حتى يختار الخمسون منهم للقسامة" او بل په قسامه کي خو مقصود نفي د تهمت د قتل ده د معلومو کسانو څخه چې محله والادي ولا معلوم فى الجوامع بلکه مقصود دادي چې عمومي کسان د يوې محلې او د بلي محلې په جوامعو کي سره يو ځاى کېږي د پاره د لمانځه، او حفاظت د لويو لارو خو د چا په زمه نه دي نو ځکه قسامه پر چا نسته، لکن د پاره ددې چې د مسلمان وينه هدر او لغوه ولاړه نسي نو ځکه دي ديت بيت المال ورکړي.

د وړوښتي وايي:- چي دا مسئله پر اصطلاح قديم د جامع مسجدانو بناء ده چي په لوي لوي ښارو کي به د دوه دري ځايه مثلا د جمعې لمونځ کېدی، مګر په اوسنۍ حالت کي هر مسجد چي څوک جوړ کي که څه هم هغه مسجد ضرار وي چي په نيت د تفريق بين المسلمين جوړ سوي وي، او يا په سبب د بغض او عناد د باني د مسجد قديم جوړ سوي وي او په هغو ټولو کي د جمعې لمونځ کېږي، نو د ورته جوامع مړی پر اهل محله تاوان دي يعني قسامه او ديت يې پر ټوله اهل محله دي، ولي چي دا خو يو محل محدود الاول والآخر دي که څه هم مسجدان او جامع مسجدان مثلا دوه يا دري دي، فاحفظ هذه الفائدة حتى لاتظن ان الجوامع المعتادة فی زماننا قتيلها لاقسامة فيه ودية على بيت المال.

قال ﴿وان وجد فی برية ليس بقربها عمارة فهو هدر﴾ او که پيدا سو مړی په يوه بيابان کي چي نژدې وهغه ته ابادي نه وه يعني په داسي شان چي د سړي چغاري او ناري تر هغې قريې پوري نه رسېدلې، نو دغه مړی لغو دي نه يې پر چا قسامه سته او نه يې ديت سته ولي چي هيڅ چا دده په باب کي تقصير نه دي کړي چي دده کهمك ته نه ورغلی، ولي چي دده آواز ودغو قريو ته نه رسېدی، او په هدايه کي وايي چي که دغه بريه او بيابان د چا ملکيت وه بيا قسامه د هغه سړي پر عاقله ده.

قال ﴿وان كان بين القريتين كان على اقربها﴾ او که پيدا سو مړي په منځ کي د دوو قريو، نو قسامه او ديت پر هغه اقرب او نژدې قريه دي، لکن دا حکم على الاطلاق نه دي بلکه مقيد په دې دي چي

واقرب قريه ته دده آواز د استغاثه رسېدي ولي په دې صورت کي د اقرب القريتين د اهل د خوا په حق دده تقصير سوي دي، او که يې اواز د استغاثه تر اقرب القريتين پوري نه رسېدي فهو هدر، جوهره وزياده.

قال ﴿وان وجد فی وسط الفرات يمر به الماء فهو هدر﴾ او که پيدا سو مړی په مينځ کي د فرات رود چي اوبه پر بهېدلي نو هغه مړی لغو دي يعني نه يې پر چا قسامه سته او نه يې ديت.

پوه سه:- چي فرات که څه هم د کوفې د رود نوم دي لکن دا ذکر پر سبيله د مثال دي نه پر سبيله د تخصص ولي چي حکم د نورو رودو لکه، رود نيل د مصر، او د هلمند رود په افغانسان کي، او يا اټك رود په پاکستان کي، نو ددې هم دغه حکم دي کما لا يخفى.

فوائد:- مراد د وسط څخه وسط حقيقي په اعتبار د مسافت نه دي بلکه چي اوبه پر مړي بهېږي که څه هم ويوې غاړې ته نژدې وي هم وسط بلل کېږي يعني مقابل د شطر، په عنايه کي وايي چي فقهاء رحمهم الله وايي چي دا حکم د هدر په هغه صورت کي دي چي اصلي چينې د رود د دار الحرب څخه را شروع سوي وي، ولي چي په دې صورت دی قتيل د دار حرب بلل کېږي نو ځکه هدر دي او که سر چشمې د رود په دار اسلام کي وې او هم په دغه دار اسلام کي اوبه روانې وې نو ديت د مړي پر بيت المال دي ولي دا رود په سلطه يعني تصرف کي د مسلمانانو دي نو دا مړي قتيل المسلمين بولل کېږي او چي قاتل يې نه دي معلوم نو ديت به يې د مال څخه د عمومي مسلمانانو ورکول کېږي چي بيت المال دي.

قال ﴿وان كان محتبساً بالشاطى فهو على اقرب القرى من ذالك المكان﴾ او كه مړی بند وو په يو کناره کي د درياب، نو تاوان د مړي پر هغه نژدې قريې ودغه ځای ته دي، يعنې ديت يې پر دوي دي ولي دغه غاړه د رود ګويا د دوي په تصرف ده ولي چي دوي ددغه ځای څخه اوبه راوړي او مواشي پر اوبه وي.

قال ﴿وان ادعى الولى على واحد من اهل المحلة بعينيه لم تسقط القسامة منهم﴾ او كه دعوه وکړه ولي د مړي پر يوه سړی معين د محلې يعني چي دغه سړي رما قريب وژلي دي، نو دده په دغه دعوه سره قسامه د اهل محله څخه نه ساقطېږي ولي دده په دغه دغوې سره خو قاتل نه سو معلوم ځکه چي شاهدان نسته.

پوهه شه:- چي دا روايت د مبسوط دي وهو القياس، او ابن المبارك د امام اعظم رحمه الله څخه داسي روايت کړي دي چي قسامه د اهل محله څخه ساقط دي، او د امام محمد رحمه الله څخه ورته روايت موجود دي دليل ددې روايت دادي چي ولي چي په يوه سړي دعوه د قتل وکړه نو ګويا ده نورو محلې والاوو ته ابراء ورکړه نو پس له ابراء څخه د ولي قسامه پر نورو نسته ولي چي مستحق د قسامې خو ولي دي، وان لم يفد تلك الدعوى له لعدم الشهود.

قال ﴿وان ادعى الولى على واحد من غير هم سقطت عنهم﴾ او كه دعوه وکړه ولي د قتل د قريب خپل پر يوه سړي چي غير د محلې والاوو څخه دي نو قسامه ساقطه ده د اهل محله والاوو څخه، ولي چي حق د قسامه پر اهل محله چي مړي په هغه محله کي پيدا سوي په دې

پوري اړه لري چي ولي پر اهل محله باندي الزام د قتل ولګوي، نو چي د دعوې د قتل پر بل چا دائره کړه نو دعوه د قتل يې د اهل محلې څخه پورته کړه نو قسامه هم ددوي څخه پورته ده.

قال المصنف رحمه الله ﴿واذا قال المستحلف قتله فلان، استحلف بالله ما قتلت ولا علمت له قاتلاً غير فلان﴾ او كه وويل يوه قسم اخستونکي چي دا سړي فلانی مړ کړي دي، نو دي قسم ورکړه سي په خدای جل جلاله سره چي نه ما وژلی دي او نه يې زه په قاتل خبر يم غير د فلاني څخه، ولي امکان لري چي دی په دغه خبره سره دفع د دعوی د قتل د ځان څخه کوي، نو ځکه دي دا مذکوره قسم ورکړه سي.

قال ﴿واذا شهد اثنان من اهل المحلة على رجل من غير هم انه قتله لم تقبل شهادتهما﴾ او كه چېرې شاهدي ادا کړه دوو کسانو د اهل محله پر يوه سړي چي هغه ددوي د محلې نه وو چي دغه سړی دا مقتول قتل کړي نه دي قبلوي يعنې قاضي شاهدي ددوي، دا هم مذهب دي د امام اعظم رحمه الله څخه او ياران وايي چي شاهدي دي قبوله کړه سي، والدلائل فى الشروح المطولة.

﴿كتاب المعاقل﴾

دا کتاب دي په بيان کي د احکامو د معاقل.

فائده:- چونکه د مخه په باب کي تېره سوه چي موجب او حکم د قتل خطاء، وما فى معنا، ديت دي پر عاقله باندي نو چاره نسته د

پېژندلو څخه د عاقلې يعنې په شرعه شريفه کې عاقله کوم کسان دي نو ځکه مصنف رحمه الله دا کتاب په بيان د عاقلې راوړي دي.

پوه نصه:- چې معاقل جمع د معقله ده يعنې په زور د ميم او په پښې د قاف لکه مکارم جمع مکرمه ده معقله ديت ته وايي جل جلاله

تفريع:- ددې څخه چې معقله ديت ته وايي دا معلومه سوه چې د کتاب عبارت په حذف د مضاف يعنې کتاب اهل المعاقل ولي خو ديات په دمخه باب کې تېر سو، په دې کتاب کې خو مقصود بيان د اهل المعاقل دي، يعنې هغه کسان چې ديت د مړي به ورکوي، وهذا مجاز شائع حتى فى القرآن، واسئل القرية، اى اهل القرية.

قال المصنف رحمه الله ﴿الدية فى شبه العمد والخطاء وكل دية وجبت بنفس القتل على العاقلة﴾ او ديت په شبه عمد کې او په خطاء کې يعنې چې بيان د دواړو د مخه تېر سوي دي، او داغه رنګه پر هغه ديت چې په نفس قتل سره واجب سوي وي هغه ديت پر عاقله دي.

پوه نصه:- چې فائده ددې قول د مصنف رحمه الله بنفس القتل داده چې هغه ديت چې د صلح د لارې په قتل عمد کې پر قاتل ايښول سوې وي هغه ديت پر عاقله نه دي بلکه په مال کې د قاتل دي ولي دا ديت په نفس قتل سره نه دي واجب سوي بلکه په صلحه سره، لان مقتضى القتل العمد القصاص كما مر، او په سبب د پلار والي واجب سوي وي لکه پار چې عمداً زوي مړ کې نو مقتضى د نفس قتل عمد خو قصاص وو لکن په سبب د ابوة پلار د قصاص څخه خلاص دي كما مر او ديت د زوي په مال کې د پلار دي اذا عرفت هذا فما قال صاحب النهايه، اى ابتداء آه"

او فائده د قيد د ابتداء يې مذكوره دوه ديته بيان کړي دي ليس بشئ، ولي دا حذف ته ضرورت نسته ولي چې دوه ديته په قول د مصنف رحمه الله ووتل بنفس القتل فافهم، دروبش.

قال المصنف رحمه الله ﴿والعاقلة اهل الديوان ان كان القاتل من اهل الديوان﴾ او عقله دسړي اهل د فتر دي که قاتل د اهل دفتر څخه وو.

پوه نصه:- چې ديوان هغه کتاب دي چې په هغه کې نومان د حکومت د مامورينو او فوجيانو او ددوي تنخوا ګاني نوشته وي، دا هم زمور مذهب دي، او امام شافعي رحمه الله وايي چې مراد د اهل دېوان څخه عصبات د قاتل دي، ومذهبنا يوافق اللغة كما لايخفى على من طالع كتب اللغة كما فى العناية.

فائده:- اول واضع د دېوان حضرت امير المؤمنين عمر رضي الله عنه دي على ما فى العنايه.

فائده:- كه قاتل د اهل دېوان څخه نه وو نو كه كهمك والا اهل حرفه دده وو يعني چې دده سره په يو كسب اخته وو، لكه نجاران يو حرفت والادي، آهنګران هم يو حرفت والادي وهكذا بنايان، خياطان، بزازان، زرګران وغيرهم چې په اصطلاح کې د پاکستان د خلګو برادري ورته وايي يعنې په برادري کې د قوم مراعات نسته، بلكه په خير او شر کې دغه اهل حرفت سره كهمكيان وي، نو عاقله دده اهل حرفه دده دي، او دا شى يعنې تناصر بالحرفه په افغانستان کې نسته، د هغو تناصر په

قوميت او عصوبت سره دي نو عصبه د سړي عاقله دده دي کما سيئاتی، او په بعض عربو کي تناصر په حلف سره کوي.

قال ﴿يؤخذ من عطاياهم فی ثلث سنين﴾ او دا ديت به اخسته کېږي د دوي د تنخوا ګانو څخه په درې کاله کي يعنې چي پوره ديت وي د هر سړي څخه به يې په درې کاله اخلي، او که واجب نصف ديت وو يا ثلثين د ديت وه نو په دوه کاله به يې د هر يوه څخه اخلي، او که ثلث ديت وو ياکم تر هغه نو په يوه کال کي به يې څندي اخلي.

قال المصنف رحمه الله ﴿ويدخل القاتل مع العاقلة فيكون فيما يؤدی كاحدهم﴾ او داخلېږي قاتل سره د عاقلې ولي چي فاعل د قتل دی دي، نو څرنګه به دده په ګناه نور خلګ نيول کېږي او دی به خلاصېږي، وقال الشافعی ليس على القاتل شئ" نو قاتل به په ورکولو کي د ديت لکه يو عاقله وي.

مسئله:- پر ښځو او کوچنيانو هيڅ شی نسته يعنې عاقله نه دي ولي چي ديت پر هغه چا لازمېږي چي د کهمك مالك وي او کهمك پرېږدي، او رواج په اهل اسلام کي دادي چي په ښځو او کوچنيانو سره کهمك نه غواړي، ج.

قال ﴿وعاقلة المعتق قبيلة مولاه﴾ او عاقلهد ازاد کړه سوي مريي قبيله د بادار دده ده، قال عليه السلام مولى القوم منهم.

قال ﴿ومولى الموالات يعقل عنه مولاه وقبيلته﴾ او د مولى موالات عقل او ديت دده به دده مولى او د هغه قبيله ورکوي.

پوښتنه:- چي مولى الموالات هغه مجهول النسب سړي ته ويل کېږي چي يو سړي ته ووايي چي زما سره عقد د دوستۍ وکړه په دې توګه که ما جنايت وکړی تاوان به يې ته پرې کوي، او که زه مړ سوم زما ميراث ستا دي او هغه سړي دا عقد ورسره وکړي.

قال ﴿ولا يتحمل العاقلة اقل من نصف عشر الدية وتحمل نصف العشر فصاعدا وما نقص منه فهو من مال الجانی﴾ او تحمل او برداشت نه کوي عاقله کم تر نصف عشر د ديت يعنې تر پنځه سوه کمي روپۍ، او تحمل به کوي عاقله پوره نصف عشر الدية يعنې چي پوره پنځه سوه درهمه دي، او چي تر نصف عشر د ديت کمي روپۍ وي هغه د مال څخه د جاني ورکول کېږي.

قال ﴿ولا تعقل العاقلةجناية العبد﴾ او پر عاقله د بادار نسته ديت د جاني مريي، لما روی عن عمر وابن عباس رضی الله عنهم لا يعقل العاقلة عمداً ولا عبداً ولا اعترافاً" يعنې ديت نه ورکوي عاقله د قتل عمد يعنې چي په صلح سره ديت وکړئي، او نه ديت د جنايت د مريي او نه د هغه جنايت چي په اقرار د جاني ثابت سي.

﴿ولا تعقل الجناية التی اعترف بها الجانی الا ان يصدقون ولا تعقل ما لزم بالصلح﴾ او عاقله ديت نه ورکوي د هغه جنايت چي جاني پخپله اقرار په کړي وي، مګر نه هغه وخت چي عاقله دده د اقرار تصديق وکړي، او داغه رنګه عاقله ديت نه ورکوي هغه ديت چي په صلحه سره په قتل عمد کي مال ګرځېدلی وي، لما مر فی الحديث.

قال ﴿واذا جنى الحر على العبد جناية خطاء كانت على عاقلته﴾ او كه جنايت وكړي حر سړي پر مريي د يو چا نو ديت يې پر عاقله د حر دي، داهم زمونږ مذهب دي مونږ وايو چې دا ديت خو ضمان د مال نه دي بلكه د نفس د انسان دي او ضمان د نفس انسان چې په خطاء سره وي پر عاقله دي كما فى الجناية على الحر خطاء، او امام شافعي رحمه الله دا جنايت پر مال د مالك العبد بولي نو ځكه امام شافعي رحمه الله قيمت د مريي پر جاني لازم بولي بالغة مابلغ، يعنې قيمت د مريي تر څو روپو پورې چې ورسېدى كه څه هم قيمت د مريي تر لس زره (١٠٠٠٠) روپيو بالاسې چې پوره ديت دي، او دا خو متفق عليه خبره ده چې جنايات ماليه پر عاقله نسته بلكه په مال كې د جاني دي، الله احفظنى من جميع الجنايات على نفسى وعلى غيرى برحمتك يا ارحم الراحمين.

﴿كتاب الحدود﴾

دا كتاب دي په بيان كې د حدود شرعيه وو

داكتاب ډېر ضروري دي زدكړه يې لازمي ده، او اجراء ددې حدودو په جامعه اسلامي كې هم حتمي دي، دروښ.

فائده:- ددې كتاب او د مخني كتاب مناسبت دادي چې په مخني كتاب كې ذكر د هغه جنايت دي چې پر بل چا وي، او د هغه جنايت د احكامو بيان، او په دې كتاب كې بيان د جنايت دي پر ځان باندي او د هغه د جنايث د احكامو، لكن چونكه پر بل جنايت كول ډېره سخته ګناه ده تر جنايت پر خپل ځان نو ځكه يې هغه كتاب دمخه كړى.

فائده:- حدود جمع د حد ده او حد په لغت كې منع ته وايي نو ځكه دروازه وان ته حداد وايي چې خلګ منعه كوي د دخول څخه د سراى، او هغه تعريف ته چې منعه كوي غير د دخول څخه په معرف كې حد ورته واى كه حد منطقي وي او كه رسم منطقي وي په اصطلاح د نحاتو، كذا فى الشرح مولى عبد الرحمن الجامى رحمه الله، او هم دا وجه ده چې عقوباتو ته حدود وايي لكه حد زنا وغيره ته حدود وايي چې هغه سړي د بيا كولو څخه د هغه كار منع كوي، او داغه رنګه نور كسان منع كوي د كولو څخه د اسبابو د هغه عقوبت چې زنا ده مثلاً او حرامو كارو ته حدود وايي ولي مسلمانان ځندي ممنوع دي، قال الله تبارك وتعالى تلك حدود الله فلا تقربوها" او هم دا سبب دي چې څوك سراى يا مځكه پر چا خرڅه او قباله نوشته كوي قاضي د محكمې پوښتنه ځندي كوي چې حدود اربعه يې څنګه دي يعنې چې بل څوك منع كړې ده د تعرض څخه د داخل الحدود.

فائده:- حد په شرعه شريفه كې هغه عقوبت ته وايي چې معين وي د جانب څخه د خداى جل جلاله او د هغه د رسول صلى الله عليه وسلم نو تعزير ته حد نه وايي ولي هغه مقدار معين نه لري.

پوښتنه:- د فقهي په كتابو كې وايي چې تعزير په منځ كې د درو ٣ او د نهه دېرشو ٣٩ دُرو دي؟

ځواب:- په دې سره خو تعين د مقدار د تعزير نه وسو.

پوهه شه:- چي په حد کي دا شرط دي چي خالص حق الله به وي نو قصاص ته حد نه وايي ولي هغه حق العبد دي، هذا حاصل ما فی المنح، والبحر، والتبيين، وغيرها، مع زياده.

فائده:- مقصود اصلي او حكمت الهی د مشرعيت څخه د حدود زجر او منع د بندګانو د هغه کار څخه چي يا ضرر د فاعل وي په نفس کي دده لکه حد زنا او ضرر وي پر آبروي کي د چا لکه حد قذف او يا ساتنه د اموالو د خلګو وي لکه حد سرقه.

پوهه شه:- چي د حدود په اجراء سره سړی د ګناه څخه نه پاکېږي ولي چي دا حدود په حق کي د اهل ذمه کافرانو هم جاري کېږي، كذا فی الهدايه والبنايه.

تفريع:- که څوك مذكوره کارونه وکړي او حدود پر جاري سي مګر دی توبه وکاږي د ګناه څخه نه خلاصېږي، او ډېر فقهاء پر دې دي چي حدود مطهر او پاکونکي د ګنهو دي، و الله اعلم.

قال المصنف رحمه الله ﴿الزناء يثبت بالبينة والاقرار﴾ او زنا ثابتېږي په شاهدانو سره، او په اقرار د زاني.

پوهه شه:- چي شروع د مصنف رحمه الله د حد زنا څخه لكثرة دواعيه من جانبی المرئة والرجل، او زناء په مد سره لغت نجديه دي او پ قصر سره لغت حجازيه دي.

﴿شرائط حد الزناء﴾ (۱) زاني به عاقل او بالغ وي نو په زناء کي د لېونې يا کوچني نا بالغ حد نسته (۲) په خپل خوښه سره به زنا کوي، نو پر مکره حد نسته (۳) په کوس يعني په فرج کي د بښځي به وي، نو په

لواطت کي که د بښځي سره وي او که د نر سره وي حد نسته (۴) هغه موطوئه به ځای د شهوت وي يعني عادةً نو په زنا کي د نا بالغي نجلي چي د شهوت او خوند وځای ته نه وي رسېدلې حد نسته (۵) نه به په بښځه کي ملك د نكاح وي او نه هم ملك د رقبې، نو په استعمال کي د فرج د ماينې يا مينځي دده حد نسته (۶) شبه به نه وي پکښې لکه پلار چي د زوي مينځه په شبه کي د انت ومالك لابيك الحديث" وغيي نو پر پلار حد نسته، لقوله عليه السلام ادرؤا الحدود بالشبهات مااستطعتم.

پوهه شه:- چي په هدايه کي وايي چي دا شاهدان او يا اقرار به په نېز د امام الوقت او يا قاضي وي، اما الثبوت بالنية فظاهر" واما بالاقرار اګرچه په اقرار کي خو دا احتمال سته چي دا سړی به درواغ ووايي لكن دا صرف احتمال بې معنا دي ولي چي په دې اقرار کي هم د سړي و عقوبت ته متوجه کېږي او هم پېغور ته نو په درواغو کي د سړي څه فائده ده، نوظن قوي دادي چي دی په اقرار کي صادق دي.

قال المصنف رحمه الله ﴿فالبينةان اشهد اربعة من الشهودعلى رجل او امرئة بالزناء﴾ او شاهدان دادي چي شاهدي به اداء کوي څلور کسه د شاهدانو څخه پر نر او يا بښځي په زنا کولو سره.

پوهه شه:- چي دا شاهدي به په يوه مجلس کي وي او که يې په مختلفو مجلسو کي اداء کړه نو شاهدانو ته دي حد قذف ورکړه سي يعني زنا خو نه په ثابتېږي، درمحتار.

پوښتنه:- قتل نفس خو لويه ګناه ده تر زنا کما يدل عليه قوله تعالى ومن قتل مؤمناً متعمداً فجزائه جهنم الآيه" او په قتل کي دوه شاهدان کافي دي، نو په زنا کي ولي څلور کسه غواړي؟

ځواب:- زنا په دوه نفره پوري تعلق لري يعني نر او ښځه نو د هر يوه پر فعل دوه شاهدان غواړي، او قتل خو يو سړي کوي غالباً نو د يوه سړي پر فعل باندي دوه کسه کافي دي، واذ قلنا غالباً فلا يراد ان القتل قد يكون باثنين بل ازيد فافهم.

پوښتنه:- چي شرط د شاهدانو د زنا دادي چي څلور سره به نر وي، فشهادة المرئة لاتقبل فى الزناء لاانفراداً ولااجتماعاً" او بل شرط دادي چي تولـه بـه حر کسان وي نو د مريانو شاهدي په زنا کي نه قبلېږي او ګرده به عادلان وي نو د فساقو شاهدي په زنا کي نسته، او مسلمان به وي نو د کفارو شاهدي په زنا کي منظوره نه ده، او شاهدي د شاهدانو پر شاهدي هم په زنا کي نه قبلېږي، للشبهة" او مکتوب د يوه قاضي چي د هغه شاهدان تېر سي وبل قاضي ته هم نه قبلېږي، جوهره.

فائده:- په شاهدانو کي د زنا لفظ صريح شرط دي لکه زنا او نکت چي د ښځي د مخ د خوا غوولو ته وايي، نوکه شاهدانو په لفظ جماع حرام يا وطي حرام سره شاهدي اداکړه هغه نه ده منظور ولي چي جماع حرام يا وطي حرام خو لواطت ته د ښځي هم وايي او پر لځه خپته د ښځي ځان انزالولو ته هم وايي وغيره، وقد قال عليه السلام ادرؤا الحدود بالشبهات.

پوښتنه:- کـه دوو شاهدانو د زنا شاهدي اداء کړه او دوو د اقرار بالزناء شاهدي اداء کړه د حد د پاره کافي نه ده.

قال المصنف رحمه الله ﴿سئالوه الامام عن الزناء ما هو وكيف هو واين زنى ومتى زنى وبمن زنى﴾ نو دي پوښتنه وکړي امام يعني يا نائب د امام چي قاضي دي د زنا په باره کي چي زنا څه شى ده يعني تعريف شرعي دي ځندي وپښتي چي هغه ادخال د ذکر د نر دي په فرج کي د ښځي او دا پوښتنه دي هم ځندي وکړي چي څرنګه وه دا زنا ولي چي احتمال ددې سته چي د ښځي سره دي يې په زور زنا کړي وي او يا دي پلار د زوي مينځه غوولې وي، او دا پوښتنه دي هم ځندي وکړي چي چېرې او په کم ځای کي وه دا زنا ولي چي امکان سته چي دا زنا دې په دار حرب کي ورسره کړې وي چي په هغه کي حد نه لازمېږي، او دا دي هم پوښتنه ځندي وکړي چي څه وخت يې زنا ورسره وکړه ولي چي احتمال ددې سته چي په کوچنوالي کي دې زنا ورسره کړې وي، پوښتنه دي هم ځندي وکړي چي دچا سره يې زنا وکړه ولي چي احتمال ددې سته چي زاني دي د زوي د مينځي سره زنا کړې وي.

قال ﴿فاذا بينوا ذالك وقالوا رئيناه وطائها فى فرجها كالميل فى المكحلة﴾ نو شاهدانو بيان وکړي يعني ځواب يې ورکړي د مذکوره شيانو، او ووايي چي مونږ ولېدي فلانى سړى يعني زاني دا بيان د معنا د زنا ده، چي وه يې غوولـه فلانى ښځه په کوس کي ددې لکه سلائي چي خلک سترګي په توره وي د رنجو په رنجونوني کي يعني دغسي نر خپل ذکر د ښځي په فرج ننه يستلى وو.

قال المصنف رحمه الله ﴿وسئال القاضی عنهم فعدلوا فی السر والعلانية﴾ او قاضي هم پوښتنه کړي وه د حال څخه د شاهدانو يعني د قريبي او د محلې د خلکو څخه يعني د شاهدانو د حال چي عادلان دي اوکه فاسقان او که مستور الحاله دي، او ددوي تعديل وکړه سو يعني د خلکو د خوا څخه دوي عادلان وښول سوه.

پوښتنه:- چي بعض فقهاء رحمهم الله وايي چي که عدالت ظاهر په شاهدانو کي موجود وو نو قاضي دي پوښتنه نه پسي کوي ولي حتی الوسع د حدود په لغوه کي دي کوشش وکړي لما مر من الحديث النبوي، لکن په اکثره معتبره کتابو کي د فقهي شريقي وايي چي شاهدانو چي شاهدي اداء کړه قاضي دي زاني بندي کړي څو چي قاضي پوښتنه کوي د حال د شاهدان، ولي چي زاني ونه تښتي، ددې بيان څخه صريح معلومېږي چي په ظاهر العدالت دي قاضي اکتفاء نه کوي بلکه پوښتنه د حال دي وکړي.

سوال:- دا بندي کول د قاضي تعزيراً دي او که احطياطاً دي، نو که تعزيراً وي خو بيا جمع په منځ کي د تعزير او د حد راځي که چېرې تعديل د شهودو وکړه سي او دا جمع ناروا ده په يوه حالت کي، او که احطياطاً وي نو خلاف د حديث نبوي ﷺ چي تېر سو لازمېږي ولي په دې حبس احطياطي کي د حد زنا ټينګ والي راځي؟

ځواب:- مجمع الانهر والا وايي چي دا حبس احطياطاً ويدل عليه قولهم لئلا يهرب" په اخر کي يې د کلام د تامل لفظ ويلي دي .

دروښ وايي:- وايي چي امکان لري چي دادي اشاره ودې ته وي چي حبس احطياطي خو خلاف د حديث نبوي ﷺ دي، نو د دروښ په فکر قاصر دا حبس تعزيراً دي، او جمع د حد او تعزير خو په يوه حال کي نه ده روا مثلا چي محکوم بالرجم د مخه تر رجم يو څو درې ووهي او بيا يې متصل رجم کي، او په مانحن فيه کي خو دغسي نه ده ولي چي حال د حبس خو دپاره د تحقيق د حال د شاهدانو دي، په هغه حال کي خو حد نسته حد خو وروسته تر تعديل ورکول کېږي، والعلم عند الله.

قال ﴿حکم بشهادتهم﴾ نو حکم دي وکړي قاضي په شاهدي سره ددوي يعنې پر قاضي واجبه ده چي حکم به کوي په مقتضي ددوي يعنې حد الزناء لظهور الحق عنده بعد الشهادی والتعديل.

﴿والاقرار ان يقر العاقل البالغ﴾ او اقرار کونکي به عاقل او بالغ وي، يعنې د لېونې او کوچني واقرار ته اعتبار نسته.

﴿علی نفسه بالزناء اربع مرات فی اربعة من مجالس المقر کلما اقر رده القاضی فاذا تم اقراره اربع مرات﴾ نو څلور واره دي اقرار وکړي پر خپل نفس زاني د زنا په څلورو مجالسو کي د اقرار کونکي يعنې د قاضي مجلس بدلي نه دي لازم، او هر وار چي دی اقرار کوي قاضي دي مخ څندي واړوي، نو چي پوره سوه څلور واره اقرار د مقر.

پوښتنه:- چي څلور واره اقرار د زاني زمونږ مذهب دي، او امام شافعي رحمه الله وايي چي يو وار اقرار کافي دي دی دا قياسوي پر اقرار د نورو حقوق ماليه وو چي يو وار اقرار پکښې کافي دي، او زمونږ دليل

هغه حديث دي د ماعز اسلمي ﷺ چي اصحاب السنن يې روايت کړي دي چي د زنا په اقرار سره څلور واره په حضور کي د رسول الله ﷺ وکړي او هر وار چي به ده اقرار وکړي آنحضرت ﷺ به مخ بلي خوا ته ځندي واړوي، او ماعز ﷺ به هغه بلي خوا ته ورغلي او اقرار د زنا به يې وکړي دا ټوله د پاره د معنا د ستر دي، او بل دليل دادي چي چونکه د زنا په شاهدانو کي څلور کسه شرط دي پر خلاف د قياس د شاهدانو د نورو حقوقو د پاره د تحقق د معنا د ستر په زنا کي، نور دغه رنګه په اقرار کي د زنا څلور واره والي شرط دي بقيام کل اقرار مقام شاهد ليتحقق معنا ستر الزناء ودفعاً للحد عن الزانی کما ورد فی الحديث النبوی ﷺ وقد مر من قبل.

قال ﴿سئاله القاضی عن الزناء ماهو وکيف هو واين زنی وبمن زنی فاذا بين ذالك لزمه الحد﴾

ژوبښ وايي:- چي معنا ددې عباردت او فائدې ددې قيودو عنقريب تېري سوې فتذکر ولانعيدها لکن

پوهه ښه:- چي مذهب دادي چي ډبر وخت تېربدل مانع د صحت د اقرار بالزناء نه دي، بخلاف الشهادة فلذا لم يذکر المصنف رحمه الله قيد معنی زنی فافهم.

قال ﴿فان کان الزانی محصناً رجمه بالحجارة حتی يموت يخرجه الی ارض فضاء﴾ نو که زاني محصن وو نو قاضي دې رجم کړي په ډبرو تر هغو پوري چي مري، يعني قاضي دي دا حکم صادر کړي، او زاني دي وباسي يو بيابان او خالي مځکي ته تاچي رجم يې

اسانه سي او خلګ يو د بله سره په ډبرو خوږ نه کي لکه څنګه چي عليه السلام امر وکړي چي ماعز ﷺ و مصلی ته د عيد ګاه وباسي او هوړې يې رجم کړي.

پوهه ښه:- چي شرطونه د احصان د زنا علی ما فی الجوهره والهدايه وغيرهما من کتب الفقه دادي (۱) بلوغ (۲) عقل (۳) اسلام (۴) حريت (۵) نکاح صحيح (۶) دخول او وطي د ماينې سره (۷) پر دغه صفت د احصان به پاته وي.

فائده:- په دخول کي شرط د غټ ننوتل په کوس د ماينې پر داسي وجه چي غسل پر واجب سي انزال شرط نه دي، او د کوني د خوا کار کول اعتبار نه لري، او د امام ابو يوسف رحمه الله څخه روايت دي چي اوم شرط نه دي لازم حتی که چبري يو سړی د ماينې سره وطي وکړي او بيا مرتد سي او زنا وکړي وروسته بېرته اسلام راوړي لکن په نوي اسلام کي يې د ماينې سره وطي حلال نه وکي نو امام مذکوره وايي چي دی محصن په وطي سابقه سره دي، او طرفين رحمه الله وايي چي په حديث شريف کي راغلي دي من اشرك بالله فليس بمحصن.

قال ﴿يبتدی الشهود بالرجمه ثم الامام ثم الناس﴾ او شروع به کوي شاهدان په رجم دپاره د امتحان ددوي ولي چي امکان لري چي دوي به دارنګه وژل د مسلمان ډېره غټه ګناه وبولي او رجوع به وکړي د شاهدي څخه او حد به ساقط سي، جوهره ودر. او بيا دي امام ياقاضي په ډبرو وولي دپاره د امتحان دده چي شاهد ده په شاهدي کي د شاهدانو داسي يوه نکته ليدلېوي چي هغه د رد الحد په رائي هغه به

ښکاره کي او د قضا څخه به رجوع وکړي، او بيادي عمومي خلګ ډبري پر زاني وه وروي.

فائده:- د شاهدانو او د امام تر پايه پوري رجم نه دي لازم.

قال المصنف رحمه الله ﴿فان امتنع الشهود من الابتداء سقط الحد﴾ او که منع وکړه شاهدانو د ابتداء څخه د ډبرو ويشتلو يعني تولو يا بعضو نو حد ساقط سو.

پوه شه:- چي دا مذهب دي د امام اعظم او امام محمد رحمهما الله او امام ابو يوسف رحمه الله وايي چي حد نه ساقطېږي بلکه امام په ويشتلو د ډبرو شروع وکړي.

قال ﴿وان كان الزانى مقراً ابتدء الامام ثم الناس﴾ او که زاني اقرار کونکي وو په زنا سره نو ابتداء او شروع د رجم دي امام وکړي او وروسته نور خلګ.

فائده:- په دې ځای کي د يوه دقيق سوال جواب واردېږي چي ددې عبارت څخه دادسي معلومېږي چي که امام منع وکړي د ويشتلو څخه نو حد ساقط دي او خلګو ته نه ده روا چي زاني رجم کي که څه هم امام امر ورته وکي چي رجم يې کړي، او ابتداء د امام په رجم سره په حديث د علي ﷺ ثابت دي، او په حديث شريف کي دا هم راغلي دي چي غامديه ښځي چي اقرار په زنا وکړی نو اول رسول الله ﷺ دا يوه شکه لکه نخود ووينستله او بيا خلګو، على ما فى الهدايه، نو سوال دادي چي د ماعز اسلمی ﷺ په رجم کي خو رسول الله ﷺ حاضر نه وو او نه يې شکه ماعز ته ورغورځولې ده فكيف يصح مادل عليه العبارة المذكورة.

والجواب على ما يفهم من فتح القدير ان معنى د قول د علي ﷺ داده چي امام او قاضي شروع په رجم وکړي نو خلګو ته به دا ښکاره سي چي قاضي په بعض شروطو کي د قضا بالرجم تساهل نه دي کړی، نو که امام او قاضي منع وکړي د ويشتلو څخه نو دا علامه د رجوع ده د امر څخه د رجم د زاني په سبب د بعض تساهل دده څخه نو حد به ساقط سي" وهذا التساهل انما يتصور فى غير النبى ﷺ واما هو فهو كما قال الله تعالى، وما ينطق عن الهوى ان هو الا وحى يوحى" نو ددې جهته عليه السلام په رجم کي د ماعز حاضر نه وو، بلکه نور خلګ يې امر کړه په رجم سره او هغو رجم کړي، او سره ددې اصل ابتداء د قاضي او امام په رجم سره په حديث دغامديه ثابت سوه، او دا ابتداء د عليه السلام تعليماً لقضاة الامة وهذا نهايى تحرير الجواب ومن الله التوفيق والله اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب.

قال ﴿ويغسل ويكفن ويصلى عليه﴾ او غسل دي ورکړه سي مرجوم ته يعني پس له مرګه او کفن دي ورکړه سي، او لمونځ د جنازې دي ورکړه سي ولي چي په صحيح حديث کي راغلي دي چي څه وخت چي ماعز اسلمي د رجم څخه مړ سو، نو خلګو پوښتنه وکړه د عليه السلام څخه دده د تكفين او د جنازې د لمانځه په باره کي نو عليه الصلوة والسلام ورته وفرمايله" اصنعوا به كما تصنعون بموتاكم" تاسي د ماعز سره هغه کار وکړی چي تاسي يې د نورو مړو سره کوي، يعني غسل ورکړی کفن ورکړی او لمونځ ورکړی او عليه الصلوة والسلام زياته کړه چي ماعز داسي توبه وکښل که دده توبه پر اهل حجاز وويشل

سي تولو ته به كافي وي، او عليه الصلوة والسلام دا هم زياته كړه چې ما دى وليدى چې په ولو كې د جنت يې غوتې وهلې.

پوښتنه:- څه سبب دي چې شهيد ته غسل نه وركوي او مقتول بالرجم ته غسل وركوي؟

ځواب:- مقتول بالرجم خو په حق الله سره ووژل سو، او شهيد خو في سبيل الله ناحقه ووژل سو، مجمع الانهر.

قال المصنف رحمه الله ﴿وان لم يكن محصناً وكان حراً فحده مائة جلدة﴾ او كه چېرې زاني محصن نه وو په هغه معنا چې ذكر يې تېر سو، او حر وو مريې نه وو نو حد دده سل درې دي، قال الله تبارك وتعالى، الزانية والزاني فاجلدوا كل واحد منهما مائة جلدة الآيه".

سوال:- محصن خو هم تر عموم ددې آيت لاندې دي نو هغه ولې نه رجم كېږي؟

ځواب:- دا آيت مذكوره په حق كې د محصن منسوخ دي په بل آيت سره چې تلاوت يې په قرآن كې منسوخ دي او حكم يې باقي دي، او هغه آيت دادي، الشيخ والشيخة اذا زنيا فارجموهما نكالا من الله والله عزيز حكيم" كذا في النور الانوار، والهدايه، والبنايه، يعنې محصن نر او محصنه ښځه چې زنا وكړي نو رجم كړي دواړه، البته نكالا من الله والله عزيز حكيم، دليل د نسخ د آيت سابقه په دې آيت سره دادي چې دا آيت وروسته تر آيت سابقه نازل سوي دي باجماع صحابه رضي الله عنهم وعليه السلام چې ماعز اسلمي يې رجم كړى تر نزول د آيت سابقه وروسته وو.

قال المصنف رحمه الله ﴿ياء مر الامام بضربه بسوط لاثمرة له ضربا متوسطا﴾ او امر دي وكړي امام په وهلو سره د زاني غير محصن په داسي دُره چې په اطرافو كې يې غوټه نه وي كذا في الصحاح، وقيل غير ذالك، او وهل به هم ميانه ضرب وي يعني نه تېپي كونكي ضرب وي ولي هغه ګاهي هلاك ته مفضي كېږي، او نه به داسي ضرب وي چې مضروب په خوږېږي نه، ولي په داسي ضرب سره خو د مضروب زجر نه راځي د آينده زنا څخه، كذا في الهدايه.

پوښتنه:- كه زاني مضروب ضعيف البنية وو چې په متوسط ضرب كې بېره د هلاك پر وه نو ضرب دې په قدر د برداشت د جسم دده ورسېږي، كذا في فتح القدير.

قال المصنف رحمه الله ﴿ينزع عنه ثيابه ويفرق الضرب على اعضائه الا راسه ووجهه وفرجه﴾ او كالي دي ځندي وكاږي يعني غير د هغه قدر څخه چې ستر د عورت په راځي، ولي حضرت علي رضي الله عنه ددغه زاني څخه كالي كښله تاچې ښه خوږ سي او ددې حد زنا مبني پر شدت ده،م.

او وهل دې پر مختلفو اندامو وركوي ولي تولې درې كه پر يوه اندام وي غالباً هغه عضو به د كاره ولوږي، او حد خو زاجر دي متلف نه دي، او مګر پر سر دې نه وهي او نه دې پر مخ وهي او نه دې دمخ د خوا پر فرج كه د نر وي او كه د ښځي وهي، ولي چې عليه السلام وهغه چا ته چې ده مبارك په وهلو د زاني مامور كړي وو ورته وويل اتق الوجه والراس والمذاكير، قال صاحب البحر ان ضرب الفرج مقتل والراس

مجمع الحواس الشريفه، والوجه مجمع المحاسن فلا يؤمن فوات شيلى منها، والحد انها شرع للزجر لالهلاك ولالفوات عضو، ولالذهاب شيئ من المحاسن، انتهى مع الزياده.

قال ﴿وان كان عبداً اجلده خمسين وكذالك الامة﴾ او كه دا غير محصن زاني مريي وو نو پنځوس درې دي ووهي، او داغه رنګه ده مينځه يعني د هغې حد هم پنځوس درې دي، لقوله تعالى فعليهن نصف ما على المحصنات من العذاب" دا آيت په باره کي د مينځيانو زانياتو چي محصن نه وي نازل سوي دي، او عقلي دليل يې دادي چي رق کمونکي د نعمت دي پر مريي نو کمونکي د عقوبت هم دي حاصل ما فى الهدايه.

قال المصنف رحمه الله ﴿فان رجع المقر عن اقراره قبل اقامة الحد عليه او فى وسطه قُبل رجوعه وخلى سبيله﴾ او که رجوع وکړه مقر بالزناء عن اقراره يعني يا په قول کي چي ووايي ما درواغ ويل، او يا په فعل سره لکه چي وتښتي او دا رجوع يې د مخه تر شروع په حد سره دده وه او يا په منځ کې د حد نو قبوله دي کړه سي رجوع دده او لار دې ور ايله کړي يعني خوشي دې کړي، ولي ددغه سړي رجوع احتمال د صدق او کذب لري لکه اقرار چي احتمال د کذب او صدق درلودي، او دده سره خو څوك دعوه نه لري ولي چي حد زنا خالص حق الله دي، نو شبه پيدا سوه.

فائده:- که په اقرار کي حق العبد وي د هغه اقرار څخه رجوع نه ده صحيح لکه اقرار په قتل النفس عمداً سره د هغه اقرار څخه په رجوع

سره قصاص نه ساقطېږي، ولي چي ولي د مړي يې مکذب د رجوع دي وکذالك حد القذف.

قال ﴿وينبغى للامام ان يلقن المقر الرجوع﴾ او مستحب ده امام لره چي تلقين دي کوي يعني په خوله کي دي ورکوي د اقرار کونکي په زنا سره رجوع د اقرار څخه د زنا وبل شي ته.

﴿ويقول له لعلك لمست او قبلت﴾ او داسي دي ورته وايې چي شايد تابه دا ښځه مس کړې وي يعني په شهوت سره، او يا به دي مچه ځندي اخستېوي مثلاً، يا به دي فرج ته ددې په شهوت سره کتلى وي.

پوه سه:- چي غرض په دې تلقين کي دفع د حد ده په حديث کي د بخاري راغلي دي چي عليه السلام وماعز ته وويل لعلك قبلت او عمزت او نظرت، قال عليه السلام ادرؤا الحدود ماستطعتم.

قال ﴿والمرئة والرجل فى ذالك سواء﴾ ښځه او نر په دغه کي يعني په ډول کي د حد او په قبول کي د رجوع سره برابر دي، هدايه وايي ولي چي نصوص ددواړو على السواء مشتمل دي.

قال ﴿غير ان المرئة لاتنزع عنها ثيابها الاالفرد والحشو وان حفر لها فى الرجم جاز﴾ لكن دا فرق يې سته چي د ښځي څخه دي کالي نه کاږي د درو وهلو په وخت کي لکه د نر څخه چې کښلې ولي بدن د ښځي خو ټوله عورت دي، نو چي کالي ځندي وکاږي مثلاً قميص او پورني نو کې څه هم پرتوګ ورپرېږي نو هم کشف عورت لازمېږي، مګر پوستين که يې اغوستى وو او يا داسي قميص چي په منځ کې پنبه وه هغه دي ځندي وکاږي ولي د هغو په لېريکولو کي

کشف العورت هم نه راځي، او رسېده د الم زاجر و بدن ته ددې چيمقصود د حد څخه دي هم راځي.

مسئله:- ښځه چي په دُرو وهي په ناسته دې ووهي، ولي د ولاړې په وهلو کي لازماً کشف د عورت راځي، وهكذا ورد فی اثر علی ﷺ، او که د رجم په وخت کي ښځي ته مثلاً تر نامه پوري غار جوړ کي او دا پکښې ښخه کړي رواده بلکه دروېش وايي چي مستحب ده، ولي چي په حديث کي راغلي دي چي عليه الصلوة والسلام چي غامديه زانيه په رجم کوله تر تيو پوري يې په غار کي ښخه کړه، او حضرت علي ﷺ چي شراحه همدانيه ښځه رجم کوله هم يې غار ورته وکينى، بلکه عين ممکنه ده چي مرجومه ښځه دي د حفاظت د مخ او سترګو د ډبرو څخه قميص پر سر راپورته کړي او خيټه دي لڅه کي بلکه احتمال لري چي پرتوګ دي وکاږي او پر سر او مخ دې واچوي، نو په غار کي ښخول ددې د پاره د ښه ستر العورت زمينه ده، والله اعلم بالثواب.

قال المصنف رحمه الله ﴿ولا يقيم المولى الحد على عبده او امته الا باذن الامام﴾ او نه سي جاري کولای بادار حد پر خپل مريي او مينځه باندي، مګر په اجازه د امام يعني يا نائب د امام، او امام شافعي رحمه الله وايي چي جاري کولای يې سي ولي چي بادار ولايت مطلقه لري پر مريي يامينځه باندي لکه امام بلکه تر امام بالا بادار تصرف کولای سي، مثلا بادار مريي يا مينځه خرڅولای يا چا ته په هيبه کي ورکولای سي، او د خپلي مينځي سره وطي کولای سي، او امام دا يو کار نه سي

کولای، نو دی وايي حد د مريي لکه تعذير دي پر يوه بد کار باندي د مريي چي بادار دغه تعذير ښه اجازې د امام ومريي ته ورکولای سي.

مورږ وايو چي په حديث شريف کي راغلي دي، اربعة الى الامام" او عليه الصلوة والسلام د هغو څلورو شيانو څخه يو حد ذکر کړي، او بل دليل دادي چي حد خالص حق الله دي چي حکمت الهي په هغه کي خلاصول د جامعه اسلاميه دي د فساد څخه نو ځکه په اسقاط د بندګانو نه ساقطېږي نو چي حد حق الله دي نو د هغه اجراء په قدرت کي د نائب الشرح دي چي امام دي او يا نائب د امام، بخلاف التعذير لانه حق العبد نو ځکه کوچني ته تعذير روا دي مع ان قلم التكليف الآلهى مرفوع عنه، هدايه دروېش.

قال ﴿وان رجع احد الشهود بعد الحكم قبل الرجم ضربوا الحد وسقط الحد عن المشهود عليه﴾ او که رجوع وکړه يوه د شاهدانو پس له حکمه څخه يعني په رجم سره ددوي د شاهدي په اثر، او د مخه تر رجم نو ټولو شاهدانو ته دي حد قذف ورکړي او ساقط سو حد د رجم د مشهود عليه څخه او دا هم مذهب دي د امام اعظم او امام ابو يوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله وايي چي يوازي دي هغه راجع ته حد ورکړي.

پوهه شه:- چي سقوط د رجم د مشهود عليه څخه په اتفاق زمور د آئمه ثلاثه دي، ولي چي شاهدان د رجم څلور پوره نه دي وعليه مدار الرجم كما مر.

مسئله:- که رجوع وکړه يو شاهد د مخه تر حکم په رجم نو حد قذف دي وتولو ته ورکړه سي ولي خبري د تولو شاهدانو خو شاهدي ګرځي چي په قضا سره د قاضي متصله سي نو د مخه تر قضا ددوي تولو خبري په باره کي د زنا قذف دي ځکه تولو ته دي حد قذف ورکړي، وباقی التفصيل والدلائل فی الهدايه والجوهره وفتح القدير وغير ها من الشروح القدوري.

قال ﴿وان رجع بعد الرجم حد الراجع وحده وضمن ربع الدية﴾ او که رجوع د شاهدي څخه وکړه يو شاهد پس له رجم د مشهود عليه نو يوازي وه راجع شاهد ته دي حد قذف ورکړي او څلورمه د ديت دي تاوان ځندي واخلي.

مسئله:- که بل شاهد رجوع وکړه هغه ته دي هم حد قذف ورکړي او څلورمه د ديت دي تاوان ځندي واخلي وهکذا غرامت ولي لازمېږي ولي دغه نفس د مرجوم چي تلف سو ددوي تولو په شاهدي سره نو چي يوه رجوع وکړه نو هغه ګويا اقرار وکړي په تلف د نفس د مرجوم ناحقه وو، نو واجب دي پر ده تاوان په اندازه د ديت دده د حصې چي څلورمه د ديت ده او حد قذف وده ته ورکول مذهب دي د آئمه ثلاثه زمور او امام زفر رحمه الله وايي چي پر راجع حد قذف نسته، والتفصيل الدلائل فی الشروح.

قال ﴿وان نقص عدد الشهود عن اربعة حدوا جميعاً﴾ او که کم وو عدد د شاهدانو تر څلورو يعني درې کسه شاهدان د زنا تېر سوه

مګر څلورم شاهد نه وو، نو دغو درو شاهانو ته دي حد قذف ورکړي ولي چي څلورم شاهد نه سو پيدا نو پاته درې ګرده قاذفان دي، هدايه.

قال المصنف رحمه الله ﴿واحصان الرجم ان يكون حراً بالغاً عاقلاً مسلماً قد تزوج امرئة نكاحاً صحيحاً ودخل بها وهما على صفة الاحصان﴾ او احصان چي په رجم کي شرط دي اوه (۷) شيان دي اول (۱) داچي هغه مرجوم به حر وي لقوله عليه الصلوة والسلام چي په رجم کېږي نر په زنا د مينځي سره، او مريي نه په رجم کېږي په زنا سره د حرې، او دوهم (۲) داچي هغه زاني به بالغه وي ولي چي کوچنی اهل د عقوبت نه دي، او دريم (۳) عقل دي ولي لېونی هم اهل د عقوبت نه دي، او څلورم (۴) شرط يې اسلام دي لقوله عليه الصلوة والسلام من اشرك بالله فليس بمحصن.

پوښتنه:- چي مراد د شرك څخه عام دي که ظاهراً وي لکه مشرکين معهودين او که حکما وي او که حکما وي لکه يهود او نصاری لقولهم عزير ابن الله وعيسى ابن الله، نو يهودي او نصراني هم محصن نه دي.

پوښتنه:- په حديث کي د بخاري وغيره راغلي دي چي عليه الصلوة والسلام پر يوه يهودي چي زنا يې کړې وه حکم د رجم وکړې؟

ځواب:- عليه الصلوة والسلام پر يهودي حکم د رجم په مطابق د تورات وکړې کما فی البخاري وغيره او هغه منسوخ سو، او پنځم (۵) شرط يې دادي چي ده به نکاح کړې وي په صحيح نکاح سره، يعني ناکح په نکاح فاسده سره هم محصن نه دي لکه ناکح ببله شاهدانو، او شپږم (۶) شرط يې دخول په هغه ماينه دي يعني جماع به يې هم ورسره

کړي وي، نو که يو سړي بعد النکاح الصحيح او قبل الوطي زنا وکړه هغه محصن نه دي، اوم (۷) شرط يې بقاء ددوي ده يعنې زاني او زانيه پر صفت د احصان تر وقت د زنا، نوکه يو سړي چې ټوله شرائط پکښې وه لکن په وخت کي د زنا لپونی سوي وو هغه محصن نه دي، فتذکر هذه الشرائط ودلائلها وفوائدها.

فائده:- مصنف رحمه الله لفظ د احصان الرجم ووايه ولي په مقذوف کي چې احصان شرط دي هغه پنځه دي، بلوغ، عقل، اسلام، حريت، پاك والی د فعل څخه د زنا.

قال ﴿ولا يجمع فی المحصن بين الجلد والرجم ولايجمع فی البكر بين الجلد والنفی الاان يری الامام ذالك مصلحة فيضربه علی قدر مايری﴾ او نه جمع کېږي په محصن زاني کي په دُرو وهل او رجم کېده ولي د دُرو وهل يې بې فائده دي، او عليه الصلوة والسلام هم په ماعز رضي الله عنه او په غامديه ښځه کي دواړه نه دي سره جمع کړي بلکه په رجم سره يې اکتفاء کړې ده، او دغه رنګه جمع والي نه کېږي په زنا کي د بکر يعنې چې محصن نه وي په مابين د دُرو وهلو او د نفي، يعني د وطن څخه فرار کول مګر هغه وخت که امام دا فرار دده مصلحت وباله نو دي دی وروسته تر جلد د وطنه وشړي، په هغه اندازه د زمانې چې امام يې لازم بولي.

پوه شه:- چې دليل د عدم جمع مذکور دادي چې خدی پاك داسي فرمايلي دي، الزانية والزانی فاجلدوا کل واحد مئاة جلدة" نو دا معلومه

سوه چې د بکر زاني ټوله حد جلد دي ولي که تغريب په حد کي داخل وای نو رب جل وعلی به تصريح په کړې وای.

پوښتنه:- په حديث صحيح کي راغلي دي، البکر بالبکر جلد مئاة وتغريب عام" نو دا حديث مبارك خو صريح دي په دې کي چې تغريب په حد کي د بکر جزء دي؟

ځواب:- فقهاء د مذهب وايي چې دا حديث منسوخ دي ولي چې په دغه حديث مبارك کي بل جزء داسي دي، الثيب بالثيب" يعني محصن ومحصنة جلد مئاة ورمی بالحجارة كذا فی الهداية او هغه جزء خو منسوخ بالاتفاق دي كما مر من عدم اجرائه ﷺ فی ماعز والغامديه فكذا هذا الجزء، مګر بيا هم فقهاء وايي کي امام د سياست د لاري په تغريب کي فائده وليدله نو تعزيراً لاحدا دي بکر زاني تغريب کړي، ولي په بعض اشخاصو کي تغريب ډېر مفيد واقع کېږي په سبب د لوي پېغور وزاني ته پس له عود ووطن ته، او بعض فقهاء معنا د تغريب په حبس سره کوي، نهايه والا وايي چې دا ډېر ښه تفسير او ساکتونکي د زنا دي، انتهي.

ډروېش وايي:- چې دا تفسير د لفظ د تغريب لغةً ډېر لري دي كما لا يخفی، او صاحب د مجمع الانهر هم دا تفسير نه دي خوښ کړي، والله اعلم بالصواب.

قال ﴿واذا زنی المريض وحده الرجم رجم﴾ او که زنا وکړه ناجوړه سړي او حد دده رجم وو يعنې محصن وو نو په رجم دي سي، يعنې رجم دي د صحت تر وخته نه ځنډوي، ولي خو دی د اتلاف مستحق دي نو د

څه د پاره يې رجم ځنډوي بلکه ناجوړی ښه دي چې په ناجوړې کې رجم سي چې ژر به مړ سي، هدايه، دروښ.

قال ﴿وان كان حده الجلد لم يجلد حتى يبرء﴾ او که حد دده وهل وه نو په ناجوړې کې دې نه پر جاري کوي تر هغو پورې چې جوړېږي ولي چې نبايده په سبب د ناجوړی د دُرو وهلو څخه مړ نسي او دی خو د وژلو مستحق نه دي، لهذا که پر چا قطع د يد مستحق وه يعنې د غلا په سبب نو په ډېر يخ او يا په ډېره ګرمي کې دې لاس نه ورپرې کوي لخوف السرايته الى العضو، ه ، ع.

قال ﴿فاذا زنت الحامل لم تحد حتى تضع حملها﴾ او که زنا وکړه امېد واره ښځې نو تر هغو دې نه په حد کوي چې لنګېږي ولي تاچې حد ددې مفضي نه سي وتلف ته د مافی البطن ددې مع انه نفس محترمه.

﴿وان كان حدها الجلد فحتى تتعالى عن نفاسها﴾ او که حد د حاملې جلد وو نو تر هغو دې نه پر جاري کوي چې د نفاس څخه خلاصېږي ولي جې نفاس په واقع کې يوه ناجوړې ده، نو که په نفاس کې پر دې حد الجلد جاري سي د نفاس په وخت کې شايد مړه به سي يعنې که حد ددې رجم وو نو څنګه چې لنګه سوه رجم دي پر جاري کړي ولي چې مرګ پردې مستحق دي نو که مړه سي نو څه پروا لري.

قال ﴿واذا شهد الشهود بحد متقادم لم يمنعهم عن اقامته بعد هم عن الامام لم تقبل شهادتهم الا في حد القذف خاصة﴾ او که شاهدي ادا کړه په حد سره يعني په سبب د حد زنا يا قذف يا

سرقه وغيره چې حد يعنې د سبب يې ډيسر وخت تېر سوی وو، او حال هم دا وو چې دوي د امام د حضور څخه لري هم نه وه نو نه قبلېږي شاهدي ددوي مګر په حد قذف کې خاص يعني په هغه کې تقادم مانع د قبولې څخه د شاهدي نه دي، حاصل دادي که شاهدان د بالفور د شاهدي څخه يې مانع په بعد مسافت وو د امام څخه خو په ډېر وخت تېربدو سره شاهدي د قبولې څخه نه لوېږي يعنې قبلېږي او که بعد المسافت مانع نه وو نو يې شاهدي نه قبلېږي په دليل ددې چې شاهدانو چې سبب د حد ولېدي لکه زنا مثلا نو ددوي خوښه ده که شاهدي ادا کوي او که پرده پر اچوي او پرده اچول يې افضل هم دي، نو دوي چې شاهدي وځنډول مع عدم المانع وهو بعد المسافت عن الامام، نو ظاهراً داسي معلومېده چې دوي د پردي لار خپله کړه لکن پس له ډېري مدې چې دوي د شاهدي و اداکولو ته اماده سوه معلومه سوه چې ددوي او د مشهود عليه تر منځ يو بغض او عداوت پيداسوی دي، ولا شهادة لهم عند الفقهاء.

فائده:- زمانه د تقادم په نېز د امام ابو يوسف او امام محمد رحمۃ اللہ علیہ مقدره ده په يوه مياشت سره، او بعض فقهاء وايي چې زمانه د تقادم شپږ مياشتې ده، واليه مال الامام الطحاوي رحمۃ اللہ علیہ ، اوبعض علماء وای چې دا په راءيه پوري د قاضي اړه لري، قال فی الشرح الكنز والاصح هو الاول، او زمانه د تقادم په شرب الخمر او په نورو مسکراتو کې مقدره ده په لېريوالي د خولې د بوي د چيښونکي، او امام محمد رحمۃ اللہ علیہ هغه هم مقدر په مياشت سره بولي، هو الارجح.

پوه شئه:- چي امام شافعي رحمه الله وايي چي حد په تقادم سره نه باطليږي لکه حقوق الناس يعني هر وخت چي شاهدان شاهدي ادا کړي په سبب د حد هغه شاهدي دوي منظوره وي او مشهود عليه به په حد کښې وبه قال مالك واحمد رحمهما الله.

فائده:- که مانع د فوري شاهدي ادا کولو څخه يا بعده مسافت وود امام څخه يا ناجوړي او مرضي د شاهدانو وه، هغه شاهدي ددوي قبوله بالاجماع ده.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن وطاء امرائة اجنبية فی مادون الفرج عزر﴾ او که چا وطي کړه بېګانه ښځه په ماسوا کي د کوس يعني په کوناتو کې ځان انزال کړی او يا پر نس د هغې ځان انزال کړي تعزير دي ورکړه سي يعني د قاضي د خوا څخه ولي چي منکر او بد کار د شرع څخه مخالف يې وکړی.

قال ﴿ولاحد علی من وطاء جارية ولده او ولد ولده وان قال علمت انها علی حرام﴾ او حد نسته چي وطي کړي څوك مينځه د خپل ولد که نر ولد يې وي او که ښځه، نو ځکه مصنف رحمه الله لفظ د ولد ووايه ابن يې نه ووايه، او يا يې وطي کړه مينځه د ولد الولدکه څه هم دی ووايي چي زه پوهېدم چي دا مينځه ماته حرامه ده، دليل يې دادي چي دا وطي ناشي د شبهي څخه دي چي هغه شبهه په دې قول د عليه السلام ثابته ده، انت ومالك لابيك" والشبهة مسقطة للحد ولا اعتبار لعلمه بالحرمة.

قال ﴿واذا وطاء جارية ابيه او امه او زوجته او وطاء العبد جارية مولاه وقال علمت انها علی حرام حد﴾ او که چا وطي کړه مينځه د پلار او يا نيکه، او يا يې وطي کړه مينځه د خپل مور، او يا د خپل ماينې مينځه، او يا وطي کړه مريي مينځه د بادار دده او دا يې هم وويل چي زه پوهېدمه چي دغه مينځياني وماته حرامي دي نو حد دي ورکړي، ولي دلته خو نه شبهه د حديث د خوا سته او نه دده د ظن د خوا، او که دې واطي وويل چي زما غالب ګمان داوو چي دا مينځياني وماته په وطي روا دي نو حد دي نه ورکوي،

قال ﴿وان قال ظننت انها متحل لی لم يحد﴾ ولي په دې صورت کي شبهه دده د ظن سته يعني په منځ کي د پلار او مور او زوي فراخي سته په مالي شيانو کي او داغه رنګه د مېرۀ او ماينې په منځ کي هم فراخي سته په اموالو کي او ا غه رنګه په منځ کي د مريي او د بادار فراخي سته په اموال کي نو دده دغه ظن مستند و دليل ته د تبسط بينه وبين هولاء فيسقط عنه الحد بتلك الشبهة المستند الی الدليل المذکور.

قال ﴿ومن وطاء جارية اخيه او عمه وقال ظننت انها حلال لی حد﴾ او که وطي کړه چا مينځه د خپل ورور، او يا د اکا مينځه او دا يې وويل چي زما غالبه ګومان داوو چي دا مينځه ماته حلاله ده نو حد دي ورکړه سي، ولي ورور وبل ورور ته او يا اکا و وراره ته اونه مالي تبری نه کوي بلکه په مال مضائقه سره کوي نو دا ګومان د شبهی په سقوط کي د حد اعتبار نه لري.

قال ﴿ومن زفت اليه غير امرئته وقالت النساء انها زوجتك فوطئها فلاحد عليه وعليه المهر﴾ او كه يې يو سړي ته ورويستل غير د ماينې څخه دده بله ښځه.

پوهاوی:- چې زفاف په اوله شپه د ماينې ورويستل بولي مېړه ته چې دا کار د ښځو پر زمه دي چېماينه مېړه ته وړولي لکن دا زفاف که پس له واده وي، يعنې د مېړه په کور کې خو دا اشتباه ډېره بعيده ده ولې چې د زفاف زمه واره د مېړه په کور کې د مېړه قريبانې ښځې دي لکهمور خور وغيره نو هغه خپله ناوې پېژني نو چېرې پردې ښځه خپل قريب ته وړولي، بلکه ددې اشتباه د پلار په کور کې د ښځې ممکنه ده، يعنې چې يو سړی پښه خلاصه کړي په اصطلاح د پښتنو او د خسر کره ورسې نو اوله شپه چې ناوې وړولي د خسر د کور ښځې يې وړولي نو امکان لري چې د هغه ځای ښځو دي دغه دسيسه برابره کړې وي د يو غرض د پاره، او ښځو ومېړه ته وويل چې دغه ښځه چې موږ راويستله ستا ماينه ده، نور خو مېړه خپل ماينه تر اوسه نه ده ليدلې نو هغه راويستلې ښځه يې وطي کړه او هغې بېشرمي هم نه ورته ويل چې زه پردې ښځه يم ستا ماينه نه يم، لکن وروسته هغې ښځې ورته ووېل چې زه پردې ښځه يم تا زنا راسره وکړه، او يا بل چا په اصلي موضوع خبر کړي نو پر مېړه حد نسته ولې چې دا اشتباه په محل کې د وطي پيدا سوه لکن مهر ددغې ښځې پر لازم دي، ولې چې په اشتباه څوك پردې ښځه وطي کړي د هغې ولور پر لازم دي يعنې مهر المثل.

فائده:- مصنف رحمه الله صيغه د جمع استعمال کړه يعنې قالت النساء ددې څخه دا سي معلومېږي چې ديوې ښځې اخبار چې دا ستا ماينه ده مسقط د حد نه دي، لکن ظاهر کلام الکنز پر دې دلالت کوي چې د يوې ښځې خبر هم په دې ځای کې اعتبار لري، يعنې حد په ساقطېږي ويدل عليه کلام ابن الهمام رحمه الله په شرحه کې د هدايه هم پر دغه دلالت کوي او صحيح هم دغه ده ولې چې نکاح د معاملاتو څخه ده او خبر د يوه سړي په معاملاتو کې معتبر دي کما فی کتب الفقه، او توجيه د قول د قدوري داده چې الف لام تعريف په لفظ کې النساء د پاره د جنس دي نو جمعيت يې باطل دي کما فی کتب النحو.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن تزوج امرئة لاتحل له نكاحها فوطئها لم يجب عليه الحد﴾ او كه چا په نکاح کړه داسې ښځه چې د هغې نکاح وده ته نه وه روا، لکه رضعي خور مثلا نو يې وطي ورسره وکړې نو پر ده حد نه واجبېږي او دا قول هم د امام اعظم رحمه الله دي دی وايي چې ضرب شديده دي ورکړي که دی په تحريم خبر وو، دا ضرب تعزيراً دي، او امام ابو يوسف، امام محمد، او امام شافعي رحمه الله وايي که دی عالم بالحرمت وو نو حد دي ورکړه سي، والدلائل للفريقين فی الشروح المبسوطه.

قال ﴿ومن وجد امرئة على فراشه فوطئها فعليه الحد﴾ او كه چا پر خپل ځای ښځه پيدا کړه نو يې وطي ورسره وکړې او هغه دده ماينه نه وه نو پر ده حد لازم دي، ولې وجود د ښځې دده په کور کې او دده په ځای کې خو شبهه د محل نه ده ولې ګاهې خور دده پر ځای بې

اختياره خوب ورسي او بيده سي او کېدای سي چي بېګانه مېلمنه دده پر ځای بيده سوې وي.

قال ﴿ومن اتى امرئة فى الموضع المكروه او عمل عمل قوم لوط فلا حد عليه عند ابى حنيفة رحمه الله وقالا رحمهما الله تعالى هو كالزناء فيحد﴾ که ورغلی ښځې ته که يې خپل ماينه وه که بېګانه ښځه وه يعنې وطي يې ورسره وکړې په مکروه ځای کي يعنې په دبره کي، چي دې ته لواطت صغری وايي او يا عمل وکړي عمل د قوم لوط يعنې نر د نر سره کار وکړي نو پر ده حد نسته په دواړو صورتو کي په نېز د امام اعظم رحمه الله، او ياران وايي چي دا لواطت صغری او کبری لکه زنا داسي دي نو حد دي ورکړه سي يعنې حد زنا نو که غير محصن وو په دُرو دې ووهي او که محصن وو په رجم دې کړه سي او د يارانو مذهب يو قول د امام شافعي رحمه الله هم دي.

ډوبښ وايي:- چي چونکي په فعل د لواطت د ماينې يا د بل نر سره په اوسنۍ زمانه کي ډېر مسلمانان په مبتلا دي نو بايد ښه تحقيق يې وکړه سي، لعل الله ينقطع به بعض الناس فيتوبوا عن الفعل المذكور.

واوره:- چي امام شافعي رحمه الله په خپل بل قول کي وايي چي که نر د نر سره لواطت وکړي دواړه دي قتل کړه سي، لقوله عليه الصلوة السلام اقتلوا الفاعل والمفعول" او ياران وايي چي لواطت په معنا کي د زنا دي ولي چي لواطت خو قضا د شهوت ده په محل شني کي چي دبره ده على سبيل الكمال ولي څومره چي محل د وطي تنګ وي هغومره فاعل ته

خوند ورکوي، او په دې کي خو هيڅ شك نسته چي دبره تر فرج ډېره تنګه ده او دا کار د فاعل محض حرام دي بالنص القرآنی، او نطفه ضائع کول دي په دبره کي.

امام اعظم رحمه الله وايي چي لواطت زنا نه ده ولي که زنا وای نو ولي صحابه کرامو رضي الله عنهم په موجب او حکم کي د لواطت کبری اختلاف کوي، حتی چي بعض صحابه وايي چي په اور دې وسوځي، او بعض وايي چي لاسونه او پښې دې وروتړي او دېوال دي پر راونړوي، او بعض وايي چي سر دې کښته کړي او د يو لوړ ځای څخه دې را ايله کړي او په ډبرو دې پسي وولي، وغير ذالك" او نه دي په معنا کي د زنا ولي چي په لواطت کي اشتباه د انسانانو نه راځي او نه اضاعت د ولد سته، او هغه چي امام شافعي رحمه الله يې روايت وکړی يا محمول پر سياست دي او يا محمول دي پر هغه چا چي دی دا کار يعنې لواطت روا بولي، مګر امام اعظم رحمه الله وايي چي ښه سخت تعزير دي ورکړه سي، هدايه مع الزياده، او په فتح القدير کي وايي چي په بندي خانه کي دې واچوي تر هغه وخته چي توبه کاږي او يا مري.

ډوبښ وايي:- که يو سړی عادت په لواطت وو امام دې قتل کړي که محصن وي او که غير محصن وي، كذا فى مجمع الانهر.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن وطاء بهيمة فلا حد عليه﴾ او که چا وطي کړه چار پايه لکه خره مثلاً چي تر لاس لاندي حيوان دي نو پر ده حد نسته ولي دا خو زنا نه ده نه حقيقةً او نه حكماً.

قال ﴿ومن زنى فى دار الحرب او فى دار البغى ثم خرج الينا لم يقم عليه الحد﴾ او كه چا زنا وكړه په دار حرب كي يا د باغيانو د تسلط په ځاى كي او بيا دغه زاني راووتي د دار حرب او يا د باغيانو د ځاى څخه نو په دار اسلام كي دي حد نه پر قائموي، ولي د حد زنا حكم د قضات المسلمين د خوا صادريږي په اول وخت كي د زنا، او په هغه وخت كي د قضاتو د اسلام حكم پر دار حرب او دار البغات باندي نه چلږي نو په هغه وخت كي حد ساقط سو والساقط لا يعود.

دروېش وايي:- غرض نقشيست كه ازما ياد ماند "

كه هستي رانمي بينم بقائي "
مگر صاحب دلي روز رحمت
كند درحق اين مسكين دعائي،
اللهم اغفرلى ذنوبى كلها

دوستان زما دي خوشحاله او اباد وي دشمنان خراب باد نه د چا سره حسد كړم او نه حاسد يم حاسدان ذليل باد چي په بدو سترګو ما دروېش ته ګوري دا بد خوا حقير باد زما شاګرد چي سي منكر د شاګردۍ يې دا شاګرد خراب باد.

د حضرت ايوبي د تفسير شريف شروع هم سوې
ده ستا سو محترمينو څخه هيله كېږي چي د تفسير د
پوره كېدە سره سره د حضرت ايوبي د صحت دعا ګو
ووسئ

﴿باب حد الشرب﴾

دا باب دي په بيان كي د حد شرب يعني حد د څښلو د شرابو.

پوه شه:- چي چونكه زنا ډېر قبيح فعل وو او عذاب دنيوي يې تر شرب الخمر بالاوو، او وقوع د زنا په شهوت نفساني ډېره وه تر شرب الخمر نو ځكه مصنف رحمه الله باب الزناء تر باب شرب الخمر د مخه كړه.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن شرب الخمر﴾ او كه چا وڅښل شراب كه څه هم يو څاڅكى وي يعني سكر پكښې شرط نه دي ولي چي حرمت د شرابو خو قطعي دي، او حرمت د نبيذ ظني دي نو ببله سكره حد نه دي پر لازم.

پوه شه:- چي صاحب هدايه وايي چي من د الفاظو څخه د عموم دي، نو زمي، ګونګى، كوچنى، او لېونى هم تر لاندي دي او سره ددې چي پر دغو كسانو خو حد نسته، نو اولى داوه چي داسي يې ويلي واى، ومسلم ناطق، مكلف شرب آه.

دروېش وايي:- چونكه مبني د متونو پر اختصار ده او دا شرطونه مشهور وه نو ځكه صاحب هدايه اولى وويل صواب يې نه ووايه.

قال ﴿فاخذ وريحها موجودة فشهد الشهود عليه بذالك او اقر وريحها موجودة فعليه الحد﴾ نو ونيول سو د خلګو د خوا څخه او بوي د شرابو يې د خولې څخه ولاړېدي يا د سكر په حال كي يې راوستي قاضي ته، نو شاهدانو شاهدي اداء كړه پر ده باندي په څښلو د شرابو، او يا شارب الخمر خپله اقرار وكړي د شرابو په څښلو او بوي د

شرابو يې هم تلي، نو پرده حد شرب لازم دي ولي جنايت د شرب پر ده ثابت سو يا په شاهدانو سره او يا په اقرار سره دده، او وخت هم ډېر نه دي تېر سوی ولي دخولې يې د شرابو نجس بوي ځي، لقوله عليه الصلوة والسلام من شرب الخمر فاجلدوه فان عاد فاجلدوه، كذا فى الهدايه.

قال ﴿ومن اقر بعد ذهاب رائيحها لم يوحد﴾ او كه چا اقرار وكړي په شرب الخمر سره پس له عدم وجود د بوي د شرابو نو دي نه په حد كېږي او په نبز د امام محمد رحمه الله دي حد ورکړه سي.

﴿ومن سكر من النبيذ حد﴾ او كه سړي ته مستي پېښه سوه د نبيذ د چښلو څخه په حد دي کړه سي، وقد مر ان السكر ليس بشرط فى الخمر بل شرب قطرة منها كشرب الدن بخلاف غيرها من الاشربة.

پوښتنه:- چي نبيذ ګاهي د وڅکو څخه جوړ وي په داسي ډول چي لږ يې ويشوي يعني د دوښا حد ته يې نه ورسوي چښل يې روا دي تر څو چي خوږ وي، او كه يې جوش ډېر ورکړي چي خټه سوي چي ودې ته دوښا وايي د شيخينو په نبز يې مادون السكر شرب روا دي، او په نبز د امام محمد او امام شافعي يې شرب نه دي روا، وعلى هذا القياس نبيذ التمر، عنايه، دليل د حد د سكر النبيذ هغه اثر دي چي عمر رضي الله عنه په حد كي هغه اعرابي چي د نبيذ په چښلو سره مست سوي وو.

قال ﴿ولا حد على من وجد منه رائحة الخمر او من تقيئاها﴾ او حد نسته پر هغه چا چي صرف يې د خولې د شرابو بوي ځي، او يا شراب قى كړي، ولي د بويه څخه د شرابو او د قي وهلو د

شرابو خو دا معلومېږي چي ده دي په خپل اختيار شراب نه وي چښلي وي ولي چي احتمال ددې سته چي بل چا دي په زوره په خوله كي ورتوي كړي وي، او دا امكان هم سته چي اوبه نه وي او دا سړی مجبور وو د ډېري تندي څخه نو ده شراب چښلي وي، فلا يحد مع الشك، جوهره، مع زياده.

قال المصنف رحمه الله ﴿ولا يحد السكران حتى يعلم انه سكر من النبيذ وشربه طوعا ولا يحد حتى يزول عنه السكر﴾ او نه په حد كېږي مست سړی تر هغو چي دا معلومېږي چي دده سكر د نبيذ څخه دي، او چښل د نبيذ يې په خپله خوښه سره كړي دي يعني چا په زوره نه دي په چښلي، او نه دي په حد كوي مطلق سكران تر هغو چي سكر دده زائل نه سي ولي مقصود د حد څخه خو اينده زجر دده دي د مسكر د چښلو، او سكران چونكي زائل العقل دي په دې نه پوهېږي چي ما پر څه شي وهي، او دليل د اولي مسئلې دادي چي سكر خو ګاهي د غير څخه د شرابو وي، وذالك لا يوجب الحد بلكه حد چي واجبېږي هلته چي دا معلومه سي چي دا سكر د نبيذ د چښلو له كبله دي، او پسله دې علمه دا معلومات هم ضروري دي چي نبيذ يې په خپله خوښه چښلي دي.

ډوبش وايي:- چي دا دوه معلوماته به د سكران څخه وروسته تر پرسد كېدو منځ ته راځي.

قال المصنف رحمه الله ﴿وحد الخمر والسكر فى الحر ثمانون سوطا يفرق على بدنه كما ذكرنا فى الزناء﴾ او حد د شرابو

يعني مطلقا كه لږ وي او كه ډير وي كما مر من انه لا يشترط فى الخمر السكر، او حد د سكر يعني د نبيذ څخه اتيا (۸۰) درې دي په اجماع د صحابه وو ﷺ كذا فى العنايه، او پر جلا جلا ځايو باندي د شارب دې ووهي لكه د مخه چې تېر سوه په زنا كي يعني ماسوا د مخ، سر او فرج څخه.

پوه سه:- چې مشهوره دا ده چې كالي دي ځندي وكاږي تا چې الم د ضرب يې بدن ته ورسېږي او د امام محمد رحمه الله عليه څخه روايت دي چې كالي دي نه ځندي كاږي ولي چې حد شرب الخمر سپك دي تر حد د زنا فلا يقاس عليه.

قال ﴿وان كان عبداً فحده اربعون﴾ اوكه شارب مريي وو نو حد يې څلوېښت (۴۰) درې دي چې په حديث كي راغلي دي د موطا مالك رحمه الله عليه چې عمر، عثمان، او عبد الله ﷺ خپل مريان يې د شرب الخمر په حد كي څلوېښت درې وهله.

﴿ومن اقر بشرب الخمر او السكر ثم رجع لم يحد﴾ او كه چا اقرار وكړي په څښلو د شرابو يا د سكر او روسته يې ېېرته رجوع وكړه چې مانه دي څښلي نو نه په حد كېږي.

پوه سه:- چې سكر په دې عبارت كي د سين او كاف په زور ويل كېږي چې هغه نبيذ التمر دي لنده وي اذا اشتد كذا فى العنايه، او سُكر په پېښ د سين مصدر دي كما فى العبارات السابقه.

قال ﴿ويثبت الشرب بشهادة شاهدين او باقراره مرة واحدة ولا تقبل فيه شهادة النساء مع الرجال﴾ او ثابتېږي شرب الحمر

وغيرها په شهادت د دوو شاهدانو، او داغه رنګه ثابتېږي په اقرار د شارب يو وار، اونه قبلېږي په شرب كي شاهدي د ښځو سره د نرو يعني چې يو نر او دوې ښځي وي ولي چې په هيڅ حد كي ښځو لره اعتبار نسته.

دروېش وايي:- چې د شرابو چښل په اوسنۍ زمانه كي دومره عام سوه چې بعض په ډېره حاجيان چې په مجلس كي د كافرانو او ددوي په مهمانۍ كي حاضر سي نو دوي هم متابعةً للكفار شراب نوشي ورسره كوي، او وروسته تر شرابو چې ښځي رقص ورته كوي دغه حاجيان يې هم سيل كوي.

وشهد ذالك من بعض سراة الافغان المتحدين مع الامريكين فى مطار القندهار حين تسلطهم على بلاد افغانستان.

قال الشيخ الاجل المعروف بالقدوري رحمه الله عليه

﴿باب حد القذف﴾

دا باب دي په بيان كي د حد د قذف.

پوه سه:- چې قذف په لغت كي ويشتلو ته وايي او په شرحه شريفه كي نسبت كول دي د پاك انسان يعني د زنا څخه كه نر وي او كه ښځه وزنا ته يا صراحة يا دلالة.

دروېش وايي:- چې په اوسنۍ زمانه كي د قذف كول په مسلمانانو كي ډېخي شائع دي لكن دا اجراء د حد قذف په ټوله اسلامي نړۍ زما په نېز ډېخي وجود نه لري، مثلاً په پښتو كي يو سړي وښځي ته ووايي كوسي معنا يې داده چې ته كوس وركوي پردېو خلګو

ته، او يا يو سړی وښځي ته وايي مرداري معنا داده چي زنا کاري او يا
ښځي ته د ښکنځلو په وخت کي وايي چي ته ګرده ورځ په بازار کي
کوس ورکوې، او يا يو سړی وبل سړي ته وايي د کوسي زو يعني د زنا
کاري زو يا وايي د مرداري زو وامثال ذالك من الالفاظ القبيحة، نو
قذف په خپل ځان کي ګناه کبيره ده او خپل حد لري کما سيئاتی لكن
هيڅ څوك په نېز د قاضي طلب د حد قذف نه کوي، بالكه غاية الامر په
مثل د الفاظو د قاذف جواب ورکوي، والی الله المشتكی.

فائده:- مصنف رحمه الله حد قذف تر حد شرب وروسته کړي دي ددې
سببه چي جرم د شرب الخمر متيقنه دِي يا په شاهدانو سره او يا په
اقرار د شارب او جرم د قذف يقيني نه دي ولي دا خو يو اخبار دي مثلا
تا زنا کړې ده احتمال د صدق او کذب دواړو لري نو په صورت د صدق
خو قذف نه دي البته په صورت د کذب قذف دي او حد يې حكم دي،
ولهذا حد قذف سپك دي تر حد شرب الخمر لكن افسوس دادي چي
مسلمانان ولي دغه الفاظ وايي چي ګناه کبيره يا حد پر جاري يا نه،
هذا بعضه ماخوذ من العنايه وبعضه من تبصرة الفقير.

قال المصنف رحمه الله ﴿واذا قذف الرجل رجلا محصنا او امرئة
محصنة بصريح الزناء وطالب المقذوف بالحد حده الحاكم
ثمانين سوطاء ان كان حراً﴾ او كه ويشتل وکړه يو سړي يعني
نسبت وکړی بل سړي ته چي هغه د زنا څخه پاك وو، او يا وښځي ته
چي هغه پاکه وه په صريح زنا سره يعني يا په مرادف د زنا په بله ژبه،
او طلب وکړی مقذوف د حد د قاذف يعني پس له دې څخه چي قاذف

د اثبات څخه د زنا عاجزه سو په نېز د حاكم نو حاكم دي قاذف ته اتيا (
۸۰) درې حد ورکړي، لقوله تعالى والذين يرمون المحصنات، وقال
جل فی آخير هذه الآية فاجلدوهم ثمانين جلدة الآية" والمراد بالرمی
المذكور نسبة الزنا بالاجماع، او په آيت شريف کي هم اشاره چي مراد
زنا د حيث جل سلطانه "ثم لم ياتوا باربعة شهداء اذ هذا العدد
مشروط فی الزنا كما مر" او د مقذوف مطالبه شرط د حد ده ولي دا
حق دده دی چي پېغور د زنا د ځانه دفع کړي هدايه مع الزياده، لكن
اتيا درې حد د حر دي.

قال ﴿يفرق على اعضائه ولا يجرد من ثيابه غير انه ينزع
الفرد والحشو﴾ او دا دُرې به پر اعضاؤ ورکوي كما مر فی الزنا او
مضروب دي نه لځوي د جامې څخه لكن کې پوستين او يا د پنبه وو
ډکه چپنه اغوستېوه هغه دي ځندي وکاږي ولي د هغه الم وبدن ته د
قاذف نه رسېږي نو مقصود د حد چي انزجاء دي نه حاصلېږي لكن
چونکه حد قذف اخف وو نوځکه دي کالي نه ځندي کاږي لكه په حد
زنا کي چې ځندي کښل.

قال ﴿وان كان عبداً جلده اربعين سوطاً﴾ او كه قاذف مريي وو
نو خلوېښت (۴۰) درې ضرب دي ورکړي، ولي چي عقوبت د مريي پر
نيمايي د عقوبت د حر دي اتفاقا.

پوښتنه:- آيت كريمه د قرآن فاجلدوهم ثمانين جلدة خو عام دي
حر او مريي دواړو ته شامل دي، نو د څه دليله عقوبت او حد د مريانو
څلوېښت درې دي؟

ځواب:- دا آيت كريمه ددې برخي څخه معلومېږي، ولا تقبلوا لهم شهادة ابداً" ددې سببه چي عدم قبول د شهادت د قاذف خو په احرار پوري خاص دي د مريي كه قاذف وي او كه نه شاهدي يې نه قبلېږي، حاصل ما فی الجوهره.

قال ﴿والاحصان ان يكون المقذوف حراً بالغاً عاقلاً مسلماً عفيفاً عن فعل الزنا﴾ او احصان د قذف دادي چي مقذوف به حر وي، بالغ به وي، عاقل به وي، مسلمان به وي، او پاك د فعل څخه د زنا به وي.

پوه شه:- چي عفيف و هغه چا ته وايي چي نه يې د بښځي سره وطي په زنا سره كړي وي او نه يې په شبهه سره او نه يې په نكاح فاسده سره كړي وي په تولـه ژوند كي دده يو وارهم، او كه يې يو وار دا وطي مذكوره كړي وې هغه محصن نه دي او قاذف يې نه په حد كېږي لانه صادق فی النسبة المذكورة، وامام اشتراط الاسلام فلقوله عليه الصلوة والسلام من اشرك بالله فليس بمحصن، واما البلوغ والعقل" چي شرط دي ولي كوچني او لېوني ته پېغور نسته،ولي چي فعل ددوي زنا نه بلل كېږي په شرع شريفه كي، واما اشتراط الحريت فلقوله تعالى فعليهن نصف ما على المحصنات من العذاب" يعنې پر مينځيانو نيمى هغه عذاب دي چي پر محصناتو سته نو د محصناتو څخه حتماً حرائر مراد دي لمجيئها بمقابلة الاما، حاصل ما فی الهدايه مع زيادت الدروېش.

قال ﴿ومن نفى نسب غيره فقال لست لابيك او يا ابن الزانية وامه محضة ميتة فطالب الابن بحدها حد القاذف﴾ او

كه چا نفي كړي نسب د بل چا او داسي يې ورته وويل ته نه يې د پلار زوي او يا يې داسي ورته وويل اې د زنا كاري مور زو، او مور د هغه محصنه وه يعني يه هغه معنا چي د مخه تېره سوه او مور د هغه سړي مړه وه، نو زوي يې طلب د حد قذف د مور وكړي نو قاذف دي په حد كړه سي، اما فی القول الاول نسب خو د پلار څخه هغه هلته نفي كېږي چي مور يې زانيه وي نو ګويا ده داسي ورته وويل چي ستا مور زنا كړې ده، واما القول الثانی، هغه خو صريح دي په نسبت كي د زنا ومور ته دده نو چونكه مور يې مړه ده چي حد قذف حق ذ هغې وو نو زوي يې طلب د حد كولای سي، دفعاً للعار بسبب زنا الام.

قال ﴿ولا يطالب بحد القذف للميت الا من يقع القدح فی نسبه بقذفه﴾ او طلب د قذف د مړي د پاره نسي كولای مګر هغه څوك چي قدح يعني پېغور پيدا كېږي په نسب كي دده په سبب د قذف د مړي كما فی الصورتين المذكورتين ولي پېغور د مور متوجه و زوي ته هم دي په سبب د جزئيت كذا فی الهدايه.

قال المصنف رحمه الله ﴿واذا كان المقذوف محصناً جاز لابنه الكافر والعبد ان يطالب بالحد﴾ او كه وو مقذوف محصن روا ده زوي لره دده چي كافر دي، او مريي لره چي طلب د حد قذف د قاذف څخه وكي، دليل يې دادي چي دغه قذف پېغور دي كافر زوي لره او مريي لره هم، كذا فی الهدايه، وفی هذه المسئلة خلاف لزفر رحمه الله.

قال ﴿وليس للعبد ان يطالب مولاه بقذف امه الحرة﴾ او نسته مريي لره چي طلب دي وكړي د حد د خپل بادار څخه په قذف كي دده

د مور چي حره وي، ولي چي مريي د خپل ځان د حد قذف طلب د بادار څخه نسي کولای فضلا عن قذف امه.

قال ﴿وان اقر بالقذف ثم رجع لم يقبل رجوعه﴾ او که چېرې يو سړي اقرار وکړي په قذف او بيا يې رجوع وکړه چې ما قذف نه دي کړي، رجوع يې نه قبلېږي ولي په دې اقرار سره حق د بل انسان چې مقذوف دي مربوط سو.

﴿ومن قال لعربی يا نبطی لم يحد﴾ او که وويل چا وعرب سړي ته چې اې نبطي نه په حد کېږي.

پوه شه:- چې نبط يو قوم دي په اطرافو کي د عراق چې د عربو په عقيده يو رزيل قوم دي، وجه عدم الحد" ولي چې مقصود ددغه سړي امکان لري چې دا وي چې ته په بدو اخلاقو کي او يا په عدم الفصاحت کي نبطي يې نه داچې ستا مور د نبطي سره زنا کړې ده، والحدود يندرئ بالشبهات، واذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال، هدايه مع زياده.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن قال لرجل يا ابن ماء السماء فليس بقاذف﴾ او که يو چا بل سړي ته وويل او زويه د اوبو د آسمان نو دی قاذف نه دي.

پوه شه:- چې ابن ماء السماء لقب دي د عامر بن حارثه ازدي، او سبب ددې لقب دادي چې ده به په ورځو کي د کاختی خپل مال پر خلکو داسي اوروي لکه باران، نو ممکنه ده چې ددې سړي دي دا مراد وي چې ته په سخا کي داسي يې لکه ابن ماء السماء، او داغه رنګه د منذر بن امرء القيس د مور لقب هم بنت ماء السماء وو په سبب د ډېر

ښائست او صفاء اللون نو دا هم ممکنه ده چې د هغه مراد دي دا وي چې ته په سبب د ښائست ابن ماء السماء يې فليس بقذف ايضاً.

قال ﴿واذا نسبه الی عمه او الی خاله او الی زوج امه فليس بقاذف﴾ او که چا نسبت د سړي وکړي و اکا ته دده، يعنې ورته وويل اې د زيد زوو مثلاً او زيد دده اکا وو، او يا يې و ماما ته دده مثلاً زيد دده ماما وو، او يا ومېړه ته د مور دده مثلاً زيد دده د مور مېړه وو يعنې پلندر، نو دا سړي قاذف نه دي ولي چې اکا او ماما او پلندر ټولو ته مجازاً پلار ويل کېږي نو ددغه سړي دي هم معنا مجازي مراد وي.

قال ﴿ومن وطئ وطئا حراما فی غير ملكه لم يحد قاذفه﴾ او که چا وطي وکړې داسي وطي چې حرامي وې په غير کي د ملك يعنې مينځه يې نه وه نه په حد کېږي قاذف يې ولي چې پاك والی د زنا څخه چې عفت يې بولي په ده کي نسته، او بل قاذف په نسبت کي د زنا وده ته صادق دي ولي چې زنا وطي حرامو ته وايي كذا فی الهدايه ومزيد التفصيل فيها وفی شروحها.

قال ﴿والملاعنة بولد لا يحد قاذفها﴾ او هغه ښځه چې د مېړه سره يې لعان کړی وي په سبب د ولد، يعني مېړه نفي د ولد ددې د ځان څخه کړې وي نه په حد کېږي قاذف ددې يعنې چې نسبت د زنا ودې ته وکړي، ولي چې ولد ددې خو ثابت النسب د چا څخه نه دي.

مسئله:- که پلار د کوچني يعنې مېړه د ښځي دعوه د ولد وکړه وروسته تر قذف د قاذف ودې ته، بيا هم حد پر قاذف نسته، او قاذف وروسته تر دعوی الاب قذف وښځي ته وکړي بيا په حد کېږي قاذف يې

فائدة قد مر اللعان فی بحث الزنا فراجعه لتعرف الفرق بين الصورتين
كذا فی الجوهره مع زياده.

دروښ وايي:- چي مسائل د حد قذف په بحث پوري ډېر تعلق
لري بايد هغه مباحث د متعلم په دماغ کي وي.

قال ﴿وان كانت الملاعنة بغير ولد حد قاذفها﴾ او که ښځي
مېړه سره لعان کړي وو بيله ولده، يعنې له نفي د ولد داغسي مېړ
ورته ويلي وه چي تا زنا کړې ده، نو بيا دي قاذف ددې په حد کړه سي
ولي دې خو د مېړه د قذف څخه ځان په لعان خلاص کي نو دا غلط
ثابته سوه، نو د بل سړي نسبت ودې ته د زنا موجب د حد قذف دي.

قال ﴿ومن قذف امة او عبدا بالزنا او قذف كافرا بالزنا
قذف مسلما بغير الزنا فقال يا فاسق او يا كافر او يا خبيث
عزر﴾ او که چا قذف کړي ومينځي ته يا مريي ته او يا کافر ته په زنا
سره او يا مسلمان ته بېله قذف د زنا بل ښکنځل وکړه نو دا سي ورته
وويل اې فاسقه، يا اې کافره او يا اې خبيثه نو تعزير دي ورکړي يعني
حد دي نه ورکوي، ولي چي مريي يا مينځه يا کافر خو محصن نه دي
کما مر فی باب الزنا، او هر چي مسلمان ته هغه مذکوره الفاظ په قذف
کي استعمال سوه هغه خو الفاظ موجبه د حد قذف نه دي ولي چي د
قذف يوازي د زنا په نسبت سره خاص دي، لکن چونکه دا ټوله الفاظ
په عبد، امه او کافر کي او يا هغه نور الفاظ ومسلمان ته سبب د عيب
او دده آزار دي، نو ځکه دي تعزير قاضي ورکړي، لکن په جوهره کي
چي تعزير دي د پای درجې ته (۳۹) او يا (۷۵) دُرې علی اختلاف

المذهبين كما سيئاتی خوا مخوا رسول لازم نه دي بلکه دا تعزير
موکول دي ورايه ته د قاضي.

قال ﴿وان قال يا حمار او يا خنزيرلم يعذر﴾ او که يو چا و يو
سړي ته وويل چي اې حره او يا اې سرکوزې قاضي دي تعزير نه ورکوي
ولي چي قاذف په دغو الفاظو کي يقينا کاذب دي، او په مقذوف پوري
عيب هم نه ملحقه کېږي نو عقوبت د تعزير شرعي پر قاذف هم نسته،
البته چونکه په دغو الفاظو کي ازار د مقذوف دي پکښې دي نو دې يا
مقذوف عفوه ورکړي، او يا دي په دې نص عمل وکړي، وجزاء سيئة
سيئة بمثلها" لکن عفوه افضل کار دي، لئلا يزداد الفتنة بينهما،
دروښ جوهره.

قال ﴿والتعزير اكثره تسعة وثلثون سوطا واقله ثلث جلدات
وقال ابو يوسف يبلغ بالتعزير خمسة وسبعين سوطا وان راى
الامام ان يضم الى الضرب فی التعزير الحبس فعل﴾ او د
تعزير اکثره نهه دېرش (۳۹) درې دي، او کمه مرتبه يې درې (۳) دُرې
دي او امام ابو يوسف رحمه الله وايي چي تعزير دي ورسوي پنځه اويا (۷۵).
درې ته او که چېرې د امام رايه وه چي جوت کړي وه ضرب ته په تعزير
کي بندي کول دسړي ودې کړي ولي چي تعزير پر رايه د امام موقوف
دي او مقصود ځندي زجر دي، نو شايد د امام رايه به په بعضو
اشخاصو کي دا وي چي يوازي ضرب به کفايت په زجر کي ونه کړي
بلکه چي حبس ورضم سي نو به موثر واقع سي نو ځکه اجازه د حبس
ورته سته.

پوه شه:- چې په کم تر درې زجر نه راځي.

فائده:- اول مذهب دي د طرفينو دوي وايي چې تعزير دي څلوېښت ته نه رسوي ولې تعزير په اجماع سره کمتر حد دي، او حد قذف د مريي څلوېښت درې دي نو تعزير دي يوه دره تر هغه کم کړي چې (۳۹) نهه دېرش پاته سي، او امام ابو يوسف رحمه الله حد قذف د احرار اعتبار ورکوي ولې چې مصنف رحمه الله ويلي دي.

قال ﴿واشد الضرب التعزير﴾ او سخت د وهلو ضرب تعزير دي ولې چې دا ضرب خفيف من حيث العدد دي نومن حيث الوصف دې نه سپکوي ولې تاچې مقصود د تعزير چې زجر دي فوت نسي، او په شدت کې اختلاف دي بعض فقهاء وايي چې شدت يې دادي چې پر يوه ځای دې وهي ، تفرق على الاعضاء دي نه کوي، بعض فقهاء وايي چې خودي يوازي ضرب دې سخت وي، وهو المختار لصاحب الهدايه.

قال ﴿ثم حد الزنا ثم حد الشرب ثم حد القذف﴾ او تر تعزير وروسته حد زنا سخت دي او تر هغه وروسته حد الشرب الخمر دي ولې سبب دده متيقن دي، او وروسته حد قذف دي ولې چې سبب يې تهمت او نسبت د زنا دي محتمل د صدق او کذب دي کما مر.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن حده الامام او عزره فمات فدمه هدر﴾ او که چا ته امام حد او يا تعزير ورکړي د هغه په سبب محدود مړ سي وينه يې لغوه ده يعني ديت يا بل غرامت پر امام نسته ولې امام خو په امر د شرعي شريفي دا کار وکړي، شرعي کارونه مشروط په سلامتيا نه دي اجماعاً.

قال ﴿واذا حد المسلم سقطت شهادته وان تاب وان حد الكافر فى القذف ثم اسلم قبلت شهادته﴾ او که مسلمان ته حد قذف ورکړه سو يعني په وخت کې د اسلام نو جزاء شاهدي دده ساقطه ده په هره موضوع کې چې وي، لقوله تعالى ولاتقبلوا لهم شهادة ابدا" او بل دا چې قاذف په ژبه سره چې پر مقذوف يې درواغ وويل د هغه د اثر په سبب په حد سو نو خداى جل جلاله دده د ژبې مېوه چې قبول د شاهدي دی ځندي سلب کړه، که څه هم توبه وکاږي د آينده قذف څخه، حاصل دا چې عدم قبول د شهادت د قاذف جزاء او متمم د حد ده زمور په نېز او امام شافعي رحمه الله وايي چې قاذف توبه وکاږي بيا يې شاهدي قبلېږي لقوله تعالى الا الذين تابوا" مور وايو چې دا استثناء راجع ده وقريب ته يعني قوله تعالى واولئك هم الفاسقون" نو په توبه سره يې فسق ولاړي، والحاصل چې خداى جل جلاله د قاذف د پاره په دې آيت کې دوې جزاوي ذکر کړي دي اول ولاتقبلوا لهم شهادة ابدا" نو چونکه دا جزاء مؤکده په تابيد ده نو دا جزاء د قاذف څخه نه زائلېږي په توبه سره، او بله جزاء واولئك هم الفاسقون" دا جزاء چونکه په وروسته کې دا آيت لري الا الذين تابوا" نو دا جزاء د فسق په توبه سره زائلېږي فافهم، او کافر ته چې په حال کې د کفر حد قذف ورکړه سي او بيا مسلمان سي د هغه شاهدي قبلېږي ولې چې دا نوى عدالت پسله حد قذف څخه پيدا سو، والله اعلم.

﴿كتاب السرقة وقطاع الطريق﴾

دا كتاب دي په بيان كي د غلا د احكامو او د احكامو
د لار وهنكو غلو

وړوښ وايي:- چي د سارق او قاطع الطريق بيان خو به په كتاب كي راسي انشاء الله تعالى، اوس دا واوره چي په پخوا زمانه كي غله دغه دوه قسمه وه، لكن په اوسنۍ زمانه كي يو بل قسم غله پيدا سوي دي چي د حكومت پر چوكي ناست وي او غلا كوي او دومره بې شرمه غله دي چي د خلكو په مخ كي د حاجت مندانو سره د رشوت د مقدار چنې وهي نه د حداى ﷻ څخه ببرېږي او نه د خلكو څخه شرمېږي، دا قسم غله د قومندان څخه نيولې قاضيان هم پكښې داخل دي، او لوى قدرت والا بيا د بيت المال څخه غلا كوي، او په پرديو بانكو كي هغه مبلغ سره جمعه كوي ولي چي ددوي په خيال دا چوكۍ ددوي د پاره موقتي دي د وطن او د رعايتو غم ددوي سره نسته، د مثال په توګه افغانستان چي د ډېرې مدې راپه دې خوا مستقل دولت دي لكن تر اوسه نه يو كار خانه په ټوله افغانستان كي سته، او نه يو سړك چي سر تر پايه دي پوخ او ډامبر وي پكښې سته، او دا قدرت والا په پاكستان حتى چي په لندن او امريكا او نورو دولتو كي ښې ښې كوټې سته او په بانكو كي يې په لكو بلكه په كروړو مبلغ جمع كړى لري، او په ټوله نړۍ كي افغانسان تر دا اوسه يو پس مانده حكومت او دولت دي، عجيبه خو لا داده كه خارجي دولت او يا خيريه مؤسسه كه څه هم كافران وي د افغانسان سره مرسته او كهمك وكړي يا د سړكانو د

جوړولو د پاره او يا د ښونځيو د ودانولو د پاره او د كنډيانو او يتيمانو د ښونې روزنې د پاره الى غير ذالك ظالمه طبقه د حكمرانانو د افغانستان هغه وخپلو جيبو ته واچوي،

صاحب كشاف علامه زمخشري وايي.

قضات زماننا صاروا لصوصا
عموما فى القضايا لاخصوصا

فخافوا منه والوصا فحوتا
للصوامن خواتمنا خصوصا

پوه شه:- چي صاحب جوهره وايي چي څه وخت چي مصنف رحمه الله فارغه سو د هغه عقوباتو څخه چي متعلق په ساتنه پوري د نفسو په تعلق وو، اوس بيا هغه عقوبات بيانوي چي په ساتنه سره د اموالو مربوط دي و لكن چونكه نفس اصل وو او مال تبع وو نو ځكه دغه كتاب تر هغه نورو عقوباتو وروسته كړى.

فائده:- سرقه په لغت كي اخيستل د شي دي په پټه سره بېله اجازې د صاحب، كه مال او كه غير مال وي، او په شرعه شريفه كي اخذ د مال دي چي نصاب ته رسېږي چي هغه مال هم محفوظ وي، يعنې په لاره كي روپۍ پرتې وې چا واخيستلې هغه سرقه نه بولي، او دا سي مال هم نه وي چي ژر خرابېږي ببله تاويله لكه چي پلار د زوي مال په پټه واخلي په تاويل د انت ومالك لى ابيك، كذا فى العنايه مع زياده" اوهر چي قطع الطريق دي هغه داده چي يو څو وسله وال كسان يو دښت يا غر ونسي په لويه لار كي يعني په داسي ځاى كي ناست وي چي هلته د چا مدد وفرياد كونكي ته نه رسېږي، او په اعلانيه د خلكو

مالونه لوټوي، او که د مسافرو څخه څوک زور ورسره کوي هغه وژني هم، نو دا قطاع الطريق څو قسمه دي بعض پر خلګواو مسافرو ګولې وچلوي لکن مسافر د خپلي په لاس درلودلي وسلې ځندي تېر سي او نه څوک پکښي مړ سي او نه يې مال لوټ سي، او بعض وخت دا غله پر خلګو ګولې وچلوي بعض مسافر شهيدان کړي لکن د مال په وړولو کي کاميابه نسي، او بعض وخت دغه غله مال د مسافرو لوټ کړي لکن څوک د مسافرو څخه مړه نه کړي، اوبعض وخت دغه قطاع الطريق هم بعض مسافران شهيدان کړي او هم يې مالونه لوټ کړي، چي انشاء الله ددغو احکام به په کتاب کي راسي.

قال المصنف رحمه الله ﴿اذا سرق البالغ العاقل﴾ يعني چي غلا وکړي په يوه پلا بالغ عاقل، دا قيد ددې دپاره دي چي قطع اليد خو جزاء د جنايت ده او جنايت په کوچني او لېونې کي نسته، لان العقاب مرفوع عنهما.

﴿عشرة دراهم او ما قيمته عشرة دراهم مضروبة كانت او غير مضروبة﴾ يعني غلا کي لس درهمه او يا بل شي چي قيمت يې لس درهمه وي که سکه پر باندي وي او که نه وي.

پوه شه:- چي دا تقدير زمونږ مذهب دي، او امام شافعي رحمه الله يې تقدير په څلورمه د دينار کوي نو هرڅو درهمه چي کېده، او امام مالك رحمه الله يې تقدير په درې درهمه سره کوي، اصل ددې اختلاف دادي چي په احاديثو مبارکه وو کي راځي چي قطع اليد د سارق په زمانه کي د عليه الصلوة والسلام په هغه کي کېده چي قيمت به يې د سپر د قيمت

سره برابر وو، او هغه کم قيمت د سپر درې درهمه وو، او عمل په اقل سره اولى دي لانه المتيقن او دا مذهب د امام مالك رحمه الله دي او امام شافعي رحمه الله وايي چي دينار په زمانه کي د عليه الصلوة والسلام دولس (۱۲) درهمه وو او درې خو د (۱۲) ربعه ده، مونږ وايو چي عمل په اکثر سره په باب کي د حدود افضل دي تاچي حتى الممكن دفعه د حد وسي ولي چي په اقل کي خو کم از کم شبهه د عدم جنايت سته كما لايخفى والحدود تندرء بالشبهات او اعلى قيمت د سپر په عصر نبوي ﷺ کي لس درهمه وو، حاصل مافى الهدايه مع الزياده.

مسئله:- اعتبار قيمت لره د غلا کړي شي د وخته څخه د غلا بيا تر وخته تر قطع اليد نو که په دغه منځ کي قيمت د مسروق مال کم سو لاس دې نه پرې کوي په نبز د شيخينو، او امام محمد رحمه الله وايي چي اعتبار قيمت لره د شي دي په وخت کي د غلا په منځ کي کم والى د قيمت مانع د قطع اليد نه دي.

فائده:- مصنف رحمه الله دراهم عام کړه که مضروبه وي او که غير مضروبه، دا روايت دي د حسن بن زياد رحمه الله د امام اعظم رحمه الله څخه چي قياسه وي يې پر نصاب د زکوات چي مضروبه او غير مضروبه پکښي برابر دي، لکن ظاهر روايت د امام رحمه الله څخه دادي چي اعتبار مضروبه وو لره دي، وبه قال ابو يو سف ومحمد وهو الاصح جوهره.

تفريع:- که يو سړي لس درهمه مقدار غير مضروبه غلا کړه چي قيمت يې تر لس دراهمو مضروبه وو کم وو لاس د غله نه پرې کېږي ويؤيد مذهبها ان الدارهم يطلق فى العرف وقت البيع والشراء على الدراهم المضروبه.

قال ﴿من حرز لاشبهة فيه وجب عليه القطع والعبد والحر فيه سواء﴾ او دا غلا هم د يوه ساتلي مال وه.

پوه شه:- چي حرز مصدر دي په معنا د منع دلته مراد ځندي هغه محفوظ ځای دي يعني چي د چا لاس ومال ته په اساني نه رسېږي مجمع الانهر.

فائده:- حرز په معنای مذکوره سره دوقسمه دي، يو دادي چي هغه ځای د حفظ الاموال د پاره جوړوي نو که سرای وي او که دوکان وي او که خيمه وي او که صندوق وي وقد مر فايدة هذا القيد، او يا ځای د حرز صاحب المال وي لکه د سړي په جيب کي چي روپۍ وي او يا يې تر سر لاندي وي، په حديث شريف کي راغلي دي چي د صفوان ﷺ پټو چي تر سر يې لاندي کړي وو چا ځندي غلا کړي عليه الصلوة والسلام يې لاس ځندي پرې کړي، نو که صاحب المال بېده وي لکه صفوان ﷺ او که وېښ وي لکه کسه بر چي د چا د جيب څخه روپۍ وکاږي، او د شبهې د قيد فائده د مخه تېره سوه فتذکر، دليل د قطع اليد دا آيت مبارك دي، السارق والسارقة فاقطعوا ايديهما جزاء بما كسبا نكالا من الله.

فائده:- لس درهمه اوه مثقاله وزن لري، دغه لس درهمه که د يوه سړي وي او که د ډېرو لکن په يوه ځای کي پراته وي.

فائده:- په جزاء او عقبت کي د غلا حر او عبد سره برابر دي ولي په آيت مذکوره کي السارق والسارقة مطلق راغلي دي، او بل داچي قطع اليد خو نيمی کېده نه قبلوي لکه حد زنا وغيره تاچي پر مريي باندي نيم عقوبت وای.

قال ﴿ويجب القطع باقراره مرة واحدة﴾ او قطع د لاس د سارق ثابتېږي په اقرار سره دده يو وار.

پوه شه:- چي په اقرار کي دده په رضا دده اقرار کول مشروط دي اوکه يې په زوره او په وهلو اقرار په وکړي لکه په عصر حاضر کي چې حکومت و متهم ته د غلا وهل ټکول ورکوي چي مجبورا هغه اقرار وکړي دا اقرار وکړي دا اقرار باطل دي يعني قطع اليد نه په لازمېږي، مجمع الانهر زياده.

پوه شه:- چي دا قول د امام اعظم او امام محمد دي رحمهما الله تعالى دي او امام ابو يوسف رحمه الله په اول کي اقرار دوه واره مشروط باله لکن وروسته يې رجوع وقول ته د طرفينو وکړه، دليل د يو وار اقرار د کفايت دادي چي اموال ټوله په يوه اقرار سره ثابتېږي، او بل دا چي اشتراط د تعدد الاقرار په حدود کي يوازي خاصه د زنا ده بالنص كما مر في باب الزنا.

قال ﴿او بشهادة شاهدين﴾ او يا قطع اليد ثابتېږي په شهادت د دوو شاهدانو لکه په حقوق ماليه يو کي چي د دوو کسانو شاهدي کافي ده، هدايه.

قال ﴿واذا اشترك جماعة في سرقة فاصاب كل واحد منهم عشرة دراهم قطع وان اصاب اقل من ذالك لم يقطع﴾ او که شريکان سوه يوه ډله د غلو په يوه غلا کي نو روپۍ چې سره وويشلي هر يوه ته ددوي لس درهمه ورسېده يعني يا بالاتر لس درهمه نو لاسونه دي د ټولو ورپرې سي، ولي چي هر يو ددوي سارق مستقل دي د

نصاب د قطع الید، او که یې چېرې تقسیم وکړي وهریوه ته کم تر لس درهمه ورسېږه د یوه لاس به هم نه قطع کېږي ولي چې نصاب د قطع الید په یوه کې هم نسته، او امام مالك رحمه الله وایي که د ټوله غلا کړي مال مجموع ونصاب ته د سرقې چې لس درهمه دي رسېږه د ټولو لاسونه به پرې کېږي، زمونږ دلیل هغه دي چې تېر سو یعني هر یو دوي سارق مستقل دي او نصاب د یوه تر نصاب د قطع الید کم دي، دی رحمه الله یې قیاسه وي دا مسئله پر هغه مسئله د قصاص یعني چې یو جماعت په هیئت اجتماعي یو سړی مړ کړي ټوله پر قصاصېږي.

والجواب عنه:- چې قصاص خو په ختلو سره د روح د وژل سوي سړي مربوط دي هغه روح خو په یوه پلا خېژي نو هر یولکه فاعل د وژلو دي، کذا ما فی الهامش القدوری، مع زیادة من هذا العاصی.

قال المصنف رحمه الله ﴿ولا یقطع فی مایوجد تافها فی دار الاسلام، کالخشب والحشیش والقصب والسمك والصید﴾ او لاس نه پرې کېږي په هغه شي سره چې څوك یې غلا کړي چې هغه شی خوار او بې اعتباره وي په نېز د خلګو او مباح وي په دار اسلام کې، قید به لان الموال الکفار کلها مباحة فی دار الحرب، بنایه، مثلا لکه وچ بوټي او یا وابنه، او یا نل، او یا ماهي، او یا ښکار کړي شی، په حدیث کې چې روایت یې عائشه رضي الله عنها کړي دي داسي راغلي دي چې لاسونه د خلګو نه پرې کېده په زمانه کې د رسول الله ﷺ په تافه یعني حقیر شي کې، ولي چې دا شی چونکه مرغوب فیه د خلګو نه دي نو په اخیستو کې د ورته شي حاجت وزاجر ته نسته، ځکه په مادون النصاب کې زاجر د قطع الید نسته، او بل دا چې ددې شیانو حرز ناقص دي

ځکه بعض وخت دغه شیان په لویو لارو کې پراته وي او د خلګو په دروازو کې منډل کېږي کما یدل علی التجارب، او داغه رنګه ماهي چې چا نیولی وي او بل یو یې ځندي یو سي، او یا ښکار چې چا کړی وي او بل یې ځندي یوسي ولي چې ددې شیانو مضائقه عموما څوك نه کوي او بل حرز یې هم ناقص دی، فی الجملة فیورث الشبهة فلا یناسب عقوبة السرقة.

فائده:- مراد د لرګي څخه ماسوا د لرګي د ابنوس او سباح دي ولي چې دا دوه ډېر قیمتي لرګي دي کما لا یخفی.

فائده:- که لرګي نجار تراش کړي وه او یا په مثل د چار تراش د لرګو وو لکه چې د افغانسان څخه پاکستان ته هر وخت راوړه کېږي په هغو کې قطع الید سته، اما الاول په دې سبب چې صنعت د نجار ده ته قیمت پیدا کړي، واما الثانی فلوجود الصنعة فیه وکثرة القیمة.

قال المصنف رحمه الله ﴿ولا فیما یسرع الیه الفساد کالفواکه الرطبة واللبن واللحم والبطیخ والفاکهة علی الشجر والزرع الذی لم یحصد﴾ او داغه رنګه قطع نسته د هغو شیانو په غلا کې چې هغه ژر فاسدېږي یعني د فائدې څخه زر وزي او دوام نه لري لکه لندې مېوې، لکه مالټې نارنج زردګي وغیره، او یا لکه شیدې او غوښې او ختې کی او هنداوانې، او یا هغه فاکهه چې پر درخته وي لکه انار، الو بخارا، شفتالو، شلیل وغیره چې په درختي پوري وي، او یا کښت چې لږ سوی نه وي لکه زمونږ د پښتنو په اصطلاح خلګ د لندو غنمو وړې شکوي او پر اور یې نیني کوي.

فائده:- دا مذكور فى المتن مذهب دى د امام اعظم رحمة الله عليه او د امام محمد رحمة الله عليه، او په نيز د امام ابو يوسف رحمة الله عليه او امام شافعي رحمة الله عليه وايي چي په دې شيانو كي قطع اليد سته چي قيمت ددغو شيانو و نصاب ته د سرقې ورسيږي يعني لس درهمه، والدلائل المذهبين فى الشروح.

قال ﴿ولا قطع فى الاشربة المطربة ولا فى الطنبور ولا فى سرقة المصحف وان كان عليه حلية ولا فى الصليب من الذهب والفضة ولا الشطرنج والا النرد﴾ او قطع اليد نسته د هغو مشروباتو په غلا كي چي سكر راوستونكي وي، او داغه رنگه قطع نسته په غلا كولو كي د تنبور وهكذا رباب سارنگي، د سروز د نل وغير ذالك من آلات اللهو، او نه قطع اليد سته په غلا كولو كي د قرآن شريف كه څه هم زبور داره وي يعني په سرو زرو نوشته سوى وي، او نه په غلا كولو د صليب د نصاراوو چي په دې شكل دي + او دوي يې لوړ احترام كوي كه څه هم د سرو يا د سپينو زرو وي، او نه په غلا كي د شطرنج او كتار يعنې چي پر يو تخته يې ليكلى وي او يو سړى هغه تخته غلا كړي، نو په دې تو لو شيانو كي قطع اليد نسته لان الاخذ لعله انما اخذت تلك الكتب للحرق والخرق فوجد الشبهة وهى دارئة للحد.

دروېش وايي:- چي هم پردي قياسږي كتابونه د فسق د غزلو او د بښځو د جمال او عشق بيانولو كتابونه لكه سبع معلقه وغيره، او دخالصو درواغو كتابونه لكه د مير همزه پښتو كتاب او نور.

دروېش وايي:- چي ددغو مسائلو دلائل په حاشيه كي د طحطاوي رحمة الله عليه پر درمختار، او په هدايه او په بنايه كي او په مجمع الانهر كي ذكر سوي دي حاصل يي دادي، اما الشربة المسكره هغه خو حرام دي نو سارق يې دا بهانه كولاى سي چي ما د تويه ولو د پاره غلا كړه او د بعض مشروباتو په مباح والي كي چي اختلاف دي په هغو كي هم قطع نسته ولي په اباحت كي اختلاف عين اختلاف په مالیت د هغه شي ولي چي حرام خو مال نه دي او دا د مخه هم تېره سوه شبهه د راء د حد ده او مختلف مشروبات يعني منصف يعني د انگورو اوبه ويشوي چي نيمى پاته سي نو بيا يې چښي او د ماء الشعير په نامه مشروب چي كثير يې سكر دي او يا د ابو د جواريو په نامه وغيرهما ولي چي هر شى چي كثير يې مسكر وي قليل يې هم حرام دي په نيز د امام شافعي رحمة الله عليه لكه خمر يعني اصلي شراب او د امام شافعي رحمة الله عليه سره موفقه كړې امام محمد رحمة الله عليه په حرمت كي د قليل او كثير ددغو شيانو، قال ط وعليه الفتوى يقول الفقير وهذا الدفع الفتنة عن الامة المرحومة فان عوام الزمان الحاضر يختالون فى الشرب الكثير المسكر لوجوزلهم القليل.

فائده:- سركه د دوښا او عسلو حلاله ده ولي چي ددې كثير هم مسكر نه دي نو كه سارق دغه شيان غلا كړه او قيمت يې ونصاب ته رسيدي نو قطعه پر واجبه ده، واما الطنبور ونحوه مما ذكرنا فلانها من آلات اللهو فالسارق يقول انى سرقتها للكسر فلا ملام عليه والحد انما شرع للزجر عن المحترم، والاحترام لهذه الاشياء، كه څه هم قيمت د طنبور وغيره تر نصاب بالاهم وى، واما السرقة المصحف نو عدم قطع

زمور مذهب دي، او امام شافعي رحمه الله وايي چي د مصحف پر غلا قطع سته ولي چي مصحف مال متقوم دي او بيعه يې رواده، وروى عن ابى يوسف رحمه الله مثله، او بعض فقهاء وايي چي که د مصحف حليه يوازي ونصاب ته د سرقې رسېده قطع د يد پر واجبه ده ولي چي حليه خو د مصحف جزء نه ده نو جلا معتبرېږي، دليل د ظاهر روايت دادي چي د قرآن شريف غلا کونکي به شايد دا بهانه وکي چي ما قرآن شريف د پاره د وظيفي او قراءت وړي دي، او پاته حليه سوه هغه خو تبع د مصحف شريف ده او مقصود بالذات نه ده، ولااعتبار لما بالتبع لكه يو سړی چي شراب غلا کړي او هغه په داسي لوښي کي وي چي قيمت د لوښي يې تر نصب بالاوي نو قطع اليد نسته پکښي ولي اصلي مقصود خو شراب دي او په شرابو کي خو قطع نسته كما مر من انه ليس بمال، ه، در.

او په صليب کي که څه هم د سرو زرو وي هم قطعه نسته او داغه رنګه په بت کي د سرو يا د سپينو زرو، او داغه رنګه قطع نسته په شطرنج او نرد وغيره کي ولي چي متبادر د حال څخه د اخيستونکي ددغو شيانو ماتول د هغو دي.

فائده:- که چا دا سي دينار يا درهم غلا کي چي پر هغه باندي د انسان بت وو د هغه لاس پرې کيږي چي نصاب ته ورسيږي ولي چي د درهم اودينار اخيسته د ماتولو د پاره نه دي بلکه دتمول د پاره دي فلاوجود فيها لشبهة الكسر حتى يندرء بها الحد، مجمع.

قال المصنف رحمه الله ﴿ولا قطع على سارق الصبى الحر وان كان على حلى﴾ او قطع د يد نسته پر غلا کونکي د کوچني چي حر وي که څه هم پر هغه ګنړه وي يعني د سرو يا د سپينو زرو، ولي چي حر خو مال نه دي او قطع اليد خو په مال پوري تړلېده، او امام ابو يوسف رحمه الله وايي که حليه د صبي نصاب ته د قطع اليد رسېده لاس دې پر پرې کړه سي، او ائمه ثلاثه ودغه مذهب ته مائل دي، وجه د ظاهر الروايت داده چي صبي خو اصلا مال نه دي او زبور تابع دده دي ولا اعتبار لتوابع.

پوهه نسته:- چي دا اختلاف په هغه صبي کي دي چي ممیز نه وي يعني په ښه او بد نه پوهېږي او که ممیز وو بيا قطع په اتفاق نسته ولي دا غلا نه ده بلکه دا چم دي د بېونکي د کوچني سره، در مع زياده.

قال ﴿ولا سارق العبد الكبير ويقطع سارق العبد الصغير﴾ او نه پر غله د لوي مريي قطع سته ولي چي دا غصب دوي بولي غلا نه ده، او لاس پرې کيږي د سارق د کوچني مريي يعني که څه هم د هغه حلي نه وي ولي چي مريي خو مال دي لكن دا هلته چي دا کوچنی مريي جزعه او استغاثه نسواى کولای، ولي چي داسي کوچنی لكه بهيمه يعني خر او غوا ده مثلا او د هغو په غلا کي خو قطع سته اذا بلغ قيمتها نصابا، او امام ابو يوسف رحمه الله وايي چي په ورته کوچني مريي په غلا کي قطع نسته لانه آدمی من وجه ومال من وجه.

قال ﴿ولا قطع فى الدفاتر كلها﴾ او قطه نسته په غلا کي د تولو کتابو، هدايه واى که د تفسير کتابونه وي او که د حديثو کتابونه وي،

اوکه د فقهي کتابو نه وي ولي چي مقصود دده په غلا کولو کي د کتابو هغه شی دي چي په دې کتابو کي موجود وي من التفاسير والآديث ومسائل الفقه وکلها ليس بمال.

ډروبش وايي:- چي د منطقو، حکمتو، او رياضي وغيره کتابو په غلا کي په طريق اولى قطع نسته، تامل.

قال ﴿الافی دفاتر الحساب﴾ مګر په کتابو کي د حسابو د حکومت چي په هغو کي قطعه سته ولي چي حکومتي حسابونه خو د سارق په درد نه خوري نو مقصود د غله صرف کاغزونه دي نو که د هغو قيمت نصاب ته رسيدي نو په هغه کي قطع سته.

﴿ولا يقطع سارق کلب ولا فهد﴾ او لاس دي نه پرې کېږي د سپي د غله او نه د يږ د غله که څه هم د ښکار سپی وي لکه تازي چي تر نصاب بالا قيمت لري او د کور د ساتلو خوړې سپي، او يا د کښت د حفاظت سپی او يا د پسو د حفاظت سپی چې دا سپي د هم تر نصاب بالا قيمتو نه لري، صاحب هدايه وايي چي عدم قطع په غلا کي د هر قسم سپو داده چي د جنس څخه د سپو داسي سپي سته چي د چا رغبت نه ورته کېږي،او يا مباح الاصل وي لکه د بازار لوی لکی سپی چي نه د جنګ دي او نه د ننګ، او يا چني سپی، فلا يجب فی جنسه القطع بهذه العلة، او بل دليل يې دادي چي په سپو کي د علماء رحمة الله عليه اختلاف سته بعض يي نجس العين بولي لکه خنزير نو مال متقوم نه دي، او بعض فقهاء رحمة الله عليه يې مال متقوم بولي په هر صورت دې اختلاف شبهه پيدا کړه په مالیت کي د سپو نو خود لاس د سارق يې نه پرې

کېږي لان الحدود يندرء بالشبهات، وعلى هذا قس الفهد، آه مع زياده کثيره.

قال ﴿ولا دف ولا طبل ولا مزمار﴾ او داغه رنګه قطع نسته په کولو کي د دريې، او نه په غلا کي د ډول او نه د نل د سروز، د يارانو په نيز دا شيانو لره قيمت نسته، او امام اعظم رحمة الله عليه وايي چي شايد دا غل به دا بهانه وکړي چي دغه شيان ما د ماتبدو د پاره يووړه، کذا فی الهدايه.

پوه شه:- چي د ډول څخه مراد د لهو او ساتبرې ډول دي لکه بعض خلګ چي يې په ودو کي وهي، او په ډول کي د غازيانو اختلاف د مشائخو دي لکن صدر شهيد وايي چي په هغه ډول کي هم قطع نسته.

قال ﴿و؛يقطع فی الساج والابنوس والقنا والصندل﴾ او پرې کېږي لاس د غله د ساج د لرګي په غلا کي، او د ابنوس په غلا کي ابنوس هم يو قيمتي لرګي دي چي په زبا زبا کوټيو وغيره کي کارېږي، او قنا په زبر د قاف جمع ده د قنات دا هغه قيمتي لرګي دي چي د هغه څخه د جنګ د نيزو لاستي جوړوي، او صندل د يو خوشبويه لرګي نوم دي چي ژړ رنګ يې هم سته او سور رنګ يې سته او ښه لوړ قيمت لري دليل د قطع اليد په غلا کي ددې شيانو دادي چي دا لرګی ډېر عزتمند دي په نيز د خلګو او محرز هم دي او ددوی د جنسه مباح ښځي نسته، هدايه، نهايه، منتخب، دروبش.

پوهوم:- چي ساج د يوې درختې نوم دي چي ډېره بېحده لويه درخته ده چي د هغې لرګي په ښو ښو بناوٴ کي او په ښو ښو دروازو او مېزو کي وغيره کي استمالېږي او ډېر قيمت لري، چي دغه درختې ډېري د هند په ځنګلو کي پيدا کېږي، او د افغانسان د جلال آباد په شا وخوا کي هم سته چي چار تراش يې بولي.

قال المصنف رحمه الله ﴿واذا اتخذ من الخشب اوانی او ابواب قطع فيها﴾ او که جوړ کړه سوه د لرګو څخه لوښي يعني د خورك يا د چنبك مثلا په پخوا زمانه کي به د لرګي کاسې وې او وصراحي ته ورته د آبنوشي د لرګي لوښي به وه وهکذا، او يا د لرګي څخه دروازې مثلا يا مېزونه يا الماری وغير ذالك چي نجار جوړ کړي وه لکه په اوسنۍ زمانه کي هم دغه شيان د تختو څخه جوړوي، لاس ددغو شيانو د غله دي ورقطعه سي يعني چي نصاب ته د سرقې ورسېږي، دليل يې دادي چي صنعت د نجاري ددغو شيانو غالب دي پر اصل چي لرګی دي نو په دې سبب دغه مذکوره شيان او امثال د هغو د نفيسه اموالو څخه ګڼل کېږي او په حرز کي هم وي، او چي سپك هم وي چي پر يوه سړي يې وړنګ هم ونه درنېدي.

مسئله:- که يو ددغو شيانو څخه په ډېواله پوري د سرای ځړېدي بيا قطعه پکښې نسته لعدم الحرز، والاصل الكلي هر شی چي مباح الاصل په دار اسلام کي نه پيدا کېږي او د اعزارو د نفيسه اموالو څخه ګڼل کېدي پر غله يې قطعه لازمه ده، مجمع الانهر، در، دروېش.

قال المصنف رحمه الله ﴿ولا قطع على خائن او خائنة ولا منتهب ولا مختلس ولا نباش﴾ او قطع اليد نسته پر خائن او خائني ښځي يعني چي په چم او حيله د چا مال يوسي ولي چي دا غلا نه ده، او نه قطعه سته چي په تړاك او يا په چم د چا شی يوسي ولي تړاك او يا حمله خو علانية کېږي غلا خو په پټه سره وي نو دا غلا نه ده او په صحيح حديث کي هم راغلي دي، لاقطع فی مختلس ولا منتهبا ولا خائن، كذا فی الهدايه.

پوهوم:- چي انتهاب دادي چي يو سړی د بل سړي مال په زوره علانيه ځندي يوسي، او اختلاس دادي چي په ډېر تلوار د چا پر مال حمله وکړي او ځندي يو يې سي، عنايه. او نه پر نباش قطعه سته، نباش هغه سړی بولي چي د تازه مړي کفن پسله شنلو د قبر ځندي يوسي.

پوهوم:- چي دا مذهب د طرفينو دي او امام ابو يوسف رحمه الله وايي چي پر نباش قطعه سته دی وايي چي کفن مال متقوم دي او محرز دی په قبر سره نو لکه غل چي دخوني څخه د يو چا مال يوسي،د ظاهر الروايت دليل دادي چي د کفن په ملکيت کي شبهه سته چي د چا ملك دي ولي چي مړي خو حقيقتاً د هيڅ شي مالك نه دي او د وارث ملك هم نه دي لتقدم حاجت الميت، جوهره.

قال المصنف رحمه الله ﴿ولا يقطع السارق من بيت المال﴾ او لاس دي نه پرې کېږي دغله د بيت المال د روپو يعني د حكومت د روپو څخه، ولي چي بيت المال حق د عامه مسلمانانو دي او سارق هم په

عامه وو کي داخل دي نو ده لره په بيت المال کي هم حق سته نو قطع اليد په شبهه ددې چي د غله غلا نه وه مقصود بلکه خپل حق اخيسته يې مقصود وه.

قال ﴿ولامن مال للسارق فيه شركة﴾ او نه په سرقه کي د هغه مال چي د سارق په هغه کي شرکت وي مثلا دوه کسه په تجارت کي سره شريکان وه دا يوه شريك د تجري څخه ډېري روپۍ غلا کړې لاس يې نه پرې کېږي لشبهة الشراكة.

قال ﴿ومن سرق من ابويه او ولده اوذى رحم محرم منه لم يقطع﴾ او که چا غلا وکړه د مال څخه د مور يا د پلار او يا د مال څخه د زوي يا لور يا د ذى رحم محرم څخه لکه وړونه خوندي لاس يې نه پرې کېږي.

پوه سه:- چي دا مسئله اجماعي ده ولي د دغو کسانو په منځ کي فراخي سته په نفع اخيستلو د يوه په مال د هغه بل، او بل حرز يې هم کامل نه دي لدخول احدهم دار الآخر بلا اجازة.

﴿وكذالك اذا سرق احد الزوجين من الآخر او العبد من سيده او من امرئة سيده او من زوج سيدته او المولى من مكاتبه وكذالك السارق من المغنم﴾ او داغه رنګه قطع اليد نسته چي غلا وکړي يو د مېړه او ماينې څخه د هغه بل د مال څخه يعني که څه هم دا مال مسروق په حرز خاص د هغه بل وي، او داغه رنګه قطع اليد نسته چي مريي د بادار مال غلا کړه او يا د بادار د ماينې څخه مال غلا کړي، او يا مريي د خپل باداري د مېړه د مال څخه

غلا وکړي، او يا بادار د مال څخه د مکاتب غلا وکړي، او داغه رنګه قطع اليد نسته چي يو سړي د مال څخه د غنيمت غلا وکړي، ودليل الكل فراخي د تصرف مالي په منځ کي ددغو کسانو ولنقصان الحرز فى بعض المذكورين لکه غنيمت، جوهره و در.

پوه سه:- چي دغه غلاوي خو ټوله حرامي دي لکن خبره په سقوط کي د حد زاجر ده چي قطع اليد ده، دروېش.

فائده:- پوه سه چي چونکه په معنا کي د سرقې په پټه وړنګ د مال معتبر دي نو په سرقه کي خواه ماخواه حرز معتبر دي ولي چي حرز نه وي نو په پټه وړنګه يې څه ضرورت دي نو ددې سببه مصنف رحمه الله عليه په تفصيل د حرز کي داسي وايي.

قال ﴿والحرز على ضربين حرز لمعنى فيه﴾ حرز پر دوه قسمه دي يو حرز په سبب د معنا په حرز کي.

پوه سه:- چي حرز دلته په معنا د محرز يعني ځای د خوندي کېدو دي.

﴿كالدور والبيوت﴾ لکه سرايونه او خونې، او داغه رنګه دي صندوق او دکان او ګاش د پسو او بزو وغيره.

﴿وحرزه بالحافظ﴾ اوبل حرز او ساتنه د مال په حافظ لکه د سړي په جېب چي روپۍ وي او يا يې يو شى تر سر لاندي کړى وي وغير ذالك، جوهره والا وايي چي سړى هلته حافظ د مال بولل کېږي چي مال ده ته نژدې وي يعني چي دى يې وينې او که مال دومره ليرې وۍ چي ده نه ليدى نو دى حافظ نه دي.

قال ﴿فمن سرق مالا من حرز او غير حرز وصاحبه عنده يحفظه وجب عليه القطع﴾ نوکه چا غلا کي يو عين او مال که د حرز څخه وي لکه د خوني يا سراى وغيره څخه او يا بېله حرزه څخه وي يعني بالمعنى الاول او مالك د مال دلته و چي دا مال يې ساته يعني په سبب د خوب د مالك يا غفلت د هغه واجب ده قطعه پر هغه غله فى الهدايه لانه سرق ما لاً محرزا باحد الحرزين يعني حرز په سبب د حافظ.

پوه سه:- چي چونکه پر عبارت د مصنف رحمة الله عليه دا سوال وارد دى چي دى څرنګه وايي من حرز او غير حرز او بيا وايي و صاحبه آه ولي چي صاحب المال دلته موجود دي نو خوحرز بالحافظ موجود دي نو غير حرز ويل څرنګه روا دي، نو له دې کبله دروېش دا عبارت ووايه يعني بالمعنى الاول تامل ليكون ذوقيًا لك والله اعلم.

قال ﴿ولا قطع على من سرق من حمام او من بيت أُذن للناس فى دخوله﴾ او قطع اليد نه سته پر هغه چا چي له حمام څخه شى غلا کړي ولې چي په حمام کې خو عادتًا اذن عام سته نو حمام حرز نه دى او يا شى غلا کړي له هغې خوني څخه چي خلګو ته اجازه د ورتګ و هغې خوني ته ورکړل سوې وي. لکه مثلاً د واده په شپه خلګو ته ډوډۍ په دغه خونه کې ورکوي او څوك ځي څوك راځي، ولې چي خونه په سبب د اذن صراحةً حرز نه ده.

مسئله:- د تجار د تجارتخانې څخه چي څوك د ورځې شى غلا کړي، نو د لاس قطع يې نه سته لوجود الاذن عادة فيها او كه يې د

شپې غلا کړي نو بيا يې قطع اليد سته، لعدم اذن الدخول فيها ليلاً لا صراحةً ولا عادةً فهى حرز فى الليل.

قال ﴿ومن سرق من المسجد متاعًا و صاحبه عنده قطعه﴾ او كه چا غلا کړه د مسجد څخه متاع يا روپۍ او صاحب المتاع دلته و كه بيده وي او كه وينې لاس دې پرې کړه سي.

پوه سه:- چي خودي مسجد شريف حرز نه دي ولي چي مسجد خو د عبادت لپاره جوړ سوى دي نه د حرز الاموال دپاره، نو مسجد په حق كي د اموالو لكه صحرا دا سي دي نو ددې سببه حرز بالمالك ضروري دي.

تفريع:- كه يو چا د مسجد غالي يا ساعت وغيره د ورځې د خوا غلا کړه نو قطع اليد يې نسته لعدم الحرز نهاراً، او كه يې د شپې چي د مسجد دروازه قلف وه چا شى غلا کړي بيا قطع اليد باندي سته لان المسجد بسبب القفل صار حرزاً، فتدبر ، وانما قلنا كه بيده وي آه ولي چي په حديث شريف كي راغلي دي چي آنحضرت ﷺ حكم د قطع اليد وکړي پر هغه سارق چي د صفوان رضي الله عنه پټو چي دده تر سر لاندي و او دې په مسجد كي بيده و ځندي غلا کړي.

قال ﴿ولا قطع على الضيف اذا سرق من بيت من اضافه﴾ او قطع اليد نسته پر هغه ميلمانه چي شى غلا کړي د خوني د هغه چا چي دى يې ميلمه کړي دي ولي دغه خونه په سبب د اجازې د مالك د ميلمه په حق كي حرز نه ده لوجود الاذن نو دا غلا نه ده بلكه خيانت دي، هدايه مع زياده.

قال ﴿واذا نقب اللص البيت ودخل واخذ المال وناوله آخر خارج البيت فلا قطع عليهما﴾ او كه سوري كړه غله خونه او تر غار ورننوتی او مال يې را واخيستی او بل سړی چې هغه دباندي ورته ولاړ و وريې كړي نو پر يوه هم قطع اليد نسته.

دروښ وايي:- چې دا مذهب دی د امام اعظم رحمة الله عليه ولي چې اول سړي خو غلا نه ده كړې صرف اخراج المتاع يې وكړه او دباندي سړي هم غلا نه ده كړې بلكه صرف حرز يې صرف بې پرده كړی، او په نبز د يارانو د داخل لاس دي پرې كړه سي ولي داخل چې متاع راويستل او خارج واخيسته نو د خارج لاس قائم مقام دده د لاس دي ګويا دی تر غار راووتی اومتاع يې په لاس كي وه، او د امام ابو يوسف رحمة الله عليه څخه روايت دي كه چېري خارج لاس په غار ورننه يستی او داخل په لاس كي متاع وركړه ددواړو لاس دي پرې كړه سي، او كه داخل متاع خارج ته راوغور ځول او د خارج په لاس كې ورنه كړه نو پر يوه قطع اليد نسته، كذا في الجوهره.

قال المصنف رحمة الله عليه ﴿وان القاه في الطريق ثم خرج فاخذ قطع﴾ او كه داخل سړي متاع كوڅې ته راوه غورځاوه او بيا پسي راووتی هغه يې يووړی لاس دې پرې كړه سي، او امام زفر رحمة الله عليه وايي چې قطعه په دې صورت كي نسته ولي چې نفس راغورځول وخارج ته خو سبب د قطع اليد نه ده نو لكه غل چې مال كوڅې ته راوغورځوي او يو يې نسي، موړ وايو چې متاع كوڅې ته راغورځول خو د غلو معتاد حيله ده ولي چې غل خو د متاع سره د غاره څخه نه سي راوتلای، نو د مال

غورځول او بيا وړل يو فعل دي، بخلاف ما اذا خرج المتاع الى الطريق وثم ياخذ كما قال زفر رحمة الله عليه لانه حينئذ مضيع المال لاسارقه، او امام شافعي رحمة الله عليه وايي چې د داخل لاس به په هر صورت كي پرې كړه سي، مجمع الانهر مع زياده.

قال المصنف رحمة الله عليه ﴿وكذالك اذا حمله على حمار وساقه فاخرجه﴾ او داغه رنګه لاس د غله پرې كېږي كه غل د چا كور ته ورداخل سو او سامان يې پر خره رابار كړي او خر يې شړی او سامان يې كورته راوړي، لان فعل الحمار منسوب اليه ګويا ده سامان د كوره راپه شا كي او رايې وړي، هدايه، مع زياده، در.

قال ﴿واذا دخل الحرز جماعة فتولى بعضهم الاخذ قطعوا جميعا﴾ او كه داخل سو وحرز ته يعني كور ته د يو چا يو جماعت د غلو لكن بعضو غلو د كور څخه متاع راواخستل نو د ټولو لاس دي ورپرې كړه سي ولي دوي ټوله چې سراى ته ورغله په غلا كي سره شريكان دي، او كه جماعت د غلو سره ملګري خو وو لكن كور ته يو نفر ورداخل سو او سامان يې د كور څخه راويستی او هغه نور په دروازه كي ورته ولاړ وه نو قطع اليد يوازي پر داخل سته او هغه نورو ته دي تعزير وركړه سي.

قال ﴿وان ادخل يده في صندوق الصيرفي او في كم غيره واخذ المال قطع﴾ او كه يوسړي په صندق لاس چې كي د صراف يا د بل چا په لستوني يعني د هغه په لستوني كي روپۍ وي كما هو المعتاد في الزمان الاسبق، او مال يې راواخيستي لاس دې ورپرې كړه

سي ولي چي د حرز څخه د صندق يا د لستوني مال راويستی، او که يوه غله په صندوق او يا په جيب د سړي لاس چخلی و او روپۍ يې په لاس کي نيولې وې لکن مالك د روپو دده لاس تينګ کړي قطع اليد نسته باندي ولي چيسرقه خو په رايستلو سره د مال پوره کيږي دلته خو هغسي نه سوه.

قال ﴿ومن نقب البيت وادخل يده فيه واخذ شيئا لم يقطع﴾ او که يوه غله خونه سوري کړه او د دباندي د خوا يې لاس په خونه کي داخل کي او يو شی يې د خوني څخه راويستی او يو يې وړی لاس دې نه پرې کوي ولي چي ده بې پردګي د حرز نه ده کړې، وهو الصحيح، مجمع.

قال ﴿وقطع يمين السارق من الزند وتحسم﴾ او پرې کيږي به رسته لاس د سارق د اول بند څخه او داغ دې کړی په ايشولو تېلو او يا په توده وسپنه تاچي تپ يې سره ټول سي او وينه يې بنده سي.

پوښتنه:- چي په قرآن مجيد کي خو داسي راغلي دي،السارق والسارقة فاقطعوا ايديهما" او يد خو عام دي چيه او رسته دواړو ته شامل دي لکن تخصيص د يمين په روايت د قرائت د ابن مسعود ﷺ دي چي په هغه کي فاقطعوا ايمانهما راغلي دي چي دا قرائت هم مشهور قرائت دي.

فائده:- قياس خودادي چې د سارق لاس دي د وړې څخه ورپرې سي لان اسم اليد يتناول الى منكب لكن دا قياس موږ پرې ښوی په دې دليل چي عليه الصلوة والسلام د غله د لاس د پرې کيدو حکم د زند

څخه ورکړي دي نو دا حديث بيان د مراد دادی د ايديهما چي په قرآن مجيد کي راغلي دي، ومع هذا يارانو په قياس سره قول کړي دي او هغه خبره چي بعض علماء وايي چي د غله لاس دي د ګوتو په اندازه ورپرې کړي، کفايه والا وايي چي دا قول خلاف النص دي.

قال المصنف رحمه الله ﴿فان سرق ثانيا قطعت رجله اليسرا وان سرق ثالثا لم يقطع وخلد فى السجن حتى يتوب﴾ او که غله غلا وکړه دوهم وار نو چپه پښه دې ورپرې کړي.

پوښتنه:- رسته پښه ولي نه ورپرې کوي؟

ځواب:- داسړی بيا پر لکړه هم نسي تلای كما يدل عليه التجربه.

پوښتنه:- چپه لاس يې ولي نه ورپرې کوي؟

ځواب:- تاچي جنس منفعت د لاسو فوت نسي يعني خوراك او تينګول د شی، پرتګابنس ترل وغيره.

فائده:- د پښې پرې کېدل به يې د بجلکي څخه کوي عند اهل العلم وفعل ذالك عمر ﷺ، او روافض وايي چي نيمی د پښې د ګوتو د خوا دي ځندي پرې کړي كذا فى البنايه، او که يې غلا وکړه دريمه پلا نو دي هيڅ شی نه ځندي پرې کوي يعني نه لاس او نه پښه بلکه د حبس ابد د پاره دې په بندي خانه کي بندي کړي تر هغو چي توبه کاږي يعني يا په بندي خانه کي مري، لکن سره د حبس دې تعزير د غلا هم ورکړي كذا فى الجوهره.

قال المصنف رحمه الله ﴿وان كان السارق اشل اليد اليسرى او اقطع او مقطوع الرجل اليمنى لم يقطه﴾ او که چپري د سارق

چپه لاس شل و يعني حركت يې نه درلودي او يا چپه لاس يې پرې و
يوه سبب سره او يا يې پښه پرې وه نو هيڅ شی دي نه ځندي پرې کوي
يعني نه راسته لاس په اوله غلا کي ولي چي چپه لاس يې شل دي او که
يې په اوله غلا کې رسته لاس ځندي پرې کړي تفويت د جنس منفعت د
لاس لازمېږي، او د چپه شل لاس پرې کېده يو خو زجر نه په راځي او بل
په قرآن مجيد کي په روايت د ابن مسعود ﷺ ايمانهما راغلي دي کما
مر او چي چپه لاس يې پرې وي هم داغه حکم دي او که يې رسته پښه
پرې وي نو په دوهم پلا په غلا کي چي د چپې پښې د پرې کېدو نوبت
وو چپه پښه دي نه ځندي پرې کوي لفوت الجنس منفعة الرجل وهو
المشی هذا حاصل ما فی الهدايه مع الزيادة كثيرة.

قال ﴿ولا يقطع السارق الا ان يحضر المسروق منه فيطالب بالسرقة﴾ او قطعه د لاس او پښې نه کېږي مګر هغه وخت چي هغه
سړی چي دده څخه غلا سوې ده حاضر نه وي او هغه هم طلب د سرقه
کوي، دليل يې دادي چي په حدود کي دعوی شرط ده نو چي مسروق
منه نه وي نو خصومت او دعوه څوک کوي او بل دا چي ددې څخه نوې
شبهه پيداکېږي هغه داچي مالك المال دي و سارق ته اباحت کړيوي او
يا دې مسروق منه دغه خپل مال وقف کړی وي پر ټولو مسلمانانو او
وسارق ته دې اجازه ددخول فی الحرز کړې وي نو مطالبې ته دده
ضرورت سته تاچي دا مذکوره شبهه د منځ څخه ولاړه سي، واما الزنا
فلا يشترط فيه المطالبة لان الفرج لا يتصور فيه الاباحة والوقف فليس
هنالک شبهة اصلا حتی يندرء بها حد الزنا فافهم كذا فی البنايه.

قال المصنف رحمه الله ﴿فان وهبها من السارق او باعها منه او نقصت قيمتها من النصاب لم يقطع﴾ او که مالك د مال وبخښل
سرقه يعني هغه مال مسروق وه سارق ته او يا سارق ځندي رانيوي، او
يا قيمت د مال مسروق په مرور د زماني تر نصاب د سرقې کم سو نو
قطعه نسته پر سارق، او امام زفر او شافعي رحمه الله او داغه رنګه امام ابو
يوسف رحمه الله په يوه روايت کي وايي چي په دې سره صورتو کي دې
لاس ورپرې کړه سي، ودليل المذهبين فی مجمع الانهر، والهدايه
والشروح الآخر للقدوري.

قال ﴿ومن سرق عينا فقطع فيها وردها ثم عاد فسرقها وهی بحالها لم يقطع﴾ او که يو چا غلا کي يو معين شی مثلاً خر
يې غلا کړي او لاس يې پر پرې کړه سو او هغه عين سارق رد کړي
ومالك ته د عين، بيا سارق ورغلي بيرته يې هغه عين غلا کړي نو که
هغه عين پر دمخه حال باقي و نو ددې پلا په غلا کي دي شی نه ځندي
کوي.

پوهول پکار دي:- چي لفظ د عين مؤنث سماعی دي نو ځکه يې ضمير د
مؤنث ورته راجع کړي، وقال زفر و الشافعی رحمه الله وفی روايت عن ابی
يوسف رحمه الله ايضاً انه يقطع وهو القياس والدلائل فی الشروح.

قال ﴿فان تغيرت عن حالها مثل ان كانت غزلا فسرقه فقطع فيه ورده ثم نسج فعاد وسرقه قطع﴾ او که تغير خوړلی و
هغه عين چي سارق غلا کړی و د پخواني حال څخه يعني د هغه حال
څخه چي ده اول وار غلا کړي و مثلاً، هغه عين په اوله غلا کي ورته وه

(وړې) نو ده غلا کړه او لاس يې پر پرې کړه سو، او غله هغه ورته بيرته مالك ته ورکړه او بيا وودل سول د هغه ورتو څخه مثلا کمبله بيا سارق ورغلي کمبله د هغو ورتو يې غلا کړه قطع دي وسي يعني چپه پښه دې ور پرې کړه سي ولي چې په دې صورت کې خو عين بدل سو چې ورته يې بلل او اوس يې کمبله بولي، او قيمت يې هم بدل سو نوګويا سارق سابق يو بل شی غلا کړي نو ځکه قطعه پر لازمه ده، هدايه دروښ.

قال ﴿واذا قطع السارق والعين قائمة فی يده ردها وان كانت هالكة لم يضمن﴾ او چې قطعه وکړه سي يعني يا د لاس يا د پښې او عين يعني مال مسروق موجود وي په لاس کې د سارق نو مالك ته دې رد کړي ولي هغه شی اوس هم پر ملك د مالك باقي دي نو ځکه وسارق ته نفعه اخيسته پر هغه عين مسرق باندې په هيڅ وجهي روا نه ده مثلا خر يې غلا کړی و نو نه يې سپرتيا وسارق ته روا ده او نه بار پر وړل ورته روا دي، او که غله مثلا هغه خر پر بل چا خرڅ کړی و مالك به يې د مشتري څخه بيرته اخلي بلا خلاف لان السارق باع ملك غيره بغير اذنه وهذا علامة بقاء ملك المالك فی العين، مجمع دروښ.

او که چېرې هغه عين مسرق د سارق په لاس کې هلاك سوی و مثلا خر هلاك سوی و دده په لاس کې بلکه که سارق هلاك کړي و مثلا پسه يې غلا کړی و او حلال کړي يې و او غوښې يې خوړلې وې، او يا وړه وه يا انګور وه وغيره بيا يې ضمان پر سارق نسته ولي چې زموږ په نبز قطعه او ضمان نه سره يو ځای کېږي قال عليه الصلوة والسلام لاغرم على السارق بعد ما قطعت يمينه.

قال المصنف رحمه الله ﴿واذا ادعى السارق ان العين المسروقة ملكه سقط القطع وان لم يقم بينة﴾ او که دعوه وکړه غله چې دغه شی معين چې غلا کړه سوی دي يعني چې ما غلا کړی دي دا زما ملك و نو قطعه اليد دده څخه ساقطه ده که څه هم پردې دعوې دی شاهدان نه کې تېر يعني پس له دې چې د سرقې شاهدان هم تېر سي ولي چې په دعوې کې شبهه پيدا سوه ولي چې امکان لري چې دا عين مسروق په د سارق و لکن دا بل سړي به په زوره قبضه پر لګولې وه نو د سارق زور نه په رسېدي نو يې په پته يعني د غلا پر طرز خپل شی ځندي يو وړي.

پوښتنه:- چې دا شی د سارق وای نو شاهدان بې پر درلو دای؟

ځواب:- عدم د شاهدانو خو عدم لره د ملك نه دي مستلزم ولي د برشيان خلك لري او څوك نه وي په خبر.

قال ﴿واذا خرج جماعة ممتنعين او واحد يقدر على الامتناع فقصدوا قطع الطريق﴾ او که ووتل يعني د خپلوکورو څخه يعني غرويا دښتو او بيابانو ته يوه ډله چې ممتنعين وه يعني خپل ځانونه يې د حکومت څخه ساتلای سوه د وسلې په زور، او يا يو سړی و چې د وسلې په زور يې ځان ساتلای سوای د حکومت څخه.

پوښتنه:- چې قطاع الطريق لره خپل شرطونه سته (۱) اول دا چې دغو غلو لره به قوت او دبدبه وي چې پر لار تلونکي خلك به ددوي مقابله نه سي کولای (۲) او دوي به لار بند کړې وي يا د سلا په زور او يا به يې په لار کې غټي غټي ډبري اچولي وي چې مثلا موټر وغيره

نسي ځندي تېرېدلای، او يا لوي لوي تيران به يې په لار کي ايښوي (٣) چې دوي به د ښار دباندي وي يعني د ښار څخه لېرې، امام طحاوي رحمه الله دا شرط کړی دي چې ددغو غلو او د ښار تر منځ به مسافت د سفر وي (۴) او په دار اسلام کي به وي (۵) دا چې هغه مال چې دوي يې د لارويانو څخه واخلي په قدر د نصاب د سرقې به وي زمونږ او امام شافعي او د امام احمد رحمهم الله په نزد، او امام مالك او ابو ثور رحمه الله وايي چې دا شرط نه دي (۶) چې قطاع الطريق به ټوله بېګانه خلګ وي د مال د خاوندانو څخه، حتی که په طاع الطريق کي اصل ذي رحم محرم د مال والاوو او يا کوچنی او لېونی پکښې و پر دوي قطع نسته

(٧) چې دغه اموال چې دوي د خلګو څخه اخيستی وي او دوي ونيول سي هغه به قبل توبه ددوي وي، او که دغه غله چې د خلګو مالونه يې لوټ کړي وه بعد التوبه ونېول سول بيا قطع نسته باندي هذا مافی البنايه مع الزياده.

قال المصنف رحمه الله ﴿فاخذوا قبل ان ياخذوا مالا او يقتلوا نفسا حبسهم الامام حتى يحدثوا التوبة﴾ او که دوي يعني قطاع الطريق ونېول سول د مخه تر دې چې دوي دي د چا څخه مال اخستی وي او يا دې څوك وژلی وي، نو امام المسلمين دي دوي باندیان کړي تر هغو پورې چې دوي توبه کاږي، او په مجمع الانهر کي وايي تر هغو پورې دي دوي بنديان وي چې علامات په دوي کي د صالحانو خالګو پيدا کېږي، او امام شافعي رحمه الله وايي چې دوي دي په مذکوره صورت کي د وطن څخه وشړل سي، مونږ وايو چې په شړلو کي ددوي سد باب د قطع الطريق نه راځي.

قال ﴿ان اخذوا مال مسلم او ذمی والماخوذ اذا قسم علی جماعتهم اصاب كل واحد منهم عشرة دراهم فصاعدا او ما تبلغ قيمته ذالك قطع الامام ايديهم وارجلهم من خلاف﴾ او که دوي اخستی و مال د مسلمان يا د اهل ذمه څخه او اخيسته سوی مال يانې چې نقود وي نو ددوي جماعت ته لس لس درهمه ورسېدل او يا بالاتر هغه، او يا قيمت د ماخوذ شي يانې که د غير نقود څخه وي اندازې ته د نصاب سرقه رسېدل وټولو ته، نو دي امام پرې کړي لاسونه او پښې ددوي پر خلاف يانې رسته لاس دې ورپرې کړي او چپه پښه ولي چې دوي د غلا سره لار هم خوفناکه کړې وه، نو قطع الرجل يې جزا د اخافت الطريق ده.

پوښتنه:- چې مراد د من خلاف څخه دادي چې رسته لاس دې ورپرې کي او چپه پښه وقد مر فائدة من خلاف يعني که يې د يوه طرف او جهته څخه ورپرې کي جنس منفعت د تلو فوتېږي.

فائده:- په جوهره کي وايي چې غله ته هلته قطاع الطريق ويل کېږي چې داسي ځای يې نېولی وي چې د هغه ځای څخه چا ته فرياد نه رسېږي او که فرياد رسېدي لکه کلي ته نژدې د چا څخه روپۍ وغيره واخلي هغه قطاع الطريق نه دي بلکه غل دي نو حکومت چې دی ونسي امر دې کړي چې هغه اخيستي روپۍ وغيره ومالك ته رد کړه او ادب يعنې تعزير دي هم ورکړي او بندي دې هم کړي ولي چې غټ جنايت يې کړي دي.

پوښتنه:- لاس يې پرې کېږي او که نه ؟

ځواب:- دا سړی لغوي غل دي، شرعي غل يعني چې لاس يې پرې کېږي نه دي ولې دې سړي خو په علانيه شی او مال يوړي او د شرعي غله په مفهوم کې کما مر اخفا معتبره ده.

قال المصنف رحمه الله ﴿وان قتلوا نفسا ولم ياخذوا مالا قتلهم الامام حدا فان عفى الاولياء عنهم لا يلتفت الى عفوهم﴾ او که دغو قطاع الطريقو سړی وژلي وي يعني که څه هم يو سړی وي نو امام دي دوي ټوله مړه کړي د حد دلاره او که عفوه وکړه اولياء وو د مقتول وه دوي ته، د هغو وعفوي ته دي امام نه ګوري ولي دا حق د شرعي شريفي دي.

فائده:- دا قتل سياستاً دي قصاص نه دي ولذلك لايسقط بعفو الاولياء" نو اطلاق د حد مجازي دي، قال عليه الصلوة والسلام تعافوا الحدود فيما بينهم فاذا ارتفعت الى الامام فلا عفا الله عنه وان عفا، حموي.

قال ﴿وان قتلوا واخذوا مالا فالامام بالخيار ان شاء قطع ايديهم وارجلهم من خلاف وقتلهم او صلبهم﴾ او که چېرې دا قطاع الطريقو مړي کړي وه يعني يا يو يا دوه وهكذا مسافر يې وژلي وه او مالونه يې هم ځندي اخستي وه، نو امام لره اختيار دي که يې خوښه وي لاسونه او پښې دې ورپرې کړي رسته او چپه او بيا دې قتل کړي او يا دې په دار کړي يعني دوه عذابه دي ورکړي چې قطع او قتل يا صلب دي.

قال ﴿وان شاء قتلهم وان شاء صلبهم﴾ او که يې خوښه وي يو عذاب دي ورکړي چې قتل دي يا صلب دي يعني لاسونه او پښې دې نه ورپرې کوي.

پوښتنه:- چې قدوري امام ته اختيار ورکړي په منځ کې د صلب او د ترك د صلب، وهو الزاهر الروايت.

او د امام ابو يوسف رحمه الله څخه روايت دي چې صلب دې نه پرېږدي لانه المنصوص عليه والمقصود فى الصلب التشهير، تاچې نور خلك عبرت ځندي واخلي، صاحب الهدايه وايي چې اصل تشهير خو په قتل کې دي او صلب د پاره د مبالغې فى التشهير دي نو ځکه امام ته اختيار سته.

پوښتنه:- چې خداى پاك جل جلاله جزاء د قطاع الطريق په دې آيت مبارك کې بيان کړې ده" انما جزاء الذين يحاربون الله ورسوله" اي يحربون اولياء الله لان المحاربة لا يتصور مع الله والمحاربة مع الرسوله خروجهم عن كثر فانزل الله جل ذكره المحاربة مع اوليائه بمنزلة المحاربة معه تعالى كما ورد فى الحديث يقول الله تعالى من اهان لى وليا فقد بارزنى بالمحاربة" ويسعون فى الارض فسادا اى لاجل الفساد" ان يقتلوا و معناه من غير الصلب يعنى ان افردوا القتل" او يصلبوا اى مع القتل ان جمعوا بين القتل واخذ المال" او تقطع ايديهم وارجلهم من خلاف" ان اخذ المال فقط او ينفوا من الارض اى بالحبس حتى يتوبوا" مدارك مع زيادة وحذف.

فائده:- ملا علي قاري په شرحه کې د منار وايي وكذا العلامه محمد جيون رحمه الله فى نور الانوار چې مراد د مولى جل جلاله په دې آيت کې

تقسيم دي د عذابو پر جنايا‌تو د قطاع الطريق چي هغه جنايات څلور دي (١) اول اخستل د مال دي بېله قتله د چا (٢) قتل بدون اخذ المال (٣) واخذ المال والقتل جميعاً (٤) بېرول د مسافرينو بېله قتله او اخذ المال" نو مولى ﷻ په مقابل کي ددغو څلورو جنايا‌تو څلور جزا ګاني وټاکلې، او د جزاء سخت والى يې په قدر د سخت والي د جنايت د ولي رب ﷻ حکيم مطلق دي او دده د شانه سره لائقه نه ده چي ډېره سخته جزاء دي پر سپك جنايت وکړي او يا دي سپکه جزاء پر ډېر سخت جنايت ورکړي.

فائده:- په دې آيت مبارك اختيار د امام نه دي مطلقا، يانې که پر سخت جنايت سپکه جزاء ورکوي او که پر سپك جنايت سخت جزاء ورکوي کما ذهب اليه مالك رحمه الله بلکه مقصود تقسيم دي کمامر، فتامل فى اغلظ الجنايات واخفها وبين بين وكذا فى اغلظ الاجزية واخفها وبين بين، اشهر مع زياده.

قال ﴿ويصلب حياً ويبعج بطنه برمح الى ان يموت ولا يصلب اكثر من ثلثة ايام﴾ او په دار دې کي ژوندى او نس دې ورځېري کړي دده په نېزه سره تر هغه وخته پوري چي مري، او بعض فقهاء وايي چي پر چپه تي دې په نېزه ووهي او بيا دي نېزه راکش کړي د نس وخواته او په نس دې ورچخ کړي.

پوه شه:- چي مذکور فى المتن زاهر الروايت دي او فقيه ابو جعفر الطحاوي رحمه الله وايي چي پس له وژلو دې په دار کړي، دى وايي چي زوندى په داروال خو يو مثلت دي او بل تعذيب دي د بن آدم بې فائدې

صاحب جوهره وايي چي مذکور فى المتن اصح دي ولي صلب د ژوندي ابلغ په زجر کي د نورو خلګو دي تر صلب بعد الموت، او پر دار دې نه پرېږدي بالاتر درو ورځو، ولي چي د مړي هيئت انساني ډېر زر تغير خوري او بد بوى يې هم زياتېږي او نور زوندي انسانان متاثره کېږي يعني تر دري ورځي وروسته دې د مصلوب قريبانو ته اجازه ورکړي چي دفن يې کړي، او د امام ملك رحمه الله څخه روايت دي چي مقدار د مکث د مصلوب پر دار باندي مفوض ورائه ته د امام دي، او امام احمد رحمه الله وايي چي دومره زمانه دي په دار وي چي تشهير راځي، او امام شافعي رحمه الله د متن د مذهب سره موافق دي، او د امام ابو يو سف رحمه الله څخه روايت دي چي تر هغو پوري دي په دار وي چي توته توته کېږي او په خپله رايله کېږي وهذه رواية شاذة عنه رحمه الله، رمز الحقائق شرح كنز الدقائق، والجوهره شرح القدوري، والفقير الكندهاري.

پوه شه:- چي د فقهاؤ د کتابو سره سم د صلب او يا په اصطلاح د دار کيفيت داسي و چي يو لرګى به يې په مځکه کي محکمه ښخ کړى او يوه اندازه لوړ به يې بل لرګى عرض په دغه لرګي پوري وتاړه او دريم لرګي به يې د هغه دوهم لرګي لوړ وتاړه په اول لرګي پوري او د سر لرګى به د منځ د لرګي څخه دومره لوړ و چي سړى د منځ پر لرګي د ربدلى واى د سر لرګي ته يې لاسونه نه رسېدل، نو بيا به يې مصلوب پر دوهم لرګي ودروى يوه پښه د اول لرګي ويو خواته او بله پښه وبله خوا ته او لاسونه به يې د سر په لرګي پوري تېنګ وروتړل، او بيا به يې په ژوند په چپه تي کي او په نس کي په نېزه ووا‌هه تر هغو پوري چي ساه

د مصلوب ختلای وروسته بې نېزه ځندي راوکښه او مصلوب به يې پر هغو لرګو پرېښوی.

دروېش وايي :- چې په وروستني زمانو کي صورت د صلب قسم قسم بدل سوی دي، ولاباس به لان المقصود القتل حياً فی الهواء بشق البطن بالرمح اعاذ نا الله منه، او دا ټوله سختی چې د قطاع الطريق سره کېږي د پاره د زجر د خلګو د ورته کار څخه.

قال المصنف رحمه الله ﴿فان كان فيهم صبی او مجنون او ذورحم محرم من المقطوع عليه سقط الحد عن الباقين وصار القتل الی الاولياء ان شاؤا قتلوا وان شاؤا عفوا وان باشر القتل واحد منهم اجری القتل علی جماعتهم﴾ او که و په قطاع الطريقو کي کوچنی يعني نابالغه او يا لېونی، او يا ذی رحم محرم لکه پلار يا ورور وغيرهما د هغه چا چې پر هغه لار قطعه سوې ده ساقط دي حد د ټولو قطاع الطريقو څخه، ولي چې قطع الطريق يو جنايت دي چې په ټولو پوري قائم دي، نو چې د بعضو ددوي لکه صبي وغيره سبب د حد نه سو، نو د نورو قطاع الطريقو فعل جزء د علت د حد دي، فلا يثبت الحد بجزء العلة لکه دوه کسه چې يو ځای يو په قصده سره او بل په خطاء يو بل سړی مړ کړي د عامل څخه هم حد ساقط دي لعدم کون فعل الخاطين موجبا للقصاص.

فائده:- په دې کي فرق نسته چې هغه مال ماخوذ شريکي وي د مقطوع عليهم او د ذورحم د يوه د زوي او که نه وي شريکي ولي چې جنايت يو دي فامتناع الحد فی حق الواحد يوجب فی حق الباقين، منح

او اوس چې سياستاً حد ساقط سو چې حق د شرح انور و، بيا حق د قصاص واولياؤ ته د مقتول سپارل کېږي نو که ددوي خوښه وي قطاع الطريق دي ټوله قصاص مړه کړي او که يې خوښه وي عفو دي ورته وکړي او که يې وبخښله حکومت دې سياسةً څه وخت په بند کي وساتي، در، او که قتل د مقتول يو معين سړی د قطاع الطريق کړی و قتل دي پر ټولو قطاع الطريق جاري کړه سي که څه هم مباشر د قتل يو دي، ولي دا قتل د ټولو جزاء المحاربی مع الله وسوله ده نو که هغه مباشر د قتل يو دي لکن هغه نور يې معاونين دي په قطع الطريق کي، امام شافعي رحمه الله قتل يوازي پر مباشر وايي والله اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب.

ابيات

حقيقة لعشق حقيقی " كل صبح وكل اشراقی
تبكی عينی بدمع شتاقی" قد لسعت حية الهوی كبدی
فلا طبيب لها ولا راقی" الا الحبيب الذی شغفت به
فعنده رقيتی وترياقی.

دابيتونه نبي کريم ﷺ د يوه اعرابي څخه واورېدل او هغه يې امر کړي په اعاده د دغو بيتو، كذا فی هامش مكتوبات الشريف للامام الربانی مجدد الالف الثاني رحمه الله، دروېش.

﴿کتاب الاشربة﴾

دا کتاب دي په بيان کي د مشروباتو، يعني المحرمة.

پوهاوی ته:- چي مصنف رحمه الله چي فارغ سو د بيان د سارق الاموال د احکامو څخه شروع يې وکړه په بيان کي د سارق العقل چي مشروبات محرمه دي، کما روی عن علی رضي الله عنه لااشرب ما يسرق عقلی.

فائده:- اشربه جمع د شراب ده او شرب په معنا د مشروب دي هر هغه د چښلو شي ته وايي که حلال وي او که حرام، او شرب په اصطلاح کي د شرع انوري نوم دي د مسکر او حرام مشروب.

اشکاله:- په دي باب کي به ته حرام اشربه وپيژني ماسوا د هغو څخه چي مباح دي، لان اشياء کلها علی الاباحة فی الاصل والتفصيل فی کتب الاصول.

قال المصنف رحمه الله ﴿الاشربة المحرمة اربعة، الخمر وهی عصير العنب اذغلا او اشتد وقذف بالزبد﴾ او حرام مشروبات څلور دي اول په نامه د خمر چي په عربي ژبه کي يادېږي، او هغه شيره د انګورو ده يعني چي انګور چختانې کړي او اوبه يې وباسي او په لوښي کي يې واچوي او په خپله جوش وکړي او سختي سي يعني صالح د اسکار سي او ځګونه راوغورځوي چي هيڅ ځګ پکښې پاته نه سي يعني صافي نري اوبه پاته سي.

پوه شه:- چي دا مذهب دي د امام اعظم رضي الله عنه دی وايي چي غليان ابتداء د شدت ده يعني صلوح د اسکار، او قذف بالزبد يې انتهاء د

شدت ده ولي چي په قذف بالزبد سره باقي اوبه د خيرو څخه خلاصيږي، او ياران او ائمه ثلاثه رحمهم الله قذف بالزبد شرط نه بولي ولي قبل القذف بالزبد يې هم خمر بولي، حاصل د خبري دادي چي غليان او شدت شرط بالاجماع دي وفی القذف اختلاف لکن احتياط په مذهب کي د امام اعظم رضي الله عنه دي يعني ببله قذف دي چښونکي نه په حد کوي، مجمع الانهر، دروېش، نهايه، شرح الوقايه.

فائده:- ماء العنب په شروط مذکوره وو سره اتفاقا خمر دي، او بعض فقهاء وايي چي هر مسکر خمر دي، لقوله عليه السلام کل مسکر حرام کما فی المسلم" وبدليل قوله عليه السلام الخمر من هاتين الشجرتين النخلة والعنبة اخرجه اصحاب الصحاح الستة الا البخاری.

او بل دليل دا وايي چي خمر مشتق د مخامرة څخه دي او مخامره دعقل پټولو ته وايي او هر مسکر عقل پټوي.

والجواب عن الحديث الاول دادي چي په هغه حديث کي يحيی بن معين رحمه الله طعن ويلي دي او دی امام متقن د جرح او تعديل دي حتی چي امام احمد بن حمبل رضي الله عنه وايي هر حديث چي يحيی بن معين يې نه پېژني هغه حديث نه دي، کذا فی العنايه.

او د دوهم حديث جواب دادي چي مقصود په دې حديث کي بيان د حکم دي چي حرمت دي او نقيع التمر په مذکوره شرائطو حرام دي زمور په نېز هم او دا نه مقصود چي بيان د ماهيت د خمر څه دي لاته عليه السلام بعث لبيان الاحکام لالبيان حقائق الاشئاً.

دروېش وايي:- چي دا جواب د اول حديث هم کېدلای سي مع قطع النظر عن جرح يحيی بن معين رضي الله عنه کما لايخفی او هغه دليل چي دوي

ووايه چي خمر مشتق آه د هغه جواب چي وجه تسميه په اتفاق د علماء اطراد نه غواړي يعني شى چي مسمّى سو په يو نامه په سبب د يوې وجهې دا نه ده روا چي بل شي چي داوجه د تسميې پکښې وي هغه دې هم په داغه نامه مسمّى سي مثلا قارورة ښيښې ته وايي وجه تسميه يې داده چي شى قرار پکښې نسي، نو شى په ډېرو نورو لوښو کي هم قرار نسي لکه ګډوه کوزه وغيره نو هغه ته خو څوك قارورە نه وايي وامثاله كثيره، په نحن فيه چي ماء العنب ته په شروط مذكوره وو سره خمر وايي په سبب د مخامري د عقل نو دا نه ده لازمه چي هر شي مخامره د عقل راوستله هغه به هم د خمر په نامه يادېږي، البته حكم چي حرمت دي يو دي ولا ننكره.

قال المصنف رحمه الله ﴿والعصير اذا طبخ حتى ذهب اقل من ثلثيه﴾ او د انګورو اوبه چي په اور ويشول سي چي كم تر دوه ثلثه يې وچي سي.

پوه شه:- چي په هدايه كي وايي چي ايشول د عصير پر دوه قسمه دي يو دادي چي لږ جوش ورکړي چي په عربي ژبه يې باذق بولي، او بل منصف بولي چي نيمايي اوبه يې وچي سي په ايشولو سره، وكل ذالك حرام عندنا، اذا غلا واشتد وقذف بالزبد بالاتفاق، واذا غلا واشتد فقط على الاختلاف كما مر آنفاً دليل د حرمت يې دادي چي باذق او منصف ډېر خوندور شربت دي ددې وجهې فاسقان پر جمع کېږي نو ځكه يې شرب حرام دي دفعاً للفساد، او امام اوزاعي رحمه الله او بعض معتزله وايي چي شرب يې مباح دي، لانه مشروب طيب وليس بخمر.

قال ﴿ونقيع التمر ونقيع الزبيب اذا غلا واشتد ونبيذ التمر والزبيب اذا طبخ كل واحد منهما ادنى طبخى حلال وان اشتد اذا شرب منه ما يغلب على ظنه انه لا يسكره من غير لهو ولا طرب﴾ او نقيع التمر او نقيع د وڅكو د انګورو چي جوش په خپله وكړي او سختي سي يعني صالح د اسكار وګرځي.

پوه شه:- چي نقيع په معنا د منقوع دي د عربو د اصطلاح سره سم دوي خرما يا وڅكي مانبام په اوبو كي خشتوي او سهار يا بله ورځ لاس پكښې ووهي او دا خوږې اوبه چيښي نو دغه اوبه چي جوش وكړي او سختي سوې او قذف بالزبد يې هم كړي و چنبل يې حرام دي، او شريك بن عبد الله وايي چي چنبل يې مباح دي وان قذف بالزبد دى وايي چي خداى ﷻ په ځاى كي د احسان او امتنان پر موږ باندي داسي فرمايلي دي، تخذون منه سكرا ورزقا حسنا ولا امتنان بالحرام" او موږ وايي چي عليه السلام فرمايلي دي، الخمر من هاتين الشجرتين واشار الى الكرمة والنخلة" او بل اجماع د صحابه كرامو ﷺ هم پر حرمت ده بالشروط الثلاثه، او د آيت جواب دادي چي دا امتنان هغه وخت و چي تولە اشربه حتى الخمر مباح وه، هدايه منح دروبش. او نبيذ د خرما او نبيذ د اوڅكو چي پر اور پخې سي هر يو ددوي په لږ پخېدو سره حلال دي دا تولە كه څه هم سختي سي يعني قابل د اسكار وګرځي چي سړى يې وچنبي د دغو مذكوراتو څخه دومره اندازه چي دغه اندازه په غالب ګمان دد چي ما نه مستوي يعني عقل مي مغلوبه نه ګرځي او دا چنبل

يې هم صرف د ساتېري د پاره او د طبيعت د خوشحاله کېدو د پاره نه وي بلکه د ضعف او تداوي د پاره وي.

فائده:- دا مذهب دي د شيخينو او امام محمد رحمه الله وايي چې چيښل د مذکوراتو حرام دي او اختلاف هم په دې کې دي چې دغه چيښل يې د پاره د تقوى فى العبادة وي او يا د پاره د هضم د طعام وي او يا د پاره د تداوي وي او که دغه اغراض نه وي پکښې بلکه لکه عوام الناس چې صرف د طبيعت رستګي او خوشحالي د پاره چيښې هغه حرام بالاجماع دي کذا فى الجوهره.

درويش وايي:- چې مذهب د امام محمد رحمه الله اقرب دي وتقوى ته ولې عوام الناس ته لاره پيدا کېږي په شرب کې ددغو صالح الاسکار شيانو په بهانه د تداوي وغيره، او بل عوام الناس د غالب الظن په معنا نه پوهېږي البته د هر تقوى داره سړي ته چې د اسکار غرض بالکليه نه لري او صرف او صرف د تداوي غرض يې وي مثلاً نو حلال دي د شيخينو په نيز.

قال المصنف رحمه الله ﴿ولا باس بالخليطين﴾ او پروا نسته يعنې حلال دي خليطين.

پوښتنه:- چې خليطين دا بولي چې نقيع التمر او نقيع الزبيب سره ګډ کړي او بيا يې لږ ويشوي او بيا يې پرېږدي حتى چې پخپله بيا جوش وکړي او سخت سي په معنا مذکوره سره لما رويت عائشه رضي الله عنها چې مورږ به يو مټ خرما او يو مټ وڅکي په يوه مشکولا کې سره واچولې او اوبه به مو ورواچولې نو سهار چې به مورږ دا نبيذ جوړ کې او عليه

السلام ته به مو رواړي نو ده مبارك به مانښام چښى، او چې مانښام به مو جوړ کړي سهار به يې چښى

پوښتنه:- په حديث شريف کې راغلي دي چې روايت يې بخاري شريف او نورو د احاديثو کتابو هم کړي دي د جابر رضي الله عنه څخه چې عليه السلام نهي کړې ده د نبيذ التمر او الزبيب جميعاً او داغه رنګه يې نهي کړې ده د نبيذ څخه د لندې خرما چې پخه وي او د غوره خرما يو ځای؟

ځواب:- ابراهيم نخعي رحمه الله وايي چې دا نهي هلته عليه السلام کړې ده چې پر خلګو کاختي او سختي وه تاچې اغنياء په يوه نبيذ سره ګزاره او په بل نبيذ سره د همسايه جائع سره کهمك وکړي ولې چې عليه السلام مکروه کنړلې دا خبره چې يو سړی په نعمت د خداى جل جلاله مورږ وي او همسايه يې وږې وي، او اباحت د خليطينو د نبيذ چې عائشه رضي الله عنها يې روايت کړي پر حال د فراخي د رزق د خلګو محمول دي، غاية البيان، كفايه، درويش،

قال المصنف رحمه الله ﴿ونبيذ العسل والتين والحنطة والشعير والذرة حلال﴾ او نبيذ د عسلو، د انځرو، د غنمو، د اوربشو او د جورو حلال دي، که څه هم په اور يې نه ويشوي ولي د شرابو خاصيت په دغه انبذه وو کې نسته، د شرابو خاصيت دادي چې لږ چښل يې سړی وډېرو چښلو ته ورجلبوي كما قالوا.

پوښتنه:- چې په اوسنۍ زمانه کې هم په بعض ډاکټري دواخانو کې يو قسم بوتلان راوتلي دي چې پر هغو ماء الشعير نوشته دي يعنې د اوربشو اوبه او د دواخانه والا يې بعض هغه کسانو ته ورکوي چې هغه ودوي ته د جماعو د کمزورۍ شکايت وکړي، او هغو کسانو دغه بوتل و

دروښ ته ښکاره کړي او پوښتنه يې وکړه چې ددې شربتو چښل روا دي او که نه، دروښ پوښتنه ځندي وکړه آيا تا تر اوسه دغه بوتل چښلي دي ؟ ده ويل هو دري څلور شپې مي چښلی دي، دروښ ورته وويل چې وروسته تر چښلو تاته څه حالت پيدا سي ده وويل اول خو مي ډېر پرسر درد سي او لکه نشه داسي سم وروسته آهسته آهسته هغه کيفيت کم سي او حيواني شهوت مي په جوش راسي او ډېري د خوند جماعوي د ماينې سره وکړم، دروښ ورته وويل دا چې تا بيان کړې دا خواصي د شرابو دي او ددې چښل وتاته بلکه وهر چا ته حرام بولم، او هغه حديث مبارك په ياد راغلي چې ﷺ فرمايلي دي چې په اخره زمانه کې به شراب خوري په امت مرحومه کې ډېره سي لکن په يوه او بل نامه بې خلګ چښي والله اعلم بالصواب.

قال ﴿وعصير العنب اذا طبخ حتى ذهب ثلثاه حلال وان اشتد﴾ او اوبه د انګورو چې ويشول سي حتى چې دوې حصې يې ولاړې سي يعني يوه حصه يې پاته سي حلال دي که څه هم قابل د سکر وګرځي يعني چې ډېر يې سړی وخوري ولي په حديث کې د ابو موسى اشعري ﷺ چې نسائي يې روايت کړي دي راغلي دي چې ماطلاء چې ددغه مشروب نوم دي هغه چښلې ده چې دوې حصې به يې وچې سوې او يوه حصه به يې پاته وه، او ابو داؤد وايي چې ما پوښتنه وکړه د احمد بن حمبل رحمه الله څخه په باره کې د طلاء چې دوه ثلثه يې تللې وي او يو ثلث يې پاته وي ده راته وويل لاباس به وهذا قول ابي حنيفه رحمه الله وابي يوسف رحمه الله، قال محمد والائمه ثلاثه رحمهم الله ان كل ما اسكر كثيره وقليله

حرام من اى نوع كان لقوله عليه السلام كل مسكر خمر وكل مسكر حرام"

دروښ وايي:- چې دا اختلاف په هغه صورت کې دي چې دغه طلاء وغيره سوى الخمر سړی د قوت بدنې د پاره چښي او تر حد د اسکار کمه وچښي، او که يې د ساتېرې او طبعيت رستګې د پاره چښله هغه حرام بالاجماع دي، والفتوى فى هذا الباب يطلب من كتب فتاوى الفقه الحنفى والفقير ليس اهلا للفتوى.

پوښتنه:- په افغانستان کې خصوصاً په هغو ځايو کې چې انګور پکښې ډېر وي، د سپينو کشمشو د انګورو اوبه ډېري وباسي او بيا يې و ديګ ته واچوي او وښوي تر ډېره پورې چې دوښايې بولي او بعض خلګ په اخيري جوشو کې د هندوانې چډوسکي هم ور اچوي او په هغه دوښا کې يې پاخه کړي، او دادوښا نو دوي ژمي او يخ ته ساتي ولي دوښا طبيعةً ډېره ګرمه ده نو په ژمي غرمه يو اندازه راواخلي او ډوډۍ په پوري کوي او هغه چډسکي هم ورسره خوري او بعض خلګ د غوا غوړي پر اور سره کړه هغه هم پر واچوي او په مزه مزه ډوډۍ پورې خوري آيا دا دوښا حلاله ده او که حرامه؟

ځواب:- دوښا حلاله ده په څو وجهې (۱) شراب او نور مسکرات خو بهېدونکې اوبه وي او دوښا خو لکه خټه مستې داسي ده (۲) د مسکراتو عموما قانون دادي چې لږ يې سړی وچښي باعث پر چښلو د کثير ګرځي، او دوښا چې يوځه سړی وخوري خصوصاً چې ببله ډوډۍ يې وخوري نوره نسي خوړلای بلکه د نور خوړلو څخه يې نفرت کېږي، (۳) دوښا مور پخپله ليدلې او جوړه کړې ده په دوښا کې د انګورو د

اوبو په لسو حصو کي تقريباً يوه حصه پاتېږي (۴) ومسکراتو ته حتی الخمر چي د هندواني چډسکي وروا چوي د اسکار څخه يې باسي او دوښا ته يې عموماً خلګ وراچوي، مسکراتو حتي الخمر ته هيڅ څوک غوړي نه ور اچوي او که يې ور واچوي طبع د مسکر بدلېږي، هذا ما عندی وجواب السوال المذکور والعلم عند الله العزيز العليم.

قال المصنف رحمه الله ﴿ولا باس بالانتباز فی الدباع والحنتم والمزفت والنقير﴾ او پروا نسته په نبيذ جوړولو کي په کډوکي چي په افغانستان کي به په پخوا زمانه کي طالبانو شلومبې وراچولې او ډوډۍ بې پوري خوړله، او قديم عربو په هغه کي شراب جوړول، او داغه رنګه نبيذ پروا نه لري د خاورو په ښېښه يې منګي کي چي عربستان ته به د يمن د خوا راتله او عربو په هغو کي هم شراب جوړوله، او په افغانستان کي دغه منګيان د غوړو اچولو د پاره مخصوص دي او بعض خلګ يې د سرکې د پاره هم استعمالوي، او داغه رنګه پروا نسته د نبيذ په جوړولو کي په مزفت لوښي کي يعنې په شنه يا سره رنګ په قبل الطبخ باطن ورکه کنړه کړې وي چي دغه لوښي په کار خانه مشهور لوښي دي او عربو په دغه لوښو او منګيانو کي شراب جوړوله، او په پاکستان او افغانستان کي د اوبو منګيان دي، او داغه رنګه پروا نسته په نبيذ د لرګي په لوښي کي چي په پخوا زمانه کي به خلګو د لرګي منځ په نجار وکښې بيا به يې د کاشين وغيره پر ډول ظرف جوړ کي او د ډوډۍ وښوروا وغيره به يې پکښي خوړله او عربو په دغه کي شراب جوړوله.

پوښتنه:- چي د دغو د نبيذ څخه آنحضرت ﷺ نهي کړې وه کما فی البخاري وغيره لکن دا نهي هغه وخت وه چي شراب تازه حرام سوي وه او دغه لوښي کما ذکرنا د شرابو لوښي وه او د شرابو تاثير پکښې و نو عليه السلام احطياطاً د دغو لوښو د نبيذ څخه نهي وکړه چي نه بايد د سړي به نيت د نبيذ وي او په سبب د تاثير په دغه لوښو کي هغه نبيذ نه بايد شراب او سکر ګرځيدلي وي، او وروسته چي دغه لوښي د شرابو د مذکوره څلورو نوعو څخه خلګو مات او يا يې وغورځول او ورک سوله نو آنحضرت ﷺ بيرته اجازه د نبيذ په هر لوښي کي وکړه کما فی حواشي البخاري وغيره.

قال المصنف رحمه الله ﴿واذا تخللت الخمر حلت سوءً صارت بنفسها خلا او بشيئ طرح فيها ولا يكره تخليلها﴾ او که شراب سرکه وګرځيدله بيا حلال دي خوا پخپله سرکه سي يعنې د لمر څخه لوښي د شرابو وسايې ته ايشوول کېږي وبالعکس، او يا نژدې د شرابو لوښي ته اور بل کړي او يا په اچولو سره د يو شي لکه اشخار يا مالګه وغيرهما، او د شرابو څخه سرکه جوړول مکروه نه دي وجه عدم کراهت داده چي په سرکه ګرځولو کي د شرابو اصلاح د مال ده چي د نجاست څخه طهارت ته ولاړسي او د حرمت څخه و حل ته نو لکه مردار پوست چي دبغ کړي.

پوښتنه:- امام احمد او ابو داؤد د انس بن مالك رضي الله عنه څخه داسي روايت کړي دي چي ابو طلحه رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي زما سره يتيمان دي چي هغو ته په ميراث کي شراب پاته سوي دي نو

څه په وکړو علیه الصلوة والسلام ورته وفرمایل چي توي يې کړي ابو طلحه ﷺ ورته وویل آیا سرکه نه کړو ځندي جوړه ؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل یا، نو دا حدیث تصریح ده په دې کي چي تخلیل د خمر ناجائز دي؟

ځواب:- اولاً دا حدیث مبارك مضطرب دي چي استدلال نه په کېږي ولي چي هم دغه حدیث په بل روایت کي داسي راغلي دي چي علیه الصلوة والسلام ورته وویل خلتها یعني سرکه ځندي جوړه کړي، وثانیها مع قطع النظر عن الاضطراب دا حدیث محمول دي پر ابتداء د اسلام یعني پر هغه وخت چي شراب تازه حرام سوي وه نو په هغه وخت کي علیه الصلوة والسلام ډېره سختي کوله په باره کي د شرابو زجراً لهم عن العادة المالوفة لهم وهی شرب الخمر کذا فی شروح القدوری.

رویښ وایي:- چي د شرابو او نورو مسکراتو احکام تاسي د اسلام په دین کي واورېدل لکن افسوس دادي چې په بعضو اسلامي ممالکو کي ببله نوم اخیستلو شراب خانې سته او ډېر خلګ يې عادةً چښي بعض خلګ يې بیله تبدیل د نامه چښي او بعض خلګ یو نوم او بل نوم پر ایږدي او چښي يې، بلکه عجیبه خو لا داده چي بعض خلګ چي نفلي حجونه هم کوي او پنځه وخته د جماعت لومنځ هم کوي او په اسلامي لباس ملبوس هم وي څه وخت چي د امریکایانو په مجلس کي شامل سي او امریکایانو ته ښائیسته ښځي رقص کوي دوي هم ورته ناست وي او څه وخت چي د شرابو د بوتلانو تقسیم شروع سي حاجي صاحب هم یو بوتل پر سر راپورته کړي دا ټوله کارونه د امریکایانو د خوشحالۍ د پاره کوي،

حمید الله غزنوي مرحوم وایي" چو بینم دین احمد ﷺ در غریبي " دلم سوزن زچشم خون جاري" وقد اخبر المخبر الصادق ﷺ عن امثال هذه الاحوال حیث قال ﷺ لتتبعن سنن من قبلکم شبراً بشبر قیل الیهود والنصارٰی قال فمن او کما قال ﷺ یعني بل څوك يې مراد دي چي یهود او نصارٰی مراد نه وي، یعني دیگر چه کس مراد است که یهود ونصارٰی مراد نباشد، یعني اور کون لوګ مراد هے جبکه یهود اور نصارٰی مراد نه هون.

رویښ وایي:- چي زه په دې خوشحاله یم چي زما ژوند اوس هم اخیر دي د فتنو، اللهم لاتفتنی فی آخر عمری.

﴿کتاب الصید والذبائح﴾

دا کتاب دي په بیان کي د ښکار او مذبوحه حیواناتو

پوهه نسه:- چي صید په لغت کي ښکار کولو ته وایي یعني مصدر دي او مراد دلته معنا د مفعول ده وهذه التسمیة شائعة فی العربی او ذبائح هم جمعه ده د ذبیحة په معنا د مذبوح دي.

فائده:- شارحان د قدوري وایي چي مناسبت ددې کتاب او د ماقبل کتاب چي کتاب الاشربه وو په ډېرو وجهو کي سته یوه داده چي شراب سبب د خوشحالي د شارب دي، او صید هم سبب د خوشحالي د صائد دي، او بل دا چي اشربه چیښونکي شیان وه او صید خوراکي شی دي والمناسبة بین المشروب والمطعوم ظاهرة، او بل دا چي په مشروباتو کي حلال او حرام وه کما مر بیانه وفی صید ایضا حلال وحرام کما

سيئاتی تفصيله، او كتاب الاشربة يې د مخه كړه ولي چې د حرام څخه ځان ساتنه ډېره مهمه ده او د صيد او ذبائحو مناسبت خو ښكاره دي.

قال المصنف رحمه الله ﴿يجوز الاصطياد بالكلب المعلم والفهد والبازى وسائر الجوارح المعلمة﴾ روا دي ښكار كول په سپي سره چې تعليم يافته وي، او داغه رنګه په يږ سره، او په هر هغه باز سره او په ټولو حيواناتو سره چې ټپي كونكي د صيد وي او تعليم يافته وي لكه شاهين مرغه او څرخك مرغه وغيرها.

فائده:- پوه سه چې اصل دليل د جواز د ښكار كولو چې اصلاً د محرم په بارهٔ كې نازل دي دا آيت دي" أُحل لكم (يعني اې محرمانو) صيد البحر وطعامه متاعالكم وللسيارة وحرم عليكم صيد البر مادمتم حرما، ثم قال جل جلاله واذا حللتم فاصطادوا، وهذا الجزء الآخير يدل على جواز الاصطياد لغير المحرمين، وانما قلنا على الجواز لان الامره للاباحة كما فى كتب التفاسير والاصول.

پوښتنه:- چې ددې ايت د اطلاق څخه داسي معلومېږي چې ښكار د مايوځكل لحمه وما لاياكل دواړه روا دي.

پوښتنه:- د مايوځكل لحمه د ښكار كولو فائده خو ښكاره ده، د ما لاياكل لحمه په ښكار كولو كې څه فائده ده؟

ځواب:- ماسوا د سركوزي څخه د نورو ما لايوځكل لحمه ښله خوراكه څخه نوري فائدې سته مثلاً د ګيدړي د پوست څخه خلګ قيمتي پوستينان جوړوي، او د پرانګ د پوست پوستين خو ښځي ډېر لوي قيمت لري، او د بعض مالا ياكل لحمه په هډوكو سره خلګ ډېري

فائدې اخلي مثالاً د فيل هډوكي ډېر قيمتي دي او اهل صنعت ډېر قيمتي شيان ځندي جوړوي، او د بعض ما لاياكل لحمه د وښتيانو څخه خلګ فائدې اخلي مثلاً د زمري وښتيان د ظاهر او باطن د تپو په ګنډلو كې ډېري فائدې لري وهكذا نوري فائدې.

پوښتنه:- ددې آيت مبارك څخه خو دا نه سوه معلومه چې د كومو حيواناتو غوښې حلالي دي او د كومو دا مرداري دي؟

ځواب:- نعم لكن دا آيت مبارك مجمل دي او احاديث نبويه ﷺ ددې آيت د تفصيل الحلال والحرام متكفل دي، دروښ.

فائده:- د امام ابو يوسف رحمه الله څخه روايت دي چې د جوارحو معلمه وو څخه استثناء دي زمرى او كوږ ولي چې زمري په سبب د علوهمت دده د بل چا دپاره كار نه كوي او كوږ په سبب د خساسة الطبع د بل چا د پاره ښكار نه كوي.

دروښ وايي:- وايي چې اولى په دليل كي د استثناء د دغو دوو درندګانو داوه چې دا دوه درندګان تعليم نه قبلوي په سبب مذكور يعني علوالهمت وخساسة الطبع.

پوښتنه:- چې خنزير په اتفاق الآراء مستثنى دي، صاحب الهدايه يې دليل داوايي چې خنزير نجس العين دي فلا يجوز الانتفاع به ويرد عليه ان بعض الفقهاء يقولون ان الكلب كالخنزير نجس العين فينبغى ان لا يجوز الاصطياد بالكب ايضاً واجاب عنه صاحب المجمع ان النص ورد فى حل الاصطياد بالكلب فلا يقاس هو على الخنزير والله اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب.

قال المصنف رحمه الله ﴿وتعليم الكلب ان يترك الاكل ثلث مرات وتعليم البازى ان يرجع اذا دعوته﴾ او زدکړه د سپي داده چې د ښکار غوښې ونه خوري په تجربه د درو وارو.

دروښ وايي:- چې د سپي پر تعليم قياس دي تعليم د يږ وغيره، او تعليم د باز دادي چې ته يې راوبولې درته راځي دروښ وايي چې پر تعليم د باز قياس دي تعليم د نورو ښکاري مرغانو کما عرفتها.

پوه شه:- چې دغه تعليم الكلب منقول د ابن عباس رضي الله عنه څخه دي او داغه مذهب دي د يارانو رحمهم الله ولي د تعليم نښانې دادي چې سپي تر خپل عادت چې خوراك د ښکار دی تېر سي، او دري واره په نورو خايو د اعتبار وړ مدت ده لکه په خيار الشرط کې د بيع دري ورځې تاکل سوي دي، او داغه هم روايت د امام اعظم رحمه الله څخه دي چې ظاهر الروايت هم داغه دي، او په بعض رواياتو کې د امام اعظم رحمه الله نقل راغلي دي چې مدت د تعليم مفوض دي ورايه ته د معلم لاختلاف التعليم بالاختلاف الاشخاص، يعنې لکه اختلاف د تعليم د طالبانو چې په اختلاف د استاذانو مختلف کېږي كما هو التجربه، او امام شافعي رحمه الله وايي چې تعليم الكلب په عرف پوري د خلګو اړه لري، او د مرغانو لکه باز وغيره په عرف پوري د ښکاريانو اړه لري او ښکاريان د مرغانو تعليم دغه کنړي چې په دعوت د ښکاري راګرځي وهو مروى عن ابن عباس رضي الله عنه ايضاً.

تفريع:- دروښ وايي چې بايد خلګ وپوهېږي چې د تعليم او تعلم څومره برکت دي چې د نجس الحم حيواناتو په لکه سپی په برکت د

تعليم او تعلم يې ښکار حلال سو کې څه هم ښکار وژلی وي کما سيئاتي، نو انسانان چې تعليم او تعلم وکړي بايد په نېز د خداى جل جلاله ورته مرتبه پيدا کړي، لکن لکه څنګه چې د حيواناتو په تعليم او تربيه کې امتحان شرط دي داغه رنګه په تعليم او تعلم کې د انسانانو هم امتحان شرط دي يعنې چې د خپل شهواني او عادي حال څخه به رجوع کوي و دعوت ته د رب جل جلاله او دده د رسول ﷺ د دعوت يعنې تولې خواهشات نفسيه او عاديه به يې تابع د شريعت غرا وي، نو په نېز د خداى جل جلاله او د رسول ﷺ د اعتبار وړ شخص ځندي جوړېږي، مثلا داسي نه ده چې طالب علم دستار بندي وکړه او په محراب کې ودرېدی او پر منبر يې مثلا دعوت او نصيحت شروع کې هغه ورتبې ته د علماء ددين نبوي ﷺ ورسېدي بلکه امتحان شرط دي كما مر.

قال الشاعر " واعظان كين جلوه در محراب ومنبر ميكنند
چون به خلوت مېروند آن كار ديگر ميكنند
وقال الآخر" برزبانت يا صمد پيدا ودر دل يا صنم
اي بباطن كافر وظاهر مسلماني چه سود

الحاصل دادي چې مخالفت د ظاهر او باطن شعبة من شعب النفاق والشرک الخفی كما فی المكتوبات الشريف، وقد دل الاحاديث النبوية ﷺ واقوال الصوفية الكرام رح وعبارات كتب الشريعة المطهرة على ذم مثل هذا العالم.

قال المصنف رحمه الله ﴿فاذا ارسل كلبه المعلم او باذيه او صقره على صيد وذكر اسم الله تعالى عليه عندارساله فاخذ الصيد

وجرحه فمات حل اكله فان اكل منه الكلب او الفهد لم تؤكل وان اكل منه البازی اكل﴾ نو كه ښكاري خپل سپی ايله كړي چي تعليم يافته و، او يايې باز ايله كړي، او يايې څرخك ايله كړي په يو ښكار پسې او ښكاري د الله ﷻ اسم ګرامي پر هغه ښكار كونكي شي باندي په وخت كي د ايله كولو په ښكار پسي نو هغه سپي وغيره ونيوی صيد او تپي يې كي نو صيد مړ سو، روا دي د هغه صيد خوراك او كه خوراك كړي و سپي او يا يې د ښكار څخه هغه صيد نه خوړل كېږي يعنې خوراك يې نه دي روا، ولي ده چي ښكار كړي دي د ځان د پاره يې كړي دي، او صيد خوړل علامه د عدم تعليم ده يعني دغه سپي تعليم يافته د سره نه و، او كه باز خوراك د ښكار څخه وكړي هغه صيد خوړل كېږي يعنې حلال دي ولي چي شرط د تعليم د باز مثلاً عدم اكل نه دي.

پوښتنه:- چي په صحيح حديث كي چي روايت يې شپږو سرو امامانو رحمهم الله د كتابو د صحاحي وو كړي دي د عدي بن حاتم ﷺ څخه دی وايي چي ما پوښتنه وكړه د ﷺ څخه چي زه ايله كړم خپل سپی او د خدای ﷻ نوم پر ذكر كړم يعنې حكم د ښكار يې څه دي؟

آنحضرت ﷺ وفرمايل چي ته خپل سپی ايله كړې او د خدای ﷻ نوم پر ووايه او هغه سپی صيد ونسي او مړ يې كړي نو خوره يې يعنې حلال دي، او كه سپي د صيد څخه خوارك كړي و بيا يې مه خوره ولي سپي دا ښكار د ځان د پاره كړی دي ستا د پاره يې نه دي كړي، عدي ﷺ وايي چي بيا ما پوښتنه ځندي وكړه چي زه د خپل سپي سره بل سپی

پيدا كړم او صيد يې نيولی وي او زه نه يم خبر چي دا صيد زما سپي نيولی دي او كه هغه بل پردي سپي نيولی دي، نو ﷺ راته وويل چي دغه صيد ته مه خوره ولي تاخو د خدای ﷻ نوم پر خپل سپي ويلی دي پر هغه بل سپي دي نه دي ويلی.

قال ﴿وان ادرك المرسل الصيد حياً وجب عليه ان يذكيه وان ترك تزكيته حتى مات لم يؤكل﴾ او كه پيدا كړی مرسل د سپي وغيره هغه صيد ژوندی نو واجب ده پر ده چي ذبحه كوي به يې، او كه يې ذبحه پرې نه ښوله تردې چي صيد مړ سو نه خوړل كېږي يعنې مردار دي ولي اصل خو په حيواناتو كي ذبحه ده، او سپی، باز او داغه رنګه غشی د جهت څخه د عدم قدرت پر اصل خلف دي د اصل څخه نو چي سړی پر اصل قادر سي نو خلف لغوه دي، لكه سړی چي تيمم ووهي او بيا پر اوبو قادر سي.

پوښتنه:- چي په جوهره كي وايي چي حكم د عدم اكل هلته دي چي دی يې پر ذبحه قادر سي، او كه يې قدرت پر ذبحه نه و او په ښكار كي بالاتر ژوند د مذبوح و هم نه خوړل كېږي في ظاهر الرواية، وينبغي تفصيل ددې مسئلې پر دې ډول كه عدم قدرت پر ذبحه د جهت څخه د عدم د چړې وو مردار دي، او كه يې عدم قدرت په سبب د تنګي د وخت و هم مردار دي زمونږ په نېز ولي چي صيد د سړي لاس ته ورسي د صيدية څخه وځي نو حكم د ذبح الاضطرار نه پاتېږي، جوهره دروېش وعقايه.

قال المصنف رحمه الله ﴿وان خنقه الكلب ولم يجرحه لم يؤكل﴾ او كه صيد سپي خفه كي او تپي كړي يې نه و خوراك يې حرام دي ولي په ظاهر الرواية كي جرح شرط د خورك د صيد ده.

پوه شه:- چې دظاهر روايۀ مقتضٰى داده كه سپي د صيد پښې ورماتي كړي او مړ سو هم نه خوړل كېږي، او د امام اعظم رحمه الله دا روايتهم راغلي دي چې پښې يې ورماتي كړي هغه خوړل كېږي يعنې مردار نه دي ولي پښې ماتول خو جراحت باطني دي فهو كالجراحة الظاهرة، او دليل د ظاهر الروايت دادي چې معتبر هغه تپ دي چې سبب وګرځي د وتو د وينو د پښو په ماتولو سره خو وينه نه وځي فهو كالخنق، هدايه.

قال ﴿ولو شاركه الكلب غير معلم اوكلب مجوسى او كلب لم يذكر اسم الله عليه لم يؤكل﴾ او كه شريك سو د كلب معلم سره په نيولو كي د صيد او په جرحه كي بل سپى چې معلم نه و، او يا د مجوسي سپى، او يا داسي سپى چې پر هغه ذكر داسم الله نه و ويل سوى يعنې په قصد سره ولي كه په هېره ذكر نه وي سوي هغه حلال دي نو په درو سره صورتو كي هغه ښكار نه خوړل كېږي يعنې مردار دي لما مر فى حديث عدى بن حاتم رضي الله عنه وقد مر آنفاً.

قال المصنف رحمه الله ﴿واذا رمى الرجل سهماً فسمى الله عند الرمى اكل ما اصابه اذا جرحه السهم فمات﴾ او كه ووشتى يو سړي غشي يعنې صيد يې ووشتي او د خداى جل جلاله نوم يې ذكر كړي په وخت كي د ويشتلو خوړل كېږي هغه صيد چې دا غشى پكښې منښتى

وي او غشي هم دا صيد تپي كړي وي او بيا مړ سوي وي ولي چې رامي په وشتلو د غشي ذابح كنړل كيږي ولي چې غشي خو آله ده نو ځكه نوم د خداى جل جلاله په وخت كي د وشتلو د غشي غواړي.

پوه شه:- چې تول بدن د ښكار محل دي ددغي نوعي د حلالېدو لكن جرح شرط ده كما مر كذا فى الهدايه.

قال ﴿وان ادركه حياً ذكاه فان ترك تزكيته لم يؤكل﴾ او كه رامي ورورسېدى او صيد ژوندى و حلال دې كړي او كه يې ذبح پرېښول بيا يې غوښې نه خوړل كېږي، دليل دادي چې اصل خو په حيواناتو كي ذبح اختياري ده او وشتل د غشي ذبح اضطراري ده نو تر هغو چې سړى پر اصل قادر وي نو يدل د هغه چې ذبح اضطراري ده بې اعتباره ده كما مر سابقاً ايضاً فى صيد الكلب فتذكره.

قال ﴿واذا وقع السهم بالصيد فتحامل حتٰى غاب عنه ولم يزل فى طلبه حتٰى اصابه ميتاً اكل فان قعد عن طلبه ثم اصابه ميتاً لم يؤكل﴾ او كه چېرې ولګېدي غشي پر صيد لكه هوسى مثلاً او هغه صيد برداشت د غشي وكړي يعنې د غشي د تكليف او تپ سره يې ميدان كړه ولاړي حتٰى چې د ښكاري څخه غائب سو، او ښكاري يې همېشه په طلب كي و حيټى چې ښكار يې پيدا كړي مړ نو خوړل كېږي يعنې حلال دي، او كه چېرې ښكاري كښېنستى د طلبه د ښكار او بيا يې پيدا كړي مړ نه خوړل كېږي يعنې مردار دي، ددې مسئلې دليل دادي چې ښكار خو غالبا په دښتو او په ځنګلو كي كېږي او هورې ښكار ځان پټولاى سي نو په سبب د دغه ضرورت چې

ښکاري د طلبه څخه نه کښېنې ګويا دا صيد دده په حضور کې مړ سو لئلا ينسد باب الاصطياد والجرح فی‌الدين مرفوع کذا فی شروح القدوری.

قال ﴿وان رمٰی صيداً فوقع فی المآء لم يؤکل وکذالك ان وقع علی سطح او جبل ثم تردّٰی منه علی الارض لم يؤکل وان وقع علی الارض ابتداءً اکل﴾ او که ووشتې سړې صيد او هغه په اوبو کې ولوېدی نه خوړل کېږي ولي چې احتمال ددې سته چې د غرقه د اوبو دي مړ سوې وي او که صيد پر بام ومښتی او يا پر غره او بيا د بامه يا د غره څخه راکښل سو او پر مځکه ولګېدي نه خوړل کېږي ولي چې احتمال ددې سته چې د سقوط د بامه او يا د غره څخه دي سبب د مرګ دده ګرځېدلی وي او که ابداءً پر مځکه ولګېدی او مړ سو خوړل کېږي ولي چې د وقوع علی الارض څخه خو چاره نسه نو دا عذر او ضرورت دي، او د وقوع علی السطح او الجبل او فی الماء څخه خو چاره کېږي والفرق ظاهر.

فائده:- کفايه والا وايي چې احکام مذکوره د عدم اکل هلته دي چې تپ مهلك فی الحاله نه وي يعني تر يو څه زمانې پورې د ژوند اميد وښکار ته وي او که جرحه مهلك فی الحاله وه او ژوند د صيد دومره قدر باقي و لکه د مذبوح شي پس له ذبحه څخه او بيا په اوبو کې ولوېدي او يا پر بام او يا پر غره او بيا مځکې ته راکښل سو هغه تاوان نه لري بلکه حلال دي خوړل کېږي.

قال المصنف رحمه الله ﴿وما اصاب المعراض بعرضه لم يؤکل وان جرحه﴾ او هغه صيد چې معراض غشی ورورسېږي په پساره سره هغه نه خوړل کېږي يعنې مردار دي او که يې صيد تېپې کړی و يعني سر د معراض غشي چې تېره وي په صيد کې منښتی و او تېپې کړي يې و هغه خوړل کېږي.

پوهه شه:- چې معراض هغه غشی بولي چې طرفونه يې تېره نه وي او صرف سر يې تېره وي، دليل ددې مسئلې هغه حديث دي د بخاري چې عدي بن حاتم رضی الله عنه وايي چې ما پوښتنه وکړه د عليه السلام څخه په باره کې د معراض غشي د ښکار ده ﷺ وفرمايل" اذا اصاب بحده فکل واذا اصاب بعرضه فلا تاکل.

قال ﴿ولا يؤکل ما اصابه البندقة اذا مات منها﴾ او نه خوړل کېږي هغه صيد چې ورورسېږي مرد که چې کوچنيان يې د خاورو څخه جوړوي او چوغکې په ولي چې د بندقه د لګېدو په سبب مړه سي يعنې که ښکار ژوندي و او صائد حلال کړي بيا خوړل کېږي دليل د اولي مسئلې دادي چې نبدقه ماتونکي د هډ ده تېپې کونکي نه ده.

تفريع:- که يې ښکار ووشتي په درنه ډبره که څه يې هم تېپې کړي مردار دي نه خوړل کېږي ولي چې احتمال ددې سته چې صيد دي په سبب د نقل مړ سوی وي نه د جرحه له کبله، او که ډبره سپکه وه او تېره وه چې تېر وه اکل د صيد يې روا دي.

قال صاحب الهدايه:- والاصل فی هذه المسائل ان الموت اذا کان مضافاً الی الجرح بيقين کان الصيد حلالاً واذا کان مضافاً الی الثقل

بيقين كان حراماً وان وقع الشك ولا يدرى انه مات بالجرح او بالثقل كان حراماً احتياطاً انتهى.

تفريع:- كه د جاغوري توپك د كارتوس سر ورتېره كړي چي جرحه په كېږي هغه حكم د معراض غشي لري، او كه يې د بارودو د اور په سبب ښكار تېي كړي هغه مردار دي لكه د بندقي په سبب چي صيد تېي سي او بيا مړ سي، دروېش.

قال ﴿واذا رمى صيداً فقطع عضواً منه اكل الصيد ولم يؤكل العضو﴾ او كه ښكاري ووشتي يو صيد مثلاً د غره پسه يا هوسې يې ووشته نو دې رمي پرې كي يو اندام د صيد مثلاً يو وړون، نو ښكار يعنې صيد خوړل كېږي او هغه جلا كړه سوى اندام يې نه خوړل كېږي، لما فى حديث ابى داؤد والترمذي عن ابى واقد الليثى ﷺ قال عليه السلام ماقطع من البهيمة وهى حية فهو ميتة.

قال ﴿واذا قطعه اثلاثاً والاكثر ممايلى العجز اكل الجميع، وان كان الاكثر ممايلى الراس اكل الاكثر﴾ او كه يې پرې كي صيد درې برخي او ډېره خوا يې د كوناتو خوا وه نو تولە صيد خوړل كېږي يعنې هغه حصه چي جلا كړه سوې او هغه حصه چي پاته ده ولي چي وروسته تر داغه تپ د حيوان ژوندي پاته كېده ممكن نه دي په قدر د مذبوح هم نو تر هغه حديث چي دا اوس تېر سو نه لاندي كېږي ولي په حديث مذكوره كي داسي ويل سوي دي وهى حية، او كه يې اكثره برخه يعنې دوه ثلثه ذ سر خوا ته وه يو ثلث ځندي جلا سوى و نو اكثره دې وخوړل سي او هغه يو ثلث چي جلا سو هغه نه خوړل كېږي ولي چي ژوند

د سر د خوا په دوه ثلثه كي ممكن دي بالاتر ژوند د مذبوع حيوان كما يدل عليه التجربه نو تر مذكوره حديث لاندي كېږي، مجمع، دروېش.

قال المصنف رحمه الله ﴿ولا يؤكل صيد المجوسى والمرتد والوثنى﴾ او نه خوړل كېږي غوښي د ښكار د آتش فرسته، او نه د مرتد د ښكار غوښي غوړل كېږي او نه د بت فرسته د ښكار خوښي خوړل كېږي ولي چي ښكار خو ضبحه اضطراري ده د نوموړو كسانو خو ذبحه اختياري هم مرداره ده كما سيئاتى.

قال ﴿ومن رمى صيداً فاصابه ولم يثخنه ولم يخرجه عن الامتناع فرماه آخر فقتله فهو للثانى ويؤكل﴾ او كه په غشي ووشتي صيد نو غشى په صيد كي ومښتى لكن صيد دا جراحت د تكه څخه سست كړى نه و او نه يې و ايستلئ د طاقت څخه د ځان خوندي كولو د صائد څخه بيا بل سړي دا صيد ووشتي او مړ يې كړي نو دا صيد د دوهم سړي دي او غوښي يې خوړل كېږي، دليل ددې مسئلې دادي چي صيد خو د اول رامي څخه ځان خلاص كړي نو دا دوهم رامي اخيستونكي دي د صيد، وروى الزيلعي رحمه الله عليه. عن ابى هريره ﷺ قال قال رسول الله ﷺ الصيدلمن اخذه لالمن اثاره" نو اول رامي صيد كويا ده ځايه ولاړ كړي، او دوهم رامي يې آخذ دي فهو له، او غوښي يې په دې خوړل كېږي چي دغه صيد كويا صيد مستقل دي د دوهم رامي.

قال المصنف رحمه الله ﴿وان كان الاول اثخنه فرماه الثانى فقتله فهو للاول ولم يوكل﴾ او كه اول رامي صيد سست كړي و يعنې د ځان ساتلو څخه يې استلى و بيا دوهم رامي ووشتى او مړ يې كړي نو دا

ښکار د اول رامي دي او غوښي يې نه خوړل کېږي ولي چي اول رامي دا صيد د ښکار کولو څخه ايستلی دي نو دی حکماً آخذ د ښکار دي، وقد مر ان الصيد لمن آخذه" او غوښي چي يې نه خوړل کېږي ددې کبله چي صيد چي د صيديت څخه ووتی نو حکم د اهلي حيوان لري چي ذبحه اختياري غواړي، نو دوهم رامي چي مړ کي نو داسي مثال يې دي لکه څوك چي د چا پسه وولي او مړ يې کړي نو هغه حرام او مردار ذي نو دا موجوده حيوان هم مردار دي فلا يؤكل لحمه.

قال ﴿والثانی ضامن لقيمته للاول غير ما نقصته جراحته﴾ او دوهم رامي ضامن دي د صيد د قيمت د اول رامي د پاره ماسوا د هغه څخه چي تپ د اول رامي و صيد ته تاوان رسولی دي يعني بعض عادل خلك دي داغسي مجروح په جرحه د اول رامي قيمت کړي هر څه چي قيمت وتاكل سو رامي ثاني به يې اول رامي ته ورکړي، ووجه الضمان ان الرامی الثانی تلف صيداً مملوكا للرامی الاول كما لو رمی شخص شاة شخص آخر وقتله وغاية الفرق ان فی صورة رمی الشاة يلزم علی الرامی ضمان الشاة الصحيحة وفی ما نحن فيه ضمان الصيد المجروحة.

قال المصنف رحمه الله ﴿ويجوز اصطياد مايؤكل لحمه من الحيوان وما لا يؤكل﴾ او روا دي ښکار کول د هغه حيوان چي غوښي يې خوړل کېږي لکه د غره پسه يا هوسي وغيرهما، او د هغه حيوان ښکار هم روا دي چي غوښي يې نه خوړل کېږي لکه لېوه پڑانګ وغيرهما ولي دا آيت واذا حللتم فاصطادوا عام دي او صيد هم په

ماكول اللحم پوري خاص نه دي ولي په غير ماكول اللحم سوي د غوښو څخه نوري فائدې سته لکه فائده په پوست سره د ګيدړي او د پڑانګ کما مر، او يا په وښتيانو سره کما مر ايضاً او يا په هډوکو سره د هغه کما فی الفيل، او يه په بنکو سره لکه بابنه تپوس وغيرهما چي په پنکو يې خلګ بالښتان ډکوي، او يا د پاره د دفعي د ضرر د هغه لکه په صورت کي د حملې پر سړي باندي، قال صاحب الهدايه وكل ذالك مشروع.

قال ﴿وذبيحة المسلم والكتابی حلال ولا يؤكل ذبيحة المرتد والمجوسی والوثنی والمحرم﴾

لغوي بحث:- چي ذبيحه په دې عباراتو کي په معنا د مذبوحه ده او حلال کړه سوي حيوان ته وايي نو د مسلمان او اهل کتابو چي يهود او نصاری دي ذبيحه يې حلاله ده يعني هغه حيوان چي ماكول اللحم وي.

لغوي بحث:- چي ذبحه شرط ده د هر ماكول اللحم حيوان د پاره لقوله تعالی الا ماذكيتم" يعني په دې آيت کي حرمت د عليكم الميتة والدم آه نو خدای ﷻ د محرم څخه ماذكيتم استصناء کړې ده او استثناء د حرمت څخه حل دي او ذبيحه د مسلمان چي حلاله ده لقوله تعالی ﴿الا ماذكيتم﴾ چي مخاطب مسلمانان دي، او د کتابي ذبيحه چي حلاله ده لقوله تعالی ﴿وطعام الذين اوتوا الكتاب حل لكم﴾ ولي چي مراد د طعام څخه دلته حلال کړی شی دي د اهل کتابو ولي چي غير د مذبوحې ډوډۍ دال وغيره د هر کافر حلال دي مسلمان ته په اتفاق سره لكن شرط د حل د کتابي دادي چي په وخت کي د ذبح په يوازي نوم د خدای ﷻ پر

وايي که څه هم ددوي په ژبه وي، نو که چېري کتابي په وخت کي د ذبح يوازي د مسيح عليه السلام او يا د عزير عليه السلام او يا دا دوه نومان د خداى ﷻ د نامه سره ملګري کړي په وخت کي د ذبحي نو ذبيحه يې مرداره ده اجماعاً.

په مستصفى کي وايي چي که داسي نصراني و چي عيسىٰ عليه السلام يې خداى ﷻ بالى بيا ذبحه مرداره ده حکم د مجوسي لري.

پوښته:- بعض مسلمانان د عليه السلام د پاره يا د يو پير د پاره که ژوندى وي او که مړ يو حيوان ذبحه کوي آيا دا ذبحه حلاله ده او که څرنګه چي وهابيان دا سړى مشرک بولي او ذبيحه يې مرداره بولي ؟

ځواب:- هر مسلمان الاماشذ وندر په خوله تر ذبحي د مخه داسي وايي چي دا پسه مثلاً دعليه السلام مثلاً د روح د خوشحالي د پاره حلاله وم يعني چي ثواب دې ده ته ورسېږي او دده روح دي په خوشحاله سي وروسته چي حيوان د ذبح ځاى ته ورولي نو دى وايي بسم الله، الله اکبر فقط او چاړه يې پر غاړه ورتېره کړي او حلال يې کړي نو په داسي ذبيحه کي د حرمت ځاى کوم دي بلکه حلال مطلق دي، البته بعض جاهلان په پښتنو کي سته چي هغه په وخت کي د ذبحي د خداى ﷻ د نامه سره بل نوم هم ملګري کوي د هغو ذبيحه مرداره ده شايد د وهابيانو به هم دغسي اشخاص مراد وي، او نه خوړل کېږي يعني مرداره ده ذبيحه د مرتد يعني چي د دين څخه د اسلام وتلى وي په هر دين چي سوى وي العياذ بالله ولي چي مرتد بل دين نه لري که څه هم دى کتابيت ته تللى وي ولي چي هر هغه دين مرتد ته قرار نه ورکول کېږي بلکه شريعت مبارک يې حکم د قتل کوي، او که کتابي مثلاً

نصارا و دين ته د يهوديانو ورواوښتى شريعت پاك دي پر هغه پرېږدي کار دي نه په لري نو ذبيحه يې حلاله ده ولي اوس هم کتابي دي او داغه رنګه نه خوړل کېږي ذبيحه د مجوسي يعنې اور پرسته او نه د بت پرستانو چي په اصطلاح يې مور هنداون بولو، او نه خوړل کېږي ذبيحه د محرم لکن په حق د ښکار نه د پسه مثلاً لان الصيد المحرم غير مشروع.

پوښته:- چي دا د حلال سړي ذبيحه په حق کي د صيد الحرم هم داغه حکم لري چي غوښي يې نه خوړل کېږي کذا فى شروح الكنز.

فائده:- چي ذابح په ذبحه پوهېږي او په تسميه اسم الله هم پوهېږي او يه يادِ يې وي او په وخت د ذبحي يې ووايي که نر وي او که ښځه او که نابالغ وي ذبيحه يې حلاله ده، جوهره دروبش.

قال المصنف رحمه الله ﴿وان ترک الذابح التسمية عمداً فذبيحة ميتة لا يوكل وان تركها ناسياً اكل﴾ او که چېري پربښول ذابح نوم د خداى ﷻ په وخت کي د ذبح په قصد سره نو ذبيحه مرداره ده نه خوړل کېږي او که يې په هېره پربښول خوړل کېږي.

فائده:- د تسميه مشهور او معمول صورت دادي" بسم الله والله اکبر، او امام حلواني رحمه الله وايي چي لفظ يې دادي بسم الله الله اکبر يعنې بغير د واو څخه او که ذابح داسي وويله بسم الله الرحمٰن الرحيم فهو احسن.

پوښته:- چي شرط د تسميه ذکر مجرد دي د خداى ﷻ لکه چي د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دي" جردوا التسمية، حتىٰ که يو

ذابح په نيت د تسميه داسي وويله سبحان الله يا الحمد لله يا لااله الا الله هم كفايت كوي ولي چي دى مامور په ذكر الهي دي چي دال پر تعظيم دي، جوهره، نو كه يې سبحان الله په ځاى كي د عجب وويل يايي الحمد لله د پاره د شكر ديو نعمت وويل بيا كفايت نه كوي دروبش، قال الله تبارك وتعالى ولاتاكلوا ممالم يذكر اسم الله عليه وانه لفسق ورد فى حق التسمية على الذبيحة، او امام شافعي رحمة الله عليه وايي چي متروك التسمية عمداً مردار نه دي" لقوله عليه السلام المسلم يذبح على اسم الله سمى او لم يسم، زمونږ دليل آيت مذكوره دي او بل دليل دادي چي تر امام شافعي رحمة الله عليه د مخه صحابه رضي الله عنهم او تابعين رحمهم الله ټول پردې باندي متفق وه چي متروك التسمية عمداً مردار دي، او په متروك التسمية ناسياً كي زمونږ دليل دادي د رسول الله ﷺ څخه چا پوښتنه وكړه په باره كي د هغه چا چي تسميه يې په وخت كي د ذبح هېره سي، نو عليه السلام وفرمايل اسم الله تعالى على لسان كل مسلم.

دروبش وايي:- چي شايد دغه هېره به محمل د هغه حديث وي چي امام شافعي رحمة الله عليه دليل په وويه په متروك التسمية عمداً كي، ويوئيده ما ورد فى الحديث النبوى ﷺ الصحيح رفع عن امتى الخطاء والنسيان.

پوه سه:- چي لاتوكل په متن كي تاكيد د لفظ د ميتة ده.

قال ﴿والذبح فى الحلق واللبة﴾ او ذبحه په حلق كي ده يعني د غير د اوښ او په لبت يعني لاندي تر حلق د اوښ د، نو كه يې په ذبح اختياري كي لږ تر دغو دوو ځايو او يا كښته تر هغو حلال كړي نو حرامه ده لانه ذبح فى غير المذبح كذا فى الواقعات.

قال المصنف رحمة الله عليه ﴿والعروق التى تقطع فى الذكاة اربعة الحلقوم والمرى والودجان﴾ او هغه رګونه چي پرې كېده غواړي په حلالېدو كي دادي، حلقوم چي په پښتو كي يې كرغنكه بولي چي په هغه ساه كښل كېږي، او بل مري دي چي په پښتو كي سره غاړه ورته وايي د هغې په ذريعه طعام ومعدې ته ننوزي، او دوه د ودجانو په نامه يادېږي چي په پښتو يې ښارګونه بولي.

قال ﴿فان قطعها حل الاكل وان قطع اكثرها فكذالك عند ابى حنيفة رحمة الله عليه وقالا رحمهم الله لابد من قطع الحلقوم والمرى واحد الودجين﴾ او كه يې ټوله مذكوره رګونه ورپرې كړه روا دي خوراك د مذبوحې يعنې باجماع الامام الاعظم رحمة الله عليه والصاحبين، ولي چي كامل ذبحه په خپل محل كي وسوه، او كه يې اكثره رګونه چي درې دي هر درې چي وي هم يې حكم حل الاكل دي ولي چي اكثره لره حكم د كل دي په نېز د امام اعظم رحمة الله عليه، او ياران وايي چي چاره نسته يعنې په قطعه كي د اكثر د قطع څخه د حلقوم او مري او يو د ودجينو څخه، دوي وايي چي حقيقت د حلقوم او فائده د هغې مخالف د حقيقت او فائدې څخه د مري مخالفه ده كما مر، فلا بد من قطعهما، او د ودجينو ماهيت او فائده يوه ده چي بهبدل د وينو دي فيكفى واحد منهما معها، او امام شافعي رحمة الله عليه وايي چي قطع د ودجينو شرط نه ده، او امام مالك رحمة الله عليه وايي چي قطع د ټولو شرط ده.

فائده:- په هدايه كي وايي چي مشهور په كتابو كي د احنافو داده چي دا مذكور په متن كي د قدوري قول د ابو يوسف رحمة الله عليه دي يوازي،

او امام محمد رحمه الله ورسره ملګری کوي روايت د قدوري دی فقط کذافی مجمع الانهر.

فائده:- ودجان دوه لويان رګونه دي يو د غاړي پر يوه طرف دي او بل پر بل طرف دي او حلقوم او مري په منځ کي ددوي دي.

قال المصنف رحمه الله ﴿ويجوز الذبح بالليطة والمروة وكل شيئ انهر الدم الاالسن القائم والظفير القائم﴾ او روا ده ذبح په پوست د نل او په مروه چي سپينه ډبره ده چي په هغه سره عرب پسونه وغيره حلالوي لکه چاړه.

پوه سه:- چي تخصيص د سپيني ډبري بناء پر عادت دي ورنه توره ډبره چي تېره وي هم ذبحه په روا ده در، او هغه شی چي وينه بهېولای سي لکه د لرګي تېره تيږه مګر نه ده روا ذبحه په غابنس سره چي پر خپل ځای کي ولاړ وي او نه په نوك چي په ګوته پوري وي.

پوه سه:- چي د قيد د قائم فی السن والظفر کي فائده داده چي سن يا ظفر چي د ځايه جلا سي او وينه په بهېدلی سي ذبح يې روا ده ولا باس باکله، جوهره، او امام شافعي رحمه الله وايي چي په سن او ظفر سره مطلقا ذبح نه ده روا او مذبوح يې مردار دي لقوله عليه السلام ليس السن والظفر، قلنا هو محمول علی القائم فی موضعه واما القائم فلا يجوز به الذبح اجماعا.

قال ﴿ويستحب ان يحد الذابح شفرة﴾ او مستحب ده چي ذابح چاړه ښه تېره کړي لکن د مخه تر پرې استو د حيوان د پاره د استرحت د مذبوح او په دي باره کي حديث مبارك هم موجود دي په روايت د اوس

بن شداد رضي الله عنه چي ببله بخاري ټولو اصحابو رضي الله عنهم د کتب سته وو روايت کړي دي کذا فی نصف الرايه.

فائده:- مستحب ده چي حيوان مذبوح دي په ډېره نرمي سره پرې باسي او دري پښې دي فقط وروتړي او مخ دې د قبلې وخوا ته کړي، بعض جاهلان د پسه مخ د قبلې څخه واړوي او غاړه يې د قبلې وخوا ته کړي، او چابك چابك دي چاړه پر غاړه د مذبوح ورتېره کړي او دا مکروه دي مثلا چي پسه پرې باسي او وروسته چاړه تېره کوي لورود النهی عن ذالك فی الحديث النبوي صلى الله عليه وسلم.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن بلغ السكين النخاع او قطع الراس كره له ذالك وتوكل ذبيحته﴾ او که ذابح چاړه ورسوله وحرام مغز ته د پسه مثلا او يا د ذبح په وخت کي سر ځندي پرې کړي دا فعل د ذابح خو مکروه دي ولي خلاف د مشروع دي لکن ذبيحه يې مردار نه ده بلکه خوړل کېږي ولي په حديث شريف کي راغلي دي چي عليه السلام نهي وکړې ان تنخع الشاة وقت الذبح.

فائده:- داغه رنګه مکره ده چي د پسه سر وروېښې تاچي مذبح يې معلومه سي، او داغه رنګه مکروه ده چي د پسه مغزی ورماتوي د مخه تر ساه ختلو لکه بعض سنګ دله قصابان چي يې کوي ولي چي په دې ټولو کارو کي او داغه رنګه د سر په پرې کېدو کي تعذيب د حيوان مذبوح دي ببله فائدې وهو منهی عنه هكذا فی الهدايه، او غوشي چي يې خوړل کېږي لحصول المقصود وهو انهار الدم المسفوع فافهم دروښ.

قال:- ﴿وان ذبح الشاة من قفاه فان بقيت حية حتى قطع العروق جاز ويكره﴾ او كه يو چا حلال كړي پسه د څټ د خوا څخه نوكه دا پسه تر هغه وخته پوري ژوندى و چي رګونه يې پرې كېده ذبيحه يې روا ده ولي چي د پسه په ذبح شرعي سره چي قطع د رګو ده وسوه لكن داسي فعل د ذابح مكروه دي ولي چي ذبيحه خلاف السنت ده.

قال المصنف :- ﴿وان ماتت قبل قطع العروق لم يؤكل﴾ او كه پسه مړ سو تر قطع د عروقو د مخه نو نه خوړل كېږي ولي چي مرګ د پسه د مخه تر ذكات شرعي منځ ته راغلي كذا فى الهدايه.

قال ﴿وما استانس من الصيد فذكاته الذبح وما توحش من النعم فذكاته العقر والجرح﴾ او هغه صيد چي د انسانانو سره الفت پيدا كړي او وحشي ګرت يې ولاړ سي لكه كورنۍ هوسۍ يا كوتره وغېره نو د هغه حلالوالى ذبح ده، او هغه كورنۍ حيوان لكه اوښ غويي وغيره چي وحشت وكړي يعنې د خلګو څخه ځغلي ځان په لاس نه وركوي نو د هغه حلالى د عقر دي يعني پر پښو دې په توره ووهي او په جرحه ده يعني په غشي دې وولي ولي په سبب د عدم توحش په اول صورت كي ذبح اختياري ممكنه ده نو ذبحه اضطراري نه ده روا، او په سبب د وحشي توب د حيوان اهلي ذبحه اختياري نسوه ممكنه نو ذبحه اضطراري يې په ځاى كي درېږي، هدايه دروېش.

قال ﴿والمستحب فى الابل النحر وان ذبحها جاز ويكره والمتسحب فى البقر والشاة الذبح فان نحرهما جاز ويكره﴾ او مستحب ده په اوښ كي نحر چي په لبت كي يې حلالول دي، او كه

يې ذبح كړي يعني په حلق كې حلال كړي روا خو دى لكن دا فعل مكروه دي لكونه خلافا ماهو السنة او مستحب په غوايي او پسه وغيره كي ذبح ده او كه يې په نحر حلال كړي روا خو دي لكن دا فعل مكروه دي لكونه مخالفا للسنة واشارة القرآن قال الله تعالى فصل لربك وانحر، وقد قيل فى تاويله وانحر الابل، و قال الله تعالى فى قصة ابراهيم واسمٰعيل عليهم السلام حين اراد ذبيحة وفديناه بذبح عظيم والمذبوح كان فى الواقع المذكورة الغنم، وقال الله فى قصة قتيل فى بنى اسرائيل فى حيوة موسٰى عليه السلام ان الله يامركم ان تذبوحوا بقرة، او بل دليل دادي چي په حلالېدو كي چي پر حيوان هر قسم حلالېده آسانه وه هغه مستحب دي، او اسانه د اوښ د پاره نحر دي او د غوايي او د پسه د پاره اسانه ذبحه ده، او بل دليل دادي چي د اوښ ركونه په منحر كي سره جمع دي او هلته غوښي هم نسته نو پرې كول د تولو عروقو په منحر كي اسانه كار دي، او د غوايي او پسه عروق تولې په حلق كي سره يو ځاى دي نو د تولو پرې كول په مذبح كي اسانه دي.

قال ﴿ومن نحر ناقة او ذبح بقرة او شاة فوجد فى بطنها جنينا ميتا لم يؤكل اشعر او لم يشعر﴾ او كه چا حلاله كړه اوښه او يا غوا او يا مېږه نو په نس كي د هغې مذبوحې جونګى يا ګلګى او يا وړى وو مړ د هغه جنين غوښي نه خوړل كېږي كه وېښتيان باندي وي او كه نه وي.

فائده:- دا مذهب د امام اعظم، امام زفر او امام حسن بن زياد رحمهم الله دي، دوي وايي چي جنين حيوان مستقل دي نو ذبحه مستقله غواړي، او ياران وايي كه د جنين اعضاء پوره وه حلال دي يعني

خورل کېږي لقوله عليه السلام ذكات الجنين ذكاة امه" وبه قالت الائمة الثلثة وزيادة تفصيل الدلائل والجوابات فى الهداية والجوهرة والبحر الرائق ان شئت فطالع تلك الشروح، درويش.

قال ﴿ولا يجوز اكل كل ذى ناب من السباع ولا كل ذى مخلب من الطيور﴾ او نه دي روا خوراك يعني د غوښو د هر غاښ لرونکو درنده ګانو يعني چي ژوندي شی په غاښو سره څري لکه زمری، پړانګ، لېوه تر چغال پوري او نه دي روا خوراك د غوښو د هر خاوند د منګلو د مرغان څخه لکه باز بانبه څرخك وغيره.

پوه شه:- چي د مخلب د مرغه نوك لكه د انسان دي، په حديث شريف كي راغلي دي چي عليه السلام نهي وكړه د خوراك څخه د هر غاښ والا او د هر مخلب والا يعني د غوښو څخه يې.

قال المصنف رحمه الله ﴿ولا باس باكل غراب الرزع﴾ او باك نسته په خوراك كي د غوښو د غراب الرزع چي كاغى يې بولي ولي چي دا مرغه دانې خوري مرداري نه خوري، او د سباع الطير څخه هم نه دي كذا فى الهدايه، او داغه رنګه روا دي د ګېږكي د غوښو او د ملا چرګك د غوښو او د كوتري د غوښو او د چوغكي د غوښو ولي اغلب خورك ددغو مرغانو دانې او مېوې دي، جوهره.

قال ﴿ولا يؤكل الابقع الذى ياكل الجيف﴾ او نه خوړل كېږي غوښي د ابلك كارګه، په منتخب كي وايي چي ابقع تور او سپين رنګ لري چي په فارسي يې زاغ بيشه بولي هغه غراب چي مرداري غوښي خوري، توصيف مشعر بالتعليل كما لايخفى.

قال ﴿ويكره اكل الضبع والضب والحشرات كلها﴾ او مكروه دي يعنې تحريما خوراك د غوښو د كوړ او د سمساري او د ټولو حشراتو غوښي لكه مار لړم وغيره.

پوه شه:- چي كوړ خو د سباعو څخه دي يعنې درنده دي، او د سمساري په باره كي ډېر لوي اختلاف په احاديثو شريفه وو كي موجود دي نو د بخاري شريف او نورو كتابو او د هغو د شرحو او حواشيو مطالعه بايد وكړه سي تاچي ناسخ او منسوخ د حديثو مبارکو ورمعلوم سي، زموږ د احنافو په نېز غوښي د سمساري مرداري دي، دروېش.

قال المصنف رحمه الله ﴿ولا يجوز اكل لحوم الحمر الاهلية والبغال﴾ او نه دي روا خوراك د كورني خرو د غوښو او نه د غاترو د غوښو.

پوه شه:- چي د اهليت په قيد سره يې د غره پسونه ويستل چي په شكل د اهلي خرو دي او ګوره خره يې بولي ولي د هغو د غوښو خوړل روا دي، په حديث كي د بخاري او مسلم د علي رضي الله عنه په روايت كي راغلي دي چي عليه السلام نهي وكړې د متعه يعنې موقته نكاح چي ايرانيان يې صيغه بولي، څخه د بنځو په ورځ د خيبر او د خوراك څخه د غوښو د اهلي خرو، او په حديث كي د ابن ماجه چي د خالد بن وليد رضي الله عنه څخه روايت دي چي عليه السلام نهي وكړې د خوراك څخه د اسانو، د غاترو، او د خرو د غوښو.

قال ﴿ويكره اكل لحم الفرس عند ابى حنيفة رحمه الله﴾ او مكروه دي خوراك د غوښو د آس په نېز د امام اعظم رحمه الله وهو قول مالك، او

امام ابو يوسف، امام محمد، او امام شافعي رحمهم الله وايي چې په خوړلو کې د خوښو د آس هيڅ پروا نسته، ويفهم من مضون متون الفقه ترجيح مذهب الامام الاعظم رحمه الله.

درويش وايي:- چې ددې دواړو قولو تفصيل په هدايه کې دي مطالعه يې کړي.

فائده:- په دې کې اختلاف دي چې د امام اعظم رحمه الله په نيز خوړل د غوښو د آس مکروه تحريمي او که تنزهي دي، هدايه والا وايي چې کراهت تحريم اصح دي، په عنايه کې وايي چې امام ابو يوسف رحمه الله د امام اعظم رحمه الله څخه پوښتنه وکړه چې تاسو چې په يو شي کې لفظ د کراهت مطلق مستعمل کړي ستاسي مراد څه دي؟ قال الامام الاعظم رحمه الله کراهة التحريم، او د عبد الرحيم کرماني رحمه الله څخه حکايت دي دی وايي چې زه متردد وم په دې مسئله کې چې د امام اعظم رحمه الله به کوم کراهت مراد وي، نو ما ابو حنيفه رحمه الله په خوب ولېدی چې داسي يې راته وويل کراهة التحريم يا عبد الرحيم، مجمع الانهر، او امام اسبيجابي رحمه الله وايي چې صحيح دادي چې مکروه تنزهي دي، او محمود بن الياس رحمه الله په شرح کې د نقايه وايي چې کراهة التنزهي ظاهر الرواية دي، او په مجع الانهر کې وايي وهو الصحيح، او فخر الاسلام رحمه الله پر دغه کراهت ننزيه دي.

درويش وايي:- چې په افغانستان او پاکستان کې داسي معلومېږي چې قديم علماء ددغو دوو ديارو کرهت التحريم په ميراث پرې اينبي دي، ولي چې هيڅ ځای د دغو دوو ديارو د آس غوښي خوک

نه خوري که څه هم ډېر مسکين وي په استثناء د بعض شمالي علاقو د افغانستان علی ما سمعت من طلباء الديار المذكورة والله اعلم بالصواب.

قال ﴿ولا باس باكل الارنب﴾ او پروا نسته په خوړلو کې د غوښو د سوي، ولي چې په روايت کې د نسائی د ابو هريره رضي الله عنه څخه داسي راغلي دي چې يو صحرايي سړي سوي پوخ کړه سوی و عليه السلام ته رواړي او دده ﷺ په خدمت کې يې کښېښوی، عليه السلام خو پخپله د خوراك څخه ډډه وکړه او حاضرينو ته يې وويل وېخوري.

درويش وايي:- چې ممکنه ده چې عليه السلام به په مکه مکرمه کې د سوي غوښي نه وې ليدلي او نه خوړلي او دا طبعي خبره ده چې يو سړی چې په خپل طول عمر کې د يو حيوان غوښي نه وي خوړي طبعه يې نفرت څندي کوي، او که مرداري وای نو ولي عليه السلام ونوړو خلګو ته امر د خوړلو ورکاوه، او د پښتنو په علاقو کې هم د سوي غوښي لږ خلګ خوري لکن عدم حرمت او کراهت يې اجماعا ثابت دي.

قال المصنف رحمه الله ﴿واذا ذبح ما لا يؤكل لحمه طهر جلده ولحمه الا الخنزير والآدمی فان الذكات لاتعمل فيهما﴾ او که ذبح سو هغه حيوان چې غوښي يې نه خوړل کېږي نو پاك سو پوست د هغه حيوان او غوښي يې هم پاکي سوې مثلا خر يا لېوه وغيره يې ذبح کړي نو پوست او غوښي يې پاکي دي.

پوښتنه:- د غوښو د پاکوالي معنا څه ده؟

ځواب:- دا معنا نه ده چي خوړل کېږي بلکه معنا داده که د سړي سره ورسره وي لونځ ورسره روا دي.

پوښتنه:- په ذبحه کي ددغسي حيوان تسميه غواړي تاچي غوښي او پوست يې پاکي سي او که مطلقا ذبح کافي ده؟

ځواب:- په جوهره کي وايي چي تسميه شرط ده ولي که دغه حيوان مجوسي ذبح کړي غوښي او پوست يې نه پاکېږي.

پوښتنه:- چي دغه غوښي او پوست چي په لږو ابو کي ولوېږي نه يې مرداروي او داغه رنګه يې وازګي هم پاکي دي.

پوښتنه:- آيا نفع په وازګه کي ببله خورکه رواده او که څرنګه؟

ځواب:- اکثر علماء پر دې دي چي نفعه نه ده په روا اعتباراً بالاکل، او بعض فقهاء وايي چي نفعه اخيستل پر روا دي، وفی روايت عن ابی حنيفة رحمه الله چي پوست يې په ذبح پاکېږي او غوښي يې نه پاکېږي قيل هو الصحيح لکن ظاهر الرواية هغه دي چي په متن کي ذکر سو يعني چي دواړه پاک دي، درويش. مګر نه د سرکوزي غوښي او پوست چي هغه په ذبح سره نه پاکېږي لانه نجس العين، داغه رنګه د انسان دا هم په ذبح سره نه پاکېږي لکرامته، قال عز من قائل، ولقد کرمنا بنی آدم" مصنف رحمه الله وايي زکات يعني په دغه دوو کي تاثير نه لري.

قال المصنف رحمه الله ﴿ولا يؤکل من حيوان الماء الا السمك ويکره اکل الطانی منه﴾ او نه خوړل کېږي د حيواناتو څخه د اوبو لکه چونګښه، ختکښ، چنګاښ وغيرها من الانواع الکثيرة التی تعيش فی الماء، مګر دماهي غوښي خوړل کېږي، دا زمور مذهب دي، او امام

مالك رحمه الله وايي چي د ټولو مافی البحر غوښي حلالي دي، الاما علی صورة الخنزير او الکلب، او د امام شافعي رحمه الله څخه روايت دي چي دا مذکور دوه هم حلال دي، والتفصيل الدلائل فی الشروح المطولة او د طافي ماهي خوراك مکروه دي.

پوښتنه:- چي طافي هغه ماهي بولي چي په اوبو کي په خدايي مرګ مړوي او اوبو پر سر راخستی وي هغه مردار دي.

فائده:- که درياب څپه ووهل او ژوندي ماهيان په څپه کي راغله او د اوبو څپه ځندي ولاړه ماهيان پر مځکه پاته سوه او مړه سوه د هغه خوراك حلال دي، لقوله عليه السلام م ما الخسر منه الماء فکل.

قال ﴿ولا باس باکل الجريث والمار ماهی ويجوز اکل الجرادة ولا ذکات له﴾ او پروا نسته په خوراك سره د جريث چي يو قسم د ماهي دي، ماسوا د مشهورو ماهيانو څخه، او نه د مار ماهي.

پوښتنه:- چي مار ماهي بله نوعه د ماهيانو ده چي چي په صورت د مار مشهور د مځکي دي او غير د جرث څخه هم دي.

درويش وايي:- چي ددې دوو ماهيانو فرق د نورو ماهيانو څخه، او خودي ددوي دوو تر منځ فرق په صور کي دي، په منجد اللغت کي چي د ټولو حيواناتو وغيرها نقشې او صور پکښي موجود دي وګوره د خولې په بيان حقيقة الامر نه معلومېږي والله العلم بالصواب، او روا دي خوړل د مچخو او ذبح کول نسته پکښي، لقوله عليه السلام احلت لنا ميتتان ودمان فالميتتان السمك والجراد والدمان الکبد والطحال.

بيت

احب الصالحين ولست منهم
لعل الله يرزقني صلاحا

ابيات

مگر صاحب دلي روزي زحمت
كند در حق اين مسكين دعاى
غرض نقشيست كزما ياد ماند
كه هستي را نه ميبنم بقائى
چشم بد انديش كه هر كنده باد
عيب نمايد هنرش در نظر
پند ونصيت براى طالبان،

از زبان شرين خواجه عبد الله انصاري الهروي رحمه الله عليه.

مكن كه آه فقيري شبي برون تازد
فغان وناله بعرش وملائك اندازد

زتير آه يتيمان اگر نمي ترسي
زسوز سينه نالان كه ناوك انذازد

عذر همي كن كه ناله سحر گاهي
كه گر بكوه زند روزني در او سازد

بوقت نيم شبي گر بگوئي اللهي
هزار همچو تو از خانمان بر اندازد

هزار جوشن فولاد اگر بپوشي تو
زاه گرم فقيري چوموم بگدازد

متاز برسر مظلوم ساكت اي ظالم

كه دسته فتنه ايام برسرت تازد


درون سينه مجروح بينوا مخراش
بدانكه روز جزا باتو نيز پردازد

اگر مجل نكند سائل ستم ديده
جزا دهنده ترا در جهنم اندازد

زجورهاى لئيمان منال عبد الله
كه گر خسي بزند كردگار بنوازد

عبيد الله زظالمان محل تو هم منال
كه مكافات از انها خداى ﷻ تو پردازد

دشمنان ما دران نكر كه باماچه بكنند
وما درآن فكرم كه خداى ﷻ ما با ايشان چو خواهد كرد.



د علم تجويد وتشنگانو ته خبر وركول كيږي چي د علم تجويد يو معتمد او شامل درس كتاب **فوائد مكيه** پښتو شرحه چي شارح يې قاري محمد فضل الحق حقاني دى الحمحد لله بازار ته رارسيدلې ده شائقين دي تر لاسه كړي

﴿کتاب الاضحیه﴾

دا کتاب دی په بیان کي د احکامو د اضحیه

پوه شه:- چي چونکه ذبائح عام وه تر اضحیه نو ځکه مصنف رحمة الله علیه دمخه کړي ولي چي عام اعرف وي تر خاص او وروسته يې باب د اضحیه پسي راوړی، او اضحیه په شرعه کي د هغه خاص حیوان نوم دي چي په نیت د ثواب په مخصوص وخت کي ذبحه سي، او شرطونه د اضحيې دادي (۱) اسلام دی دوهم (۲) غنی ده په دونه اندازه چي پر سړي صدقة الفطر لازمېږي. کما مر نو پر ښځو باندې هم کېږي (۳) او وقت ایام د نحر دي او په دنیا کې له واجبه څخه خلاصېږي او په آخرت کې خدای جل جلاله ثواب ورکوي. کذا فی مجمع الانهر باختصار، دروبش

قال المصنف رحمة الله علیه ﴿الاضحیة واجبة﴾ اضحیه واجبه ده او له امام ابو یوسف څخه روایت دی، چي سُنت موقده ده. وهو قول الشافعی رحمة الله علیه و احمد امام فقیه محدث ابو جعفر طحاوی وایي چي اضحیه واجبه ده پر مذهب د امام اعظم رحمة الله علیه او سُنت ده په نزد د یارانو دلیل د وجوب يې دا دی، چي په حدیث شریف کې راغلي دي، من وجد سعة ولم یضح فلا یقربن مصلنا و مثل هذالوعید لایکون الابطرق الواجب وباقي التفصیل فی الشروح.

﴿علی کل حر﴾ نو پر مریي نه ده واجبه لعدم الیسار له لان ما فی یده ملك المولی ﴿مسلم﴾ نو پر کافر نسته لعدم اهلیة للقربات

الشرعیة ﴿مقیم﴾ که مقیم په ښار کې وي او که په قریه کي وي او که په صحراء کي وي لکه مالداران، نقل عن علی رضی الله عنه لیس علی المسافر جمعة ولااضحیة، او که حاجي په ایامو کي د حج نیت د اقامت نه وکړي اضحیه نه ده پر واجبه، او امام مالك رحمة الله علیه يې اقامت شرط نه بولي.

﴿موسر﴾ نو چي غنی وي ولي چي هر عبادت په قدر د قدرت دي او قدرت د اضحیه یسار او غنی ده نو ځکه پر مسکین اضحیه نسته.

﴿فی یوم الاضحی﴾ په ورځ کي د لوي اختر ولي چي دا ورځ اصل د وجوب ده که څه هم په نورو ورځو کي روا ده کما سیاتی.

﴿یذبح عن نفسه وعن ولده الصغیر﴾ ذبحه کوي به يې د ځان له لخوا څخه او د خپل صغیر اولاد د خوا که نر وي او که ښځي یعني د هر ولد جلا جلا اضحیه پر واجبه ده، دلیل يې دادي چي اضحیه خو قربت مالي دي لکه صدقه فطر په مخصوص وخت کي نو لکه صدقه فطر چي د صغیر اولاد له خوا واجبه ده نو اضحیه هم د ولد صغیر له خوا لازمه ده.

پوه شه:- چي دا روایت هم د حسن بن زیاد دي د امام اعظم رحمة الله علیه څخه او د امام اعظم رحمة الله علیه دا روایت هم راغلي دي چي اضحیه نه د ولد صغیر او نه ده کبیر پر پلار واجبه ده چي اولاد خپل مال نه ولري، او که مال ولري نو پر کبیر پخپله واجبه ده او پر صغیر هم واجبه ده لکن نیابة يې پر پلار واجبه ده فی ظاهر الروایة، وفی قاضیخان، الفتوی علی ظاهر الروایة.

دروښ وايي:- چي چونکه د مسلمانانو په دنياوي چارو کي تخفيف خوښ دي نوځکه د متن په عبارت سره نه عوام او نه خواص عمل کوي که څه هم په لکو او کروړو دنيا لري، او د سر سايې مقدار چونکه لږ دي نو ځکه مسلمانان د کوچنيانو سر سايه هم ورکوي.

قال المصنف رحمه الله ﴿ويذبح عن كل واحد منهم شاة او يذبح بدنة او بقرة عن سبعة﴾ نو غني پلار به ذبح کوي د هر ولد د خوا څخه شاة.

پاوه نسخه:- چي شاة اسم عام دي مېږه پسه وزګړی بوزې ټولو ته شامل دي، او يا به ذبح کوي اوښ يا اوښه يا غويي يا غوا د اوو (۷) کسانو په ځای کي، د جابر بن عبد الله رضي الله عنه څخه روايت دي نحرنا مع الرسول الله ﷺ يعني في زمانه البقرة عن سبعة والبدنة عن سبعة.

مسئله:- اوښ يا غويي د پنځو او د شپږو او د درو کسانو د خوا چي د ټولو نيت د قربت وي که واجب وي او که نفلي وي يعني صرف د غوښو نيت يې نه وي هم روا دي ولي چي د اوو کسانو څخه روا سو او د کمو کسانو څخه بطريق اولا روا دي، او د اتو يا بالا څخه نه دي روا، هدايه، مع زياده وحذف.

فائده:- په حديث صحيح کي راغلي دي چي يو سړي پوښتنه وکړه د عليه الصلوٰة والسلام څخه ما هذه الضحايا؟ يعني د څه سببه پر موږ دا اضحيه لازمه ده آنحضرت ﷺ ځواب ورکړي سنة ابيكم ابراهيم عليه السلام يعني دا طريقه د ابراهيم عليه السلام ده.

دروښ وايي:- چي عليه الصلوٰة والسلام په دې جواب کي اشاره وکړه وهغه قرآني قصې ته چي ابرهيم عليه السلام څه وخت د خوب د لاري په ذبح د خپل زوي اسمٰعيل يا اسحٰق على اختلاف المفسرين رحمهم الله فيها مامورسو، نو پس له دې څخه چي په مکرر ډول خوب لېدو څخه ابراهيم عليه السلام ته دا يقين سو چي دا خوب وحی من عند الله دي او وذبح ته د زوي په منٰی کي اماده سو نويې زوي ته داسي وويل ﴿يا بنی انی اری فی المنام انی اذبحك﴾ زوي يې ورته وويل ﴿يا ابی افعل ماتؤمر ستجدنی انشاء الله من الصابرين﴾ الی اخر الآيت.

دروښ وايي:- چي چونکه ددې قصې اختلاف او بيان په کتابو کي د تفاسيرو او د احاديثو نبويه وو موجود دي او دا قصه په عين حال کي ببخي اوږده ده، او دا شرح د قدوري د فقهي شريفي کتاب دي چي احکام پکښې بيانېږي نه قصص نو ددې سببه دروښ عنان د بيان ددغي مبارکي قصې د تفصيل څخه وبيان ته د احکامو راګرځولی، البته حسب ارادت الفقير که فقير ته خدای جل جلاله توفيق ورکړي د تفسير القرآن د تفسير نو په هغه تفسير کي به د خپل ځايه سره موافق دا مباركه قصه په تفصيل سره بيان کړم ان شاء الله تعالٰی وارجوا من عظيم قدرته تعالٰی ان يوفقنی لتصنيف التفسير المذكور انه تعالٰی على مايشاء قدير، او په نيت کي د فقير داده چي څه وخت د نکاح قدوري شرحه پوره کړم زه به سمدستي ان شاء الله تعالٰی شروع په تفسير مذکور کوم، اللهم انی وان لم اكن اهلا لتفسير كلام الله لكن ليس ذالك من قدرتك واحسانك ببعيد، تضرع واظهار عجز ودعاء المرام المذكور.

پاکه خدايه شائقان په انتظار دي د تفسير
دغه شوق د دوي پوره کړې يا قدير
د تفسير اعلان دي سوي ډېر پخوا
تر دا اوسه ځنډولی ستا تقدير
تقادير ستا چونکه پټ دي له مخلوقه
نه پوهېږم څه حکمت دي په تاخير کي د تفسير
يا قدير يا قادره دا مرام زما پوره کړې
بېله دې بل ارمان نستقه د فقير
ادعونی استجب لکم ستا ارشاد دي
د فقير دعا دا اوس ده د تفسير
د ژوند ټوله ارمانونه مې پوره سوه
دغه يو پاته ارمان راپوره کې د تفسير

پوښتنه:- تفسير د قرآن مجيد په عربي په فارسي په اردو په پښتو ځې په انګريزي ژبو کي بېخي ډېر تفسيرونه لري، نو څه ضرورت پاته دي ستا ددغه تفسير په پښتو ژبه کي ؟

ځواب:- نعم خداى ﷻ دي د ټولو مفسرينو په هره ژبه چي يې تفسير د قرآن مجيد کړې وي دا سعي مقبوله وګرځوي او دوي ته دي خداى ﷻ اجر عظيم ورکړي لکن مع هذا چونکه د پښتو ژبه ډېر تفاوت سره لري حتى بعض پښتانه د بعضو پښتنو په ژبه لکه نه چي پوهېږي زمونږ د هيواد افغانستان د ډېرو برخو ژبه لکه قندهار، تيرى او دراوت او فرا نيم روز وغيره بلکه د اکثرو پښتنو د پاکستانيانو ژبه د نورو ژبو څخه

ډېره مخالفه ده، نو دروېش ته دا ضرورت محسوس سو چي د مذکوره ولايتو او د نورو ورته ولايتو د ژبي سره موافق تفسير تصنيف کړي تاچي دا برخه پښتانه هم د قرآن د تفسير او ترجمې څخه بې برخې پاته نه سي، او هر سړى چي ليك او لوست يې زده وي که نر وي او که ښځي دا تفسير شريف د هغې کورنۍ استاذ وګرځي،لکه چي قدوري جلد اول او دوه د نکاح جلدونه او د نور الايضاح دري جلده وهکذا شروط الصلوت او دوه جلده کنز په فقه شريفه کي او نور ظلم او د ابو المنتهى شرح او نوري رسالې چي په عقائدو کي د پښتنو ورنړو او خوندو دپاره چي په نومورو علمونو کي کورني استاذان جوړ سوي دي والله الموفق والمعين.

قال المصنف رحمه الله ﴿وليس على الفقير والمسافر اضحية﴾ او نسته پر فقير او مسافر اضحيه ولي چي په وجوب کي د اضحيې کما مر آنفاً يسار او غنى شرط ده او بل اقامت شرط دي چي هغه په فقير او مسافر کي نسته فالمشروط ايضاً ساقط عنها.

قال ﴿ويدخل وقت الاضحية بطلوع الفجر من يوم النحر الا انه لا يجوز لاهل الامصار الذبح حتى يصلى الامام صلوة العيد فاما اهل السواد فيذبحون بعد طلوع الفجر يعني من يوم العيد﴾ او داخلېږي وقت د اضحيې په راختلو سره د سپېدو د لوي اختر د ورځي، مګر نه ده روا د ښارو خلګو ته د اضحيې ذبح کول تر هغو پوري چي امام د عيدګاه د اختر لمونځ نه وي کړى ولي چي په حديث شريف کي چي روايت يې امام بخاري رحمه الله پخپل صحيح کتاب

کي او امام مسلم رحمة الله عليه پخپل صحيح کتاب کي د براء بن عازب رضي الله عنه څخه کړي دي داسي راغلي دی رضي الله عنه وايي چي زما ماما ابوهريره رضي الله عنه د مخه تر لمانځه د عيدګاه ذبح کړي وه نو ده د عليه الصلوة والسلام څخه په دې باب کي پوښتنه وکړه نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل تلك شاة محم يعنې دا اضحيه نه ده نو زما ماما ورته وويل چي زما سره يو سپرلی سته يعنې چي کال يې نه دي پوره عليه الصلوة والسلام ورته وويل ضح بها ته هغه اضحيه کړه ولاتصلح لغيرك، او ورته سپرلی په اضحيه کي بل چا ته نه دي روا، او وروسته آنحضرت ﷺ وفرمايله چا چي اضحيه وکړه د مخه تر لمانځه يعنې د عيدګاه فانما ذبح لنفسه" هغه يې د ځان لپاره ذبح کړې ده يعنې اضحيه نه ده او که چا وروسته تر لمانځه ذبح وکړه تم نسکه واصاب سنة المسلمين ن وعبادت يې پوره سو او وطريقې ته د مسلمانانو وروسېدی، نو ددې حديث څخه صراحةً دا معلومه سوه چي دا حکم په باره کي د هغه چا دي چي پر هغه د عيدګاه لمونځ واجب وي نوددې سببه مصنف رحمة الله عليه وايي چي اهل القرى، او اطرافيانو ته روا ده ذبح د اختري پس له سپېدو څخه د عيد د ورځي.

تبصره:- چونکه په اوسنۍ زمانه کي عوام الناس او سرمايه داران خصوصاً د پښتنو مسجدنو جوړوي د پاره د ريا او د سمعې که څه هم دا مسجد يې پر ضد او عداوت د بل جامع مسجد وي چي مسجد ضرار يې بولي چي د باني قصد تفريق اچول وي په منځ کي د لمونځ کونکو د قديم جامع مسجد، نو که هم دا نوي مسجد د جامع مسجد قديم څخه پنځوس ګامه ليرې هم نه وي او که څه هم پنځوس کسه لمونځ کونکي

بلکه شل کسه لمونځ په صلوات خمسه وو کي نه لري نو د اباني د نوي مسجد د مخه تر تکميل د مسجد امر د جامع مسجد او عيدګاه د خپل مسجد د پاره واخلي، هغه آمر هم دومره احساس نه لري چي ورته ووايي چي دومره نژدې وجامع مسجد ته د جمعې او عيدګاه لمونځ کله روا دي بلکه پنځه سوه يا زر روپۍ تر لاسه کړي او د جمعې د لمانځه او د عيدګاه امر ورکړي، نو ددې کبله په کوټه کي ډېر لږ او بېخي لږ داسي مسجدان سته چي د جمعې لمونځ دي نه پکښې کېږي او سره ددې چي د قندهار په لوي ښار کي ببله عذره د باران وغيره يو ځای د عيدګاه لمونځ کېدی، خير دا خو د سرمايدارانو د ريا حال و، لکن اوس مسئله دا پيدا کېږي چي سړی چي دبحه د اضحيه کوي د کومي عيدګاه تر لمانځه وروسته به يې کوي؟ صحيح دا ده چي په هره عيدګاه کي چي ذابح لمونځ وکړي بيا ذبح د اختري ورته روا ده لکن احتياط پکار دي چي ذابح دي کوشش کوي چي هر څو چي قديم عيدګاه وي په هغه کي دي د اختر لمونځ وکړي او بيا دي اضحيه ذبح کړي.

قال المصنف رحمة الله عليه ﴿وهی جائزة فی ثلة ايام يوم النحر ويومان بعده﴾ او اضحيه رواده په درو ورځو کي، يوه ورځ د لوي اختر ده او دوې ورځي وروسته تر هغې، ولي چي په روايت کي د حضرت عمر، حضرت علي او د حضرت عباس رضي الله عنهم راغلي دي دوي وايي چي ورځي د نحر درې دي او افضله يې اوله ورځ ده او دا معلومه خبره ده چي اصحاب رضي الله عنهم دا خبره د خپلي رايه څخه نه کوي بلکه دې اصحابو رضي الله عنهم دا تعين د رسول الله ﷺ څخه اورېدلی دي لان العلماء والفقهاء رحمهم الله

قالوا لامدخل للرای فی تعین المقادیر الشرعیة، او امام شافعي رحمه الله وايي چي ورځي د ذبح څلور دي لقوله علیه السلام ایام التشریق کلها ایام ذبح" په مجمع الانهر کي وايي چي څه وخت چي په احادیثو کي تعارض راسي نو عمل په متیقن سره افضل دي چي درې ورځي دي.

مسئله:- کې د دریمي ورځي تر غروب الشمس د مخه اضحیه ذبح کړه رواده.

قال المصنف رحمه الله ﴿ولا یضحی بالعمیاء والاعور او العرجاء التی لاتمشی الی المنسك و لاالعجفاء﴾ او اضحیه به نه کوي په رانده حیوان سره، او داغه رانګه په یك چشمه حیوان سره او په ګوډ حیوان سره چي تر ځایه پوري د ذبح نه سي تلای، او نه په ډبر ډنګر حیوان سره او هغه ډنګر حیوان نه دي روا چي په هډوکو کي یې ماغزه نه وي او دا په دې سره معلومېږي چي هر څو چي دا حیوان ته ډبر علف وانښه وغیره ورواچوې نه چاغېږي کذا قالوا. قال صاحب الهدایه چي قانون د جواز د اضحیې او د نه جواز دادي چي ډبر عیب د حیوان مانع د جواز دي او لږ عیب مانع نه دی ولي چي حیوان غالباً د لږ عیبه خالي نه وي او لږ عیب دادي چي د حیوان پر غوښو تاثیر ونه لري، او عور یعني په یوه سترګه نه لېدل تاثیر پر غوښو لري ولي دا ډوند حیوان په یوه سترګه وانښه ویني او په یوه یې نه ویني نو خوا ماخوا ډنګرېږي، او عمیا خو ظاهره ده او داغه رنګه عرجا مذکور او عجفاء مذکور فتدبر.

قال ﴿ولاتجزء مقطوعة الاذن والذنب﴾ او کافي نه ده په اضحیه کي هغه حیوان چي غوږ یې پرې وي او نه هغه حیوان چي لکۍ یې پرې

وي، د غوږ په باره کي هغه حدیث د علیه السلام دي، استشرفوا العین والاذن" یعني تاسي طلب د سلامتیا کوي د سترګي او د غوږ د اضحیې او لکۍ چونکه جلا عضو مستقل ده او مقصود هم ده نو لکه غوږ داسي ده کذا فی الهدایه.

قال المصنف رحمه الله ﴿ولاالتی ذهب اکثر اذنها او ذنبها وان بقی الاکثر من الذنب والاذن جاز﴾ او نه ده روا په اضحیه کي هغه حیوان چي اکثره حصه یې د غوږ یا د لکۍ پرې سوې وي، او که یې اکثره حصه د دغو دوو اندامو پاته وه بیا روا ده لان للاکثر حکم الکل په بقاء کي او په تګ کي.

پوښتنه:- چي په مقدار کي د اکثر ډبر اختلافات دي چي په هدایه کي مذکور دي هورې دي مطالعه کړه سي.

قال ﴿ویجوز ان یضحی بالجماء والخصی والجرباء والثولاء﴾ او روا ده اضحیه په جماء حیوان سره یعني چي خلقةً بنکر نه لري چي په پښتو کي کلی بولي، ولي چي بنکر په اضحیه کي دخل نه لري ولي اوښ چي بنکر نه لري په اضحیه کي روا دي نو بناءً علیه چي بنکر یې مات وي هم روا ده، او داغه رنګه روا ده په خصي حیوان سره بلکه د امام اعظم رحمه الله څخه روایت دي چي خصي تر مینده اولی دي لان لحمه اطیب والذ وکذا فی مجمع الانهر، او ګرګ حیوان هم روا دي چي جربا یې بولي.

پوه شه:- چي جربا که چاغه وه خو په اضحيه کي روا ده ولي ګرځ خالص په پوست کي دي او غوښو ته يې هيڅ تاوان نه دي رسولی او که ډنګره وه بيا په اضحيه کي نه ده روا ولي جرب يې غوښو ته داخل سوي نو ځکه ډنګر سوي دي کذا فی الهدايه، او داغه رنګه روا ده ټولاء يعني لېونی حيوان لکن دا هلته روا دي چي وابنه خوري او که داسي لېونی و چي وابنه يې نه خوړل هغه نه دي روا هدايه.

فائده:- پوه سه چي په کتابو کي د احادثو مبارکوو په روايت د ابو هريره ﷺ د آنحضرت ﷺ د اضحيې داسي حکايت کړی دی، ان الرسول الله ﷺ کان اذا اراد ان يضحی اشتری کبشين يعني دوه نر پسونه عظيمين ښه غټ سمينين ښه چاغ اقرنين ښکرور املحين تور او سپين موجوئين خصي.

پوه شه:- چي وجاء يوه نوعه د خصي والي ده اصل خصي په عرف کي دادي چي مثلا د پسه خوټي ځندي وکاړي او وجاء داده چي په اوسنۍ زمانه کي رواج ده چي مثلا د پسه تر خوټو لوړ لکه امبر داسي يوه آله يا لکه پلاس د پسه خوټو ته وارواچوي او کښې يې کاړي چي هغه خوټو ته راغلي رګونه يې پرې سي نو بيا که د پسه خوټي هم وي مندويي نسي کولای کما هو التجربه، په افغانستان کي د يو دوو ډلو سره اختلاف و نو د يوې ډلي مشر چي نوم اخسته يې مناسب نه دي ولي چي مشهوره سړی دي، د هغه بلي ډلي يو نفر چي به په لاس ورغلي د وجاء په خصي کولو سره به يې خصي کړي چي ټوله ژوند به يې د هغه ورعبث

کړيعني د عيال څخه به يې وه يستي العياذ بالله من هذا الظلم الذی لم يوجد فی بنی نوع الانسان قبل ذالك.

قال ﴿والاضحية من الابل والبقر والغنم ويجزئ من ذالك كله الثنی فصاعدا الا الضان فان الجزع منه يجزء﴾ او اضحيه ددغو درو نوعو حيواناتو څخه رواده چي د اوښ نوعه ده که نر وي او که ښځه، او د غوايي نوعه ده که نروي او که ښځه، او د غنم نوعه چي د ميږي صنف او د بوزې دواړو ته شامله ده، وجه الحصر فی هذه الثلاثة ان الاضحية عرفت شرعاً ولم تنقل التضحية بغيرها كالحيوان الوحشی مثلا من النبی ﷺ ولا من الصحابة ﷺ كذا فی الهدايه، او کفايت کوي په اضحيه کي په درو سره نوعو کي ثنی ددوي يا بالاتر ثنی مګر د پسو د ضف څخه غير چي د هغه ضف جذع هم کافي دي.

پوه شه:- چي جذع و ضان په نيز د فقهاء هغه دي چي شپږ مياشتي پر تېري سوي وي، اوثنی د ضان او د بوزي د ضف هغه دي چي يو کال پر دېر سوي وي، او د بقرې د نوعې ثنی هغه دي چي دوه کاله عمر يې پوره کړی وي، او د داوښ د نوعي صنی هغه دي چي پنځه کاله يې پوره کړي وي.

فائده:- ګاه مېښه په غوايي کي داخله ده.

فائده:- مصنف رحمه الله مطلق جذع کافي وباله لکن بعض فقهاء وايي چي هغه جذع کافی دي چي په بدن دومره غټ وي چي د يو کلني وريو

سره وي څوك يې د لبرې څخه په فرق نه پوهېږي و الصواب الاطلاق كما هو الظاهر المتون، والله اعلم، درويش.

ورد فى الحديث النبوى ﷺ الذى رواه مسلم رحمه الله عن جابر رضي الله عنه چې عليه الصلوة والسلام وويل ضحوا بالثنايا الاان يعسر على احدكم فليذبح الجذع من الضان.

درويش وايي:- چې د حديث نبوي ﷺ مطلق ويل د جذع تائد كوي د اطلاق د متن.

قال المصنف رحمه الله ﴿ويأكل من لحم الاضحية ويطعم الاغنياء والفقراء ويدخر ويستحب له ان لا ينقص الصدقة من الثلث﴾

او خوراك دي كوي د اضحيه كونكي د اضحيې د غوښو څخه او صدقه كوي دې پر اغنياؤ او فقراؤ او ذخيره كوي دې او مستحب ده چې نه دي كموي صدقه د غوښو تر دريمي حصې.

پوه شه:- چې په حديث شريف كې راغلي دي چې يو كال عليه الصلوٰة ولسلام خلكوته وويل چې تر دريو ورځي بالا به څوك د اضحيې غوښې نه خوري. خلكو هم د عليه الصلوٰة ولسلام د فرمودې سره موافق عمل وكړى، او بل كال چې د اضحيې وخت راغلي نو خلكو د عليه الصلوٰة ولسلام څخه پوښتنه وكړه چې سږ كال هم د تېر كال قانون دي؟ عليه الصلوٰة ولسلام ورته وويل چې تېر كال خلك په شدت او سختي كې وه نو ځكه ما امر وكړى چې تر دريو ورځي بالا به څوك د اضحيې

غوښې نه خوري تاچې مسكينانو ته ښې برخې ورسېږي سږ كال چې پر خلكو فراخي ده فكلوا وادخروا وتصدقوا او كما قال عليه السلام.

قال ﴿ويتصدق بجلدها﴾ او د اضحيې پوست دي هم خيرات كړي درويش وايي داغه رنګه ځل كه يې درلودي لما جاء فى الحديث.

قال ﴿او يعمل منه آلة تستعمل فى البيت﴾ او يا دي جوړ كړي د اضحيې د پوست څخه يو شى چې په كور كې مستعملېږي لكه د اوارېدو شى او يا سولاغه يا ستر خوان وغيرها لان الانتفاع بالجلد غير محرم.

درويش وايي:- چې په افغانستان كې عادت د خلكو دا و چې اضحيه كه به غويي واى د هغه څرمن او پوست به يې يو مسكين ته وركاوه او كه اضحيه بوزه يا اوښ واى د هغه پوست به يې هم مسكين ته وركاوه، او د بو زې د پوست څخه به يې د شلومبو غړكه جوړه كړه يا به يې ژى د كور د پاره جوړ كړى، او كه به اضحيه پوسه واى چونكه د هغه د پوست خريداران ښخي نه وه او غړكه وغيره هم نه ځندي جوړېدله نو د اضحيې د پسه وړې به يې ځندي وشكولې او د هغو څخه به يې د كور بالښت او يا بل شى جوړ كړى او پسه به يې په اور والوايه او تر اوسه هم دا رواج جاري دي ولاجرح فى ذالك لانه انفع لهم تر پوست كښلو لما مر من عدم المشترى لذالك، او په پاكستان كې چونكه د هر پوست كه د غوايي وي او كه د بوزې او كه د پسه وي خريداران يې ښخي ډېر دي او د پسو پوستونه وطالبانو ته د مساجدو او مدرسو په

بنو پيسو ورخرڅېږي، نو ځکه په پاکستان کي د پسه د پوست کښل او پوست يې د طالبان يا مساجدو او مدرسو ته ورکول افضل دي تر الويلو، والاحكام الشريعية تتبدل باعتبار العرف والاصطلاح.

مسئله:- پوست د اضحيې به قصاب ته په مزدوري کي نه ورکوي لماورد من النهى عن ذالك بلكه قصاب ته علحده مزدوري ورکړي.

قال ﴿والافضل ان يضبح اضحيته بيده ان كان يحسن الذبح﴾ او بنه کار دادي چي صاحب د اضحيې اضحيه پخپل لاس ذبح کړي که يې ذبح زده وه لانه عليه الصلوٰة ولسلام ذبح اضحيته بيده المباركة، او که يې ذبح نه وه زده نو دي د بل چا څخه کهمك وغواړي لکه عوام د افغانستان او پاکستان چي د طالب العلم څخه کهمك غواړي يعني په طالب يا ملا صاحب يې ذبح کوي.

قال المصنف رحمه الله ﴿ويكره ان يذبه الكتابى﴾ او مکروه دي چي ذبح کوي يعني اضحيه د مسلمان کتابي يعني يهودي يا نصراني، ولي چي اضحيه خو يو داسي کار دي چي په هغه کي ثواب د اخرت سته او کتابي اهل د ثواب نه دي.

مسئله:- که چېري امر وکړي مسلمان وکتابي ته چي دا زما اضحيه راذبحه کړه روا ده ولي د کتابي ذبح خو روا ده، او کتابي که څه هم اهل د ثواب نه دي لکن په امر د مسلمان نائب دده کړئي كذا فى الهدايه.

قال ﴿واذا غلط رجلان فذبح كل واحد منهما اضحية الاخر اجزى منهما ولاضمان عليهما﴾ او که خطا وتل دوه کسان چي هر

يوه د اضحيې د پاره پسه رانهولی و نو هر يوه د هغه بل اضحيه ذبح کړه د دواړو څخه کفايت کوي يعني د دواړو د اضحيې غاړي خلاصېږي او ضمان پر يوه هم نسته، او امام زفر رحمه الله وايي چي د يوه هم غاړي نه خلاصيږي او پر هر يوه ضمان د هغه بل د پسه لازم دي والدلائل فى الشروح.

﴿كتاب الايمان﴾

دا باب دي په بيان د احكامود قسمو

پيژندنه:- چي ايمان په زور د الف جمع ده د يمين چي لغوي معنى يې قوت دي ځکه راسته لاس ته يمين وايي ولي چي په غالبه خلګو کي تر چپه لاس قوي وي، او په شرح شريفه کي په معنا د قسم اخيستو په نامه د خداى جل جلاله يا پر نفي يا پر اثبات چي هم په دې قسم سره جانب د فعل يا د ترك قوي کيږي، واما الايمان په زير د الف هغه مصدر دي د باب د افعال چي په معنا د اقرار او تصديق دي او مقابل د کفر دي هغه معنا په دې باب کي مقصود نه ده كما لايخفى

قال المصنف رحمه الله ﴿الايمان ثلثة اضرب يمين غموس ويمين منعقدة ويمين لغو﴾ قسمونه په نيز زمور يعني د احنافو رح په نيز درې قسمه دي چي مصنف يې نومان ذکر کړه.

قال ﴿فيمين الغموس هى الحلف على امر ماض بتعمد الكذب فيه﴾ نو يمين غموس قسم اخيستل دي پر تير سوي شي او كار په قصد د درواغو په دغه تير سوي كار كي.

فائده:- لفظ د يمين مونث سماعي دي ځكه يې صفات مونث راځي.

فائده:- غموس په لغت كي په اوبو كي غوټه كېدو ته وايي او سخت كار ته هم واى نو دې يمين ته چي غموس وايي په دې سبب چي يو خو ډېر سخت قسم دي او بل دغه قسم سړى په ګناه كي ډوبه وي په دې دنيا او په اخرت كي په اور د دوزخ كي كما سيئاتى لكن چي ببله توبې مړ سي.

پوښتنه:- چي په بنايه شرح هدايه كي وايي چي ذكر د امر ماض په متن كي بناء پر غالب دي، ولي كه يو سړى قسم واخلي والله انى لزيد وهو يعلم انه ليس بزيد فهو يمين غموس، مع عدم المضى فيه.

قال ﴿فهذه اليمين ياثم بها صاحبها﴾ نو د يمين غموس حكم دادي چي په دې قسم سړى ګناه كاره كېږي يعني په ګناه كبيره سره كما فى كتب الفقها رحمهم الله ولي چي ددې قسم په باره كي عليه السلام داسي فرمايلي دي، فليتبوء بوجهه مقعده من النار (رواه ابو داؤد بطوله عن عمران بن حصين رضي الله عنه).

قال المصنف رحمه الله ﴿ولا كفارة فيها الا التوبة والاستغفار﴾ او كفاره نسته په يمين غموس كي مګر توبه، چي بيا به زه داسي قسم نه

اخلم او طلب د بخښني د خداى جل جلاله څخه، او امام شافعي رحمه الله وايي چي كفاره پر لازمه ده بالفور ولي چي كفاره خو د پاره د بې حرمتي د نامه د خداى جل جلاله ده او دې قسم والا دا بې حرمتي وكړه چي استشهاد يې په نامه د خداى جل جلاله وكړي په درواغو كي او مونږ وايو چي د ابن عباس رضي الله عنه او د ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دي كنا نعد اليمين الغموس من الكبائر التى لا كفارة فيهن" يعني مونږ شميرى يمين غموس د هغو كبائرو ګڼهو څخه چي كفاره پكښي نسته يعني لكه كذب بهتان غيبت وغيره.

پوښتنه:- چي په لفظ كي كنا چي متكلم مع الغير ده اشاره ودې ته ده چي اصحاب كرام رضي الله عنهم ټوله پر دې خبره متفق وه فيكون اجماعا منهم، او په بل حديث نبوي صلى الله عليه وسلم كي داسي راغلي دي خمس من الكبائر التى لا كفارة فيها، الشرك بالله، وحقوق الوالدين، والفرار من الرحف، وقتل النفس بغير حق، واليمين الفاجرة، يعني ددغو ګناهو مالي او بدني كفاره نسته بلكه ددې ګناهو صرف او صرف توبه او استغفار علاج دي، او يمين فاجره يعني د درواغو قسم هم دغه يمين غموس دي.

قال ﴿واليمين المنعقدة ان يحلف على الامر المستقبل ان يفعله اولا يفعله﴾ او يمين منعقده دادي چي پر راتلونكي كار قسم واخلي چي زه به يې كوم او يا يې نه كوم، چي په عربي دې ته قسم اجابيه او سلبيه هم وايي.

پوښتنه:- چي منعقده يې په دې سبب بولي چي حالف ګويا غوټه كړه كفاره د كار په كولو او يا نه كولو پوري.

قال المصنف رحمه الله ﴿فاذا حنث فی ذالك لزمته الكفارة﴾ نو كه دی حانث سو په دغه قسم كي يعني پر خلاف د قسم يې عمل وكړی يعني په ايجاب كې سلب وكړی او يا يې په سلب كي ايجاب وكړی نو پر ده لازمه ده كفاره چي بيان بې راسي ان شاء الله تعالی، لقوله جل جلاله ولكن يؤاخذكم بما عقدتم الايمان"

قال ﴿ويمين اللغو ان يحلف علی امر ماض وهو يظن انه كما قال والامر بخلافه﴾ او يمين لغو دادي چي پر تېر سوي كار قسم واخلي او دده غالب ګمان داوي چي دغه كار داسي دي يعني لكه ما چي قسم پر واخستی لكن حال د هغه څخه مخالف وي يعني كار دغسي نه وي لكه ده چي قسم پر واخستی، لكه يو سړی چي ووايي قسم په خداى جل جلاله دي چي ما يوه مياشت مثلا فلانی كار كړی دي او دده غالب خيال هم دغسي وي، او يا ووايي چي ما فلانی كار يوه مياشت د مخه مثلا نه دي كړی او حال پر خلاف دده د قسم وي يعني چي دی واى ما كړی دي او هغه يې نه وي كړی او يا چي ما نه دي كړی هغه كار يې كړی وي.

پوه شه:- چي ذكر د ماض دلته هم پر غالب د يمين لغو بناء دی، ولي چي سړی بل څوك د لېرې ووينې او ووايي چي قسم په خداى جل جلاله دي چي هغه سړی زيد دي مثلا او هغه سړی عمرو وي داهم يمين لغو دي، او بعض ائمه رحمهم الله وايي چي يمين لغو دادي چي د سړي پر

خوله جاري وي بېله قصده د قسم لكه والله كه دا كار وكړم يا والله كه دا كار پرېږدم، دروېش وايي چي ورته قسمونه په پښتو كي بېخي ډېر دي.

قال المصنف رحمه الله ﴿فهذه اليمين نرجو ان لا يؤاخذ الله تعالی بها﴾ نو دا رنګه قسم موږ اميد و خداى جل جلاله ته لرو چي حالف دې په ونه نسي لقوله تعالی لا يؤاخذكم الله باللغو فی ايمانكم الآيه.

پوښتنه:- چونكه داحكم په قرآن سره ثابت دي نو مصنف رحمه الله ولي نرجو وويله او قطعي حكم يې ونه كړی ؟

ځواب:- سبب د حكم د رجاء دادي چي په تفسير كي د يمين لغو اختلاف دي كما ذكرنا او هغه چي صاحب جوهره وايي چي لفظ د نرجو يې تواضعا ويلی دي چندان جواب نه دي ولي چي تواضع خو هر ځاى مطلوب ده او سره ددې چي مصنف رحمه الله په توله كتاب او هيڅ مصنف د فقهي هم داشان تواضع نه ده كړې، والله اعلم، دروېش.

قال ﴿والقاصد فی اليمين والمكره والناسی سواء، ومن فعل المحلوف عليه مكرها او ناسيا فهو سواء﴾ او چي په قصده سره قسم واخلي او يا څوك په زوره قسم په واخلي او يا په هېره قسم واخلي توله سره برابر دي.

پوه شه:- چي د ناسي د يمين صورت دادي چي دِی بېخي غافله وي د تلفظ څخه په لفظ د قسم وروسته يې ورپيادسي چي تاخو قسم واخستي.

فائده:- د خاطي فی اليمين هم داغه حكم دي، چي صورت يې دادي چي يو سړی اراده د سبحان الله ويلو لري او پر خوله يې قسم ورسي كذا فی العنايه، قال الرسول الله ﷺ ثلث جدهن جد وهزلهن جد، الطلاق والعتاق، واليمين، او كه چا هغه كار چي ده قسم پر اخستی و چې زه به يې نه كوم مثلا بل سړي په زوره هغه كار په وكړی او يا يې په هېره هغه كار وكړی داهم سره برابر دي يعني حانښېړي يا ګناه كاره كېږي.

قال المصنف رحمه الله ﴿واليمين بالله او باسم الله من اسمائه كالرحمٰن والرحيم او بصفة من صفات ذاته كعزة الله وجلاله وكبريائه﴾ او قسم په نامه د الله ﷻ چي اسم ذات شريف دي، لكه والله يا بالله يا تا الله، او يا په يو نامه د نومانو د خداى ﷻ لكه والرحمٰن والرحيم او په يوه صفت د صفاتو د ذات دخداى ﷻ لكه چي حالف ووايي وعزت الله يا وجلال الله، او يا په كبريا د خداى ﷻ دي مي قسم وي.

پوه سه:- چي د اسم اطلاق كه څه هم ډېر دي لكن دلته مراد د اسمه هغه لفظ دي چي د لالت كوي پر ذات موصوفه بصفت لكه چي رحمٰن رحيم وغير ذالك دي، او د صفت معاني كه څه هم ډېري دي لكن مراد ځندي په دې ځای كي هغه مصدر دي چي مذكوره اسماء ځندي مشتق دي لكه رحمت د رحمٰن او رحيم د پاره يا عزت د عزيز د نامه د پاره يا علم د عليم د نامه د پاره الى غير ذالك من الاسماء ومصادر، عنايه، دروښ.

فائده:- د قسم د اسم د پاره دا شرط نه دي چي قسم به هغه اسم وي چي په عرف د خلګو جاري وي، او په قسم كي د صفت تعرف شرط دی.

قال المصنف رحمه الله ﴿الا قوله وعلم الله فانه لا يكون يمينا﴾ مګر نه دا قول د حالف وعلم الله ولي چي داسي ويل قسم نه دي يو په دې سبب چي قسم په علم الله سره متاعرف نه دي كه څه هم علم مصدر د عليم دي، او بل په دې سبب چي علم ګاهي په معنا د معلوم راځي لكه په دې دعاء كي، اللهم اغفر علمك فينا ای معلومك من المعاصی فينا، او په معلوم سره خو قسم نه دي روا، هدايه، دروښ.

قال ﴿وان حلف بصفة من صفات الفعل كغضب الله وسخط الله لم يكن حالفا﴾ او كه چا قسم واخستی په يو صفت يعني يعني مصدر سره چي د هغه څخه فعل مشتق كېدی نه اسم په معناي مذكوره سره لكه غضب الله وسخط الله هغه سړی حالف نه دي ولي چي غضب اللهي او سخط اللهی اور ته د دوزخ وايي او هغه قسم په مخلوق دي، په جوهره كي وايي چي كه چا داسي وويله ورحمة الله دا هم قسم نه دي ولي چي د رحمت څخه ګاهي جنت مراد ډېري لكه په دې آيت كي ففی رحمة الله هم فيها خالدون ای فی جنته، او ګاهي د رحمت څخه باران مراد ډېري لكه خلګ چي په وخت كي د قحط المطر وايي خدای پاك دي يو ښه رحم وكړي يعني باران، وكل ذالك مخلوق انتهى مع الزياده، دروښ.

قال ﴿ومن حلف بغير الله عزوجل لم يكن حالفا كالنبی ﷺ والقرآن والكعبة﴾ او که چا قسم اخستی په غير د نامه د خدای ﷻ لکه چي ووايي چي زما دي په نبي ﷺ قسم وي، او يا ووايي چي زما دي په قرآن شريف قسم وي، او يا دي زما په کعبه شريفه قسم وي نو هغه سړی حالف نه دي، لقوله عليه السلام من كان منكم حالفا فليحف بالله او ليذر.

فائده:- په مذکوره شيانو قسم اخستل اګر چه قسم خو نه دي، چونکه دا دړې شيان شرافت شرعي متيقن لري نو ځکه په قسم اخستو کي ددغو شيانو حالف ګناه کار نه دي، او که داسي شی قسم وي چي شرافت شرعي يقيني نه لري نو په هغه قسم اخستل ګناه هم ده لکه پښتانه چي وايي زما دي په شاه آغا قسم وي او يا وايي چي زما دي په غوث الاعظم رحمة الله عليه قسم وي او يا ورته داسي الفاظ په قسم کي استعمال کړي بلکه په دغه قسمو کي وهابيان حکم د شرک کوي ولي چي ددوي په نېز تعظيم د ماوراء الله شرک دي، او قسم اخستل په شي سره خوا مخوا تعظيم دي، لکن د وهابيانو د شرک غشي ډېر تېره دي حتی چي امت مرحومه غير ددې د معتقداتو څخه ټوله مشرکان دي او د يو ولي الله وزيارت ته که څوک سفر وکړي هغه هم مشرک دي حتی که په نيت د زيارت د سيد المرسلين ﷺ څوک سفر وکړي هغه مشرک دي اعاذنا الله من امثال هذه العقائد الزائغه.

پوښتنه:- په شرعي محکمو کي د افغانستان چي مدعي شاهدان نه لري نو قاضي ومدعي عليه ته قرآن مبارك پر مېز د قضا کښېږدي او ده ته قسم په ورکوي او سره ددې چي قرآن مبارك خو قسم نه دي کما قال المصنف رحمة الله عليه ؟

ځواب:- قاضي د محکمې دي مدعی عليه ته داسي نه وای چي ستا دي په دغه قرآن قسم وي، بلکه داسي ورته وای چي ته داسي ووايه والله بالله او پر دې قرآن لاس کښېږده دا سړی د والله بالله څخه نه ببرېږي ولي چي د کوچنوالي څخه دی په والله بالله عادت وي صرف د قرآن دلاس اښولو څخه ببرېږي نوځکه که حق جانب نه پر قرآن شريف لاس اږدي او ځان ملامت کړي دا ددوي غايت جهل او نا پوهي او په دين ناخبر تياده.

واقعه:- دروېش وايي چي يو وخت ما په سنځري کي درس کوی يو دوه کسه راغله په يو شي کې سره دعوه وه، او يو مدعي او بل منکرو ما مدعي ته وويل چي ته شاهدان لري هغه ويل يا، ماورته وويل چي دا بل سړی به تاته قسم واخلي هغه منکر وويل چي ته ماته څرنګه قسم اږدې ماورته وويل چي قرآن شريف به پر دامېز کښېږدو ته به ووايه چي والله که دغسي ده لکه زما مدعي چي وايي او پر دې قرآن شريف به لاس کښېږدي، منکر راته وويل چي مولوي صاحبه والله بالله که خبره بل ډول ده لکه زه چي وايم لکن قرآن والله که واخلم چي دا بسته واله څوک راکوي بس روان سو.

واقعه:- بل وخت بيا دوه كسان يو مدعي او بل منكر راغله په يوه دعوې كي بيا ما ومدعي ته وويل چي ته شاهدان لرې ده وويل يا، ماورته وويل چي دا بل سړی يعني مدعي عليه ته به قسم كښېږدو ده راته وويل چي ته څرنګه قسم ورته اړدې ماورته وويل چي دی به پر قرآن شريف لاس كښېږدي ده راته وويل چي دغه سړي زما سره ظلم كړی دي ته داسي قسم ورته كښېږده چي دده كور ورخراب كړي قرآن شريف به نو په ده څه وكړي، ما ورته وويل چي هغه كور خرابی قسم څرنګه دي، ده وويل چي دی دي د شاه آغا پر خوا اوه ګامه واخلي او ودي وايي چي خبره داغسي نه ده لكه زما مدعي چي وايي نو به يې شاه كور ورخراب كړي ما ورته وويل چي دا خو قسم نه دي ده راته وويل چي دا قسم مي حق نه دي نو زه ولاړم دعوه يې ختم كړه.

قال المصنف رحمه الله ﴿وحرف القسم ثلثة الواو كقوله والله والباء كقوله بالله والتاء كقوله تالله﴾ او هغه حرفونه چي په قسم كي مستعمل دي درې دي چي واو او با او تا دي په هغه مثالو كي چي مصنف رحمه الله ذكر كړي دي.

پوهه ښه:- چي د غه درې حرفه په قسم كي ډېر مشهور دي او په قرآن مبارك كي هم مذكور دي كقوله تعالى والله ربنا ما كنا مشركين حكاية عن قول المشركين يوم القيامة" وكقوله تعالى بالله ان الشرك لظلم عظيم" وكقوله جل ذكره تالله لاكيدن اصنامكم حكايت عن قول ابراهيم عليه السلام.

فائده:- فرق په مابين كي د دغو حرفو دادي چي باء عامه ده تر واو او تاء ولي چي باء پر اسم ظاهر او ضمير دواړو داخلېږي نحو حلفت بالله وحلفت به " بخلاف الواو او التاء فانهما لاتدخلان على الضمير، او واو بيا عام دي تر تاء ولي چي واو پر ټولو اسماؤ او صفاتو د خداى جل جلاله داخلېږي بخلاف التاء ولي چي دا خاصه په اسم ذات سره ده چي الله دی. ولي داسي ويل كېږي چي واللرحمٰن والرحيم وغيرهما او داسي نه ويل كيږي چي تالرحمٰن بلكه تالله فقط ويل كېږي الجوهره والدرويش.

قال ﴿وقد تضمر الحروف فيكون حالفا كقوله الله لافعل كذا﴾ او ګاهي حروف د قسم محذوفېږي نو سره د حذفه سړی حالف ګرځي لكه سړی چي واويي الله زه داسي نه كوم، ولي چي حذف د حرف د عادت څخه دي د عربو د پاره د اختصار، هدايه.

قال المصنف رحمه الله ﴿وقال ابو حيفة رحمه الله اذا قال وحق الله فليس بحالف﴾ او امام اعظم رحمه الله وايي كه چا داسي وويل وحق الله نو دا سړی حالف نه دي.

پوهه ښه:- چي دا قول دامام محمد رحمه الله دي ولي چي حق د خداى جل جلاله پر بندګانو دادي چي دده عبادت به كوي او شرك به نه كوي نو ګويا داسړی داسي وويل والعبادات لافعلن كذا او دا خو قسم نه دي، او امام ابو يوسف رحمه الله وايي چي وحق الله قسم دي ولي چي حق د صفاتو څخه د خداى جل جلاله دي نو ګويا ده داسي وويل والله حق آه.

قال ﴿ولو قال اقسم او اقسم بالله او احلف او احلف بالله او اشهد او اشهد بالله فهو حالف﴾ او که يو سړی صرف لفظ د اقسم ووايه، او يا يې داسې وويل احلف فقط او يا يې وويل احلف بالله او يا يې يوازې اشهد ووايه او يا يې اشهد بالله ووايه نو دا سړی حالف دي، په هدايه کې وايي لان هٰذه الالفاظ مستعملة فی الحلف وهٰذه الصيغة للحال حقيقة وتسعمل فی الاستقبال بقرينة فجعل حالفا فی الحال يعني لعدم قرينة الاستقبال والشهادة يمين، كما قال الله عز سلطانه يعني فی حق المنافقين قالوا نشهد انك لرسول الله ثم قالو اتخذوا ايمانهم جنة الآيه. يعني ان المنافقين ما حلفوا صراحة بل قالوا نشهد فقط فجعل ذالك يميناً منهم، انتهى مع زياده درويش.

قال المصنف رحمه الله ﴿وكذالك قوله وعهد الله وميثاقه فهو يمين او علی نذر او نذر الله﴾ او داغه رنګه يمين دي د سړي دا قول وعهد الله وميثاقه او داغه رنګه يمين دي علی نذر او نذر الله لقوله جل ذكره واوفوا بعهد الله اذا عاهدتم ولا تنقضوا الايمان فجعل الله العهد يميناً والميثاق بمعنی العهد، جوهره، او په ابو داؤد کې حديث نبوي ﷺ دي چې عليه السلام وويل من نذر نذراً ولم يسم فعليه كفارة يمين وكذا خرج هٰذا الحديث ابن ماجه كلاهما عن ابن عباس رضي الله عنه.

قال ﴿وان قال ان فعلت كذا فانا يهودی او نصرانی او مجوسی او مشرك او كافر كان يميناً﴾ او که سړي وويل که ما دا فلانی کار وکړی نو زه به يهودي يم او يا نصراني يم او يا مجوسي يم او

يا مشرك يم او يا كافر يم دا ټوله الفاظ يمين او قسم دي، نو که پر مستقبل کار يې دغه الفاظ استعمال کړه نو پر ده کفاره سته کې ځان حانث کړی، او که يې پر تېر سوي کار دغه الفاظ استعمال کړه او هغه کار ده کړی و، نو يمين غموس دی. و حكمه قد مر مګر کافر کېږي نه په دې يمين غموس کې.

درويش وايي :- چې چونکه مذکوره الفاظ په پښتو کې ډېر رواج دي نو بايد د دې پوره تحقيق وکړل سي. هغه دا دی چې محمد بن مقاتل رحمه الله وايي چې سړی دغه الفاظ پر طريقه د يمين غموس استعمال کړي نو دی په کافر کېږي، ولي ده تعليق د کفر په هغه شي وکړئ چې هغه فی الحال موجود سوی دی معناً، فكانه هو كافر و امثاله والاصح انه لم يكفر.

درويش وايي :- چې دغه سړي چې دا الفاظ وويل عقيده يې دا وه چې په داسې الفاظو سړی کافر کېږي، نو دی په صورت د غموس کافر سو او که يې عقيده نه وه، نو نه دی کافر، وهٰذا مما افتی به فی المجتبٰی والزخيره، لكن د هغه سره د كبيرې ګناه څخه نه دي خلاص، او په بحر الرائق کې وايي چې صحيح دا ده چې دغه الفاظ ويونکي که په دې خبر و چې دغه الفاظ د يمين دي يا منعقده يا غموس لکه دفقهي شريفي علماء چې خبر دي نو په ماضي يعني غموس کې نه کافر کېږي البته ګناه کبيره ده، او په منعقده يعني مستقبل کې که حانث سو کفاره يمين پر لازمه ده او که يې ځان نه کړی حانث نو د کفر او کفارې دواړو څخه خلاص سو لكن دغه الفاظ د مسلمان د پاره نازيبا دي، او که دا سړی په دې خبره جاهله و

چي دا الفاظ د يمين د پاره دي بلکه د هغه دا عقيده وه چي په دغو الفاظو سره د غموس په صورت کي سړی کافر کېږي او د منعقده په صورت کي هم سړی کافر کېږي نو د غموس په صورت کي خو دستي کافر سو، او د منعقده په صورت کي په وخت د حنث کافر سو لاکه لما اقدم على الحنث علم انه راض بالكفر والرضا بالكفر كفر.

درويش وايي:- چي ډېر کتابونه د فقهي شريفي پر دغه فتوی ورکوي والله اعلم بالصواب.

حاصل داچي دغه الفاظ د مسلمان د پاره لوي خطر دي بايد چي مسلمان د دغسي الفاظ څخه پرهېز وکړي او خپل ايمان په خطر کی وانه چوي.

قال المصنف رحمه الله ﴿وان قال فعلى غضب الله او سخطه فليس بحالف﴾ او که سړي وويل چي پر ما دي غضب د خدای او يا سخط د خدای ﷻ وي نو دی حالف نه دي، ولي چي سخط او غضب خو عذاب ته د خدای ﷻ وايي نو ګويا ده داسي وويل چي پر ما دي عذاب د خدای ﷻ وي او داسي لفظ خو قسم نه دي.

قال ﴿وكذالك ان قال ان فعلت كذا فانا زان او شارب خمر او آكل الربوا او اكل الميتة﴾ او داغه رنګه حلف نه دي که سړي داسي وويل چي که ما دا کار وکړی نو زه زنا کار يم، او يا شراب خورونکی يم او يا سود خوره يم او يا د مرداري خورونکي يم ولي دا تولې خو ګناهونه دي او مرتکب د ګناه خو کافر نه دي او اکل د ميتې خو په وخت کي د مخمصې

روا هم دي، او که يې داسي وويل چي که ما داکار وکړی نو زه حلال بلونکی د زنا يم يا د شراب چښلو وغيره نو ددې حکم لکه د مخ د مسئلې دي يعني زه به يهودي يم آه على الاختلاف المذكور انفاً.

قال ﴿وكفارة اليمين عتق رقبة يجزئ فيها ما يجزء في الظهار﴾ او کفاره د يمين ازادول دي د مريي يا مينځي، او کافي ده په کفاره يمين کي هغه رقبه چي په کفاره ظهار کي کافي ده کما مر هنالك، قال في البنايه چي په کفاره کي د ظهار مسلمانه رقبه او کافره رقبه نر او ښځه لوي او کوچنی ګرده روا او کافي دي نو په کفاره کي د يمين هم ګرده کافي دي، او په دواړو سترګو روند ندي روا، او چي دواړه لاسونه يې پرې وي او يا دواړي پښې يې پرې وي نه ده کافي، او چي يو لاس او يوه پښه يې پر يوه طرف پرې وي او يا شل وي هم نه ده روا، او که يې يو لاس پرې و پر يوه طرف او پښه يې پر بل طرف هغه روا دي او په يوه سترګه رونده او يا چي يو لاس يې يا يوه پښه يې پرې وي هغه په دواړو کفارو کي روا دي، او په کونړ کي اختلاف د مشائخو سته لکن صحيح دا دي چي روا دي انتهى مع الزيادت درويش.

قال المصنف رحمه الله ﴿وان شاء كسا عشرة مساكين كل واحد ثوبا فما زاد وادناه مايجوز فيه الصلوة﴾ او که يې خوښه وي د حالف نو لسو مسکينانو ته دي کالي ورکړي يعني که نوي وي او که زاړه لکن ببخي بوسيده جامه به نه وي، هر يوه ته دي جلا جلا جامه ورکړي، او يا بالاتر

هغه او کمه درجه د جامې هغه ده چې لمونځ پکښې روا وي يعني عورت په پټ وي.

درويش وايي:- چې په انشاء کې اشاره ودې ته ده چې په دې کفاره کې ترتيب شرط نه دي.

پوه سړه:- چې صاحب جوهره وايي چې نو قميص دي لکن نه اجزاء دده على العموم نه ده صحيح ولې چې قميص د پنجابيانو يا د هندوستانيانو يا د بلوڅانو يا د بعض قندهاريانو يا د هراتيانو وغيرهم کافی نه ولې په هغو قميصانو سره ستر د عورت نه کېږي، بلکه قميصان د عربو او د هلمنديانو او د روزګانيانو د طالبانو قميصان کافي دي، او صاحب مجمع الانهر وايي يا ازار يعني لنګ لکن دومره وي چې د نو څخه لاندې زنګنونه پکښې پټ سي، او دى وايي يا دي پتو وي لکن په پتو د اشمال پر دول لمونځ روا دي نو بايد دغونه غټ پتو ورکړي او هغه چې صاحب جوهره وايي چې پرتوګ يوازي کافي نه دي دا خبره د متن څخه ده، قال امام محمد رحمه الله چې پرتوګ کافي دي ولې چې لمونځ يوازي په پرتاګه کې روا دي، لکن کفايت ددې جامه هلته دي که يې نر ته جامه ورکول او که يې ښځې ته جامه ورکول نو سره ددغو جامو به پورنى هم ورکوي ولې سر ددې عورت دي او لځ سر يې لمونځ نه دى روا بلك ټوله عورت ځايونه به د ښځې ورپټوي.

قال المصنف رحمه الله ﴿وان شاء اطعم عشرة مساكين كالاطعام فى الكفارة الظهار﴾ او که يې خوښه وي لسو مسکينانوته دي ډوډۍ ورکړي لکه په کفار ظهار کې چې ورکړه کېږي.

پوه سړه:- چې دغه يوه کاسه د اوربشو يا د جوارو يا د خرما او يا نيمه کاسه د غنمو يا د اوړو وهر مسکين ته ده.

مسئله:- قيمت ددغو شيانو وهر مسکين ته جلا جلا هم کافي دي.

مسئله:- که لس کسه مسکينان مېلمانه کړي غرمه او مانښام ډوډۍ ورکړي په هغه ډول چې حالف يې په کور کې غرمه او مانښام خوري د هغه ميانه درجه، قال الله تعالى من اوسط ماتطعمون اهلكم".

مسئله:- که په لسو مسکينانو کې يو داسې کوچنى و چې ځان يې پوره نه سواى مړه ولى، نو د کوچنې پر ځاى به بل مسکين ته ډوډۍ ورکوي، كذا فى البنايه مع الزيادت ونقص.

قال ﴿فان لم يقدر على احد هٰذه الاشياء صام ثلثة ايام متتابعات﴾ او که يې پر يوه ددغو درو شيانو قدرت نه درلودي نو دې دري روژې ونسي پرله پسې، او امام شافعي رحمه الله وايي چې تتابع شرط نه دي بلکه ددې خوښه ده کې پيوسته نسي او که يې سره جلا جلا، دى وايي چې په قرآن مجيد کې خو صيام مطلق بېله قيده د تتابع راغلى دى، قال فى الهدايه ولنا قرائة ابن مسعود رضي الله عنه چې هغه داسې دي صيام ثلثة ايام متتابعات" او قرات د ابن مسعود رضي الله عنه لکه خبر مشهور دي چې زيادت په قرآن پر روادي كما تقرر فى كتب الاصول.

قال المصنف رحمه الله ﴿فان قدم الكفارة على الحنث لم يجزه﴾ او که حالف کفاره د مخه تر حنث ورکړه هغه کفایت نه کوي.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن حلف على معصية مثل الا يصلي او لا يكلم اباه او ليقتلن فالا ناًحنث نفسه ويكفر عن يمينه﴾ او که چا قسم واختستی پر ګناه باندي يعني چي زه به يې کوم که هغه ګناه کبيره وي او که صغيره وي، لکه چې داسي وويايي چي زه به لمونځ نه کوم، او يا د پلار سره خبري نه کوم، او يا فلانی سړی وژنم، يانور ورته ګنهونه چي زه به زنا کوم يا لواطت او يا لمونځ په جماعت نه کوم وامثال ذالك كثيرة، نو پر دې سړي لازمه ده چي ځان دي په قسم کې حانث کړي او د قسم کفاره دي ورکړي، في الهدايه لقوله عليه السلام من حلف على يمين او مقسم عليه ورای غيرها خيراً منها فليات بالذی هو خير ثم ليكفر عن يمينه، ولان فيما قلنا يعنى الحنث تفويت البر يعنى عدم الحنث الى جابر وهو الكفارة ولاجابر للمعصية عند انتهى.

ژوبښ وايي:- وايي چي ډېر عوام کالانعام چي ورته قسم واخلي او يو عالم ورته ووايي چي ته دا قسم پر ځان مات کړه يعنې ځان حانث کړه او کفاره ورکړه، جاهل ورته ووايي چي څرنګه به قسم پر ځان ماتوم دا خو ګناه ده، عذر از ګناه بدتر" او عجبه خو لادادە چي بعض جاهلان امامان و هغه سړي ته چي ورته قسم يې اخستی وي ووايي چي ځه بې عقله پر ګناه کولو قسم کله سته، يعني دا قسم پر ګناه ببخي صحيح نه دي يعني کفاره نسته پکښې، نو پر داسي ملا صاحب بايد سړی هغه متل تېر کړي چي غلبېل کوزې ته ويل ستا څونه لوي سوری دی.

قال المصنف رحمه الله ﴿واذا حلف الكافر ثم حنث فى حال الكفر او بعد اسلامه فلا حنث عليه﴾ او که قسم واخستی کافر او بيا حانث سو په حال کي د کفر او يا وروسته تر اسلام حانث سو نو پر ده حنث نسته يعنى کفاره نسته، دليل يې دادي چي کافر اهل د يمين نه دي، ولي د يمين انعقاد د جهته د تعظيم د اسم الله دي، او سره د کفره تعظيما لاسم الله صورت نه لري، او نه کافر اهل د کفارې دی ولي کفاره خو عبادت دي او په عبادت کي نيت ضرور غواړي نو کفاره د کافر نه ده صحيح لکه لمونځ او روژه، كذا فى الجوهره.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن حرم على نفسه شيئاً مما يملكه ولم يكن محرما عليه﴾ او که چا حرام کړی پر ځان باندي يو شی د هغو شيانو څخه چي دده په ملك کي وه نو هغه شی دده په وينا نه حرامېږي مثلا يو سړي دا سي وويل چي دغه زما جامه پر ما حرام کې زه واغوندم، او يا دغه ډوډۍ پر ما حرامه ده کې زه وخورم او يا مثل ددغسي الفاظو.

پوه شه:- چي مصنف رحمه الله دغه لفظ ووايه مما يملكه ولي که هغه شی دده په ملك کي نه وي نو دی په دغه وينا کي صادق دي، دليل د عدم حرمت يې دادي چي هغه شی د سړي ملك وي خدای جل جلاله ورته حلال کړی دی، نو دی نه سي کولی چي د خدای جل جلاله د حکم په مقابل کي بل حکم وکړي.

قال ﴿فان استباحه فعليه كفارة يمين﴾ او که دغه سړي معامله د مباح د هغه شي سره وکړه مثلا هغه جامه يې واغوستل او يا يې هغه ډوډۍ وخوړه نو پر ده کفاره ديمين لازه ده، حاصل دا چي تحريم د حلال

يمين دي. قال الله تبارك تعالى يا ايها النبى لم تحرم ما احل الله لك الى ان قال تحلة ايمانكم الآيه" ددې ايات شان نزول په طويل حديث کې د بخاري شريف او په نورو کتابو کې دحديث شريف داسې ذکر سوي دي چې آنحصرت ﷺ د بعض ازواج مطهرات رضى الله عنهن حجرو ته به د مازديګر د لمانځه وروسته ورتلى، او هغې مبارکې ته څه عسل چې د پلار ګنې د خوا راغلي وه ﷺ ته به يې ورکوله او ده مبارك خوړله چې طبعا د ﷺ ډېر خوښ وه نو بعض نورو ازواجو مطهراتو مشوره ورته وکړه چې د هرې يوې کور ته چې ﷺ ورسي هغه دي ورته ووايي چې تا مغافر خوړلي دي چې يوه بد بويه ژړا د يوې درختي ده نو ځکه دي د خولې د مغافر بوي ځي خير قصه کوتا هرې يوې چې دا خبره و ﷺ ته وکړه ده مبارك ورته وويل چې ما مغافر نه دي خوړلي بلکه د فلانى په کور کې مې عسل وخوړله او د آينده د پاره پر ما عسل حرام دي، نو دا آيت نازل سو او خداى ﷻ دى امر کړى په تحلة ايمانكم" په عبارت، يعني په قسم کې ځان خانث کړه او کفاره ورکړه، نو ددې کبله تحريم د حلال يمين دي كما قال المصنف.

ژوبښ وايي:- چې تفصيل ددې شان نزول په بخاري شريف کې مطالعه کړه.

قال المصنف رحمه الله ﴿فان قال كل حلال على حرام فهو على الطعام والشرب الا ان ينوى غير ذالك﴾ او که يو سړي داسې ويل چې هر حلال شى پر ما حرام دي، نو دغه قسم د خوړلو او چښلو په شيانو پورې مربوط دي ولې چې مقصود په قسم اخستو کې خو د سړى قصد

داوي چې زه به ځان نه خانثه ومه، نو که دا قسم پر عموم باندي حمل کړو لکه ظاهر د لفظ د قسم دي نو په دې کې خو د عدم حنث تصور هم نسي کېدلى ولې چې د ساه کښلو څخه د انسان چاره نه کېږي نو ي چې ساه يې وکښل دا خو هم مباح کار و نو دى دستي حانث سو نو دده د قسم اخستلو څه فائده ده، نو ددې قسم حمل چې پر عموم ظاهر نسي کيدلى نو دا قسم مصروف دي و مطعوم او مشروب ته په سبب د عرف نو ګويا ده داسې وويل چې هر مطعوم او مشروب حلال پر ما حرام دي، نو دا قسم د ماينې سره جماعو ته نه دى شامل او که يې په نيت کې وطي د ماينې وې نو دا ايلاء ده چې حكم يې په اوائل کې ددې كتاب تېر سو فتذكر، قال فى النهاية شرح الهداية هذا كله ظاهر الرواية والفتوىٰ اليوم على انه زوجته تبين منه بلا نية لغلبة الاستعمال فى ذالك فان لم تكن له زوجة يحتمل على الطعوم والمشروب فان اكل او شرب تجب عليه الكفارة لانصرافه عند عدم الزوجة اليها، او امام زفر رحمه الله دا قسم پر عموم ظاهر حمل کوي نو ځکه دى وايي چې څرنګه چې حالف د قسم څخه فارغه سو دستي حانث دى په سبب د تنفس والجواب ماقلنا آنفاً فتدبر.

قال ﴿ومن نذر مطلقا فعليه الوفاء به﴾ او که چا نذر کړه روژه او يا ختم د قرآن او يا نور مطلقا يعني شرط يې نه کړى ورسره ذکر مثلا داسې يې وويل لله على ان اصوم شهراً نو پر ده باندي وفا په نذر سره واجب او لازمه ده.

قال المصنف رحمه الله ﴿وان علق نذره بشرط فوجد الشرط فعليه الوفاء بنفس النذر﴾ او که يو چا مربوط کړى ندر په يو شرط سره مثلا

داسي يې وويل چي که زه خدای ﷻ ددې ناحوړې څخه جوړ کړم نو پر ما لس ورځي روژه نذر ده ، او هغه شرط موجود سو يعني دی د هغې ناجوړې څخه جوړ سو نو پر ده لازمه ده وفا په نفس منذر يعني لس روژې به نسي يعني په کفاره د يمين نه خلاصېږي، عنايه دروېش.

قال ﴿وروی ان ابا حنفية رحمه الله رجع عن ذالك وقال اذا قال ان فعلت كذا فعلى حجة اوصوم سنة او صدقة ما املكه اجزء عن ذالك كفارة يمين وهو قول محمد رحمه الله ﴾ او د امام اعظم رحمه الله څخه روايت دي يعني په غير کي د ظاهر الروايت چي امام مرحوم رجوع وکړه د مخني قول څخه، او وه يې ويل که چا وويل که ما فلانې کار وکړی نو پر ما حج لازم دي، او يا د يوه کال روژې لازمي دي، او يا ټوله هغه شيان چي زما په ملك دي هغه خيرات دي نو په ټولو دغو صورتو کي د قسم کفاره کافي ده او دا هم قول دي د امام محمد رحمه الله ، يعني په کفاره يمين سره د نذر د عهدې څخه خلاصېږي لکن په هدايه کي وايي چي دا هلته خلاصېږي په کفاره يمين سره چي شرط داسي شرط وي چي سړی وجود د هغه نه غواړي مثلا لکه چي ووايي که ما د زيد سره خبري وکړې،ولي په داسي قول کي معنا د منع سته يعني زه د زيدسره خبري نه کوم او يمين خو هم د پاره د منع دي فهو بظاهره نذر وفيه معنا اليمين نو دا سړي لره اختيار دي که د يمين وخوا ته ميل کوي يعني کفاره يمين ورکوي او که ايفا په نذر کوي، بخلاف ما علق بشرط يريده وجوده لکه يو سړی چي ووايي ان شفى الله مرضى فعلى كذا نو په دې کي ايفا بالنذر

خواه مخواه لازه ده ولي چي معنا د يمين چي منع ده په دې ځای کي نسته ولي چي دا قائل وجود د شفاء المرض غواړي نه منع كما لا يخفى.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن حلف لا يدخل بيتا فدخل الكعبة او المسجد او البيعة او الكنيسة لم يحنث﴾ او چا قسم واخستی چي زه خوني ته نه داخلېږم نو د کعبې شريفي خوني ته داخل سو او يا مسجد ته داخل سو او يا بعيې ته د نصاراو داخل سو او يا کنيسه ته د يهودو داخل سو په قسم کي نه حانثېږي ولي چي لفظ د بيت په عرف کي هغې خوني ته وايي چي د شپې تېرولو د پاره جوړه سوې وي، او کعبه شريفه، مسجد شريف، بيعه، او کنيسه ددغه مطلب د پاره نه دي جوړي سوي بلکه د پاره د عبادت جوړي سوي دي که څه هم شپه تېرېدل خو په دغو مقاماتو کي ممکن دي، ه ،در.

قال ﴿ومن حلف ان لا يتكلم فقرء القرآن فى الصلوة لم يحنث﴾ او که چا قسم واخستی چي زه به خبري نه کوم نو ده قرآن شريف ووايه په لمانځه کي نه حانثېږي ولي چي قرآن په لمانځه کي کلام نه بلل کېږي.

دروېش وايي:- چي داغه رنګه دی حکم د تسبيح او د الله اکبر وغير ذالك مما يقرء فى الصلوة يعني نه په حانثېږي ولي په حديث مبارك کي راغلي دي ان هٰذه الصلوتنا لايصلح فيها شيئ من كلام الناس وانما هى التسبيح والتهليل وقرائة القرآن" د مصنف رحمه الله د قيد څخه د فى الصلوة دا معلومېږي چي قرآن شريف خارج الصلوة ووايي حانثېږي او يا تسبيح يا تهليل يا تكبير خارج الصلوٰة ووايي نو هم په حانثېږي ولي چي

په غير کي د لمانځه دی حانث بلل کېږي، او بعض مشائخ وايي چې په مذکوره شيانو سره خارج الصلوة هم نه حانټېږي ولي چې په عرف کي زمونږ ددغو شيانو ويو نکي ته متکلم نه وايي بلکه قاء القرآم يا مسبح يا مکبر يا مهلل ورته وايي وهو الصحيح کما فی الجوهره وغيرها.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن حلف لا يلبس هٰذا الثوب هو لابسه فنزعه فی الحال لم يحنث وان لبث ساعة حنث﴾ او که يوه قسم واخستی چې زه دغه جامه نه اغوندم او حال دا و چې ده اغوستې وه نو يې فی الحال وکښل نه دي حانث او که يې يو ګړی درنګ او ځنډ وکړی او بيا يې وکښل نوحانث دي، خلافا لزفر رحمه الله والدلائل فی الشروح.

پوه شه:- چې د ساعت څخه ساعت زماني متعرف نه دي مراد بلکه مراد معنا لغوي ده، يعني يو ګړی تر قسم وروسته يې شروع په نزع سره د جامې دستي ونه کړه نو حانث دي فافهم.

قال ﴿وکذالک اذا حلف لا يرکب هٰذه الدابة وهو راکبها فنزل فی الحال لم يحنث وان لبث ساعة حنث﴾ او داغه رنګه حکم دي چې سړی قسم واخلي چې پر دې دابه به نه سپرېږم او فی الحاله ځندي راکښته سو نه حانټېږي، او که يې يو ساعت درنګ وکی په کښته کېدو کي بيا نو حانث دي، لان البقاء علی اللبس فی المسئلی الاولی والبقاء علی الرکوب فی المسئلة الثانية لبس وركوب، وقد حلف علی نفی اللبس والرکوب.

قال ﴿ومن حلف لا يدخل هٰذه الدار وهو فيها لم يحنث بالقعود فيها حتی يخرج ثم يدخل﴾ او که چا قسم واخستی چې زه

به دا سرای ته نه داخلېږم او دی په هغه سرای کي و نه حانټېږي چې کښيني په هغه سرای کي تر هغه وخته پوري چې دی د سرای څخه راوځي او بېرته داخلېږي، نو کې داغسي وکړه نو حانث دي.

پوه شه:- چې قياس خو دادي چې په قعود سره دی حانث سي لان الدوام علی الدخول کابتداء الدخول وقد حلف عنه، والدليل علی المسئلة المتن ان الدخول فی الدار نوی امر دی لادوام له لانه انفصال من الخارج الی الداخل، ه ، در.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن حلف لا يدخل الدار فدخل دارا خرابا لم يحنث﴾ که چا قسم واخستی چې زه دار ته نه داخلېږم يعني تعبير د دار يې نه وکړی بلکه جنس دار يې ذکر کړی، نو دا سړی داخل سو يو خراب سرای ته يعنې د چا د استوګني صالح نه و نو نه حانټېږي ولي قسمونه محمول پر عادات دي، نومراد دده په يمين کي معتدبه مراد دي چې خلګ پکښي اوسېږي يعني صالح د اوسېدو وي، او خرابه سرای خو د اوسېدو نه دی، مثال ددې دادي چې يو سړی قسم واخلي چې که زه قميص واغوندم اخر ده قميص لنګ کړی نو نه حانټېږي ولي مراد لبس معتاد دي، جوهره.

قال ﴿ومن حلف لايدخل هٰذه الدار فدخلها بعد ما انهدمت وصارت صحراء حنث﴾ او که چا قسم واخستی چې زه دغه معين سرای ته نه داخلېږم، نو دی هغه معين سرای ته په داسي وخت کي داخل سو چې هغه سرای نړېدلی و او صرف صحرا وه نو دی حانث دي، ولي ده چې بقعه د سرای معلومه کړه نو قسم دده په بقعه پوري د هغه تعلق لري

او نوم د دار يې هم فی الجمله باقی دي، مثلا خلګ وايي چې دا ځای د فلاني د سرای دی فيحنث.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن حلف لايدخل هٰذه البيت فدخل بعد ما انهدم لم يحنث﴾ او که چا قسم واخستی چې زه نه ننوزم دغې خونې ته نو دی هغه ځای ته د خونې وروسته تر نړېدو داخل سو يعنې چې صحرا ګرځېدلې وه نه حانثېږي، ولې چې بيت هغه ځای ته وايي چې شپې پکښې تېرېږي په صحرا کې عادتاً شپې نه تېرېږي، او که يې دېوالونه ولاړ وه صرف بام يې نړېدلی و بيا حانثېږي ولې چې صالح د شپې تېرېدو دي کذا فی الهدايه.

قال ﴿ومن حلف ان لايكلم زوجة فلان فطلقها ثم كلمها حنث﴾ او که چا قسم واخستی چې زه د فلانۍ د ماينې سره خبرې نه کوم، نو فلاني هغه ماينه طلاقه کړه وروسته حالف خبرې ورسره وکړې نو دی حانثېږي په دغو خبرو لکن دا حکم هلته دي چې دا قسم پر يوه معينه ماينه چې اشاره يې هم ورته وکړه قسم واخستی ولې چې د زوجه فلان نوم پس له طلاقه هم پردې باقي دي اګرچې طلاق بائن يې ورکړی وي وسيئاتي دليله الاخر.

قال ﴿ومن حلف ان لايكلم عبد فلان او لايدخل دار فلان فباع فلان عبده او داره ثم كلم العبد او دخل الدار لم يحنث﴾ او که چا قسم واخستی پر دې چې زه به خبرې نه کوم د فلاني د مريي سره، او يا به نه داخلېږم سرای ته د فلاني نو هغه فلاني مريي خرڅ کړی او يا

يې سرای خرڅ کړی، وروسته حالف خبرې وکړې د هغه مريي سره او يا داخل سو وهغه سرای ته نو نه دی حانث.

پوه شه:- چې دا قول د امام اعظم رحمه الله او امام ابو يوسف رحمه الله دی، او امام محمد رحمه الله وايي چې حانثېږي، دليل د قول د شيخينو دادي چې مريي او يا سرای د سړی مبغوض عادتاً نه وي نو ګويا ده داسي وويل چې مادام ملك فلان باق فيهما وقد خرجا عن ملكه بالبيع فلم يبق المقصود بالحلف فلا يحنث، بخلاف مسئلة الزوجة فلان لان الزوجة يقصد بالمعادات والموالات بالذات والاضافة الى الزوج انما هى لتعريفها لالان ذات الزوج مبغوضه فاذا طلق الزوج الزوجة المذكورة فذات الزوجة المبغوضة للحالف باقية فيحنث بكلامها.

دروښ وايي:- چې چونکه په دليل کې د قول د امام محمد رحمه الله طول و نو ځکه ما نقل نه کړی، نو هدايه يا نوري شرحې د قدوري مطالعه کړی ان شئت.

قال ﴿وان حلف لا يكلم صاحب هٰذا الطيلسان فباعه ثم كلمه حنث﴾ او که سړي قسم واخستی چې زه به د صاحب سره ددغه کمر بند خبرې نه کوم، نو هغه سړي دغه کمر بند خرڅ کړی او حالف وروسته خبرې ورسره وکړې نو دی حانث دي، ولې چې طيلسان خو د بغض شی نه دي نو اصلي بغض دده خو د صاحب سره د کمر بند دي، نو پسله خرڅېدو څخه د کمر بند مبغوض دده باقي دي نو ګويا ده داسي په اشاره سره وويل چې قسم په خدای جل جلاله که زه ددغه سړي سره خبرې وکړم.

قال ﴿وكذالك اذا حلف ان لا يكلم هٰذه الشاب فكلمه بعد ماصار شيخا حنث﴾ او داغسي حكم دی كه يو سړي قسم واخستی چي زه ددغه ځوان سره خبري نه كوم، نو بيا حالف دده سره خبري وكړي پس له دې څخه چي هغه ځوان سپين ږری سو نو دغه حالف حانث دي، ولي چي حلف په مشار اليه پوري مربوط دي ولي وصف چي شاب دی په مشار اليه كي لغو دی او مشار اليه خو پس له سپين ږر توبه هم باقي دي فيحنثه بتكلمه، هدايه، دروښ.

قال المصنف رحمه الله ﴿وان حلف لا ياكل لحم هٰذه الحمل فصار كبشا فاكله حنث﴾ او كه چا قسم واخستی چي زه ددغه وري غوښي نه خورم نو هغه وری مړ سو نو ده يې غوښي وخوړې نوحانث دي ولي چي يمين قانونا تعلق په مشار اليه پوري لري، او وصف د حمل يې لغو دي ولي چي د حمل او وري غوښي د كبش تر غوښو بالا دي او مفيدي د بدن د پاره دي نو حمل والي باعث د قسم نه دي.

قال ﴿وان حلف ان لا ياكل من هٰذه النخلة فهو على ثمرها﴾ او كه چا قسم واخستی چي زه ددې درختي څخه د خورما خورك نه كوم نو ددې قسم څخه مراد مېوه د خورما ده.

فائده:- هره درخته چي مېوه داره وي لكه د انګورو تاك يا د سيبو درخته وامثال ذالك چي سړی قسم ځندي واخلي قسم يې په مېوه پوري مربوط دي ولي اګرچي حالف يمين مضاف كی ودرختي ته لكن ذات د رختي خو د خوراك شی نه دي نو ځكه يې حلف راجع وماخرج منها ته دي چي مېوه د هغې درختي ده، او كه درخته مېوه والا نه وه مثلا سړي قسم

مكتبة القراءة والتجويد كوئٹه

واخستی د خورك د ولي يا د ناجو وغير ذالك نو بيا دغه قسم پر قيمت د هغې درختي واقع كيږي.

پوه ښه:- چي اراده د مېوې يا د قيمت مجاز دي د قبيلې څخه د ذكر د سبب او اراده د مسبب ده.

مسئله:- كه سړی يعني حالف د هغې درختي لرګی ميده كړی او وبخوړی نه حانثيږي لانه حقيقة مهجورة قاله الفقهاء.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن حلف ان لا ياكل من هٰذا البسر فصار رطبا فاكله لم يحنث وان حلف لا ياكل بسرا فاكل رطبا لم يحنث وان حلف لا ياكل رطبا فاكل بسرا مذنبا حنث عند ابی حنيفة رحمه الله ﴾ او كه چا قسم واخستی چي زه به خوراك نه كوم ددې غوره خورما څخه نو هغه بسر پخه خورما سوه او حالف وخوړه نه حانثيږي، ولي يمين چي تعلق ونسي په يو نامه سره نو په بقاء د هغه نامه يمين باقي دي او په زوال د هغه نامه زائليږي او د مابين څخه ختم كيږي، نو دلته خو ده قسم اخستی دي پر نامه د بسر هغه نوم خو اوس زائل سو د رطب په نوم سو نو ځكه حالف حانث نه دي.

پوه ښه:- چي صاحب عنايه يو قانون كلي بيان كړی دی چي قسم چي تعلق په يو ذات پوري ونسي او هغه ذات موصوف په يوه وصف سره وي او هغه وصف سبب د قسم ګرځيدی سي نو يمين په هغه وصف پوري مربوط دي چي هغه وصف بدل سي نو حنث نسته لكه په مانحن فيه چي حالف اشاره وكړه وذات ته د خرما چي موصوف په بسريت سره دي،او وصف د بسريت داغي د قسم هم ګرځيدای سی ولی د بعض خلكو تروه مېوه نه ده

مكتبة القراءة والتجويد كوئٹه

خوښنه، او که چا قسم واخستی چي زه نه خورم بسر او بيا يې رطب وخورې يعني پخه خورما نه دی حانث.

پوښتنه:- ددې مسئلې او د مخکنۍ مسئلې څه فرق دي ؟

ځواب:- په مخکنۍ مسئله کي بسر معرفه او مشار اليه و او په دې مسئله کي نکره او غير مشار اليه دي، ودليل هٰذه المسئلۍ ايضا دليل الاولى شبراً بشبر فتذكروا وتامل. او که سړی قسم واخستی چي زه به رطب نه خورم يعني پخه خورما او بيا يې بسر وخوړه مذنبا يعني چي پختيا ته نژدې وه خو تر اوسه لاتريو والی د بسر پکښې و حانثېږي، لکن په نېز د امام اعظم رحمه الله چي امام محمد رحمه الله يې هم په مسئله کي همراه دي، او امام ابو يوسف رحمه الله وايي چي نه حانثېږي ولي چي ددې خورما نوم خو رطب نه دي په عرف کي بلکه نوم يې بسر مذنب دي، او طرفين وايي چي په بسر مذنب کي معنا د رطب سته.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن حلف لا ياكل لحما فاكل لحم سمك لا يحنث﴾ او که چا قسم واخستی چي زه به غوښې نه خورم، اوبيا يې د ماهي غوښې وخوړلې نه حانثېږي.

سوال:- د ماهي غوښو ته په قرآن مجيد کي لحم ويل سوي دي، قال جل سلطانه" ومن كل تاكلون لحما طريا" نو بيا ولي دغه حالف په خوړلو د ماهي د غوښو نه حانثېږي؟

ځواب:- كما قال صاحب الهدايه رحمه الله چي د لحم حقيقت هغه غوښې دي چي د وېنو څخه پيدا کېږي او سمك وينه نه لري ولي چي وينه لرونکي

شی په اوبو کي استوګنه نه سي کولی، او که يې وينه درلودی نو بې ذبح ته حاجت درلودی.

قال ﴿ولو حلف لا يشرب من دجلة فشرب منها باناءٍ لم يحنث حتى يكرع منها كرعاً عند ابى حنيفة رحمه الله ﴾ او که چا قسم واخستی چي زه به د دجلې څخه اوبه نه چښم، او بيا ده اوبه د دجلې څخه په لوښي کي اوبه راواخستې او وې چښلې نه حانثېږي تر هغو چي په کرعه يې ونه چښي.

پوښتنه:- چي کرعه داده چي خوله پر اوبو کښېږدي او وې چښي نه يې په لوښي کي راواخلي او نه په غبرګه کي لکه عادت د بعضو بادیه نشينانو چي دی په نېز د امام اعظم رحمه الله .

پوښتنه:- چي کم حقيقت چي مستعمل وي که څه هم مجاز پر ډېر وي په استعمال نو امام اعظم رحمه الله هغه لفظ پر حقيقت حمل کوي، لانها الاصل، او په نېز د يارانو مجاز متعارف اولى دي تر حقيقت نادره او دا هم مذهب دي د ائمه ثلاثه رحمهم الله، په مانحن فيه معنا حقيقي د من دجلة داده چي د شرب مبدء يې دجله وي او دا معنا مستعمل هم ده لکه د بعض صحرايانو که څه هم نادره ده او معنا مجازي داده چي اوبه د دجلې وچښي يا په غبرګه او يا په لوښي سره او دا معنا شائع ده، نو د امام اعظم رحمه الله په نيز په کرعه سره حانثېږي فقط، په معنا مجازي نه حانثېږي، او د يارانو په نيز په معنا مجازي حانثېږي نه په کرعه، او بعض فقهاء په دې قسم کي عموم مجاز کوي يعني مراد د حالف چښل د اوبو د دجلې دي په هر ډول چي وي.

قال ﴿ومن حلف ان لا يشرب من ماء دجلت فشرب منها باناء حنث﴾ او كه چا قسم واخستى چي زه به اوبه د دجلې نه چښم او بيا يې په لوښي کي وچښلې حانث دي، ولي چي د لوښي اوبه خوهم د دجلې اوبه دي.

پوهاوی:- چي حنث په دې صورت کي په اتفاق دي، او په صورت کي د کرعي هم حانثېږي کما لا يخفى.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن حلف ان لا ياكل من هٰذه الحنطة فاكل من خبزها لم يحنث﴾ او كه چا قسم واخستى چي زه ددې غنمو څخه خورك نه كوم، نو په ډوډۍ خوړلو د هغو غنمو نه حانثېږي.

پوهاوی:- چي دا مذهب دى د امام اعظم رحمه الله ولي دى حقيقت چي مستعملوي تر مجاز اولى دى، او خوَدي غنم خو هم خوړل كېږي په عرف كي يعني چي يا په اوبو كي وه ايشول سي چي په پښتو كې كوچه بولي او په لپي يې خولې ته اچوي او خوري يې، اويا غنم پر تبخي پر اور باندي كړي چي په پښتو كي يې نينې بولي او په مزه مزه يې په كپه خوري، او ډوډۍ چي د غنمو څخه پيدا سي هغه خو معنا مجازي د غنمو ده، اويا ران وايي چي په كوچه، په نينو او هم په ډوډۍ د هغو غنمو حانثېږي، او دې ته په اصطلاح د اصول فقه عموم مجاز وايي، وقد صح قول الصاحبين فى بعض الفتاوى، لكن دا اختلاف هلته دي چي حالف نيت د كوچې او نينو نه لري، او كه يې د هغو نيت و بيا په اجماع سره په خوراك د ډوډۍ د هغو غنمو نه حانثېږي.

قال ﴿ولو حلف ان لا ياكل من هٰذه الدقيق فاكل من خبزه حنث﴾ او كه چا قسم واخستى چي زه به ددغو وړو څخه خورك نه كوم، نو يې ډوډۍ د هغو وړو وخوړه حانث دي يعني په اتفاق د امام اعظم رحمه الله او يارانو ولي خورك د خودي وړو هيڅ معتاد نه دي بلكه يو اندازه ضرر لري نو ګويا حقيقت يې متعذر دي نو خود مجاز ته تګ كېږي چي ډوډۍ ده كما تقرر فى اصول الفقه، حتى كه يو سړى په تكليف سره د هغو وړو څخه خورك وكړى هم نه حانثېږي.

قال المصنف رحمه الله ﴿ولو استفه كما هو لم يحنث﴾ او كه يې كپه كړه هغه وړه نه حانثېږي، او بعض مشائخ وايي چي په خوړلو د عين وړو هم حانثېږي، لكونه حقيقت وان لم تكن مستعملة لكن په عنايه كي وايي چي صحيح داده چي نه حانثېږي لكونه حقيقة مهجورة.

ډوبش وايي:- چي فتوى پر قول د عنايه ده.

قال ﴿وان حلف ان لا يتكلم فلانا فكلمه وهو بيحث يسمع الا انه قائم حنث﴾ او كه چا قسم واخستى چي دى به خبري نه كوي د فلاني سره نو ده خبري ورته وكړي په داسي حال كي چي هغه سړى په داسي ځاى كي و يعني نژدې و چي دده خبري يې اوريدلې واى مګر هغه بيده و يعني نه يې واوريدې نو دى حانث دي.

فائده:- دا مذكوره مذهب دى د قدوري رحمه الله او ددې تصحيح امام سرخسي رحمه الله هم كړې ده، دليل يې دادى چي ده خو خبري ورته وكړې او د هغه غوږو ته هم ورسېدلې لكن په پوه نه سو په سبب د خوب، او د مبسوط

مذهب دادی چي حالف پس له خبرو هغه نائم ويښ کړي هو المختار اکثر مشائخنا رحمهم الله.

قال فی مجمع الانهر وهو المختار، وفی التحفی وهو الصحيح، دليل يې دادي چي هغه سړی چي ويښ نه سي نو داسي مثال يې دی لکه چي حالف مذکور د لېري څخه د هغه سړی سره خبري کوي او هغه يې اواز نه اوري او ويښ وي.

قال ﴿وان حلف ان لا يكلمه الا باذنه فاذن له ولم يعلم بالاذن حتى كلمه حنث﴾ او که چا قسم واخستی چي دی به د فلاني سره خبري نه کوي، مګر که فلانی ماته اجازه د خبرو کولو راکړي، نو فلاني د خبرو کولو اجازه ورکړه لکن حالف په دغه اجازه خبرنه و يعني د حالف په غياب کې اجازه وکړې وه نو حالف سره د عدم العلم بالاجازه دده سره خبري وکړې نو حالف حانث ګرځي.

پوهه شه:- چي دا مذهب دی د امام اعظم او دا امام محمد رحمهم الله او امام ابو يوسف رحمه الله وايي چي حالف نه حانثېږي، والدلائل الفريقين فی الهدايه وشرح العنايه عليها ولطولها ودقتها وعدم لياقتها لحال المبتدين لم اوردها.

قال ﴿واذا استحلف الوالی رجلا لعلمه بكل داعر دخل البلد فهو على حال ولايته خاصة﴾ او که قسم ورکړی يو والي چي په اصطلاح د پاکستان يې ګورنر بولي يو سړي ته يعني چي په جاسوسي يې مقرر کړی و او پر دې باندي چي ته به ما خبروي په هر مفسد دهشت ګرد او غله، او خبيث سړي چي ښار ته داخل سي، يعني هغه سړي هم داغسي

لوړه وکړه نو دا قسم محمول پر حال د ولايت د والي دي، ولي چي د والي غرض دفع د شر د داعر د ښار او د ځان څخه، نو چي ولايت دده ختم سي بيا نو دی ذمه دار د ښار نه دی او نه داعر په ده کار لري.

پوهه شه:- چي ختم د ولايت دده په موت دی او يا په موقوفه کولو دده د حکومت د خوا څخه فی الظاهر الروايت، او که هغه والي يووار معزول سو نو يمين خو ختم سو نو که والي مذکور بېرته والي سو قسم نه راګرځي، جوهر.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن حلف ان لا يركب دابة فلان فركب دابة عبده الماذون لم يحنث﴾ او که چا قسم واخستی چي زه به پر دابه که آس وي او که خر، د فلاني سړي نه سپرېږم، نو حالف پر دابه د مريي د فلاني چي هغه مريي ماذون بالتجارت و سپور سو په قسم کي نه حانثېږي، او دا هم په هغه صورت کي چي د حالف رکوبه د مريي د دابې په نيت نه وي، او که يې رکوبه د مريي د دابې په نيت کي وه نو بيا حانث دي.

فائده:- دا مذهب دی د امام اعظم رحمه الله.

د رويښ وايي:- چي په دې مسئله کي ډېر تفصيل سته چي په هدايه او په شرحو کي د هدايې موجود دي.

قال ﴿ومن حلف ان لا يدخل هذه الدار فوقف على سطحها او دخل دهليزها حانث﴾ او که چا قسم واخستی چي دی به نه داخلېږي دغه سرای ته، نو دی ودرېدی پر بام د هغه سرای، او يا د هغه سرای ودالان ته داخل سو نو دا حالف حانث سو، ولي چي يو څوک چي د يو سرای پر بام ولاړ وي په عرف کي هغه سړی داخل الدار بلل کېږي وبناء الايمان على

العرف، لکن په دهلېز کي چې په اصطلاح کې کوټه يا بېتک بولي تفصيل دادي که دا کوټه لويه وه چې شپه سړی پکښې تېرولی سوی خو حانشېږي ولي داسي کوټې په قريو کي د مېلمنو د پاره وي، او په ښارو کي د مزدور يا دپيردار د پاره وي نو داخل د هغې کوټې داخل د سرایٔ بولل کېږي عرفاً، او که د شپې د تېرېدو نه وه نو د هغې داخل نه دی حانث بلکه دا کوټه صرف د يوه سړي د ناستي د پاره ده.

فائده:- دا تفصيل هلته دی که دهلېز د ننه د سرای د لويي دروازې نه وي، او که په داخل کي د لوي دروازې د سرای وه بيا حتما حانث دي که د هلېز لوي وي او که کوچنی کما لايخفی کذا فی الجوهرة والزياة من الفقير، او دليل د اولي مسئلې اي وقوف علی السطح الدار، دادي چې سطح جزء د دار ده، ولي چې دارنوم دی د هغه ځای چې لوي دېوال پر راګرځېدلی وي والسطح منه لان العلو والسفل کلاهما مما اهات به الجدار، عنايه، او ددې سببه که معتکف و بام ته د مسجد وخېژي اعتکاف يې نه فاسدېږي هدايه، لکن هذا عند المتقدمين خلافا للمتاخرين والتفصيل فی در المختار وحاشية الطحطاوي عليه ترکته بحال الطول.

قال ﴿وان وقف فی طاق الباب بحيث اذا اغلق الباب کان خارجا لم يحنث﴾ او که چېرې ودرېدی حالف په تاخچه کي د دروازې په داسي تاخچه کي چې د سرای دروازه به وتړه سوه طاق د باندي پاته کېدی نو حالف نه دی حانث، ولي چې دا دروازه د پاره د ساتلو د سرای وما فيها ده نو خارج الباب ده د سرای جزء نه ده.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن حلف ان لايأكل الشواء فهو على اللحم دون البازنجان والحرز﴾ او که يو چا لوړه وکړه چې دی به نه خوري په غوړو کي سور سوی شی، نو دا قسم دده محمول دي پر سرې کړي غوښو باندي چې غورمه يې بولي نه پر سرو سوو بانجنړو يا جروزو ولي په نېز د مطلق ذکر د شو الحم مشوي مرادېږي په عرف کي، اما که په نيت کي د حالف سړې کړي اګی وې يا مشوي بانجنړ وه بيا د هغو په خوراك حانشېږي، کذا فی الهدايه.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن حلف ان لا يأكل الطبيخ فهو على ما يطبخ من اللحم﴾ او که چا قسم واخستی چې دی به پخ کړی شی نه خوري، نو دا قسم يې واقع کېږي پر پخ کړو غښو، اعتباراً للعرف وفی القياس يحنث فی اللحم وغيره من المطبوخات، دليل د مسئلې د متن دادي چې د مطلق مطبوخ على النار خو اراده ممکنه نه ده ولي چې جوشانده جلاب خو هم پر اور پخېږي او د هغو په خوراك خو اتفاقاً نه حانشېږي، نو متعارف مطبوخ ته يمين راجع دی يعني چې په اوبو کي پر اور پخې سي چې غوښې دي، مجمه الانهر.

قال ﴿ومن حلف ان لايأكل الرؤس فيمينه على ما يكبسه فی التنانير ويباع فی المصر﴾ او که چا قسم واخستی چې دی به نه خوري سرونه، نو دا قسم د هغو سرو د خوړلو څخه دی چې په تنور کي داخلېږي او هلته پخېږي لکه د پسو سرونه، د غويو سرونه، او يا د سېرليانو سرونه، چې په ښار کي خرڅېږي، ولي د ملخ سر که څه هم سر حقيقی دی مګر هغه نه په تنور کي داخلېږي او نه په بازار کي خرڅېږي، نو چې د

حقيقت اراده متعذره ده نو مراد مجاز متعرف دی چي مذکوره سرونه دی کذا فی العنایه.

پوه شه:- چي په جامع صغير کي وايي چي د مذکوره قسم څخه مراد سرونه د پسو او د غويو دي، وغيرهما عند ابي حنيفه رحمه الله او ياران وايي چي قسم يې واقع دی پر سرو د پسو او بزو فقط انتهی، صاحب هدايه وايي چي دا اختلاف د دليل د لاري نه دی بلکه اختلاف د عصر او رواج دی، يعني په زمانه کي د امام اعظم رحمه الله رواج د بقراتو او د اغنامو د سرو دوارو وو، او په عصر کي د يارانو عرف او رواج خاص په غنمو کي و، ففی کل زمان يعتبر عرف ذالك الزمان، كذا فی الهدايه، والمختصر.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن حلف ان لا ياكل الخبز فيمينه على ما يعتاد اهل البلد اكله وخبزا فان اكل خبز القطائف او خبز الارز بالعراق لم يحنث﴾ او که چا قسم واخستی چي دی به ډوډۍ نه خوري، نو دا قسم دده محمول دی پر هغه ډوډۍ چي عادت يې لري اهل د ښار خوراك د هغې ډوډۍ، والمراد البلد الذی فيه الحالف نو ځکه وايي چي که دغه حالف د بادامو ډوډۍ وخوړل او يا د ورجو ډوډۍ په عراق کي نه حانثېږي، ولي چي دغه دوه قسمه ډوډۍ په عراق کي رواج نه ده، بلکه خبز الحنطه والشعير هو المعتاد فی اغلب البلدان حتی که دغه حالف په طبرستان کي و او يا بل داسي ځای چي دغه قسم ډوډۍ ددوي خورك وه بيا حانثېږي، هدايه، او که په هلمند کي و لکه په غلمينه ډوډۍ په سور سك هم حانثېږي البته په هلمند کي په اوربشينه نه حانثېږي، او که د قندهار په ښار کي و مثلاً يوازي په غلمينه ډوډۍ حانثېږي.

فائده:- عادات د خلګو په مرور د زمانو بدلېږي والمذكور بيان المعتاد فی الزمان القديم.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن حلف ان لا يبيع او لا يشترى او لا يواجر فوكل من فعل ذالك لم يحنث﴾ او که چا سوګند وکړی چي زه به شی نه خرڅوم او يا يې نه رانسم، او يا مثلا سرای به په کرايه نه ورکوم، نو بيايې بل سړی وکيل کړی په بيع يا په شرا يا اجاره، او وکيل دغه کارونه وکړه نو حالف نه دی حانث، ولي چي ددې عقودو تعلق په فاعل پوري دی نه په امر پوري، مثلا تسليم د مبيعې او قبض د ثمن وغيرهما من احكام هذه العقود كما فی كتب الفقه، در، ه.

قال ﴿ومن حلف لا يجلس على الارض فجلس على بساط او على حصير لم يحنث﴾ او که چا قسم واخستی چي زه به پر مځکه نه کښېنم نودی کښېنستی پر کمبله او يا پر بوريا وغيره نو دی نه دی حانث، ولي چي جالس پر مځکه عرفا هغه سړی بولي چي دده او د مځکي تر منځ حائل نه وي، او دلته خو کمبله يا بوريا حائل ده.

فائده:- دا قسم احتمال د مؤبد لري او د موقت هم، لکن د مؤبد په صورت کي عدم حنث ډېر نادر دی، او په موقت کي يې برء يعني عدم حنث ممکن دی.

پوه شه:- چي اغوستلي کالي د حالف تبع دده دی عرفا نو هغه حائل نه بلل کېږي.

قال ﴿ومن حلف ان لا يجلس على سرير فجلس على سرير فوقه بساط حنث﴾ او كه چا قسم وكړى چي دى به پر چار پائي نه كښېني، نو دى پر داسي چارپائي كښېنستى چي پر هغه باندي مثلا سترنجي وغيره اواره وه نو دى حانث دى ولي چي په عرف كي دغه سړي ته جالس السرير وايي وقد مر ان مبنى الايمان على العرف العام.

قال المصنف رحمه الله ﴿وان جعل فوقه سرير آخر فجلس عليه لم يحنث﴾ او كه يې پر هغه چار پائي بله چار پائي سرېره كښېښول او پر هغه دوهمه چار پائي دى كښېنستى نو نه حانثېږي.

پوه شه:- چي دا عدم حنث په هغه صورت كي دى چي چار پائي معرفه كړي مثلا ووايي چي على هذا السرير، او كه چېرې سرير پر خپل نكارت پاته وي نو بيا حانثېږي ولي پر مطلق سرير خوكښېنستى، ج، در.

قال ﴿وان حلف ان لا ينام على فراش فنام عليه وفوقوه قرام حنث﴾ او كه سړي لوړه وكړه چي دى به نه بيدېږي پر فراش، يعني پر نالۍ ياكور بچه، نو دى بيده سو پر هغه فراش چي سرېره پر هغه فراش رجاعي وه نو حانث دى ولي چي رجاعي تبع د نالۍ ده نو گويا پر نالۍ بيده سو.

فائده:- پوه سه:- چي د فراش څخه فراش معين دى يعني پر دغه نالۍ، قال في العنايه بقرينه قوله وان جعل فوقه فراشا اخر لا يحنث، ولي كه مراد مطلق فراش وايي نو په صورت ثاني كي به هم حانث واى.

قال ﴿وان جعل فوقه فراشا اخر فنام عليه لم يحنث﴾ او كه سرېره پر هغه معينې نالۍ بله نالي اواره كړه او پر هغه سرېره نالۍ بيده

سو نه حانثېږي ولي چي دوهمه نالي خو مستقله نالي ده تبع د هغه بلي نالۍ نه ده لان الشى لا يتبع مثله، بخلاف القرام لانه تبع لا محالة.

قال ﴿ومن حلف بيمين وقال ان شاء الله متصلا بيمينه فلا حنث عليه﴾ او كه سړي قسم واخستى يعني هر قسم چي و كه پر نفي و او كه پر اثبات وي او متصل په قسم پسي داسي ووايي ان شاء الله نو بيا هيڅ حنث پر ده نسته يعني كه څه هم هغه كار وكړي چي ده قسم ځندي اخستى و ولي ان شاء الله آه، چي پر هر كلام داخله سي د كلام حكم پورته كوي.

در رسول الله ﷺ څخه روايت دى من حلف على يمين فقال ان شاء الله فقد برء بيمينه.

دروېش وايي:- چي ددې مسئلې سر او راز دادى چي په علم اصول فقه او په نحو كي وايي چي تر هغو پوري چي د شرط تحقق او وجود نه سي معلوم جزاء نه واقع كېږي، مثلا سړي ماينې ته وويل ان خرجت من الدار فانت طالق" نو تر هغو پوري چي خروج د دار څخه متحقق نه سي طلاق نه واقع كېږي، نو بنا على هذا په دې يمين چي سړى ان شاء الله تعالى وويل خو د خپل حنث په مشيت او اراده پوري د خداى ﷻ مربوط او وجود د مشيت آلهى جل سلطانه خو نه دى معلوم نو حنث هم نسته، فوائد ان شاء الله وشرط د ويلو په رفع د حكم.

پوه سه:- چي شرط د ان شاء الله ويلو اتصال دى په كلام سابق پوري، ويدل عليه الحديث المذكور، ولي په حديث مذكور كي د فقال لفظ راغلى دي او په تولو كتابو كي دا وايي چي فاء عاطفه د پاره د تعقيب بلا فصل ده، او د تعقيب معنا دا نه ده چي د كلام سابق او ان شاء الله تر منځ به

متكلم ساه لانه كاږي بلكه معنا يې داده چې تاخير په ويلو كې د ان شاء الله نه كوي مثلا په خورك يا نورو خبرو او كارونو ځان نه اخته كوي.

فوائد:- قسم اخستل يا مانې ته طلاق وركول يا مريي ته حر ويل يا د چا سره وعده كول چې وفا بالوعد واجبه ده، نو دا ټوله په ان شاء الله په شرط مذكوره چې مقيد سي حكم نه پر مرتب كېږي، يعني قسم نه واقع كېږي او طلاق دماينې نه واقع كېږي، او د مريي ازادي او حريت هم نه واقع كېږي، او په وعده خلافي كې نه ګناه كاره كېږي الى غير ذالك من الفوائد.

دروېش وايي:- چې كاشكې خلګو دغه مباركه كلمه په خپلو دغو خبرو كې متصل ويلای د ډېرو بلاوو څخه به خلاص وای كما ذكرت بعض امثلتها.

د څښتن ورځې حكايت:- وايي چې يوه ورځ يوه سړی د خره د رانيولو د پاره د كوره څخه سهار وختي د ګنج وخواته روپۍ په جېب كې واچولې روان سو يو بل سړي په مخه ورغلی، ورته وې ويل چې فلانيه دا سهار وختي چېرې روان يې؟ ده ورته وويل چې ځم ګنج ته خر رانسم، هغه بل سړی ورته وويل چې ان شاء الله به دي ويلې وای، خره رانيونكي ورته وويل چې د ان شاء الله ويلو څه ضرورت دي روپۍ مي دادي په جېب كې دي او خر په ګنج كې دی، خير خو سړی ګنج ته ورسېدی يو خر يې بيع كړی بل خر يې بيع كړی اخر چې يو خر يې خوښ سو او قيمت يې سره فيصله كړی، ده چې جېب ته لاس كړی چې خاوند ته د خره پيسې وركړي روپۍ كيسه بر وړې وې، نو سړی نااميده د ګنج څخه د كور پر خوا راروان سو پر لاري بيا يو بل سړی په مخه ورغلی ورته يې وويل چې فلانيه دا دونده وختي چېرې

تللی وې؟ ده ورته وويل چې د كوره را ووتم ان شاء الله روپۍ مي راواخستې ان شاء الله ما ويل خر به رانسم ان شاء الله روپۍ كيسه بر راځخه يو وړې ان شاء الله اوس ببرته كور ته ځم ان شاء الله.

نو مور باید پوه سو چې داسي ان شاء الله په درد نه خوري بلكه قبل الفعل باید سړی ان شاء الله ووايي او تفويض د كار كولو و خدای ﷻ ته وكړي.

قال المصنف رحمه الله ﴿وان حلف ان لا يئتينه ان استطاع فهذا على استطاعة الصحة دون القدرة﴾ او كه چا قسم واختستی يعني په داسي صورت كې چې يو چا وده ته داسي وويل چې ته به زما كره راځې مثلا، نو ده په قسم ورته وويل چې زه به ستا كره درځم كه مي په طاقت پوره وه نو دا قسم دده محمول دی پر طاقت د صحت يعني چې په بدن جوړ وي، نو كه په بدن جوړ او روغ و او نه ورغلی په قسم كې حانث دی، او قدرت نه دی مراد چې ټوله اسباب د تګ بې برابر وي، وتفصيل القدرة المذكورة فی شرح العقائد النسفية.

قال المصنف رحمه الله ﴿وان حلف ان لا يكلمه حينا او زمانا او الحين او الزمان فهو على ستة اشهر وكذالك الد هر عند ابی يوسف ومحمد رحمهم الله تعالى﴾ او كه چا لوړه وكړه چې زه به د فلاني سره خبري نه كوم حيناً او زماناً يعني حين او زمان يې نكره ذكر كړه او يا الحين يا الزمان يعني الزمان والحين يې معرفه ذكر كړه نو دا لوړه دده پر شپږ مياشتي واقع كېږي، يعني كه په د ننه كې د شپږو مياشتو يې

خبري ورسره وکړي نو حانث سو والالا، او داغه رنګه حکم دی د لفظ د الدهر په نېز د امام ابو یوسف او امام محمد رحمهم الله.

دروېش وايي:- چي په مذکوره مسئله کي ډېر تفصیل بیان دی چي په هدایه، عنایه او شرح الاقطع کي ذکر دی که دروېش هغه تفصیل رانقل کړي یوه ورقه به ډکه سي سره د هغه چي مبتدیان نر او ښځي به هیڅ فائده پروا نه خلي، او پوه کسانو ته مشکله نه ده چي شروح مذکوره مطالعه کړي.

قال ﴿ولو حلف ان الا یوکلمه ایاما فهو علی ثلثة ایام﴾ او که چا سوګند یاد کي چي دی به د چا سره خبري نه کوي ایاما یعني نکره لفظ یې ووایه، نو هغه قسم پر درو ورځو محمول دی اعتباراً لاقل الجمع.

پوه شه:- چي که سړی داسي وویل چي ایاما کثیره، امام اعظم رحمة الله علیه دا محمول بولي پر لسو ورځو، او یاران یې محمول بولي دیوې هفتې پر ورځو

قال المصنف رحمة الله علیه ﴿ولو حلف ان لا یکلمه الایام فهو علی عشرة ایام عند ابی حنیفة رحمة الله علیه وقال ابو یو سف ومحمد رحمهم الله علی ایام اسبوع﴾ او که چا قسم واخستی چي دی به د فلاني سره خبري نه کوي الایام یعني معرفه بالام لفظ یې ووایه، نو قسم یې محمول دی پر لسو ورځو په نیز د امام اعظم رحمة الله علیه، او په نېز د یارانو د یوې هفتې پر ورځو، والتفصیل الدلائل للمذهبین فی العنایه.

دروېش وايي:- چي فرق دمعرفې او نکرې په عربي ژبه پوري مخصوص دی کما لایخفی.

قال ﴿ولو حلف ان لا یکلمه الشهور فهو علی عشرة اشهر عند ابی حنیفة رحمة الله علیه وقالا ابو یوسف ومحمد رحمهما الله فهو علی اثنی عشر شهراً﴾ او که یو چا قسم واخستی چي دی به خبري نه کوي د فلاني سره په میاشتو یعني په صیغه د جمعي، نو په نېز د امام اعظم رحمة الله علیه پر لس میاشتي باندي محمول دی، دلیل د امام اعظم رحمة الله علیه دادي چي لفظ د شهور چي جمع دی مراد ځندي نهایت د مطلق لفظ الجمع فی الشهور وهو عشرة اشهر، او یاران وایي چي په عرف کي مراد د شهور څخه میاشتي د کال دي چي دولس (١٢) دي کذا فی العنایه.

قال ﴿ولو حلف لا یفعل کذا ترکه ابداً﴾ او که چا سوګند وکړی چي دی به فلانی کار نه کوي، نو به هغه کار تر ابده نه کوي ولي د نفي لاچي په قسم کي راسي نو چونکه نفي په زمان دون الزمان سره مقید نه دي، نو دده قسم هم مقید په زمانه پوري نه دی نو د پاره د تابید دي.

قال المصنف رحمة الله علیه ﴿ولو حلف لیفعلن کذا ففعله مرة واحدة بر فی یمینه﴾ او که چا قسم واخستی چي دی به فلانی کار کوي نو فقط یو وار یې هغه کار وکړی نو په قسم کي صادق سو یعني قسم خلاص سو ولي د اثبات د پاره یو وار کافي دی.

قال ﴿ولو حلف لاتخرج امرئته الاباذنه فاذن لها مرة واحدة فخرجت ورجعت ثم خرجت مرة اخرٰی بغیر اذنه حنث ولابد من الاذن فی کل خروج﴾ او که یو چا لوړه وکړه چي زما ماینه به نه وزي د کوره څخه مګر زما په اجازه، نو ده یوه پلا اجازه ورکړه او ماینه یي دده په اجازه د کوره څخه ووته او بیرته کور ته راغله، بیا وروسته هغه ماینه د

کوره ووته ببله اجازې د مېړه، نومېړه په قسم کي حانث سو، او چاره نسته ښځي لره د اجازې څخه د مېړه هر وخت چې د کوره وزي، دلېل ددې مسئلې دادی چې د نحوي په کتابو کي وايي چې لفظ د باء چې حرف جر دی د پاره د الصاق دی يعني جوت والی نو ګويا مېړه وويله چې د ماينې هر وتل د کوره څخه به جوت زما د اجازې سره وي، نو چې يو پلا ببله اجازې ووزي مېړه په قسم کي حانث سو.

مسئله:- که دمېړه په نيت کي په وخت کي د قسم يو وار اجازه وه، نو په نيز د خدای ﷻ دی په دوهم وار وتو کي د ماينې ببله اجازې حانث نه دی، لکن چونکه دا يو احتمال دده د قسم دی نو په قضاء کي د قاضي دی حانث دی، لکون الاحتمال المذکور خلاف الظاهر کذا فی الهدايه.

قال ﴿وان قال الا ان اذن لك فاذن لها مرة واحدة فخرجت ثم خرجت بعدها بغير اذنه لم يحنث﴾ او که مېړه داسي وويل چې الا اذن لك" نو مېړه خو يو وار د وتو اجازه ورکړه، او دا ووتل او بېرته راغله او بله پلا ببله اجازې ووتل نو دی په قسم کي نه دی حانث، ولي کلمه د باء الصاق مېړه نه راوړه بلکه اذن مطلق يې ووايه او هغه اذن مطلق خو حاصل سو نو قسم دده پای ته ورسېدی.

قال المصنف رحمه الله ﴿ولو حلف ان لا يتغدى فالغداء هو الاكل من طلوع الفجر الى الظهر والعشاء من صلوٰة الظهر الى نصف الليل والسحور من نصف الليل والى طلوع الفجر﴾ او که چا قسم واخستی چې زه به غدا نه کوم، نو دا غدا هغه خورك ته وايي چې د سپېدو د راختو څخه بيا تر ماپښينه پوري وي، او عشاء د ماپښين تر لمانځه

وروسته بيا تر نيمي شپې پوري وي او سحور د نيمي شپې څخه شروع کېږي بيا تر سپېدو پوري.

فوائد:- په عبارت کي د مصنف رحمه الله مجاز بالحذف دی يعني دري ځايه مضاف محذوف دی فی قوله فالغداء يعني اكل الغداء، وقوله العشاء ای اكل العشاء، وقوله السحور ای اكل السحور" وجه يې داده چې قسم چې سړی واخلي پر غداء يا پر عشاء يا پر سحور نو قسم خو د فعل د حالف دی، او غداء يا عشاء او يا سحور هغه طعام ته وايي چې په دغو اوقاتو کي خوړل کېږي او د حالف فعل نه دی بلکه د حالف فعل خو اکل د طعام دی په مذکوره اوقاتو کي، نهايه دروېس.

فائده:- پوه سه:- چې غداء او عشا او سحور هغه طعام ته وايي چې عادتاً مړتيا ځندي مقصود وي، او د هر ځای او وطن په اصطلاح پوري اړه لري، هدايه.

مسئله:- نو که وطني سړي د غداء څخه قسم واخستی او بيا يې شيدې وچښلې نه حانثېږي ولي چې د وطني خلګو غداء شيدې نه دي، او که حالف د صحراء مالدار و نو د شيدو په چښلو سره حانثېږي لانه غداء فی حقهم، عنايه.

فائده:- په محيط کي وايي که چېري حالف بنداري سړی و نو مراد د غدا څخه خوراك دوډۍ ده، لانه العرف فی الامصار، نو که ده خورما وخوړله او يا يې شيدې وچښلې حانث نه ګرځي، او که سړی د کلو او قريو سړی و بيا په خوړلو د خورما هم حانثېږي کذا فی البنايه.

فائده:- په عنايه کي وايي چي شرط د حنث دادی چي تر نيم نس به خواړه بالاخوري، او که يې يوه يادوې ګولې وخوړې نه حانثېږي.

پوه سه:- چي غداء، عشاء، او سحور د هر وطن په عرف پوري اړه لري.

درويش وايي:- چي دغه دړې سره خو عربي دي په عربو پوري اړه لري، او پښتانه نه دغه الفاظ استعمالوي او نه يې په معنا پوهېږي بلکه که سړي قسم واخستی چي زه به صبا ناری نه کوم، نو هر وخت چي يې چائي چښلې د چائي د ډوډۍ په خوړلو سره حانث دی، او که يې داسي قسم واخستی چي زه به د غرمې ډوډۍ نه خورم نو چونکه د غرمې ډوډۍ په پښتنو کي په مختفو اوقاتو کي خوړل کېږي بعض پښتانه يې د ماپښين تر لمانځه د مخه خوري او بعض يې وروسته تر لمانځه خوري، او داغه رنګه که چا لوړه وکړه چي زه به د مابنام ډوډۍ نه خورم، په هغه ډوډۍ کي هم د پښتنو رواجونه مختلف دي بعض پښتانه يې د ماخوستن تر لمانځه د مخه خوري او بعض يې وروسته خوري نو حالف د هر قسم چي و دده عرف ته اعتبار دی.

قال المصنف رحمه الله ﴿وان حلف ليقضين دينه عن قريب فهو على مادون الشهر وان قال الى بعيد فهو اكثر من الشهر﴾ او که چا قسم واخستی چي زه به حتماً د فلاني پور تر نژدې زماني پوري ورکوم نو هغه قسم پر کم تر مياشتي محمول دی يعني کې تر مياشت پوري يا بالاتر

مياشتي وځنډوی حانث دی، او که يې وويل چي زه به يې تر ډېرې زمانې وروسته پور ورادا کوم نو هغه محمول پر بالاد مياشتي محمول دی.

پوه سه:- چي په اول صورت کي بلکه په دوهم صورت کي هم حکم داغه مذکور دی چي د حالف په نيت کي پوره زمانه نه وي او که يې په نيت کي يو نيت معين و فهو على ما نوى كذا فى الجوهره.

فائده:- په دوهم صورت کي حالف نه حانثېږي هر وخت چي پور ورکړی ولي چي بالاتر مياشتي خو پای نه لري، درويش.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن حلف لا يسكن هذه الدار فخرج منها بنفسه وترك فيها اهله ومتاعه حنث﴾ او که چا قسم واخستی چي دی به په دې سرای کي نه اوسېږي نو دی پخپله د هغه سرای څخه ووتی او کور والا او عيال او د کور سامان يې په هغه سرای کي پرېښول نو دی په قسم کي حانث دی، ولي سړی په عرف کي په هغه ځای کي او سېدونکی بلل کېږي چي دده اهل او عيال او متاع البيت اوړې وي سره ددي چي سړی اکثره د ورځي په بازار کي تېروي، او که يې قسم د اوسېدو څخه د خپلي محلې اخستی و د هغه حکم هم دده د اوسېدو څخه د قسم اخستو په شان دی، كذا فى الهدايه.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن حلف ليصعدن السماء او ليقلبن هذا الحجر ذهبا انعقدت يمينه وحنث عقيبها﴾ او که چا قسم واخستی چي دی به اسمان ته خېژي، او يا به دغه ډبره سره زر ګرځوي قسم خو يې صحيح دی لکن دی حانث دی وروسته تر فراغ د قسم فی الحاله.

پوښتنه:- چې د قسم د صحت د پاره تصور د محلوف علیه شرط دی او امکان د هغه نوکه سړي داسي قسم واخستی چې زه به اجتماع د نقیضینو کوم او یا ارتفاع د نقیضینو کوم وغیر ذالك من الممتنعات بالذات دا قسم نه دی صحیح او نه پر سړی کفاره سته لعدم التصور والامکان، او په مانحن فیه ختل و اسمان ته خو متصور او ممکن بلکه واقع دی لکه په حدیثو مشهوره وو کي د بخاري بلکه په تولوصحاحو سته وو کي بلکه د نورو صحیح کتابو د احادیثو ختل د آنحضرت ﷺ په لیلة المعراج کي وه آسمان بلکه وه اسمانو ته ثابت دی، او داغه رنګه ګرځول د ډبري سره زر په کرامت سره متصور او ممکنه ده، نو چې قسم صحیح سو او دغه کار د حالف د قدرت څخه وتلی دی نو ځکه فعلا دی حانث دی، او بل دلیل دادی چې غرض د حالف له قسم سره خو یو کار پر ځان واجبول دي او دا قانون دی چې ایجاب د بنده پر ایجاب د خدای ﷻ قیاس دی، خدای ﷻ پر بنده هغه شی واجبوي چې د بنده څخه یې تصور کېدلای سي او قدرت د بنده پر هغه کار شرط د ایجاب انتهی نه دی ځکه په هر شیخ فاني روژه فرض کړې ده که څه هم دی قدرت نه پر لري مګر تصور یې کېدلای سي تاچې شیخ فاني چې روژه نه سي نیولای عوض د روژې چې فدیه ده ورکړي، په قسم کي هم چې بنده پر ځان ایجاب د یو شی وکي او هغه کار یې په قدرت نه و پوره لکه په مانحن فیه کي، عوض ده هغه کار چې کفاره ده وردې کي، هذا فصل ما فی الهدایه وغیره من کتب الفقه.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن حلف ليقضين فلانا دينه اليوم فقضاه ثم وجد فلان بعضها زيوفا او بنهرجة او مستحقة لم يحنث الحالف﴾ او که چا قسم واخستی چې زه به حتماً د فلاني سړی پور وراداکوم ننه ورځ، نو یې په دغه ورځ پور ورادا کړی، ثم یعني وروسته چې دائن روپی تفصیلاً وکتلې بعض د روپو څخه زیوفي وې.

پوښتنه:- چې زیوفي هغه روپی بولي چې بیت المال یعني حکومت یې په بانګ کي نه اخلي او د تجارو تر منځ چلېږي، او یا بعض روپی بنهرجه وې.

پوښتنه:- چې بنهرجه هغه روپی دي چې نه یې بیت المال اخلي او نه یې تجاران، په سبب د کوټ چې په کډ وي، نو بنهرجه تر زیوفو خرابي روپی دي کذا فی البنایه بحذف وزیادة، او یا هغه روپی یو بل چا درک کړی او په شاهدانو یې د هغه دائن څخه یووړې، نو دغه حالف حانث نه دی، په هدایه کي وایي چې زیافت وغیره خو عیب دی، عیب خو جنس دشی نه نفي کوي نو شرط د بر یعني نه حانثوالي پیداسو چې قضاء الدین و، یعني قضاء د دین حالف وکړه ولي که هغه دائن د زیافت وغیره ترعیب تبر سي او مدیون ته چې حالف دی ووایي چې پروا نه لري زما دغه زیوفي وغیره قبولي دي پوره یې اداء کېږي، او د مستحقو روپو قبض خو صحیح دی نو شرط د بر پیدا سو کې څه هم وروسته مستحق و کتې او د دائن څخه یې یوسي، غایت ما فی الباب چې دائن په دې سره صورتو کي پر مدیون حق د خپل پور لري یعني په زیافت وغیره سره نه وي راضي.

قال المصنف رحمه الله ﴿وان وجدها رصاصاً او ستوقة حنث﴾ او كه يې پيدا كړي يعني دائن بعض يا ټوله وركړه سوي روپۍ د مديون د خوا څخه د مسو روپۍ او يا ستو قه روپۍ،

پوه شه:- چي ستوقه لفظ فارسي دی مګر عربي ته رانقل سوی دی، هغه روپو ته وايي چي د ژړو وي لكن شا وخوا يې د سپينو زرو آب وركړی وي كذا فی الطحطاوي علی در المختار، نو په دواړو صورتو كي حالف حانث دی ولي دغه دواړه قسم روپۍ دراهم نه بولي او پور خو دراهم وو.

فائده:- چي دراهم د ضمائرو مؤنثه وو مرجع دی كه څه هم صراحةً مذكور نه دی لكن لفظ د دين دلالت پر كوي ولي چي متعارف پور د دراهمو پور دی نو د اضمار قبل الذكر المرجع سوال نه وارديږي.

قال ﴿ومن حلف لا يقبض دينه درهما دون درهم فقبض بعضه لم يحنث حتى يقبضه جميعه متفرقاً﴾ او كه چا قسم واخستی چي زه به نه قبض كوم خپل پور يعني چي پر فلاني مي باندي دی درهم ببله بل درهمه يعني متفرق، نو ده بعض پور واخستی نه دی حانث تر هغو پوري چي ټوله پور متفرق وانه خلي ولي چي حالف په خپل قسم كي پور مضاف كړی وخان ته والاضافة للاستغراق،چي معهود نه وي كما تقرر فی كتب النحو نو مراد دده ټوله پور دی نو څكه تر هغو چي ټوله پور متفرق وانه خلي حانث نه دی، قاله صاحب الهدايه.

قال ﴿ان قبض دينه فی وزنين ولم يتشاغل بينها الا بعمل الوزن لم يحنث وليس ذالك بتفريق﴾ او كه په داغه صورت كي د

قسم حالف د پوره وړي څخه روپۍ د پور دوه واره په تلو واخستې، او كه يې په بل كار سره ځان نه كی مشغوله ببله تللونه دی حانث يعني دې ته تفرق نه وايي ولي چي پور ډېر دراهم وي او په يوه پلا يې تلل ګران وي، نو دغه تفرق د وزن د حلف څخه مستثنی دی، هدايه وغيرها.

قال المصنف رحمه الله ﴿ومن حلف لياتين البقرة فلم ياتيها حتى مات حنث فی اخير جزء حياته﴾ او كه چا قسم واخستی چي زه به حتماً ګورم ته د غيو ورځم، نو دی ګورم ته نه ورغلی او حتی چي مړ سو نو دی حانث ګرځي په اخر جزء كي د ژوند ولي چي تر مخه د هغه بر ممكن دی.

پوه شه:- چي د بقره څخه مراد دلته د جنس دی لكن په ضمن كي د ډېرو افرادو چي ګورم يې معنا ده، او څوك چي د بقره د مونث لفظ څخه ښځه غوا توهم كوي او د اتيانه څخه يې ناوړه معنا اخلي ډېر خطاوتلي دي، او په بعض نسخو كي د قدروي پر ځای د لفظ د بقره، لفظ د قرية راغلی دی هغه ډېره زيبا نسخه ده او د چون و چرا څخه خالي ده فافهم.

د علامه عصر شيخ التفسير والحديث جامع المنقول و المعقول محمود الاقرآن فخر افغان حضرت مولانا محمد عبيدالله الايوبي القندهاري النقشبندي السليمانخيلي مدفيوضه العاليه ترجمه او لنډه تاريخچه او سوانځ عمري او د مخلصانو دپاره پېژندګلوي.

دده نوم محمد عبيدالله دی او ابوالفضل يې کنيت دی او ايوبي يې تخلص دی په عقايدو کې سُني ماتريدي دی او په فروعو کې حنيفي مذهبه دی او په طريقت کې نقشبندي مجاز دی او په قوم سليمانخيل دی او وطن يې کندهار دی.

او دی د عالم متقی الحاج محمدايوب زوی دی او ده د پنجشنبې په ورځ د ماسپښين تر لمانځه وروسته پر ۱۵ د ذی القعدة الحرام ۱۳۴۳ هجري قمري د فاشمول په قريه کې پر نابوده دنيا سترګې رونې کړې دي او پلار يې يو تقواداره عالم و او په طريقه نقشبنديه کې مجاز و.

او د شارح له خولې چې زما پلار زما پر تعليم زده کړې ډېر حريص و، حتی سره د ډېره صغر سنه يې زه پر سبق مجبور کړی وم. شارح وايي چې ځينې کتابونه د فقې شريفې او بعضي کتابونه د علم صرف او نحو ما پر مرحوم پلار وويله او بيا زما په زړه کې په برکت د دعا د والد مروحوم دا راسخ سو چې زه د وطنه او کوره ولاړ سم او په بې غمه زړه خپل تعلم او زده کړې ته دوام ورکړم الی ماشاء الله تعالی.

هغه وچې زه د کندهار وطن مالوف او د کور څخه د بلوچستان علاقې ته راغلم چې هغه زمين په هغه وخت کې د انګرېزانو تر تسلط او حکومت لاندې و، نو په بلوچستان پښين کې مې پر جيد متقي عالم مولوي تيمور

شاه صاحب مرحوم باندې بعضې کتابونه د حکمت او عقائدو وويل، الغرض دوه کاله مې دلته تېر کړه. د شارح د بيان سره سم بيا زه باعث کرم صدق همت پر دې باندې چې ولاړسم هند ته او په هند کې اجمير ته چې هلته علامة الزمان الاستاذ الکلية علماء الهند والافغان المولوي عبد الله الکندهاري المرحوم د مدرسه حنفيه صوفيه باني او سر پرست او مدرس اعلی و او دی مرحوم په دغه وخت کې معمر او کلان ساله عالم و، او ده ته د اطرافو څخه لکه افغانستان، بلوچستان، پښور، ازاد قبائل او د هند د ډېرو لېرو سيمو څخه جيد جيد طالبان راتله او د درياب څخه د علم دده مبارک د استعداد سره برابر يې استفاده کول، او ده مبارک د طالبانو سره عموماً، او د پښتنو طالبانو سره خصوصاً ډېر شفقت کوی.

د شارح د خولې چې زه اجمير شريف ته ورغلم او د جناب مذکور په مدرسه کې داخل سوم پس له څو مدې تعلم څخه دده په جناب کې ماته يوه لويه منزله حاصله سوه" وذالك فضل الله يوتيه من يشاء

او شارح وايي چې ماپه خدمت کې د حضرت المرحوم درې کاله تېر کړه او ښه سليسه اردو ژبه مې هم زده کړه، او هلته ما کتب د تفاسيرو او رياضي او علم ادب او د متقدمينو د منطق بعض کتابونه لکه شرح المطالع او د حکماؤ متقدمينو بعض کتابونه لکه شرح الاشارات وغيره وويله.

پس له درې کاله انګليسانو د هند بر اعظم پر دوو برخو تقسيم کړی يعنې پاکستان او هندوستان چې په دې سبب په منځ کې د مسلمانانو او هندوانو لويه فتنه او قتل و قتال منځ ته راغلی او اجمير شريف په حصه کې د هندوانو سو، نو هندوانو پر اقليت د مسلمانانو د اجمير شريف توره

د ظلم د تېکې وکښل او په زرو مسلمانان يې په شهادت ورسول آخر حضرت الاستاذ المرحوم سره د څو پاته پښتنو طالبانو د پاکستان وهجرت ته مجبور سو، هغه و چې استاذ محترم بلوچستان د کوټې ښار ته راغلی چې هلته دده مرحوم د يوه شاګرد حضرت المولوي عبد الغفور صاحب مدرسه په نامه د مظهر العلوم په شالدره کې وه چې تر اوسه هم سته او په هغه مدرسه کې يې وخپل درس ته ادامه ورکړه.

شارح وايي چې ما لږ زمانه په دغه مدرسه کې تېر کړه او بيا مې د حضرت الاستاذ څخه اجازه واخسته او لاهور ته ولاړم چې په لاهور کې يو معمر عالم شيخ الحديث والقرآن وسائر العلوم النقلية والعقلية مولانا مهرالله المرحوم په يوه مدرسه کې چې په اچهره کې چې د لاهور ښار ته نژدې ځای دی واقع وه شيخ الحديث و، او زه هم په هغه مدرسه کې داخل سوم او د مرحوم د فيضه مستفيض سوم او د احاديثو کتابونه او بعضې د فقهي شريفي کتابونه او نور باقي مانده کتابونه مې پر دغه لوي استاذ المرحوم باندې وويله، او د دوو کالوڅخه وروسته د ټولو درسي کتابو څخه فارغه سوم او د تحصيل شهادت نامه د استاذ المرحوم له خوا راکړه سوه، او زما عمر په دې وخت کې تخميناً پنځه ويشت (۲۵) کاله و،او بيا حضرت الاستاذ المرحوم ماته وظيفه د مدرس ثاني پخپله مدرسه کې وسپارله، يو کال چې مې درس وکړی حب الوطن والاقرباء مې د امن ګير سو او په اجازه د استاذ المحترم د لاهوره څخه کندهار ته راغلم، اول درس مې يو کال د موسی خان په جامع مسجد کې چې په هرات دروازه کې دی وکړی، او بيا زنګي اباد ته ولاړم يوکال مې هلته درس وکړی او بيا سنځري ته راغلم چې د يوې جامع قريې نوم دی ښار ته نژدې دولس (۱۲)

کاله مې دلته درس ته ادامه ورکړه، او د سنځري د استوګنې په وخت کې زه د شيخ کامل جامع الکمالات السيد الجيد الجواد مولای عبد الغني المرحوم المشهور په بابك صاحب کدني مريد سوم او پس له يوه کاله جد جهد ماته د خلافت د طريقه نقشبنديه خرقه دده بابك المرحوم له خوا راکړه سوه، او ما د سنځري څخه په سبب د بعض اقتصادي مشکلاتو خوش آب ته هجرت وکړی چې هغه هم د کندهار ښارته نژدې يو جامع قريه ده، او هلته مې پنځه کاله درس وکړی او بيا د خوشاب څخه کندهار ته ولاړم، او د ملا علم اخند په کلي کې مې په يوه جامع مسجد کې درس شروع او ديارلس (۱۳) کاله مې هلته درس وکړی، پس له هغه انقلاب د حزب الخلق په کومك د روس د افغانستان پر پاکه خاوره مسلطه سو او د مسلمانانو بندي کول او وژل يې شروع کړه، او عمومي مسلمانانو ونژدې اسلامي مملکتو لکه پاکستان او ايران ته هجرت وکړی او بعض مسلمانان نورو مملکتو ته ولاړه خصوصاً هغه وخت چې روسان مستقيما په لويه پيمانه داخل سوه، او د مسلمانانو له خوا د حزب الخلق او د هغو د معاونانو يعني روسانو سره جهاد اعلان سو، نو په هم دغه وخت کې زه د خپله عياله سره نژدې اسلامي ملك پاکستان ته راغلم او په کوټه کې مې اقامت اختيار کړی زامنو مې مزدوری کولې او ما خپل درس ته په ډکه پيمانه جريان ورکړی حتی چې په سوو طالبان به دورځې سبقانو ته راتله او په يوه کتاب به پنځوس شپېته تر سلو پورې شريکان وه .

او شارح وايي چې ما په فارغه وخت کې پر بعضې درسي کتابو حاشيې هم کولې چې هغه کتابونه او رسالې تر څلوېښتو اوس زياتې دي او اکثره

يې پر منظر عام موجود او مقبول دي، الاعند الحاسدين الذين هم للحق ناكبون.

ناشر الكتاب وايي چې شارح محترم همېشه د سياسي ډلو څخه بر كناره وو او دي، او بعضي حاسدان او جاهلان د تعصب قومي د لارې يا د تعصب علمي د لارې پر شارح محترم قسما قسم بهتانونه ويله او واي يې لكن بيا هم شارح محترم په هغو كي فكر نه واهه او دا آيت يې مد نظر و ﴿وتعز من تشاء وتذل من تشاء بيدك الخير﴾ د شارح د هجرت څخه اوس درويشت (۲۳) كاله كېږي، د حاسدانو حسد پر ده هيڅ تاثير نه دى كړى او نه يې عزت ور كم كړى دى او نه يې رزق وركم كړى دى حتى د كوټې په ښار كې پرته د استوګنې تر سرايه خپل جامع مسجد هم جوړ كړى دى، داوه د حضرت شارح محترم مختصر حالات، والسلام.

محمد فضل الحق حقاني تلميذه

= اعلان = چون كه قاري فضل الحق صاحب خوش نويس عزيز په نوشته كې د دې حصې ډيره عرق ريزي كړې ده او مصرف مالي يې هم پكښې كړې دي لهذا دروښ د دې حصې د طباعت حقوق تهوله وره قاري صاحب مذكور ته هبه كړي دي، هيڅ كتاب فروش ته حق د كتابت او طباعت د دې حصې نسته البته په تجارتي مراعات هرڅو عدده چې مطلوب وي د نامبرده د مكتبې څخه دي يې خريداري كوي، وما علينا الا البلاغ.

محمد عبيدالله نقشبندي كندهاري ايوبي غفرله الباري.

اعلان

چون كه قاري فضل الحق صاحب خوش نويس عزيز په نوشته كي د دې حصې ډيره عرق ريزي كړې ده او مصرف مالي يې هم پكښې كړي دي لهذا دروښ د دې حصې د طباعت او كتابت ټوله حقوق و قاري صاحب مذكور ته هبه كړي دي، هيڅ كتاب فروش ته حق د كتابت او طباعت د دې حصې نسته البته په تجارتي مراعات هرڅو عدده چې مطلوب وي د نامبرده د مكتبې څخه دي يې خريداري كوي، وما علينا الا البلاغ.

محمد عبيدالله نقشبندي كندهاري ايوبي غفرله الباري.

مهم زيرى

د مفسر العصر حضرت ايوبي مدظله العالى تفسير **تفسير ايوبي** پر پنځلسو (۱۵) جلدو مشتمل ډېر ژر به د علم تفسير تشنه كانو ته وړاندي سي انشاء الله العزيز

الناشر

مكتبة القراءت والتجويد

مكتبة القراءت والتجويد

فهرست

شمېر	مضمون	مخ
۱	کتاب الجنايات	۳
۲	مسئله	۵
۳	سوال څواب	۷
۴	کليه	۹
۵	فائده	۱۲
۶	دروېش وايي	۱۴
۷	قاعده	۱۶
۸	پوه سه	۱۸
۹	پوښتنه او څواب	۲۱
۱۰	دروېش وايي	۲۴
۱۱	کتاب الديات	۲۹
۱۲	دروېش وايي	۳۳
۱۳	پوه سه	۳۸
۱۴	پوه سه	۴۴
۱۵	دروېش وايي	۴۶
۱۶	پوښتنه څواب	۵۰
۱۷	مسئله	۵۱
۱۸	دروېش وايي	۵۴


شمېر	مضمون	مخ
۱۹	مسئله	۵۸
۲۰	خوشخبري	۶۰
۲۱	دروېش وايي	۶۲
۲۲	پوه سه	۶۶
۲۳	قصه غريبه	۶۹
۲۴	باب القسامة	۷۰
۲۵	پوه سه	۷۲
۲۶	دروېش وايي	۷۶
۲۷	فائده	۷۹
۲۸	کتاب المعاقل	۸۱
۲۹	تفريع	۸۲
۳۰	مسئله	۸۴
۳۱	کتاب الحدود	۸۶
۳۲	تفريع	۸۸
۳۳	مسئله	۹۱
۳۴	دروېش وايي	۹۳
۳۵	پوه سه	۹۵
۳۶	پوښتنه او څواب	۹۸
۳۷	فائده	۱۰۰
۳۸	مسئله	۱۰۴

شمېر	مضمون	مخ
٣٩	دروېش وايي	١٠٧
٤٠	پوه سه	١١٠
٤١	فائده	١١٣
٤٢	واوره	١١٤
٤٣	باب حد البشرب	١١٧
٤٤	دروېش وايي	١١٩
٤٥	باب حد القذف	١٢١
٤٦	پوه سه	١٢٤
٤٧	دروېش وايي	١٢٨
٤٨	كتاب السرقة وقطاع الطريق	١٣٢
٤٩	تفريع	١٣٥
٥٠	فائده	١٣٩
٥١	دروېش وايي	١٤١
٥٢	پوه سه	١٤٨
٥٣	تفريع	١٥١
٥٤	پوښتنه او ځواب	١٥٥
٥٥	پوه سه	١٥٩
٥٦	فائده	١٦٢
٥٧	پوه سه	١٦٥
٥٨	ابيات	١٦٧

شمېر	مضمون	مخ
٥٩	كتاب الاشربة	١٦٨
٦٠	دروېش وايي	١٧٢
٦١	پوښتنه او ځواب	١٧٥
٦٢	كتاب الصيد والذبائح	١٧٩
٦٣	تفريع	١٨٢
٦٤	قال الشاعر	١٨٣
٦٥	پوه سه	١٨٦
٦٦	تفريع	١٨٩
٦٧	پوه سه	١٩٣
٦٨	دروېش وايي	١٩٦
٦٩	فائده	١٩٩
٧٠	پوه سه	٢٠٧
٧١	ابيات	٢٠٨
٢٧	كتاب الاضحية	٢١٠
٧٣	شعرونه	٢١٤
٧٤	تبصره	٢١٦
٧٥	پوه سه	٢٢٠
٧٦	مسئله	٢٢٤
٧٧	كتاب الايمان	٢٢٥
٧٨	پوه سه	٢٢٨

شمېر	مضمون	مخ
۷۹	فائده	۲۳۰
۸۰	واقعه	۲۳۴
۸۱	دروېش وايي	۲۳۸
۸۲	مسئله	۲۴۱
۸۳	پوه سه	۲۴۸
۸۴	فائده	۲۵۲
۸۵	فوائد	۲۶۶
۸۶	مسئله	۲۷۰
۸۷	دروېش وايي	۲۷۲
۸۸	پوه سه	۲۷۴
۸۹	فائده	۲۷۶
۹۰	د شارح د ژوند حالات	۲۷۸
۹۱	اعلان	۲۸۳

حقاني کمپيوتر ارت



د چاپ، کمپوز، ډيزاين، او سمون (تصحيح) لپاره ؛
حقاني کمپيوتر :- ستا سو کتابونه، مجلې، خبري پانې، او نور طباعتي توکي په ښه خرنګوالي او معيار کمپوزوي، که غواړئ چې پښتو، عربي، او پارسي ليکنې مو په خپلو خپلو معياري تورو او پروګرامونو کمپوز سي، نو حقاني کمپيوټر ته مراجعه وکړئ، په کوټه کې د ښه کمپوز او چاپ يوازنی مرکز

مکتبة القراءة والتجويد کوئټه